کابل پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

د پښتو ژبې او ادب څانګه

# د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج

«د دوکتورا ډیزرټېشن»

ځېړونکی: رحیم الله حریفال

لارښود استاد: پوهنوال دوکتور رحیم الله ځیرک

لارښود مشاور: پوهاند دوکتور اجمل ښکلی

کال: ۱۴۰۵ لمریز

**کتاب پېژندنه**
د مؤلف نوم: حریفال، رحیم الله، ۱۳٦٦هـ.ش
عنوان: د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج
د څېړونکي نوم: رحیم الله حریفال
د خپروونکي ځانګړنې: کابل پوهنتون، د لوړو زده‌کړو وزارت، کال: ۱۴۰۵هـ. ش

**د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج**

**«د دوکتورا ډیزرټېشن»**

**څېړونکی: رحیم الله حریفال**

**د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا پروګرام سکالر**

ډیزاینر:
د چاپ وار:
د چاپ شمېر:
د چاپ کال:
د چاپ نوعیت: وزیري
د کتاب بیه:
ISBN:

د چاپ، کاپي او تکثیر ټول حقوق له لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحيم

# مننليک

د پښتو ژبې او ادبیاتو څانگې د دوکتورا دا ډېزرټېیشن چې ستاسو پر وړاندې دی، د دې چارې په بشپړاوي کې لومړی د الله (جل جلاله) فضل او کرم دی، ورسره زما د کورنۍ، اکاډمیک چاپېریال د څو تنو درنو استادانو مخلصانه مرسته او همکاري ده چې له هر یوه څخه یې د زړه له تله مننه کوم.

په ځانگړې توگه له خپل لارښود استاد پوهنوال دوکتور رحیم الله ځیرک څخه چې په ورین تندي یې په دوستانه فضا کې زما د دې ډېزرټېیشن لارښودي وکړه او په‌خپلو علمي نظرونو او سپارښتنو سره یې زما څېړنې ته علمي وزن او ښکلا وروبخښله او تل یې هڅولی یم چې خپل علمي کار له علمي اصولو سره سم مخ ته یوسم. د بهرني مناقش په توگه د افغانستان د علومو اکاډمي د لرغونو ژبو او ادبیاتو انسټیټوټ آمر څېړنپوه دوکتور رفیع الله نیازي ته کورودانی وایم چې د څېړنې په بشپړاوي کې یې راسره خپل لارښودي نظرونه شریک کړل او زما ډېزرټېیشن یې په پوره زغم او حوصلې سره ولوست او ارزښتمنې سپارښتنې یې را ته وکړې. د پښتو څانگې له استاد پوهاند دوکتور اجمل ښکلي څخه هم مننه کوم چې د سلاکار لارښود استاد په توگه یې دغه ډېزرټېیشن وکوت او مثبت نظر یې پرې ولیکه.

# مخکینۍ خبرې

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد وعلي صحبه أجمعين.
أما بعد.

د الله تعالی لویه لوریینه او فضل دی د چې ماته یې د دې توفیق راکړ چې د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو د دوکتورا برنامه بشپړه کړم او د دې جوګه یې کړم چې د دې دورې مهم پړاو چې د ډیزرتېشن کښل دي، «د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج» تر سرلیک لاندې یې ولیکم.

دا چې زه په علومو اکاډمي کې د ژبپوهنې په برخه کې کار او څېړنه کوم، نو تر ډېره پوره مې خپل څېړنیز کارونه د ژبپوهنې په برخه کې متمرکز کړي دي او کله مو چې د دوکتورا په پیل کې پروپوزلونه دفاع کول، نو هلته له ځینو جزئي بدلونونو سره زما د ډیزرټیشن موضوع «د پښتو وییپوهنې کره‌کتیز جاج» ومنل شوه او لارښود استاد مې پوهنوال دوکتور محمد قسیم چمتو وټاکل شو او بیا مې څو ځله له دوکتور چمتو سره د څېړنې د موضوعاتو په اړه ناستې وکړې او د استاد په لارښونه مې اوټلاین لا نور غني کړ، خو د درسونو بهیر لا پای ته نه و رسیدلی چې پوهنوال دوکتور محمد قسیم چمتو وفات شو. متعال رب دې درانه استاد ته جنت الفردوس نصیب کړي او کریم رب دې درجې لوړې کړي.

د نوي لارښود استاد د ټاکلو لپاره مې د ادبیاتو پوهنځي د فوق لیسانس بورډ ته غوښتنلیک وړاندې کړ چې پوهنوال دوکتور رحیم الله ځیرک زما د لارښود استاد په توګه وټاکل شو. د دوکتور ځیرک دې کور ودان وي، چې په پوره اخلاص یې زما د څېړنې لارښودي وکړه او تل یې په دوستانه فضا کې علمي سپارښتنې را ته کړې دي.

زه د دوکتورا برنامې له ټولو درنو استادانو څخه مننه کوم چې په ښوونیز بهیر کې یې په پوره اخلاص درس راکړ او ډېرو نویو او تازه علمي مسایلو ته یې متوجه کړو. همدارنګه له خپلو ټولو دوستانو او استادانو څخه منندوی یم چې زما د څېړنیزې موضوع په بهیر او بشپړاوي کې یې مرسته راسره کړې ده.

انسان تر خپله وسه پړ دی، ما هم د خپلې څېړنیزې موضوع په بشپړاوي کې پوره هڅه کړې، خو بیا هم انساني کارونه نیمګړي وي، که په کوم ځای کې زه تېروتی یم، نو هیله ده چې لومړی مې وبخښئ او بیا یې راسره شریکې یې کړئ، تر څو په راتلونکې کې یې اصلاح او سمې کړم.

په درنښت

څېړنوال رحیم الله حریفال

# لنډیز

په دې څېړنه کې د پښتو ویيپوهنې کره‌کتنيز جاج اخيستل شوی دی، د پښتو ویيپوهنې تاریخي بهير څېړل شوی دی، ویی(لغت) له بېلابېلو اړخونو څخه تر بحث او شننې لاندې نیول شوی، د پښتو لغت پر ډولونو او وېش رڼا اچول شوې ده. او بیا د ویيپوهنې، مورفولوژي او قاموسپوهنې تر منځ په توپيرونو او ګډو خوا بحث او څېړنه شوې ده.

د قاموسپوهنې په برخه کې د قاموس او فرهنګ پر توپيرونو څېړنه ترسره شوې ده او له معتبرو منابعو څخه په ګټې اخيستلو سره د قاموس او فرهنګ توپيرونه په ګوته شوي دي.

همدارنګه د څېړنې یوه برخه دې ته ځانګړې چې د پښتو قاموس پرلیکه(آنلاین) برخه کې څومره کار شوی دی، دا ځکه چې نن ورځ ډیجټلایزشن د ژوند مهمه اړتیا ګرځېدلې ده او کله چې د یوې ژبې په لغوي برخه کې د لغتونو معنا ته اړتیا وي، نو تر ټولو وړاندې په آنلاین بڼه يې د پلټنې هڅه کېږي او نن ورځ پښتو ژبه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ویناوال او مینه‌وال لري، نو اړتیا ده چې په دې برخه کې ځانګړې پاملرنه وشي او کوم لږ و ډېر کارونه چې په یاد ډګر کې ترسره شوي دي، هغه کافي نه دي، نو په آنلاین بڼه د پښتو قاموسونو خپرول د اوسني ژوندانه له مهمو اړتیاوو څخه ده او په دې څېړنه کې د یادې موضوع په اړه تر وسې پورې هر اړخيز بحث شوی دی او کوم کارونه چې د پښتو ژبې د ځينو خواخوږو له خوا تر سره شوي دي، د هغو په اړه هم پوره معلومات راوړل شوي دي او د دې برخې پر وړاندې پر خنډونو او حل‌لارو تفصيلي خبرې شوې دي.

د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د پښتو ویيپوهنې یو جامع انځور وړاندې کوي او په دې اړه بحثونه لري چې د پښتو ویيپوهنې او قاموسپوهنې په برخه کې څرنګه او څومره کارونه ترسره شوي دي او د دغو ترسره شوو کارونو څرنګوالی څه ډول دی.

د پښتو ویيپوهنې او قاموس پوهنې په اړه څېړنه له موږ سره مرسته کوي چې په دې برخه کې هر اړخيز معلومات ولرو او د دې تاریخي سير له مهمو او ارزښتمنو ټکو او ځانګړنو څخه خبر شو.

د څېړنې په بشپړاوي کې له کتابي سرچينو څخه ګټه اخيستل شوې ده، معلومات تحلیل شوي او کره‌کتنيز جاج يې اخيستل شوی دی.

دا څېړنې د پښتو ویيپوهنې تاریخي بهير او په دې برخه کې د ترسره شوو کارونو په اړه معلومات وړاندې کوي او د ویيپوهنې  د مختلفو موضوعاتو په اړه نوي او کره معلومات وړاندې کوي او د پښتو ویيپوهنې په برخه کې د لیکل شوو آثارو کره‌کتيز جاج اخيستل شوی دی.

**آر ویيونه:** ویی، ویيپوهنه، قاموس، فرهنګ، قاموسپوهنه

**د مطالبو لیکلړ**

**سرلیک ..................................................مخگڼه**

# لومړی څپرکی

## د څېړنې کلیات


۱ . ۱ سریزه .........................................۱

۱ . ۲ د ستونزې بیان....................................۲

۱ . ۳ د څېړنې ارزښت او اړتیا............................٤

۱ . ۴ د څېړنې موخې......................................۵

اصلي موخه..............................................۵

فرعي موخه..............................................۵

۱ . ۵ د څېړنې پوښتنې ....................................۵


# دویم څپرکی

## تېرو آثارو ته کتنه


۲ . ۱ د پښتو ویيپوهنې اړوند کتابونه.....................۸

۲ . ۱ . ۱ يوازينۍ پښتو....................................۸

۲ . ۱٫۲ پښتو پښويه........................................۱۰

۲ . ۱ . ۳ پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه .....................۱۰

۲ . ۲ . د پښتو ویيپوهنې اړوند مقالې .....................۱۱

۲. ۲. ۱ د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي؟................ ۱۱
۲. ۲. ۲ د ژبپوهنې نومونې ........................................ ۱۲
۲. ۲. ۳ د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کېږي؟ ................. ۱۳
۲. ۲. ۴ «د پښتو ژبې لغوي تأثیرات» ............................. ۱۳
۲. ۲. ۵ پخواني کلمات او نوي مفاهیم.............................. ۱٤
۲. ۲. ٦ «د پښتو قاموس لیکنې عملي موضوعات»...................... ۱۵
۲. ۳ د پخوانیو څېړنو ګډ ویپپوهنیز اړخونه........................ ۱۵
۲. ۴ د پخوانیو څېړنو علمي محدودیتونه او څېړنیزې تشې ........... ۱٦
۲. ۴. ۱ د ویپپوهنې د ټولو اړخونو د یوه واحد چوکاټ نشتوالی ... ۱٦
۲. ۴. ۲ د تاریخي بهیر د منظم تحلیل نشتوالی ........................ ۱٦
۲. ۴. ۳ د پخوانیو نظریو د معاصرو ویپپوهنیزو معیارونو له مخې ارزونې نشتوالی ............................................ ۱۷
۲. ۴. ۴ د لغتونو د دودېدو او ټولنیز کېدو مسئله..................... ۱۷
۲. ۴. ۵ د پخوانیو متونو او لهجوي ویپپانګې د کارونې اړتیا ...... ۱۷
۲. ۴. ٦ د پخوانیو اثارو د ګډې کره کتنې نشتوالی .................. ۱۷
۲. ۵ د اوسنۍ څېړنې ځای او علمي اړتیا.............................. ۱۷
۲. ٦ د ''پښتو ویپپوهنې د کره کتنیز جاج'' نظري بنسټ ........... ۱۹
۲. ٦. ۱ تاریخي ـ تکاملي لیدلوری........................................ ۱۹
۲. ٦. ۲ رغښتي ـ ویپپوهنیز لیدلوری...................................... ۲۰

۲. ٦. ۳ د لغوي اړیکو نظري اصل........................ ۲۲
۲. ٦. ۴ د تاریخي ویپپوهنې اصل........................ ۲۳
۲. ٦. ۵ د علمي نقد او ارزونې نظری بنسټ........................ ۲۳
۲ . ۷ د مفاهیمو تعریفونه........................ ۲۵
۲ . ۸ مورفولوژي........................ ۲۵
۲ . ۹ ترمینولوژي........................ ۲۹
۲ . ۱۰ سوچه سازي........................ ۳٤
۲. ۱۰ . ۱ نگه/ سوچه ژبه........................ ۳٦
۲ . ۱۱ د پښتو ژبې د سوچه‌والي بهیر........................ ۳۸
۲ . ۱۲ آرپوهنه/رېښه پېژندنه........................ ٤۰
۲ . ۱۲ . ۱ رېښه پوهنه د کلمو یادول او ذهن ته سپارل اسانوي.. ٤۲
۲ . ۱۳ قاموس‌لیکنه........................ ٤٤
۲ . ۱۴ ویپپوهنه او قاموس........................ ٤۸
۲ . ۱۵ د قاموس ډولونه........................ ۵۰
۲ . ۱۵ . ۱ عمومي قاموسونه........................ ۵۱
۲ . ۱۵ . ۲ ځانګړی یا ځانګړی قاموس........................ ۵۱
۲ . ۱٦ قاموس او فرهنگ........................ ۵۲
۲ . ۱۷ د قاموس لیکنې سره د نورو علومو اړیکې........................ ۵٤
۲. ۱۸په پښتو ژبه کې د یو جامع قاموس اړتیا........................ ٦۸
۲. ۱۸ . ۱ د جامع قاموس لیکلو لپاره ځینې اړین ټکي........................ ۷۷

۲ . ۱۹ پرلیکه(انلاین) سیندکښنه........................... ۸۲

۲ . ۲۰ پایله.................................................. ۹۲


## درییم څپرکی

### د څېړنې میتودولوژي


۳ . ۱ د څېړنې ډول.......................................... ۹٤

۳,۲ د څېړنې ماهیت........................................ ۹٤

۳ .۳ د څېړنې میتود/کړنلاره ................................ ۹٥

۳ . ۴ د څېړنې ډیزاین........................................ ۹٥

۳ . ۵ د څېړنې مواد .......................................... ۹٥

۳ . ٦ د معلوماتو سرچینې ..................................... ۹٦

۳ . ٦ . ۱ لومړۍ لاس سرچینې...................................... ۹٦

۳ . ٦ . ۲ دویم لاس سرچینې ....................................... ۹٦

۳ . ۷ د معلوماتو د راټولولو لارې چارې.......................... ۹٦

۳ . ۸ د موادو د ټاکلو لارې چارې............................... ۹۷

۳ . ۹ د معلوماتو د تحلیل ډول.................................. ۹۷

۳ . ۱۰ د څېړنې د اعتبار او باور وړتیا........................... ۹۸

۳ . ۱۱ د څېړنې اخلاقي اصول ................................... ۹۸

۳ . ۱۲ د څېړنې محدویتونه ..................................... ۹۸

۳ . ۱۳ پایله................................................ ۱۰۰

## څلورم څپرکی

### د موادو تحليل او موندنې


٤ . ١  ويپپوهنه ........................................ ١٠٣

٤ . ١ . ١ ويي (لغت) ........................................ ١٠٤

٤ . ١ . ٢ د ويي(لغت) ځانګړنې ........................................ ١١٢

٤ . ١ . ٣  د ويي ارزښت او اهميت ........................................ ١١٢

۴ . ٢ د ويي او معنا ترمنځ د اړيکو څېړنه ........................................ ١١٧

۴ . ٢ . ١ لغوي او ګرامري معنا ........................................ ١١٩

۴ . ٢ . ٢ د لغتونو ډولونه ........................................ ١٢٠

۴ . ٢ . ٣ مترادف لغتونه ........................................ ١٢١

۴ . ٢ . ۴ د مورفولوژي له مخې د لغت ډولونه ........................................ ١٢٤

۴ . ٣ د پښتو ويي د ډولونو څېړنه ........................................ ١٢٦

۴ . ۴ ارخاييزم ........................................ ١٣٠

۴ . ۴ . ١ د ارخاييزم ځينې شرايط او اصول ........................................ ١٣٥

۴ . ۵  ګړويزونه ........................................ ١٣٦

۴ . ٦ پورويپونه ........................................ ١٣٦

۴ . ٧ نويزونه ........................................ ١٤٤

٤ . ٨ ويبيرغاونه ........................................ ١٤٥

۴ . ٩ د پښتو سوچه لغاتو پلټنه ........................................ ١٥٣

۴ . ١٠  د لغاتو وضع ........................................ ١٥٣

۴ . ۱۱ د پښتو ژبې د نیولوجیزم............................. ۱٥٤
۴ . ۱۲ د پښتو ژبې د نویزونو په برخه کې د علمي مرکزونو ......... ۱٦٤
۴ . ۱۳ د هېواد په نظامي برخه کې............................. ۱۷٤
۴ . ۱۴ د لغتونو د جوړولو اړتیا.................................. ۱۷۹
۴ . ۱۴ . ۱په پښتو ژبه کې د نویو لغتونو د جوړولو اړتیا ............ ۱۸۳
۴ . ۱۵ د لغتونو د جوړولو اصول ................................ ۱۸۷
۴ . ۱٦ عمومي شرایط........................................... ۱۹۱
۴ . ۱۷ په پښتو کې د نویو جوړونو ګټې او زیانونه ............... ۱۹٥
۴ . ۱۷ . ۱ د نویو اصطلاحګانو ګټې ............................ ۱۹٦
۴ . ۱۷ . ۲ د نویو اصطلاحګانو زیانونه........................... ۱۹۷
۴ . ۱۸ لغوي څېړنه.............................................. ۱۹۹
۴ . ۱۹ لغت پوهنه............................................... ۲۰۰
۴ . ۲۰ ژبپالنه.................................................. ۲۰۲
۴ . ۲۱ زړه پانګه................................................ ۲۰۳
۴ . ۲۲ ژبپانګه.................................................. ۲۰۷
۴ . ۲۳ لیکلارښود (یوه پښتو ــ کره پښتو) ........................ ۲۰۹
۴ . ۲۴ ویيپوهنه او ویيرغاونه ...................................... ۲۱۰
۴ . ۲٥ ژبساتنه ................................................. ۲۱۲
۴ . ۲٦ ژبه او ټولنه............................................. ۲۱۳

۴. ۲۷ پښتو ژبه او ژبپوهنه ........................................ ۲۱٤
۴. ۲۸ عمومي ژبپوهنه ........................................ ۲۱۵
۴. ۲۹ ژبپوهنه ........................................ ۲۱٦
۴. ۳۰ نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل ........................................ ۲۱۷
۴. ۳۱ پښتو غړپوهنه او ويیپوهنه........................................ ۲۱۸

## پينځم څپرکی

مناقشه او پايله اخيستنه

پايله........................................ ۲۲۲
مناقشه........................................ ۲۲۸
پایپایله........................................ ۲۲۹
وړانديزونه........................................ ۲۳۰
د څيړنې محدوده ........................................ ۲۳۲
مأخذونه........................................ ۲۳۳

# لومړی څپرکی

# د څېړنې کلیات

## ۱ . ۱ سریزه

ویپپوهنه(**Lexicology**) د ژبپوهنې له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي. په عمومي توګه د ویپپوهنې مهم بحثونه پر ویي پېژندنه، د ویي پر ډولونو او ویي رغونه راڅرخي.

په نوې ژبپوهنه کې د ژبې بنسټونه ارزښت لرونکي غږونه یا هم فونیمونه دي چې په فونولوژي کې مطالعه کېږي. بیا له همدغو غږونو څخه  ویپونه او لغتونه جوړېږي چې پخوا یوازې د لفظ او معنا په دوه مقولو کې خلاصه شوي وو، خو اوس دغه هره یوه مقوله ګڼې خواوې او جزئیات لري، لکه: د یوه ویي داخلي جوړښت، چې د بېلابېلو غږونو او ناخپلواکو مورفیمونو په اساس څېړل کېږي او همدارنګه د معناپوهنې په برخه کې ویي(لغت) په نوې ژبپوهنې کې مختلف اړخونه پیدا کړي دي.

په پښتو ژبه کې له څه باندې شپیتو کلونو را په دې خوا د ژبنیو مسایلو څېړنه د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې له هغه وخت څخه را پیل شوه چې زموږ مشران استادان او ژبپوهان لوېدیځو هېوادونو ته د تخصوصي او لوړو زده کړو لپاره ولاړل، هلته د ژبپوهنې له نویو تیوریو او موضوعاتو سره اشنا شول او له ځان سره یې یاد نظریات خپلې ژبې ته راوړل او د همدغو نظریو په رڼا کې یې نوې څېړنې وکړې او په پښتو ژبپوهنه کې یې نویو بحثونو او موضوعاتو ته لارې پرانیستې.

پوهاند محمد رحیم الهام  «له عنعنې څخه د نوښت په لوري لومړی ګام» د ګرامر طرحه ولیکله، پوهاند حبیب الله تږي د نوې ژبپوهنې په رڼا کې ژبنې مسایل وڅېړل او همدارنګه پوهاند مجاور احمد زیار د پښتو ژبپوهنې په برخه د نویو تیوریو او نظریاتو په رڼا کې خورا ارزښتمن آثار ولیکل او په دې ډول پښتو ژبپوهنه او ګرامر د سُنتي څېړنو له دایرو څخه راووت.

د پښتو وييپوهنې په برخه کې هم زموږ مشرانو څېړونکو ګڼ آثار ليکلي دي او همدارنګه په بېلابېلو ليکل شويو پښتو ګرامرونو کې نوموړې موضوع سپړل شوې او تحليل شوې ده، خو څومره چې اړتيا ده په هغومره کچه پښتو وييپوهنه نه ده څېړل شوې او په دې برخه کې د نويو ژبپوهنيزو نظريو په رڼا کې ډېر آثار نه لرو.

د پښتو لغتپوهنې په ډګر کې هم لکه د پښتو ژبې د شفاهي ادب په څېر لومړني کارونه ختيځپوهانو کړي دي او په دې برخه کې خپل فکرونه او قلمونه کارولي دي او بيا وروسته د نويو تيوريو په رڼا کې زموږ خپلو پوهانو دې برخې ته پام کړی دی او آثار يې ليکلي دي.

له بلې خوا کله چې په عمومي توګه د پښتو وييپوهنې په برخه کې نظر اچوو، نو له څرګند وېش او برخو سره نه مخامخ کېږو او تر ډېره په عمومياتو بحثونه لرو، د ژبې د اصيلو وييونو، ارخاييزمونو، هستوريزمونو، ګړدودي وييونو، پوروييونو او نويزونو په اړه جزئيوي او ځانګيز بحثونه او څېړنې نه لرو، نو اړتيا ده چې د پښتو ژبپوهنې دا برخه لا ډېره وڅېړل شي او موضوعات لا نور ډېر روښانه او ډلبندي شي.

حتی کله چې د پښتو وييپوهنې او قاموسپوهنې بحثونه مخ ته راځي، تر اوسه پورې دا دواړه ځانګې په جلا توګه نه دي څېړل شوي، قاموسپوهنه د وييپوهنې د يوې فرعي ځانګې په توګه هم نه ده جلا شوې او بحثونه نه دي پرې شوي؛ حال دا چې په نوره نړۍ کې وييپوهنه او قاموسپوهنه د دوو مهمو بېلو ځانګو په توګه مطرح دي او په دې برخه ډېر علمي يون شوی دی.

## ۲.۱ د ستونزې بيان

کله چې موږ د نړۍ په ژبو او يا هم د خپلو ګاونډيو هېوادونو په ژبو کې ګورو د ژبپوهنې په برخه کې په ډېرو کوچنيو موضوعاتو په لسګونو او يا هم ويلای شو په سلګونو آثار ليکل شوي دي، خو پښتو ژبپوهنې ته بيا لا ډېر مزل په مخ کې پروت دی او په هره برخه کې يې د لا نورو ډېرو آثارو ليکلو ته اړتيا محسوسېږي، په مشخصه توګه د وييپوهنې په برخه کې زيات کار او علمي څېړنو ته اړتيا ده.

د ژبپوهنې په برخه کې په نړيوالو څېړنو کې نوي نظريات را منځ ته شوي دي او بل دا چې ژبه تل د بدلون په حالت کې ده او اړتيا ده چې وخت پر وخت ژبنيو موضوعاتو ته  له سره او نوې کتنې وشي، نو د پښتو وييپوهنې په برخه کې هم د دې اړتيا ده چې په اړه يې عمومي او کره‌کتنيز جاج واخيستل شي.

که څه هم د پښتو وييپوهنې په برخه کې آثار او کتابونه ليکل شوي دي او دا چاره به راتلونکې کې هم دوام لري، خو زما د معلوماتو له مخې په دې برخه کې تشه دا ده چې د وييپوهنې په اړه د تاريخي جاج نه

اخیستلو تر څنګ د وییپوهنیزو آثارو په اړه منظمه څېړنه نه ده شوې، نو اړتیا ده چې د پښتو وییپوهنې د تاریخي سیر په اړه او همدارنګه په پښتو ژبه کې چې کوم وییپوهنیز آثار لیکل شوي دي، د وییپوهنې د نظریو په رڼا کې وشنل شي او په اړه یې څېړنه ترسره شي.

د نړۍ په ډېرو ژبو کې د وییپوهنې په برخه کې پراخې او تخصصي څېړنې ترسره شوې دي او د دې برخې د بېلابېلو موضوعاتو لپاره بېلابېل نظریات، میتودونه او علمي لیدلوري رامنځته شوي دي. د ژبپوهنې د علم له پرمختګ سره د وییپوهنې د څېړنې لپاره هم نوې نظریې او علمي لارې رامنځته شوې دي؛ له همدې امله، د وییپوهنیزو آثارو ارزونه او کره‌کتنه د دې لپاره اړینه ده چې څرګنده شي، تر کومه بریده پخوانۍ څېړنې له معاصرو وییپوهنیزو نظریو او علمي معیارونو سره سمون لري او په کومو برخو کې لا نورو څېړنو ته اړتیا شته.

پښتو هم د یوې لرغونې او بډایه ژبې په توګه پراخه وییزه زېرمه لري او د پښتو د وییونو، وییزې زېرمې او اړوندو موضوعاتو په اړه د بېلابېلو لیکوالانو له خوا یو شمېر آثار او څېړنې ترسره شوې دي. په دغو آثارو کې د پښتو لغتونو د مانا، جوړښت، ریښې، جوړښتي اړیکو، پوروییو، مترادفو، متضادو او نورو وییپوهنیزو موضوعاتو اړوند مطالب موندل کېږي. سره له دې، د پښتو وییپوهنې د موجودو آثارو د رامنځته کېدو او پرمختګ تاریخي بهیر، د هغوی موضوعاتي او نظریاتي ځانګړنې او له معاصرو وییپوهنیزو نظریو سره یې اړیکه په یوه منظم، جامع او کره‌کتنیز چوکاټ کې نه ده څېړل شوې.

د دې څېړنې اساسي تشه همدلته راڅرګندېږي. یعنې، که څه هم د پښتو وییپوهنې په اړه بېلابېل آثار شته، خو تر اوسه پورې پرې داسې منظمه او هر اړخیزه کره‌کتنیزه څېړنه نه ده ترسره شوې چې له یوې خوا د پښتو وییپوهنې تاریخي سیر، پړاوونه او د پرمختګ بهیر روښانه کړي او له بلې خوا ټول یا د پام وړ موجود وییپوهنیز آثار د معاصرو وییپوهنیزو نظریو او علمي معیارونو له مخې وڅېړي. په بله وینا، د پښتو وییپوهنې د آثارو د موجودیت تر څنګ د دغو آثارو د علمي محتوا، نظري بنسټونو، څېړنیزو لارو، موضوعاتو، نوښتونو، نیمګړتیاوو او له یو بل سره د علمي اړیکو په اړه منظم کره‌کتنیز جاج نه دی اخیستل شوی.

د دې تشې تر څنګ بله ستونزه دا ده چې د پښتو وییپوهنیزو آثارو ترمنځ د موضوعاتو، نظریاتو او څېړنیزو لارو د تحول څرنګوالی په روښانه ډول نه دی معلوم. دا هم په ښه ډول نه ده څرګنده شوې چې د پښتو وییپوهنې په بېلابېلو تاریخي پړاوونو کې کومې موضوعګانې د څېړونکو د پام وړ ګرځېدلې، کوم نظریات او

میتودونه کارول شوي، د وییپوهنې په برخه کې کوم علمي پرمختګونه رامنځته شوي او په کومو برخو کې لا هم د پام وړ څېړنیزې تشې موجودې دي. له همدې کبله، یوازې د موجودو آثارو پېژندنه او بیان د پښتو وییپوهنې د وضعیت د بشپړ درک لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې د دغو آثارو علمي کره‌کتنه او د معاصرو وییپوهنیزو نظریو په رڼا کې ارزونه هم اړینه ده.

له همدې کبله د «پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج» تر سرلیک لاندې د دې څېړنې اړتیا رامنځته کېږي. په دې څېړنه کې هڅه کېږي چې د پښتو وییپوهنې تاریخي سیر وڅېړل شي، موجود وییپوهنیز آثار معرفي او طبقه‌بندي شي او د معاصرو وییپوهنیزو نظریو او علمي معیارونو پر بنسټ یې محتوا، نظریاتي بنسټونه، څېړنیزې لارې، علمي لاسته‌راوړنې او نیمګړتیاوې وڅېړل شي. په دې توګه څېړنه به نه یوازې د پښتو وییپوهنې د تېر او اوسني وضعیت په روښانه کولو کې مرسته وکړي، بلکې د دې برخې موجودې څېړنیزې تشې به هم مشخصې کړي او د راتلونکو وییپوهنیزو څېړنو لپاره به د موضوعاتو او علمي لارو په ټاکلو کې بنسټیزه زمینه برابره کړي.

## ۱ . ۳ د څېړنې ارزښت او اړتیا

که څه هم د نړۍ په نورو ژبو کې د وییپوهنې او قاموسپوهنې تر منځ د بېلتون کرښه رایستل شوې ده او دا دواړه څانګې په جلا توګه څېړل کېږي او په هره څانګه کې نوې تیورۍ او نظریات منځ ته راغلي دي او همدغو نظریات په رڼا کې پرې نوي بحثونه کېږي، خو په پښتو ژبه کې تر اوسه پورې قاموسپوهنه او وییپوهنه یوځای څېړل کېږي او ویلای شو چې په لومړیو د وییپوهنې پیل له قاموس‌لیکنې څخه شوی دی او بیا وروسته د وییپوهنې بحثونه را مطرح شوي دي او له قاموسي مفهوم پرته د لغت په اړه د وییپوهنې له لیدلوري بحثونه شوي دي، خو ویلای شو چې اوس هم قاموسپوهنه نظر وییپوهنې ته غني ده او د قاموسپوهنې په څانګه کې نظر وییپوهنې ته هم عملي ډګر کې ډېر کار شوی دی او په نظري لحاظ، دا ځکه چې قاموس‌کښنه د ټولنې له ورځنیو اړتیاوو څخه وي او ډېره کارېدونکې برخه ده.

نو ویلای شو چې د دغې څېړنې یو مهم ارزښت په دې کې دی چې دا دواړه څانګې په بېلو برخو کې وڅېړل شي او موضوعات به روښانه او څرګند شي.

## ۴.۱ د څېړنې موخې

په ټوله کې د څېړنې موخه دا ده چې د پښتو ویبپوهنې عمومي جاج واخیستل شي او په کومو برخو کې چې اړتیا هلته کره‌کتنه وشي. پر مثبتو او نیمګړو اړخونو یې رڼا واچول شي.

### اصلي موخه

د پښتو ویبپوهنې هراړخیز جاج اخیستل.

### فرعي موخه

د پښتو ویبپوهنې د تاریخي بهیر جاج اخیستل.

د پښتو ویبپوهنې په برخه کې د مهمو آثارو پېژندل او د هغو ځانګړنې په ګوته کول.

په پښتو ویبپوهنیزو څېړنو کې د ویي د جوړښت او ترکیب څرنګوالی په ډاګه کول.

په پښتو ویبپوهنیزو آثارو کې د پښتو ژبې د لهجوي ویبونو، لرغونو ویبونو، نویو ویبونو او مسلکي ویبونو په اړه د ترسره شوي کار جاج اخیستل.

د پښتو ژبې په ویبپوهنیزو آثارو کې د پور ویبونو او د هغو د پښتو کولو د مسئلې څرګندول.

## ۵.۱ د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښنه**

د پښتو ویبپوهنې په برخه کې څه ډول علمي کارونه ترسره شوي، مهمې لاسته‌راوړنې او نیمګړتیاوې یې څه دي او کومې څېړنیزې تشې لا هم پاتې دي؟

**فرعي پوښتنې**

د پښتو ویبپوهنې تاریخي بهیر څه ډول دی؟

د پښتو ویبپوهنې په برخه کې کوم مهم آثار لیکل شوي دي او د دغو آثارو ځانګړنې څه دي؟

د پښتو په ویبپوهنیزو څېړنو کې د ویي د جوړښت او ترکیب په اړه څه ډول بحثونه شوي دي؟

د پښتو ژبې د لهجوي ویېیونو، لرغونو ویېونو، نویو ویېیونو او مسلکي ویېیونو په اړه څه ډول کار شوی دی؟

د پښتو ژبې په ویېپوهنیزو څېړنو کې د پورویېیونو او د هغو د پښتو کولو مسئله څنګه څېړل شوې ده؟

# دویم څپرکی

## تېرو آثارو ته کتنه

لغتونه او ویي د هرې ژبې له بنسټیزو عناصرو څخه دي او د ژبې د تاریخي، ټولنیز او علمي پرمختګ په بهیر کې ځانګړی ارزښت لري. له ویيو پرته د یوې ژبې د مفاهیمو د لېږد، پوهولو او راپوهولو بهیر نه شي بشپړ کېدای. همدغه بنسټیز اهمیت د دې لامل شوی چې لغتونه د ژبپوهنې په بېلابېلو څانګو کې د بحث او څېړنې موضوع وګرځي؛ خو په هره څانګه کې ورته د هغې څانګې له ځانګړي علمي لیدلوري څخه کتنه کېږي.

په تشریحي ګرامر کې، په ځانګړې توګه د صرف یا مورفولوژۍ په برخه کې، لغتونه او د هغو جوړښتي برخې له صرفي او ګرامري پلوه څېړل کېږي او د خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو، د ویي د جوړښت او نورو صرفي ځانګړنو په اړه بحث کېږي. په قاموسلیکنه کې بیا د ژبې مشخص ویيونه راټولېږي، ثبتېږي، مانا وې، کارونه، تلفظونه او نورې اړوندې ځانګړنې یې تشریح کېږي او د قاموس د ځانګړي جوړښت له مخې وړاندې کېږي. ویيپوهنه بیا تر دې پراخه ساحه لري او د یوې ژبې د ټولې ویي پانګې، د هغې د سرچینو، جوړښت، جوړوونې، پراختیا، مانیز بدلون، تاریخي تحول، پورویونو، لهجوي لغتونو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه څېړنه کوي.

له همدې امله، د ویيپوهنې تاریخي ریښې که څه هم د ژبې له لومړنیو پړاوونو سره تړاو لري، خو د یوې علمي او ځانګړې څانګې په توګه بیا د هرې ژبې تاریخي بهیر د هغې ژبې له ټولنیزو، فرهنګي، علمي او سیاسي شرایطو سره سم توپیر کوي. په پښتو کې هم د ویيو، لغتونو، نومونو، اصطلاحاتو او قاموسونو اړوند کارونه له پخوانیو وختونو څخه تر اوسه په بېلابېلو بڼو ترسره شوي دي؛ خو دغه چارې ټل د «ویيپوهنې» تر واحد او منظم علمي عنوان لاندې نه دي شوي.

د پښتو وييپوهنې او قاموسليکنې د تاريخي بهير په څېړنه کې يوه مهمه ستونزه دا ده چې د دغو دواړو برخو تاريخي بهيرونه ډېرى وخت له يو بل سره ګډېږي او آن د ګرامري او صرفي اثارو تاريخ هم ورسره يوځای بيانېږي. په داسې حال کې چې ويپوهنه او قاموسليکنه سره نږدې اړيکه لري، خو يو نه دي. قاموسليکنه تر ډېره د لغوي موادو د راټولولو، تنظيم، تعريف او ثبت له عملي او علمي لارو چارو سره تړاو لري؛ ويپوهنه بيا د يوې ژبې د ويي پانګې د جوړښت، سرچينو، پراختيا، بدلون او کارونې پراخ علمي جاج وړاندې کوي.

له همدې امله، په دې څېړنه کې هغه ګرامري او صرفي آثار چې له ويپوهنې سره مستقيم او څرګند تړاو نه لري، د پښتو ويپوهنې د تاريخي بهير د اصلي موادو په توګه نه راخيستل کېږي. البته هغه ګرامري او صرفي آثار چې د ويي جوړوونې، اشتقاق، ترکيب، مصدرونو او يا نورو ويپوهنيزو موضوعاتو په برخه کې مشخص مواد لري، د اړتيا له مخې د ويپوهنې له ليدلوري ارزول کېدای شي.

## ۲. ۱ د پښتو ويپوهنې اړوند کتابونه

### ۲. ۱. ۱ يوازينۍ پښتو

د پښتو د علمي او ادبي ودې په بهير کې د پښتو مرکې هڅې د ځانګړي اهميت وړ دي. د محمود طرزي د وينا له مخې، د پښتو له خواخوږو سره دا هيله موجوده وه چې د پښتو لپاره يوه داسې ټولنه جوړه شي چې په اکاډميکه روحيه د ژبې د بشپړتيا او نوماېښودنې لپاره کار وکړي. دغه هڅه وروسته د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د پښتو مرکې په جوړېدو سره عملي شوه او د پښتو د بشپړتيا او نوماېښودنې په برخه کې يې فعاليت پيل کړ.

د پښتو مرکې له مهمو اثارو څخه يو هم «يوازينۍ پښتو» ده. دغه اثر په ۱۳۰۱ هـ.ش کال د پښتو مرکې له خوا د پوهنې وزارت په مطبعه کې په ۱۵۲ مخونو کې چاپ شوی دی. کتاب دوه ستونه لري چې په يوه کې پښتو مطالب او په بله کې يې دري ژباړه وړاندې شوې ده.

د کتاب له مهمو ځانګړنو څخه دا ده چې ليکوالانو هڅه کړې ده چې د عربي او دري هغو کلمو پر وړاندې چې په پښتو کې کارېدې، پښتو کلمې پيدا کړي او په هغو مواردو کې چې په ولس کې مناسب ويی نه دی موندل شوی، د نوماېښودنې له لارې نوي لغتونه يې جوړ کړي دي. په دې توګه،

اثر یوازې د کلمو د راټولولو هڅه نه ده، بلکې د وییرغونې او نوماېښودنې له بهیر سره هم مستقیم تړاو لري.

کتاب دوه برخې لري؛ لومړۍ برخه یې عبدالوهاب کاموي لیکلې چې مفردې کلمې پکې وړاندې شوي او دویمه برخه یې محمد زمان خان لیکلې چې د مکالمو بڼه لري. په کتاب کې د ملي ژبې د روزنې په اړه دا لیدلوری هم څرګند شوی چې د ژبې وده او روزنه د ملت د مشرانو او علمي بنسټونو له مسؤولیتونو څخه ده (رفیع، ۱۳۹۷، ۴۱ مخ).

د وییپوهنیز ارزښت له پلوه «یوازینۍ پښتو» ځکه مهم اثر ګڼل کېږي چې په کې د پښتو د وییپانګې د پراختیا لپاره د دوو لارو هڅه شوې ده: له یوې خوا د موجودو پښتو کلمو موندل او له بلې خوا، د اړتیا په صورت کې د نویو وییونو جوړول. دا کړنلاره د وییرغونې او نوماېښودنې په برخه کې د پښتو له لومړنیو منظمو هڅو څخه ګڼل کېدای شي.

خو له کره‌کتنیز پلوه باید وویل شي چې دغه اثر د معاصرې وییپوهنې د بشپړ اثر په توګه نه شي ارزول کېدای. د اثر اصلي تمرکز د پښتو کولو او نوماېښودنې پر عملي هڅه دی او د لغتونو د جوړوونې، ټولنیز دودېدو، مانیز تحول، تاریخي سرچینو، لهجوي وییو او پوروییو د علمي ارزونې لپاره یو بشپړ او منظم نظری چوکاټ نه وړاندې کوي. له همدې امله، «یوازینۍ پښتو» د پښتو وییرغونې د تاریخ لپاره مهمه سرچینه ده، خو د پښتو وییپوهنې د عمومي جاج ځای نه شي نیولای.

د پښتو مرکې له فعالیتونو وروسته، د طلوع افغان اخبار له لوري هم د پښتو د پیاوړتیا هڅې شوې دي. پوهاند عبدالحی حبیبي په ۱۳۱۳ ل کال کې د «یوازې پښتو» تر سرلیک لاندې د طلوع افغان سرمقاله ولیکله او په کې یې د پښتو د پراختیا او د خپلې ژبې د امکاناتو د کارونې اړتیا مطرح کړه (رفیع، ۱۳۹۷، ۵۳ مخ). دغه هڅې د پښتو د وییپانګې د پیاوړتیا او د ژبې د علمي پراختیا د بهیر له مهمو تاریخي پړاوونو څخه ګڼل کېدای شي.

## ۲.۱.۲ پښتو پښويه

«پښتو پښويه» د پښتو مرکې بل مهم چاپي اثر دی چې په ۱۳۰۲ هـ.ش کال د پوهنې وزارت په مطبعه کې په ۱۲۰۰ ټوکو کې چاپ شوی او ۱۴۴ مخونه لري. د اثر اصلي موضوع د پښتو صرف او نحو ده او پکې د پښتو ژبې صرفي او نحوي قواعد څېړل شوي دي.

کتاب دوې برخې لري؛ په لومړۍ برخه کې صرفي او نحوي قواعد بيان شوي او په دويمه برخه کې يې د پښتو مصدرونو يو ليکلړ وړاندې شوی دی. د اثر په اړه رفيع ليکي چې «پښتو پښويه» يو شمېر ابتکاري اړخونه لري چې لا هم د جلا څېړنې وړ دي (رفيع، ۱۳۹۷، ۵۲ مخ).

د دې اثر يادونه په دې څېړنه کې تر ډېره تاريخي او ويپپوهنيزه اړيکه لري؛ ځکه د اثر اصلي موضوع صرف او نحو ده، نه ويپپوهنه. په ځانګړې توګه د مصدرونو ليکلړ او ځينې صرفي بحثونه له لغت جوړوونې سره اړيکه پيدا کوي. له همدې امله، دا اثر د پښتو ويپپوهنې د اصلي اثارو په ډله کې نه، بلکې د هغو اثارو په توګه ارزول کېږي چې د پښتو ژبې د وييرغونې او صرفي نظام د تاريخي مطالعې لپاره مرستندوی مواد لري.

د «ژبپالنې» د اثر د ليکوال له نظره، «يوازينۍ پښتو» او «پښتو پښويه» د پښتو پالنې له پلوه د ژورې څېړنې وړ دي او د دغو اثارو نوماېښودنې او صرفي ـ نحوي قواعد بايد بيا وکتل شي. له کره‌کتنيز پلوه، دا څرګندېږي چې «پښتو پښويه» د ويپپوهنې له موضوع سره مستقيمه نه، بلکې تر ډېره غيرمستقيمه اړيکه لري؛ نو ځکه د دې اثر پراخ تحليل د اوسنۍ څېړنې له اصلي محور څخه بهر پاتې کېږي.

## ۲ . ۱ . ۳ پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه

«پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه» د پوهاند صديق الله رښتين اثر دی چې لومړی ځل په ۱۳۲۶ ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی او وروسته په ۱۳۸۳ ل کال په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا د مرکز له خوا د پوهندوې ډاکترې زرغونې رښتين زيور په اهتمام بيا چاپ شوی دی.

اشتقاق او ترکيب د ويي جوړوونې له مهمو لارو څخه دي. پوهاند رښتين په دې اثر کې د ويونو د جوړونې په اړه تر ډېلابېلو سرليکونو لاندې تفصيلي بحثونه کړي دي. له همدې امله، اثر د پښتو

ویپرغونې او ویي جوړوونې په برخه کې ځانګړی اهمیت لري او د پښتو ویپپوهنې د یوه مهم اړخ لپاره بنسټيز مواد وړاندې کوي.

د اثر عمده ارزښت دا دی چې د پښتو د ویي جوړوونې لپاره اشتقاقي او ترکیبي لارې په ګوته کوي او په دې توګه د پښتو د داخلي ویي جوړوونې امکانات ښیي. خو له بلې خوا، د اثر د موضوع له حدودو څخه څرګندېږي چې اصلي تمرکز يې پر اشتقاق او ترکیب دی؛ نو د پښتو د ټولې ویپانګې تاریخي تحول، پوروییونه، لهجوي ویيونه، مانیز بدلون، د ویيو عمومي دودېدل او د ویپپوهنې نور اړخونه په یوه واحد چوکاټ کې نه څېړي.

له همدې امله، «پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه» د پښتو لغت جوړونې په برخه کې مهم اثر دی، خو د پښتو ویپپوهنې د عمومي او کره‌کتنيز جاج بدیل نه شي کېدای. زموږ د څېړنې له نظره د دغه اثر اهمیت په دې کې دی چې د پښتو لغت جوړوونې یوه مهمه برخه تر بحث لاندې نیسي، خو اړتیا دا پاتې کېږي چې دغه بحث د پښتو ویپپوهنې له نورو برخو سره په یوه پراخ او مقایسوي چوکاټ کې وتړل شي.

## ۲. ۲ . د پښتو ویپپوهنې اړوند مقالې

په پورتنیو کتابونو کې د پښتو ویپپوهنې، ویپرغونې، نوماېښودنې، اشتقاق او ترکیب اړوند بېلابېل بحثونه وړاندې شوي دي. سربېره پر دې، په علمي او ادبي مجلو کې هم د پښتو د ویپانګې، اصطلاح جوړوونې، قاموسلیکنې، پورویيونو او ویپرغونې په اړه یو شمېر مقالې خپرې شوې دي. د دې څېړنې له موضوع سره د تړاو له مخې د دغو مقالو مهمې بېلګې په لاندې ډول دي.

### ۲. ۲. ۱ د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي؟

دا علمي ـ څېړنیزه مقاله د پوهاند عبدالحی حبیبي له خوا لیکل شوې او د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي له خوا خپرېدونکې د «وږمې» مجلې په څلورمه او پینځمه ګڼه کې خپره شوې ده.

حبیبي په دې مقاله کې د نویو علمي اصطلاحاتو د جوړولو او د موجودې پښتو ویپانګې د کارونې په اړه بحث کوي. نوموړی څرګندوي چې په هره برخه کې د نویو لغتونو او کلمو جوړول ضروري نه دي؛ په ځینو مواردو کې باید د پښتو لهجو او پخوانیو لغتونو ته مراجعه وشي او له موجودې ویپانګې

څخه د نویو مفاهیمو لپاره ګټه واخیستل شي. په مقاله کې د آریایي ژبو د ویي جوړوونې امکانات او د اصطلاحاتو د جوړولو لارې هم څېړل شوي او د عربي ژبې بېلګې هم راوړل شوې دي.

د مقالې له مهمو ویپپوهنیزو بحثونو څخه یو د ویيرغونې په برخه کې د افراط او تفریط ترمنځ د منځلاري دریځ اړتیا ده. له یوې خوا د نورو ژبو د ټولو لغتونو د ایستلو هڅه عملي او ژبپوهنیزې ستونزې رامنځته کولی شي او له بلې خوا د نویو مفاهیمو لپاره د خپلې ژبې د ویيونو د جوړوونې بشپړه پرېښودنه د ژبې د ویيپانګې د پراختیا مخه نیسي.

د مقالې ویپپوهنیز ارزښت په دې کې دی چې ویيرغونه یوازې د لغت جوړوونې په توګه نه، بلکې د ژبې د اړتیا، د ویونکو د ذهني عادتونو او د ژبني نظام د امکاناتو په رڼا کې څېړي. خو مقاله تر ډېره د علمي اصطلاحاتو او ویيرغونې پر یوه ځانګړي اړخ تمرکز کوي او د پښتو ویپپوهنې ټول تاریخي او نظري بهیر نه ارزوي. همدا محدودیت د دې مقالې ارزښت نه کموي، بلکې د هغې د علمي ساحې حدود څرګندوي.

## ۲. ۲. ۲ د ژبپوهنې نومونې

د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې لیکوال دوکتور مجاور احمد زیار دی. نوموړي د مقالې په پیل کې د پښتو د تخصصي نومونپوهنې اړتیا مطرح کړې او د ژبپوهنې د اصطلاحاتو د جوړوونې لپاره یې د پښتو د خپلو امکاناتو د کارونې پر اهمیت ټینګار کړی دی (زیار، ۱۳۵۰، ۱۱مخ).

د مقالې اصلي بحث تر ډېره د علمي اصطلاحاتو د جوړوونې پر اصولو او قواعدو راڅرخي. په پای کې د ژبپوهنې نهه نومونې وړاندې شوي او د هغو ترڅنګ یې په پارسي، الماني او انګلیسي ژبو کې هم اړوند اصطلاحات راوړل شوي دي.

دغه مقاله د پښتو ویيرغونې لپاره ځکه مهمه ده چې د عمومي او تخصصي پورویيونو ترمنځ توپیر ته زمینه برابروي. د عامو پورویيونو ځای نیول د ژبې د ویونکو له ذهني او ټولنیز عادت سره تړاو لري؛ له همدې امله د تخصصي برخو څخه د نوې نومونپوهنې پیلول د عملي ویيرغونې له پلوه د بحث وړ دی.

له کره‌کتنیز پلوه، د مقالې حدود په دې کې دي چې بحث یې د ژبپوهنې د نومونو او تخصصي اصطلاحاتو پر جوړونه متمرکز دی. د پښتو د ټولې ویيپانګې، تاریخي تحول، لهجوي ویيونو،

پورويېونو او مانيز بدلون په اړه جامع بحث نه وړاندې کوي. له همدې امله، دغه مقاله د پښتو ويېپوهنې د «نومونپوهنې» يا تخصصي وييرغونې د برخې لپاره ډېر ارزښت لري.

## ۲. ۲. ۳ د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کېږي؟

دا مقاله د پوهاند عبدالحی حبيبي له خوا د قاموسليکنې په برخه کې ليکل شوې او د «وږمې» مجلې د ۱۳۴۵ هـ.ش کال په لومړۍ او دويمه ګڼه کې خپره شوې ده.

د مقالې اصلي موضوع د يوه نسبتاً جامع پښتو قاموس د ليکلو لارې چارې دي. په کې دا بحث شوی چې د يوه لوی پښتو سيند د جوړولو لپاره بايد له کومو اصولو او لارو چارو څخه کار واخيستل شي. د مقالې ځينې بحثونه د جامع پښتو قاموس د ليکلو له اړتياوو سره تړاو لري.

د دې مقالې اهميت په دې کې دی چې د پښتو لغويپانګې د راټولولو، تنظيم او په يوه جامع قاموس کې د وړاندې کولو اړتيا مطرح کوي. په دې مانا، مقاله د پښتو قاموسليکنې د تاريخ او د لغوي موادو د منظم ثبت په برخه کې مهمه سرچينه ده.

خو له ويېپوهنيز پلوه بايد د قاموسليکنې او ويېپوهنې ترمنځ توپير وساتل شي. د مقالې اصلي تمرکز د قاموس د جوړولو پر عملي او علمي اصولو دی، نه د پښتو د وييپانګې پر ټوليز جوړښت، تاريخي تحول او ويېپوهنيزو اړيکو. له همدې امله، دغه مقاله د اوسنۍ څېړنې لپاره د قاموسليکنې د تاريخي شاليد او ويېپوهنې سره د هغې د اړيکې له پلوه ارزښت لري، خو په خپله د پښتو ويېپوهنې کره‌کتنيز جاج نه وړاندې کوي.

## ۲. ۲. ۴ «د پښتو ژبې لغوي تأثيرات»

دا ليکنه د عبدالرزاق زهير د يوه علمي کنفرانس متن دی چې د «وږمې» مجلې د ۱۳۴۶ هـ.ش کال د جدي، دلوې او حوت په ګڼه کې خپور شوی دی. په مقاله کې د پښتو ژبې پر نورو ژبو د لغوي اغېزو موضوع څېړل شوې او په ځانګړې توګه د پښتو او ګاونډيو ژبو ترمنځ د لغوي اړيکو بېلګې وړاندې شوې دي.

د مقالې اصلي ويېپوهنيز اهميت په دې کې دی چې د ژبو ترمنځ لغوي پورونه او اغېزې د ژبنيو اړيکو د يوه طبيعي بهير په توګه مطرح کوي. يوه ژبه له بلې ژبې څخه کلمې اخلي او پر نورو ژبو هم

اغېز پرېباسي؛ له همدې امله د يوې ژبې د وييپانګې مطالعه له نورو ژبو سره د هغې د تاريخي او ټولنيزو اړيکو له مطالعې پرته نه شي بشپړېدی.

د مقالې محدوديت دا دی چې اصلي تمرکز يې د پښتو پر نورو ژبو د لغوي اغېز پر موضوع دی او د پوروييونو د ډولونو، د پور اخيستلو د بهير، د وييونو د تطابق، مانيز بدلون او د پورويیو د عمومي دودېدو يوه پراخه وييپوهنيزه شننه نه وړاندې کوي. له همدې امله، مقاله د پښتو د پورووييونو او ژبنيو اړيکو د مطالعې لپاره مهمه سرچينه ده، خو د پښتو وييپوهنې د ټولو اړخونو استازيتوب نه کوي.

## ۲. ۲ . ۵ پخواني کلمات او نوي مفاهيم

دا د پوهاند عبدالحی حبيبي تحقيقي مقاله ده چې د «وږمې» مجلې د ۱۳۴۶ هـ.ش کال د جدي، دلوې او حوت په ګڼه کې خپره شوې ده.

مقاله د پخوانيو وييونو او نويو مفاهيمو ترمنځ اړيکه څېړي. حبيبي څرګندوي چې په ژبو کې ځينې پخواني وييونه له نوي علمي او ټولنيز پرمختګ سره د نويو مفاهيمو لپاره د کارونې وړ ګرځېدلی شي. نوموړی د عربي ژبې بېلګې هم وړاندې کوي چې ځينې پخوانۍ کلمې يې د معاصر ژوند د نويو مفهمونو لپاره ځانګړي کړي دي (حبيبي، ۱۳۴۶، ۱۲مخ).

دغه ليدلوری د پښتو وييرغونې لپاره ځانګړی اهميت لري؛ ځکه د نويو لغتونو د جوړولو تر څنګ د ژبې په پخوانيو متونو، لهجو او له کاره لوېدلو کلمو کې د نويو مفاهيمو لپاره د مناسبو لغتونو لټول هم د وييپانګې د پراختيا يوه مهمه لار ده.

د مقالې يوه مهمه پايله دا ده چې د نويو مفاهيمو لپاره بايد هر ځل له صفر څخه نوی ويی جوړ نه شي؛ بلکې د ژبې په تاريخي زيرمو کې بايد د مناسبو کلمو لټون وشي. دغه اصل د پښتو وييپوهنې له تاريخي او مانيز ليدلوري سره مستقيمه اړيکه لري.

خو له کره‌کتنيز پلوه، مقاله تر ډېره د يوې مشخصې وييرغونې لارې يعنې د پخوانيو کلمو د بيا کارولو پر اهميت بحث کوي.

### ۲. ۲. ٦ «د پښتو قاموس لیکنې عملي موضوعات»

دا مقاله د دوکتور روان فرهادي له خوا د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکز د پرانیستې په مناسبت جوړ شوي نړیوال سیمینار ته لیکل شوې او د «وږمې» مجلې د ۱۳۵۴ ل کال په څلورمه ګڼه کې خپره شوې ده.

په مقاله کې لومړی د پښتو قاموس په اړه کره‌کتنیز بحث شوی او وروسته د یوه بشپړ او پراخ پښتو قاموس د لیکلو لپاره بېلابېل پړاوونه وړاندې شوي دي. د مقالې له مهمو ټکو څخه د ښوونیز بهیر لپاره د منظم پښتو ـ دري قاموسونو د برابرولو اړتیا ده.

د مقالې ارزښت په دې کې دی چې قاموسلیکنه یوازې د لغتونو د راټولولو کار نه ګڼي، بلکې د منظمې طرحې، پړاوونو او علمي مرکزونو اړتیا مطرح کوي.

خو د مقالې اصلي تمرکز قاموسلیکنه ده، نه د ویپوهنې ټولیزه څېړنه. له همدې امله، د دې مقالې ویپوهنیز اهمیت تر ډېره له دې څرګندېږي چې د پښتو د لغوي موادو د راټولولو، تنظیم او ثبت اړتیا روښانوي.

### ۲. ۳ د پخوانیو څېړنو ګډ ویپوهنیز اړخونه

د پورته اثارو او مقالو له کتنې څخه څرګندېږي چې د پښتو ویپوهنې اړوند ترسره شوي کارونه په څو مهمو موضوعي برخو کې راټولېدای شي.

لومړی، ویرغونه او نوماېښودنه د پخوانیو څېړنو له مهمو موضوعاتو څخه ده. «یوازینۍ پښتو»، «د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي؟» او «د ژبپوهنې نومونې» په بېلابېلو بڼو د نویو ویونو او اصطلاحاتو د جوړونې اړتیا او لارې چارې څېړي.

دویم، لغت جوړونه د «پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه» په څېر اثارو کې په ځانګړي ډول څېړل شوې ده. دغه آثار د پښتو د داخلي ویرغونې امکانات، په ځانګړې توګه اشتقاقي او ترکیبي لارې روښانوي.

دریېم، پخواني ویینه او مانیز بدلون د «پخواني کلمات او نوي مفاهیم» په مقاله کې مطرح شوي دي. دغه بحث د پښتو د تاریخي وییپانګې د بیا ارزونې او د پخوانیو وییونو د نوي کولو له پلوه مهم دی.

څلورم، پورویینه او ژبنۍ اړیکې د «د پښتو ژبې لغوي تأثیرات» په مقاله کې څېړل شوي دي. دغه موضوع د پښتو ژبې د وییپانګې د تاریخي او ټولنیزو اړیکو د درک لپاره اهمیت لري.

پنځم، قاموسلیکنه او د لغوي‌پانګې ثبت د «د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کېږي؟» او «د پښتو قاموس لیکنې عملي موضوعات» په مقالو کې مطرح شوی دی. دغه آثار د پښتو د لغوي موادو د راټولولو، تنظیم او علمي ثبت اړتیا په ګوته کوي.

له دې څخه څرګندېږي چې د پښتو وییپوهنې اړوند پخواني کارونه له موضوعي پلوه د پام وړ پراخوالی لري؛ خو دغه موضوعات تر ډېره په بېلابېلو اثارو او مقالو کې جلا جلا مطرح شوي دي.

## ۲. ۴ د پخوانیو څېړنو علمي محدودیتونه او څېړنیزې تشې

د پورتنیو اثارو د موضوعي او وییپوهنیزې ارزونې له مخې، د پښتو وییپوهنې د پخوانیو څېړنو په اړه څو مهمې تشې لاندې په ګوته کېږي:

### ۲. ۴. ۱ د وییپوهنې د ټولو اړخونو د یوه واحد چوکاټ نشتوالی

پخوانیو اثارو د پښتو وییپوهنې بېلابېلې برخې څېړلې دي، خو د ویي‌جوړونې، اشتقاق، ترکیب، پورویینو، مانیز بدلون، ګړدودي وییونو، تاریخي وییونو، نومونپوهنې، وییرغونې او نورو اړخونو ترمنځ اړیکې په یوه واحد او منظم وییپوهنیز چوکاټ کې په کافي اندازه نه دي څېړل شوې.

### ۲. ۴. ۲ د تاریخي بهیر د منظم تحلیل نشتوالی

په بېلابېلو اثارو کې د پښتو ژبې د لغتونو او نومونو د جوړوونې تاریخي بېلګې شته، خو د پښتو وییپوهنې د تاریخي پرمختګ یو منظم پړاویز انځور نه ترسترګو کېږي. د پښتو وییپوهنیزو هڅو د پیل، پراختیا، بدلون او معاصر پړاو ترمنځ اړیکې لا پراخې څېړنې ته اړتیا لري.

### ۲. ۴ . ۳ د پخوانيو نظريو د معاصرو ويپوهنيزو معيارونو له مخې ارزونې نشتوالی

په پخوانيو اثارو کې د ويیرغونې، نوماېښودنې، اشتقاق او ترکيب په اړه ګڼې نظريې او وړانديزونه شوي دي؛ خو د دغو نظريو د معاصرې ويپوهنې له اصولو سره مقايسوي ارزونه نه ده شوې.

### ۲. ۴ . ۴ د لغتونو د دودېدو او ټولنيز کېدو مسئله

په يو شمېر اثارو کې د نويو ويونو او اصطلاحاتو د جوړونې پر اړتيا بحث شوی، خو د دې مسئلې لپاره چې يو نوی ويی څنګه د ژبې د ويونکو ترمنځ منل کېږي، کوم عوامل يې دودوي او کوم عوامل يې د نه دودېدو سبب ګرځي، منظم بحث لږ ترسترګو کېږي. دا موضوع د ويیرغونې د عملي ارزونې لپاره مهمه ده.

### ۲ . ۴ . ۵ د پخوانيو متونو او لهجوي ويپانګې د کارونې اړتيا

«پخواني کلمات او نوي مفاهيم» د دې مهم اصل بنسټ ږدي چې د نويو مفاهيمو لپاره بايد د ژبې پخواني او له کاره لوېدلي ويونه هم وکتل شي، خو دغه اصل د پښتو د پخوانيو متونو او لهجو د ويي پانګې د پراخې او منظمې څېړنې اړتيا هم په ډاګه کوي.

### ۲ . ۴ . ٦ د پخوانيو اثارو د ګډې کره‌کتنې نشتوالی

پخواني آثار هر يو د پښتو د ويپوهنې له يوه يا څو اړخونو سره مرسته کوي، خو د دغو اثارو د ګډې ارزونې، مقايسې، طبقه‌بندۍ او د هغوی د علمي ونډې د معلومولو لپاره يوه منظم جاج اخيستلو ته اړتيا لري. په همدې برخه کې د اوسنۍ څېړنې اړتيا ليدل کېږي.

### ۲ . ۵ د اوسنۍ څېړنې ځای او علمي اړتيا

د پورتنيو اثارو او مقالو له کتنې څخه څرګندېږي چې د پښتو ويپوهنې اړوند د پام وړ علمي هڅې شوې دي. دغو هڅو د پښتو د ويي جوړونې، اشتقاق او ترکيب، نوماېښودنې، پورويونو، پخوانيو ويونو، مانيز بدلون او قاموسليکنې په برخه کې مهم مواد او نظريات وړاندې کړي دي. له همدې امله، د پښتو ويپوهنې د پرمختګ په تاريخ کې د پورتنيو اثارو ونډه له پامه نه شي غورځېدی، خو د دغو اثارو د ارزونې له مخې څرګندېږي چې د پښتو ويپوهنې اړوند ترسره شوي کارونه تر ډېره

موضوعي، جلا ـ جلا او د ويیپوهنې د ځانګړو برخو په کچه دي. د پښتو ويیپوهنې د تاريخي بهير، مهمو اثارو، مطرح شويو نظريو، ويیپوهنيزو موضوعاتو او د دغو څېړنو د علمي پايلو يو ځای، منظم، مقايسوي او کره‌کتنيز جاج په کافي اندازه نه ترسترګو کېږي.

د دې څېړنې توپير له پخوانيو کارونو سره په دې کې دی چې موخه يې يوازې د پښتو د يوه ځانګړي ويیپوهنيز اړخ څېړل نه دي؛ بلکې هڅه کېږي چې د پښتو ويیپوهنې په اړه ترسره شوي مهم علمي کارونه راټول، طبقه‌بندي، تحليل او کره‌کتنيز جاج يې واخلي. په دې بهير کې د هر اثر موضوع، موخه، ويیپوهنيز اړخ، علمي ونډه، محدوديتونه او له نورو اثارو سره يې اړيکه ارزول کېږي.

نو اوسنۍ څېړنه هڅه کوي چې د پښتو ويیپوهنې د علمي بهير په اړه له بېلو ـ بېلو معلوماتو څخه يو منظم تصوير وړاندې کړي او څرګنده کړي چې په پښتو ويیپوهنه کې تر اوسه کوم کارونه شوي، کومې برخې يې ډېرې څېړل شوې، کومې برخې يې لږې څېړل شوې او د راتلونکو څېړنو لپاره کومې علمي اړتياوې موجودې دي.

په بله وينا د دې څېړنې ابتکار يوازې په دې کې نه دی چې د پښتو ويیپوهنې په اړه يو نوی اثر وړاندې کوي؛ بلکې په دې کې دی چې د پښتو ويیپوهنې اړوند موجود علمي ميراث د يوه ټاکلي ويیپوهنيز چوکاټ له مخې ارزوي، د پخوانيو څېړنو ترمنځ اړيکې او توپيرونه څرګندوي، د هغوی علمي محدوديتونه ښيي او د پښتو ويیپوهنې د تاريخي او علمي پرمختګ لپاره يو منظم او کره‌کتنيز ليد وړاندې کوي.

له دې امله د دې څېړنې اړتيا په دې کې راڅرګندېږي چې د پښتو ويیپوهنې اړوند موجود کارونه بايد يوازې د تاريخي معلوماتو په توګه معرفي نه شي، بلکې په کار ده د معاصرې ويیپوهنې د اصولو او نظريو له مخې وارزول شي. دغه ارزونه کولای شي د پښتو ويیپوهنې د تېر بهير علمي ځواکمن ټکي او محدوديتونه روښانه کړي او د راتلونکو ويیپوهنيزو څېړنو لپاره مناسب بنسټ چمتو کړي.

## ۲ . ٦ د ″پښتو وييپوهنې د کره کتنيز جاج″ نظري بنسټ

هره علمي څېړنه ځرګندې نظرۍ زمينې او مفهومي چوکاټ ته اړتيا لري؛ ځکه تيوري د موضوع د ټاکلو، معلوماتو تنظيم، شواهدو تحليل او پايلو د تفسير لپاره علمي ليدلوري برابروي. هغه څېړنې چې د يوې علمي برخې تاريخي بهير، آثار، لاسته راوړنې او نيمګړتياوې ارزوي، بايد داسې بنسټ ولري چې هم تاريخي تحول وڅېړي او هم د علمي ارزونې معيارونه وړاندې کړي.

د «پښتو وييپوهنې کره کتنيز جاج» موخه د يوې ځانګړې نظريې اثبات نه، بلکې د پښتو وييپوهنيزو کارونو راټولول، تنظيم، تاريخي پړاوونو روښانول، د آثارو پېژندنه او د وييپوهنې د اصولو پر بنسټ يې تحليلي ارزونه ده.

د دې څېړنې نظري بنسټ له درېيو تړلو ليدلورو څخه جوړ دی: تاريخي ـ تکاملي، جوړښتي ـ وييپوهنيز او تحليلي ـ کره کتنيز ليدلوری.

د دې څېړنې عمومي دريځ دا دی چې وييپوهنه يو تاريخي، نظام‌مند او تحول‌کوونکی علمي ډګر دی. د ژبې وييز نظام له داخلي جوړښت، معنايي اړيکو او وييزو واحدونو سره تړاو لري او د وخت، ټولنيزو اړتياوو، فرهنګي بدلونونو، ژبني تماس او کارونې له بدلونونو سره تحول کوي.

د دې دريځ علمي بنسټ د ژبې د نظام د ماهيت په اړه د سوسور له نظريې (Saussure, ۱۹۸۳/۱۹۱٦)، د وييزو ډګرونو له نظريې (Trier, ۱۹۳۱؛ Lyons, ۱۹۷۷)، او د وييپوهنې د معاصرې تشريح له اصولو سره تړاو لري. په معاصره وييزه معناپوهنه کې ويی د منفرد واحد پر ځای د معنايي اړيکو، وييزو ډګرونو، څو مانيزۍ، مترادفۍ، تضاد، عموم او خصوص په نظام کې ارزول کېږي (Lyons, ۱۹۷۷؛ Cruse, ۱۹۸٦؛ Geeraerts, ۲۰۱۰). له همدې امله، پښتو وييپوهنه د جلا آثارو مجموعه نه، بلکې د مفاهيمو، اصطلاحاتو، څېړنيزو لارو او علمي موندنو تاريخي نظام ګڼل کېږي.

### ۱ . ٦ . ۲ تاريخي ـ تکاملي ليدلوری

د دې څېړنې لومړی بنسټ تاريخي ـ تکاملي ليدلوری دی. هېڅ علمي ډګر له خپل تاريخي شاليد پرته نه شي څېړل کېدای. وييپوهنې هم له تاريخي ـ فيلالوژيکې لارې څخه تر جوړښتي او

شناختي/ادراکي ليدلورو پورې د نظري بدلونونو پراوونه تېر کړي دي ( Baldinger, ۱۹۸۰؛ Geeraerts, ۲۰۱۰).

د پښتو ويپپوهنې تاريخي بهير به د لاندنيو پوښتنو له مخې وڅېړل شي:

د پښتو ويپپوهنيزو کارونو پيل څه وخت او په کومو شرايطو کې شوی؟

په لومړنيو آثارو کې د ويې، معنا او لغت په اړه څه ډول ليدلوری موجود و؟

د قاموسونو، لغتنامو او نورو ويپيزو آثارو له رامنځته کېدو سره کوم بدلونونه راغلل؟

پښتو ويپپوهنې له يوه پړاو څخه بل ته څومره علمي وده کړې؟

په هر پړاو کې کومې تشې موجودې وې او په راتلونکو آثارو کې تر کومه بريده جبران شوې؟

له دې ليدلوري تاريخ يوازې د آثارو او نېټو لړۍ نه، بلکې د مفکورو، موضوعاتو، ميتودونو، اصطلاحاتو او څېړنيزو اړتياوو د بدلون بهير دی. د معنايي بدلون د څېړنې کلاسيکې او معاصرې نظريې هم څرګندوي چې ويپونه د ټولنيزو، فرهنګي او کارېدونکو شرايطو له بدلون سره معنايي پراختيا، تنګوالی، لېږد او ارزښتي بدلون مومي ( Ullmann, ۱۹۶۲؛ Blank, ۱۹۹۹؛ Traugott & Dasher, ۲۰۰۲).

دا ليدلوری څرګندوي چې د پښتو ويپپوهنې پرمختګ بايد د آثارو د شمېر له مخې نه، بلکې د موضوعي پراختيا، مفهومي ژورتيا، شواهدو او څېړنيزو لارو د تدريجي پرمختګ له مخې وارزول شي.

## ۲. ۶. ۲ رغښتي - ويپپوهنيز ليدلوری

دويم نظري بنسټ رغښتي - ويپپوهنيز ليدلوری دی. رغښتي معناپوهنه ويپيز واحدونه د ژبني نظام په دننه کې څېړي او معنا يې د نورو ويپونو او واحدونو له اړيکو سره تړي. د ويپيز ډګر نظريه او د معنايي اړيکو تحليل د دې ليدلوري مهمې لارې دي ( Saussure, ۱۹۱۶/۱۹۸۳؛ Trier, ۱۹۳۱؛ Lyons, ۱۹۷۷).

د ويپيز ډګر اصل دا دی چې د يوه ويي معنا د هغه له موقعيت او نورو لغوي واحدونو سره له اړيکو پرته په بشپړه توګه نه شي تشريح کېدای. له همدې امله به په پښتو ويپپوهنيزو آثارو کې لاندې موارد وارزول شي:

ویی څنګه تعریف شوی؛

وییيز واحدونه څنګه طبقه‌بندي شوي؛

معنايي اړیکې څنګه تشریح شوې؛

مترادف، متضاد، څو مانیز، هممانیز او نور روابط څنګه بیان شوي؛

وییيز ډګرونه تر کومه بریده په پام کې نیول شوي؛

د ویی او معنا اړیکه څنګه تبیین شوې؛

او پښتو لغوي نظام تر کومه بریده منظم نظام ګڼل شوی دی.

په دې برخه کې د «ویی»، «لغوي واحد»، «معنا»، «معنايي اړیکه» او «وییيز ډګر» اصطلاحات باید په ثابت او مشخص مفهوم وکارول شي. «ویی» د ژبې د وییيز نظام یو لغوي واحد دی؛ «وییيز واحد» تر دې پراخه اصطلاح ده او ویی، ثابت ترکیب او ځینې نور لغوي جوړښتونه رانغاړي؛ «معناپوهنه» د معنا د نظام او اړیکو مطالعه ده؛ «وییپوهنه» د وییيزو واحدونو، د جوړښت، سرچینې، بدلون او اړیکو علمي مطالعه ده او «قاموسپوهنه» د قاموسونو د طرحې، تدوین، جوړښت او کارونې علمي او عملي ډګر دی.

جوړښتي - وییپوهنیز لیدلوری د پښتو وییپوهنیز آثار له ساده لغوي فهرستونو څخه د معنايي او جوړښتي نظامونو تر کچې تحلیلوي. د دې لیدلوري له مخې، د یوه اثر علمي ارزښت هغه وخت بشپړېږي چې وییونه د تعریف، جوړښت، معنايي اړیکو، وییيزو ډګرونو او کارونې په منظم نظام کې وڅېړل شي؛ نو د آثارو د تحلیل بنسټ باید د وییونو ترمنځ اړیکې او په ژبني نظام کې د هغوی موقعیت وي.

## ۳.٦.۲ د لغوي اړيکو نظري اصل

په دې څېړنه کې ويې د يوه منفرد عنصر پر ځای د ويېيزو اړيکو د نظام برخه ګڼل کېږي. د ارزونې مهمې کټګورۍ دا دي:

مترادفي اړيکه

د نږدې معنا لرونکو ويېيونو څېړنه. مترادفي اړيکه مطلقه يا نسبي کېدای شي؛ ځکه ډېر ويېيونه د معنا له پلوه بشپړ يو شان نه، بلکې د سبک، ساحې، لهجې يا کارونې له مخې نږدې وي (Cruse, ۱۹۸٦؛ Murphy, ۲۰۰۳).

تضاده اړيکه

د معنايي تقابل لرونکو ويېيونو تحليل. تضاد بېلابېل ډولونه لري، لکه تدريجي، دوه‌قطبي او رابطه‌يي تضاد (Lyons, ۱۹۷۷؛ Cruse, ۱۹۸٦).

عمومي او خصوصي اړيکه

د پراخې او محدودې معنا لرونکو ويېيونو اړيکه. په دې اړيکه کې عمومي ويې د معنايي ساحې پراخ غړيتوب لري او ځانګړې ويې د هغې ساحې محدود فرعي غړی وي.

څو مانيزه اړيکه

د يوه ويي د څو اړوندو معناوو تحليل. څو مانيزه اړيکه هغه مهال رامنځته کېږي چې د يوه ويي بېلابېلې معناوې له تاريخي يا معنايي پلوه له يو بل سره اړيکه ولري؛ دا له لفظي اشتراک سره توپير لري (Lyons, ۱۹۷۷؛ Geeraerts, ۲۰۱۰).

هممانيزي او لفظي اشتراک

د ورته بڼې، خو متفاوتې معنا لرونکو واحدونو تحليل. په دې څېړنه کې «هممانيزي» د هغو واحدونو لپاره کارول کېږي چې بڼه يې يو شان يا نږدې يو شان وي، خو معناوې يې له يو بل سره اړينې اړيکې ونه لري؛ «لفظي اشتراک» بيا د همدې پديدې د تشريح لپاره عمومي اصطلاح ده.

ويېيز ډګر

د ګډ مفهومي یا معنایي ډګر اړوند وییونو نظام څېړل. وییېز ډګر د وییونو هغه منظمه ټولګه ده چې د یوې مفهومي حوزې په دننه کې د معنایي اړیکو له لارې سره تړلې وي ( Trier, ۱۹۳۱؛ Lehrer, ۱۹۷٤).

دغه کټګوري ښیي چې آثار پښتو وییېز نظام یوازې د لغتونو فهرست ګڼي، که یې د متقابلو اړیکو لرونکي معنایي او جوړښتي نظام په توګه هم څېړي.

## ۴.۶.۲ د تاریخي وییپوهنې اصل

تاریخي وییپوهنه (Historical Lexicology) د وییونو د رامنځته کېدو، بدلون، پراختیا، زوال، معنایي تحول او وییېز نظام د تاریخي بدلونونو مطالعه کوي. له همدې امله به د پښتو وییپوهنیزو آثارو ارزونه یوازې د «پخواني» او «نوي» پر وېش پر اساس نه وي، بلکې د مفاهیمو او څېړنیزو لارو د تحول پر بنسټ ترسره کېږي.

که په یوه پخواني اثر کې ویی یوازې د لغوي مانا له مخې معرفي شوی وي، خو په وروستني اثر کې یې جوړښت، تاریخي سرچینه، معنایي اړیکې او کارونه هم څېړل شوې وي، دا توپیر به د علمي تحول نښه وبلل شي. په دې تحلیل کې به د وییونو د بنې، سرچینې، معنا او کارونې بدلونونه له تاریخي متنونو، قاموسونو او نورو مستندو ژبنیو شواهدو سره پرتله کېږي.

## ۵.۶.۲ د علمي نقد او ارزونې نظري بنسټ

کره کتنیز جاج د شخصي نظر یا ستاینې او رد پر ځای، د ټاکلو علمي معیارونو له مخې د اثر تحلیل، ارزونه او د قوتونو او کمزوریو تشخیص دی. د علمي نقد په معاصر مفهوم کې د اثر ارزونه باید د ادعاوو، میتود، شواهدو، مفهومي انسجام او پایلو ترمنځ اړیکه وڅېړي.

د هر وییپوهنیز اثر ارزونه به د لاندې معیارونو پر بنسټ ترسره کېږي:

موضوعي معیار

اثر خپله موضوع په څومره علمي بشپړتیا څېړلې ده؟

مفهومي معیار

اساسي مفاهیم او اصطلاحات په روښانه او علمي ډول تعریف شوي دي که نه؟

تیوریک معیار

اثر پر کوم لیدلوري ولاړ دی او ایا هغه د موضوع لپاره مناسب دی؟

میتودي معیار

د معلوماتو راټولول، تحلیل او پایله‌اخیستنه څومره علمي ده؟

۸شواهدو معیار

ادعاوې په کافي ژبنیو او علمي شواهدو ولاړې دي که نه؟

یاد معیارونه د درېیو لیدلورو د عملي پلي کېدو ګډه وسیله جوړوي: تاریخي معیارونه د اثر زماني ځای او تحول ارزوي، مفهومي او جوړښتي معیارونه د وییېز نظام د تحلیل کیفیت معلوموي او میتودي، شواهدو او پایلو معیارونه د علمي استدلال اعتبار سنجوي. په دې توګه، ارزونه له عمومي ستاینې یا رد څخه منظمې تحلیلي پروسې ته اوړي چې د هر اثر قوتونه، کمزورۍ، تشې او نوښتونه په مستندو شواهدو څرګندوي.

د «پښتو وییپوهنې کره کتنیز جاج» پراخ ماهیت د یوې واحدې او محدودې تیورۍ پر ځای ترکیبي چوکاټ ته اړتیا لري. څېړنه تاریخي ده، ځکه د پښتو وییپوهنې رامنځته کېدل او پرمختګ څېړي؛ وییپوهنیزه ده، ځکه د وییزو واحدونو، معناوو، جوړښتونو او اړیکو اصول کاروي؛ او کره کتنیزه ده، ځکه آثار د ټاکلو علمي معیارونو له مخې ارزوي.

له همدې امله، مناسب نظري بنسټ درې اساسي ستنې لري:

لومړۍ ستنه: تاریخي ـ تکاملي لیدلوری

د پښتو وییپوهنې د تاریخي سیر او تحول د څېړلو لپاره.

دویمه ستنه: جوړښتي ـ وییپوهنیز لیدلوری

د ویی، معنا، وییزو اړیکو او وییېز نظام د تحلیل لپاره.

درېیمه ستنه: تحلیلي ـ کره کتنیز لیدلوری

د آثارو د علمي ارزونې، قوتونو، کمزوریو، تشو او نوښتونو د معلومولو لپاره.

## ۲ . ۷ د مفاهیمو تعریفونه

کله نا کله وییپوهنه، مورفوفولوژي او قاموسپوهنه سره ګډېږي او حتی په یو شمېر آثارو کې لیکل شوي وي چې(غږپوهنه او وییپوهنه) خو کله چې د کتابونو منځپانګه وکتل شي، هلته بیا بحث د مورفولوژي وي، نه د وییپوهنې. که څه هم مورفولوژي او وییپوهنه اړیکې سره لري، خو د بحث حوزې یې په بشپړه توګه سره بېلې دي.

وړاندې تر دې چې د ویي او وییپوهنې په اړه بحث وکړو، لومړی پر دې غږېږو چې مورفولوژي، وییپوهنه او قاموسلیکنه څه دي او بیا به یې د توپیرونو په اړه رڼا واچوو:

## ۲ . ۸ مورفولوژي(Morphology)

ګرامر د تشریحي ژبپوهنې د یوې سترې څانګې په توګه د ژبې غږیز(فونیمیک)، مورفولوژیک(صرفي) او نحوي(سنټکس) جوړښت تر څېړنې لاندې نیسي. صرف او نحوه یا مورفولوژي او سنټکس د ګرامر هغه دوه اساسي برخې دي چې په مورفولوژي(صرف) کې د یوې ژبې ټاکلي مورفیمونه، د هغو جوړښت، شکلونه، ترکیب، اشتقاق، ګردان او ډولونه یې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. په (نځوه) کې بیا د جملو جوړښت، ترکیب، عبارت او د جملې اړوند نور موضوعات تر بحث لاندې راځي.

مورفولوژي د یوناني ژبې اصطلاح ده چې له دوو کلمو: مورف (Morph) او لوژي(logy) څخه رغېدلې ده. په یوناني ژبه کې مورف د شکل او صورت په معنا دی او لوژي د علم، پوهې او پېژندنې معنا لري. په لغوي لحاظ دا کلمه د یوې ژبې د لفظي شکلونو او بڼو د علم، پوهې او پېژندنې په معنا راغلې ده.

نو ویلای شو چې مورفولوژي د تشریحي ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه د یوې ژبې مورفیمونه او د هغوی جوړښت او ډولونه تر څېړنې او مطالعې لاندې نیسي(شیرزاد، ۱۳۹۷، ۵۵ مخ).

یا هم: ګړپوهنه د ژبپوهنې هغه بنسټیزه څانګه ده چې د وییونو جوړښت، ډولونه، ترتیب، ترکیب او څرنګوالی یې څېړي یا ګړپوهنه د یوې ټاکلې ژبې ګړیز او لغوي جوړښت، ترکیب او سیستماتیکه او منلې توګه په یوه ژبه کې د کلمو په جوړښت کې د اساس یا رېښې، مختاړي، منځتاړي او وروستاړي

له کره ځای پر ځای والي څخه بحث. یعنې د یوې ټاکلې ژبې وییونه کوم ډول په خپل جوړښت کې منلی شي او کوم ډول تغییر نه قبلوي؛ یا که په بل ډول ووایو ګړپوهنه په عمومي توګه د کلمو د جوړښت تر څنګ د هغو هر اړخیز څرنګوالی(ډول، جنسیت، مفرد، جمع ...) په ګوته کوي. لکه: دوه ــ دوې، سړی ــ سړي، ملګری ــ ملګرې ... دغه کلمې جنسیت، شمېر، یوګړی او ډېرګړي څرګندوي.

ګړپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د کلمو له بڼې او جوړښت څخه بحث کوي. یا په بل عبارت ګړپوهنه هغه پوهه ده چې د کلمو له جوړښت، ډولونو، تجزیې او تشریح څخه بحث کوي.

مورفولوژیکې شننې او تجزیې د لومړي ځل لپاره په ختیځ کې پیل شوي او په دې برخه کې لومړنی کس چې خپل قلم یې ارزولی لرغونی هندی ژبپوه پاڼیني دی. پاڼیني په خپل ګرامر کې د سنسکرېټ ژبې د ګړپوهنې او مورفولوژي لپاره (۳۹۵۹) اصول وړاندې کړي وو. لرغونو یونانیانو او رومیانو هم د ګړپوهنیزې تجزیې په برخه کې خپلې هڅې ترسره کړي دي. د ګړپوهنیزې تجزیې په برخه کې عربانو هم په (۱۳) ز پېړۍ کې خپلې هلې ځلې کړې دي.

نو ګړپوهنه یا مورفولوژي د ګړونو یا وییونو د جوړښت علم دی یا مورفولوژي د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په ژبو یا ژبه کې د لغتونو د جوړښت اصول او اساسات څېړي. دا چې د ګړپوهنې سر و کار له ګړونو سره ده، نو په ټوله کې د ژبپوهنې له آوازپوهنې، وییپوهنې، غوښدلهپوهنې او معناپوهنې سره هم نیژدې اړیکې لري. لغتونه په یوه ژبه کې کوچني معنا لرونکي واحدونه دي، له ژبپوهنیز اړخه د لغت یا لغتونو پورتنۍ پېژندنه ناسمه ده، ځکه چې له ژبپوهنیز پلوه کولی شو یو لغت په څو نورو معنالرونکو کوچنیو برخو ووېشو،لکه: (ناروغتیا) کلمه چې له (نا+ روغ+ تیا) درې ګړونو څخه رغېدلې ده، په دې کلمه کې(روغ) هغه خپلواکه برخه ده چې کلمه یې بللی شو او (نا) مختاړی دی چې یادې کلمې ته یې منفي معنا ورکړې ده او (تیا) یا له کلمې څخه وروسته او ورپورې تړلی وروستاړی دی چې کلمې ته یې ستاینومیزه بڼه ورکړې ده.

نو په ژبپوهنه کې د یادو جوړښتونو له اړخه د کلمې څېړونکې برخه د مورفولوژي په نوم یادوي او پورتنۍ برخه یې جلا جلا مورفیمونه ګڼل کېږي. یوه کلمه ښایي له خپلواک مورفیم څخه رغېدلې وي، لکه: (روغ) یا ښایي له یوه خپلواک او یو یا څو بېواکو مورفیمونو څخه جوړه شوې وي، لکه: پورتنۍ بېلګه کې (روغ) خپلواک او رېښه مورفیم دی چې کلمه یې هم ګڼلی شو او (نا او تیا)

ناخپلواک مورفیمونه دي چې مستقلې کلمې نه بلل کېږي، خو خپله ځانګړې ګرامري معنا لري، ځکه چې د کلمې په معنا کې بدلون راولي(څولیزی، ۱۳۹۹، ۱۴۴ مخ).

په یو بل ځای کې بیا د مورفولوژي په اړه داسې ویل شوي دي دي: مورفولوژي هغه علم دی چې په هغه کې د یوې ژبې مورفیمونه او د هغوی جوړښت څېړل کېږي.

مورفولوژي د صرف معادله اصطلاح ګڼل کېږي او داسې یې تعریف کړې ده: صرف ـ مورفولوژي د یوې ژبې د مورفیمونو(کلمو) د ساختمان د طریقو او د کلمو د ډولونو او حالاتو څېړنې او تشریح کولو ته وایي:

پوهاند صدیق الله رښتین په خپل یوه اثر کې د مورفولوژي په اړه داسې لیکلي دي: هغه علم چې پکې د کلمو له ډولونو، حالاتو یعنې تغییر او بدلون، ګردان او اشتقاق او د کلمې د نورو تشریحاتو په اړه بحث کېږي، د صرف علم دی(تڼیوال، ۱۳۹۷، ۱۹۲ مخ).

د ویپپوهنې په اړه چې کله خبره کېږي او په یو شمېر لیکل شوو آثارو او کتابونو کې ګورو چې کله نا کله ویپپوهنه د مورفولوژي په معنا اخیستل شوې ده او یا هم مورفولوژی ته ویپپوهنه ویل شوې ده، دا سمه ده چې د مورفولوژي له اوزارو او وسایلو څخه په ویپپوهنه او ویبرغونه کې کار اخیستل کېږي او همدارنګه کله چې د ویي(لغت) په اړه بحث کېږي، بیا هم مجبور یوو چې مورفولوژي ته سر ورښکاره کړو، نو ویلای شو چې د مورفولوژي نه یوازې له ویپپوهنې سره اړیکې لري، بلکې له معناپوهنې، قاموسلیکنې او نحوې سره هم نږدې ارتباطات لري، خو په ټولیزه توګه ویپپوهنه د تشریحي ژبپوهنې جلا څانګه ده چې په انګریزي کې ورته (Lexicology)، په پارسي ژبه کې ورته (واژه شناسی) او اُردو ژبه کې لغتیات ویل کېږي.

د تشریحي ژبپوهنې په دې برخه کې د یوې ژبې د ویيونو پر زېرمه او شتمنې بحث کېږي. دا چې په یوه ژبه کې د لغتونو او لفظونو شمېر څومره دی او د دې ویيونو ډول څه دی، کوم د ژبې خپل اصیل لغتونه او کوم لغتونه له نورو ژبو څخه اخیستل شوي، دا اخیستل شوي لغتونه له کومو لارو څخه راغلي دي، په ویپپوهنه کې د اصلي ویيونو او له پردیو ژبو څخه د اخیستل شویو لغتونو په تناسب او توازن باندې بحث کېږي.

یا هم وییپوهنه د تشریحي ژبپوهنې هغه برخه ده چې د یوې ژبې د لغتونو پر زېرمه پکې بحث کېږي. دا چې په یوه ژبه کې د لفظونو شمېر څومره دی؟ او د دې لغتونو ډول څه دی؟ دا لغتونه د دې ژبې خپل سوچه وییونه دي؟ که له نورو ژبې څخه اخیستل شوي دي؟ او که چېرې له نورو ژبو څخه اخیستل شوي دي، نو هغه کومې وسیلې دي او له کومو لارو دغه لغتونه دې ژبې ته راغلي دي، په وییپوهنه کې د ځایي لغتونو او له بهرنیو ژبو څخه د اخیستل شویو لغتونو پر تناسب او توازن باندې هم بحث کېږي.

پر دې سربېره په وییپوهنه کې پر دې بحث کېږي چې ژبې ته نوي لغتونه د کومو لاملونو له امله راغلي دي، لکه: علمي، کلتوري، ټولنیز، ادبي، سیاسي، ژبني او تخنیکي، پر دې ټولو لاملونو او سببونو بحث او خبرې کېږي. کله نا کله یو شمېر ژبې په کلتوري او مذهبي لحاظ یو له بل سره نږدې وي، لکه: عربي، پارسي او پښتو، نو د دوی به خامخا یو پر بل اغېز او اثر وي او ځینې ژبې بیا د علمي لاملونو له کبله پر نورو ژبو اثر پرېباسي، لکه: انګریزي ژبه او همدارنګه ځینې نورې بیا د سیاسي لاملونو او ځواک له کبله اغېزې کوي. په وییپوهنه کې پر دې ټولو بحث کېږي. پر دې سربېره په وییپوهنه کې د ویي جوړونې او ترتیبولو اصول هم مطالعه کېږي(اکرام، ۱۳۹۷، ۲۱۶ مخ).

د سیندکښنې(Lexicography) په اړه هم داسې بحثونه لا له وړاندې موجود وو په ځینو آثارو کې وییپوهنه او سیندکښنه(قاموسلیکنه) دواړه یو ګڼل شوي دي، خو اوسنې ژبپوهان بیا په دې برخه کې ځانګړی نظر لري، لکه څنګه چې وییپوهنه او مورفولوژي یوه نه ګڼي، همدارنګه سیندکښنه او وییپوهنه خو په هېڅ وجه یوه نه بولي، داسې نظر هم ورکوي چې قاموس لیکنه اوس له وییپوهنې بېله د تشریحي ژبپوهنې څانګه بولي، په هر حال په پښتو ژبه کې تر اوسه پورې وییرغاونه او قاموس لیکنه د د وییپوهنې تر چتر لاندې مطالعه کېږي. خو په نوره نړۍ کې وییپوهنه او قاموس‌لیکنې د دوو بېلو څانګو حیثیت خپل کړی دی، که څه هم نږدېوالی سره لري، خو د بحث او څېړنې موضوعات یې بېل دي.

## ۲ . ۹ ترمینولوژي (termiologye)

کله چې ژبه د علم او ساینس ډګر ته داخلېږي او په بېلابېلو برخو کې علمي بحثونه منځ ته راځي، نو بیا هغه وخت اصطلاحات ځانګړی ارزښت مومي او د ژبې ویونکي باید دا هڅه او زیار وکړي چې د اصطلاحاتو په برخه کې نوي قدمونه اوچت کړي او که چېرې د هرې برخې له راتګ سره د هماغې برخې لپاره په خپله ژبه کې وړ اصطلاحات جوړ نشـي، نو ژبه بیا د پرمختګ پر ځای له یو ډول پېچلتیا سره مخامخ کېږي، ځکه د علم د بېلابېلو برخو له راتګ سره د هماغې برخې اصطلاحات او لغتونه هم ژبې ته راځي او ژبه د پردیو لغتونو له ګڼوالي سره مخامخ کېږي. دلته د لغت تر څنګ د دې اړتیا هم ده چې موږ د اصطلاح یا ترمن په اړه هم رڼا واچوو، ځکه لغت او اصطلاح یو له بل سره نږدې دي، خو توپیر سره لري او کله نا کله خو د لغت او اصطلاح تر منځ د پولو ټاکل هم ستونزمن کار ګرځېدلی دی، خو وړاندې تر دې چې په مشخصه توګه د اصطلاح په اړه بحث وکړو، راځو د ترمینولوژي په اړه لنډ معلومات را اخلو چې خپله له اصطلاح څخه بحث کوي او په دې اړه له بحث وروسته به د اصطلاح په اړه هم رڼا واچوو:

ترمینولوژي لاتیني کلمه ده چې له ترمینوس (terminus) او لوګوس (logos) څخه مرکبه کلمه ده چې معنا يې داسې ښودل کېږي: «هغه هنر چې د هغه په وسیله افکار د کلماتو په ذریعه مجسم کېږي او په خاصه بیا هغه هنر چې فني او مسلکي کلمات جوړوي» او یا دا: «د هغو تخنیکي او فني کلماتو مجموعه ده چې په یوه ساحه کې لکه: هنر، علوم او داسې نورو کې استعمالېږي»(څولیزی، ۱۳۹۹، ۳۲ مخ).

اصطلاح پېژندنه د ژبپوهنې د یوې برخې په توګه چې د تخصصي اصطلاحاتو شکلي او محتواي اړخ څېړي. د شلمې پېړۍ په منځنیو کلونو کې د علم او ټکنالوژۍ د پراختیا په پایله کې او د نویو مفهمونو د نومولو د اړتیا له مخې او همدارنګه له ټاکلو اصطلاحاتو څخه د متخصصانو تر منځ د غوره درک د ضرورت پر بنسټ د اصطلاح پېژندنې په برخه کې د څېړنو تعداد زیاد شو او حتی په دې برخه کې د ژبپوهنې نوي مکتبونه را منځ ته شول. لکه: په وین، مسکو او پراګ کې د اصطلاح پېژندنې مکتبونه جوړ شول(سادات، ۱۳۹۸، ۱۱۳ مخ).

پوهاند زیار په وړمه مجله کې (د ژبپوهنې نومونې) تر سرلیک لاندې د ترمینولوژي او په پښتو کې يې د اړتیا او لارو چارو په اړه ښکلی بحث کړی دی چې دلته يې ځینې برخې را اخلو:

کله چې غواړي اصطلاحگانې جوړې کړي، نو اصطلاح جوړونې پيل له (ترمينولوژي) څخه کوي او په لومړي قدم کې يې پښتو معادل وړاندې کوي چې (نومونپوهنه) ورته کاروي او زياتوي دا ځکه يوه اړتيا ګڼم چې زموږ ژبه سبا له د نړۍ له سترو علمي ژبو سره سيالۍ ته ملا تړي. دا چې هره پوهنه ځان ته جلا نومونې لري او هغه د نړۍ په بېلو بېلو ژبو وي، نو په کار دي چې پښتو له هر څه دمخه دا غوټه ځان ته پرانيزي، تر وسې وسې پورې له خپلو ټاکنو کار واخلي، تر څو د هر يوه اند(مفهوم) لپاره خپل کالب ولري. که دا کار ونه کړي او ټول مفهومونه په هماغو پرديو بڼو کې يو مخيز را واخلي، نو بيا د دې وينا حق نه لري چې گوندې ژبه يې يوه علمي ژبه شوه. ځکه مفهومونه خو بې له هغې د نورو د مغزو زېږنده ده او په نورو ژبو پورې اړه لري، مگر يوازې فورمونه او کينډې دي چې هره ژبه يې په خپله بڼه را اړولای شي، که له اندونو او مفهومونو سره فورمونه هم يوځای کټ مټ را پور کړي، نور به د علمي کېدو څه باټې وکړي. په خپله هماغه يا دې دې علمي او دودياليې ژبې چې رالېږدونکې پوهنې په کې لومړی ځل منځ ته راغلي او سنبال شوي دي، هېڅکله يې ورته مخکې له مخکې تيار کالبونه نه لرل هره نومونه او ويی يې د خپلو ويونکو له خوا په خپله خوښه جوړ شوی او ټاکل شوی دی.

علمې نومونې د ژبې د نورې پانگې په څېر په خپل سر او ناپامه توگه منځ ته نه راځي دا په يوه پوهاند يا د پوهانو په يوې ډلې پورې اړه لري او د همدوی له خوا په لوی لاس حوړېږي او دود مومي بې له دې چې نور ويونکي په کې برخه واخلي(زيار، ۱۳۵۰، ۱۱۲ مخ).

د اصطلاحاتو او عامه لغتونو تر منځ پوله ټاکل مشکل کار دی، کله نا کله ځينې کلمې چې په عامه معنا کارول کېږي او اولس يې کاروي، خو په ځانگو کې همدغه عام لغات بيا مسلکي او حرفوي اصطلاحاگانې گڼل کېږي، خو بيا هم عام لغتونه او اصطلاحات يو له بل سره کلي توپيرونه لري.

کله نا کله اصطلاح جوړونه د لغت جوړونې پر ځای کارول کېږي. د عمومي کلمو جوړول او د تخصصي اصطلاحاتو جوړول د مأهيت له مخې يو له بل سره توپير لري.

کومه برخه چې عمومي لغتونه جوړوي(لغت جوړونه) ده او کومه برخه چې د تخصصي کلماتو جوړونه تر شننې لاندې نيسي( اصطلاح جوړونه) بلل کېږي. په روسي ژبه کې لغت جوړونه او اصطلاح جوړونه د دوو جلا علومو په توگه پېژندل کېږي.

۱. عمومي کلمې په ټولیزه توګه د اجتماعي اړتیا له مخې منځ ته راځي او د هغو جوړونکي کولای شي، بېلابېل خلک واوسي، اما اصطلاحات بیا د تخصصي برخو د مفاهیمو د نومونو لپاره جوړېږي چې له حرفوي او تخصصي برخو سره ارتباط لري.
۲. د اصطلاحاتو جوړونه تل په اګاهانه او شعوري توګه مخ ته وړل کېږي یا په بل عبارت چې اصطلاحات خپله نه را منځ ته کېږي، بلکې اړتیا او عیني ضرورت ته په کتلو منځ ته راځي او جوړوونکي یې ټاکلي او مشخص کسان دي.
۳. د اصطلاحاتو د جوړونې بهیر د عامو کلمو د جوړولو له بهیر څخه پېچلی دی.
۴. اصطلاحات باید داسې جوړ شي چې له ظاهري بڼې څخه یې وکولای شو څه نا څه داخلي معنا درک کړو. په داسې حال کې د وییپوهنې په علم کې د کلمو د ظاهري او داخلي معناوو تر منځ د ورته والي اړتیا نشته.(سادات، ۱۳۹۸، ۱۲۰ مخ).
دلته به په لنډه توګه د اصطلاح په اړه خبرې وکړو او بیا به د لغت او اصطلاح تر منځ توپیر ته هم لږ تم شو.
اصطلاح ــ یا ترمن): هغه لغت یا لغوي ترکیب ته ویل کېږي چې د ټاکلي تخصص د معنا درلودونکی وي. د مسلکي مفهوم جوړوونکی او څرګندونکی وي چې په ځینو واقعیتونو باندې د پوهېدو په جریان کې استعمالېږي.
د لغتونو او اصطلاحاتو له تعریف او پېژندلو وروسته دلته د لغت او اصطلاح توپیرونه په لنډه توګه ذکر کوو:
۱. هغه لغات چې د عمومي استعمالیدونکو لغاتو په نوم یادېږي په دې کې زیات لغات داسې دي چې هر یو یې له یوې څخه د زیاتو معناوو درلودونکی دی، مګر اصطلاحات داسې نه دي، د اصطلاحاتو ډېر لوی او څرګند خصوصیت دادی چې هره اصطلاح د خپل ټاکلي تخصص له مخې خپله ټاکلې معنا لري.(لودین، ۱۳۹۵، ۳۳ مخ). یا هم په بل عبارت ویلی شو چې لغات په عام ډول ډېر کارول کېږي او اصطلاح بیا په خاص ډول د یوه ټاکلي تخصص په برخه کې مشخصه او ټاکلې معنا لري.
۲. اصطلاحات یوازې دا دنده نه ترسره کوي چې مفاهیم ونوموي، بلکې دا دنده هم لري چې د نومونو په ترڅ کې یو مفهوم له بله په ډېر ښه ډول توپیر کړي او هر مفهوم ته خپل ټاکلی چوکاټ وټاکي(سادات، ۱۳۹۸، ۳۳ مخ).

د هغو کلمو لپاره چې د علمو اړوندې دي، د معادلو کلمو جوړول او پیدا کول اړین دي، دلته منظور اصطلاحات دي چې د یوه ځانګړي علم د متخصصانو له خوا ګټه ترې اخیستل کېږي. لکه: په ژبپوهنه کې  یو محصل چې د لومړي ځل لپاره د ژبپوهنې له نویو اصطلاحاتو او کلمو سره مخامخ کېږي، هغه کلمه د خپلې برخې د یوې تخصصي اصطلاح په توګه زده کوي او کاروي یې. مثلاً: وییپوهنه یا غږپوهنه (فونولوژي)، خپلواک غږونه (واولونه)، بېواک غږونه (کانسونانټ) او داسې نور ...

پوهاند زیار بیا د ژبپوهنې له مخې د نوو ټاکنو یا (اصطلاح) جوړونې لیارو ته اشاره کړې ده چې ځینې یې دلته یادوو:۱. لومړی دې دا هڅه وشي چې په ژبه کې تیار دود، ویی د نورو راغلو مفهومونو لپاره په کار واچول شي، که څه هم هغه ویی له هغو سره سره ټیک په ټیکه اړخ ونه لګوي، یو څه مانیز(معنوي) اوښتون او پراخوالی به پکې لږ و ډېر هرو مرو راځي او په داسې تیارو یا نیم تیارو وییونو پسې هر راز لټه په کار ده، که په کومه زړه لیکنه کې وي او یا په کوم ګړدود کې.

۲. د هرې نومونې آره او اصله رغونه وپلټل شي، هغه په دې ډول چې په کومې ژبې پورې اړه لري او څنګه منځ ته راغلې ده. ګورو چې (telegraph) د یوناني ژبې ویی دی او له (tele) او (graph) څخه جوړه کلمه شوې ده او په پښتو کې دواړه توکه (لرې، لر) او (لیک یا لیکوالان) بېلابېل شته، نو که وغواړو ټول ترڼګ(ترکیب) جوړ کړو، نو د ویي رغونې له قانون سره سم به ترې لرلیکون جوړ شي، په همدې ډول د پښتو ویي رغونې له نورو لارو څخه هم ګټه اخیستل کېدای شي.

په همدې لړ کې په خپله بڼه د پښتو نومونو سترې ګټې داسې ښیي:

ــ د پردیو ژبو د اغېزو مخه به ونیوله شي او له دې سره به هغه ډار له منځه ولاړ شي چې وروسته راته خپله ژبه پردۍ شي، ځکه همدغه لږې لږې اغېزې او راپورونې یو وخت دې ته ورسېږي چې د پارسي غوندې پرته له (وو) او (شته) څخه نور څه ورپاتې نه شي. بل د ابهام او التباس ویره ده او هغه هم په علمي برخه کې هر څوک به له خپلې زده کړې ژبې څخه کار واخلي. چا چې عربي زده کړې وي او عربي صرف او نحوه یې لوستې وي، ژبپوهنې ته به(علم السان یا لسانیات) وایي. که چا په انګلیسي ژبه کې خپلې زده کړې کړې وي(languistics) به یې بولي او داسې نور ...

د ژبدود په برخه کې به کوم ژبپوهاند دا ومني چې آواز(فونيم) .... (مورفيم) او ادات دې په يوه نامه (حرف) وبلل شي، که څوک نوې پښتو ټاکنې نامانوسه ګڼي، زه دا وايم د ژبپوهنې شاګرد خو دې ته اړ دی چې نوې نومونې زده کړي، نو دا نومونې که په پښتو وي له نورو پرديو ژبو څخه به ورته ډېرې آسانې وي او ژبه به يې پرې ژر ماتېږي(زيار، ۱۳۵۰، ۱۱۴ مخ).

بل دا چې د هرې برخې اړوند اصطلاحات اړينه نه ده چې په عامه توګه دې وکارول شي، کله چې په اړونده برخه کې وکارول شي، بيا وروسته کله چې ټولنه هم ورته اړتيا پيدا کوي کارولو ته يې زړه ښه کوي.

يا هم ويلای شو چې په اړونده څانګه کې له کارېدنې وروسته بيا ټولنې لار مومي. کېدای شي تر اوسه پورې به هم عام اولس ډېره برخه د (الوتکې) کلمه نه کاروي او کېدای شي، په لومړيو کې به د ډېرو کسانو لپاره نوې او نااشنا وه، خو د وخت په تېرېدو سره د ډېرو کسانو لپاره عادي ګرځېدلې ده.

هر ملت تل خپله ژبه اړوي، ځکه چې ژبه د ملتونو له معنوي لوړتياوو سره سمه پر مخ ځي، نو څومره چې د يوه ملت افکار او خيالات لوړ شي، ژبه يې هم لوړېږي. دا خو د ژبو د طبيعي لوړتيا سير دی، چې په خپله د ملتونو د ارتقايي يون تابع دی، مګر ژوندي ملتونه تل زيار کاږي چې په خپل جهد هم خپله ژبه لوړه او بشپړه کړي.
د ژبو د بشپړتوب لپاره خو ډېرې لارې او اصول شته، مګر هغه مواد چې په دې بحث پورې اړه لري دا دي:
۱. د پښتو لغتونو او کلمو ټولول او مواد يې راغونډول او قاموسونه يې ليکل.
۲. هغه کلمې په ځانګړې ډول وپلټل شي، چې په ژبه کې اوس پښتو سوچه لغات نه لري او د پرديو ژبو کلمې مستعملې او کارول کېږي.
۳. تر پلټنې او استقراء وروسته که د کومې کلمې لپاره په خپله ژبه کې لغت ونه موندل شو او له هرې خوا تر پلټنې وروسته ناهيلي شو، نو د پرديو مروجو کلمو په عوض کې نوې پښتو کلمې وضع کول يا رواجول.

۴. د نویو شیانو او اختراعگانو لپاره اوس نوي نومونه د پښتو پر اصولو وضع کول، یعنې پر نویو شیانو نومونه اېښوول(حبیبي، ۱۳۴۸، ۲ مخ).

## ۲ . ۱۰ سوچه سازي

سوچه‌توب یا سوچه کول یوه بله هغه موضوع ده چې د ویپوهنې په برخه کې خبرې پرې شوې دي او تل د بحث موضوع پاتې شوې ده، ځینې پوهان د سوچه‌توب پلویان او ځینې نور یې بیا د یو شمېر دلیلونو له امله په اړه مثبت نظر نه لري او وايي چې یو د ژبې معیاري کول دي چې هغه په علمي لارو سره په اعتدالي بڼه شونې چاره ده او بل د سوچه‌توب د بهیر په نامه ژبه گوښې کول او نااشنا کول دي.

د انگریزي ژبې لغت (pure) په پښتو کې د خالص، پاک، نره او کره معنا ورکوي. یاد لغت د منځنۍ انگریزي او زړې فرانسوي د (pur) او د لاتیني ژبې د (purus) لغت څخه منبع اخلي.

پوریزم د خالص والي یا پاکوالي عمل یا سیستم/نظام ته ویل کېږي چې له دوو برخو (pure) یعنې خالص او له وروستاړي (ism) څخه متشکل دی.

ژبنیز پیوریزم (linguistic purism) چې ورته د ژبنیز پروتېکشنیزم (linguistic protctionism) یا ژبساتنې اصطلاح هم کارول کېږي. د ژبې له بېلو لهجو/ واریانتونو/ بڼو څخه د یوې ځانگړې لهجې/ بڼې ته تر ټولو ترجیح/ لومړیتوب ورکولو او ورته تر نورو د زیاتې خالصې/ نرې/ کرې ژبې په سترگه کتلو یا له «پردیو» یا «غیرمطلوبو» لغتونو یا پدیدو څخه د ژبې پاک ساتلو ته ویل کېږي.(حبیبي، ۱۳۹۹. https://www.qamosona com).

یا هم: د ځینو هغو بدلونونو او اغېزو له منځه وړل دي چې پخوا په ژبه کې منځ ته راغلي وي.

د ژبنیز پوریزم بنیاد ایښودونکې لومړی مرجع د ایټالوي ژبې د «اکادمیا دېلا کرُسکا (Accademia della Crusca په نوم هغه ټولنه/اکاډمي بلله کېږي چې په ۱۵۸۳ عیسوي کال (له نن څخه ۴۳۷ کاله مخکې) د ایټالیې په فلورېنس ښار کې د څو استادانو، لیکوالانو او شاعرانو له خوا تأسیس شوه. یاده ټولنه د نړۍ تر ټولو زړه د ژبې اکاډمي بلله کېږي او تر نن پورې د ایټالوي ژبې تر ټولو مهمه څېړنیزه مرجع ده. د یادې ټولنې د تأسیس مهم مقصد د ایټالوي ژبې «پاک/نره/کره» ساتل ؤ چې په دې ترڅ کې په ۱۶۱۲ عیسوي کال (له نن څخه ۴۰۸ کال مخکې ) د ایټالوي ژبې لومړی

قاموس (Vocabolario degli Accademici della Crusca) خپور کړل شو. دغه قاموس د شلمې پېړۍ تر نژدې لومړۍ ربعې پورې په دوامداره توګه د نويو ژياتونو سره بيا بيا چاپ ته وسپارل شو(اڅکزی،https://www.qamosona. com).

هغه کس، ډله يا دولت چې غواړي يوه ژبه «خالصه/کره/سوچه» کړي، يا يې (پاکه) وساتي، هغوی ته د ژبني پورست/ پورستانو اصطلاح کارول کېږي.

پورستان سياسي، ټولنيز، عقيدوي يا نور سو شيولينګويستيکي دلايل لرلای شي. هغوی عموماً په ژبه کې تغيير يا (لهجوي) بېلابېلوالي ته د ژبې د ضعف، پرشاتګ، شاته پاته والي، کمزورۍ يا ځوړ د يوې پديدې په توګه ګوري. له همدې کبله پيورســـتان په ژبه کې هر ډول تغيير او بېلابېلوالی دغې ژبې ته يو ګواښ بولي. د ژبنيز پوريزم يو مقصــد له ګاونډۍ/ ســيالې ژبې سره د خپلې ژبې د ورته والي له منځه وړل/ کمول هم کېدلای شي. په زياته دا هغه وخت کله چې د دې ســـيالې ژبې ويونکي په کلتوري يا سياسي توګه برلاسي ورته معلومېږي. په داسې يوه حالت کې داسې يو منطق حاکم کېدلای شي چې د خپلې ژبې (کلاســيکه بڼه) آيډيال وګرځول شي. دا په هغه صــورت کې هم چې ښايي دغه «کلا سيکه بڼه» تعريف يا معلومه نه وي او په دې توګه صرف يو شعار او د خپل پوريزم د يو دليل په توګه ورڅخه کار اخيستل کېږي(حبيبي، ۱۳۹۹، https://www.qamosona .com).

ژبنيز پوريزم د (prescriptive linguistics) يا «الزامي ژبپوهنې» يوه بڼه ده. په داسي حال کي چې په تشريحي ژبپوهنه (descriptive linguistics) کي د يوې ژبي شته/حاکم حالت مطالعه او هغسي بيانيږي لکه څنګه چې وي، الزامي ژبپوهنه هغه اصول وړاندي کوي چې په اعتقاد يې الزامي وي. الزامي ژبپوهنه د بېلګي په توګه د املا/ليکدود، سينتاکس/جملې د جوړښت، ګرامر او د ژبي په نورو ساحو کي الزامي اصول تعريفوي. د ژبپوهنې همدغې څانګي ته معتقد يا مؤظف کس/ډله/اداره بيا د املا، سينتاکس، معنی اخيستنې يا په نورو برخو کي پديدې پر «معياري» او «غير معياري» هم ويشلای شي، خو دا په هغه صورت کي چې تر مخه معيار تعريف شوی او منل شوی وي. په اصل کي د ژبپوهنې دواړې يادي او متقابلي برخي دي خو عموما دواړې يو د بل تکامل ته لازمي هم تصورکېږي(اڅکزی، ۱۳۹۹، https://www.qamosona. com ).

د الزامي ژبپوهنې اعتقاد (linguistic prescriptivism) لومړۍ درجه مشاورتي يا توصيه وي بڼه لرلای شي. د مثال په توگه دغه اعتقاد دا مقصد لرلای شي چې يوه ژبه معياري شي. ياد اعتقاد دا مقصد هم لرلای شي چې فرق وکړي چې په کومه ټولنه کې د ژبې کومه بڼه ښه يا بهترينه تصور کېږي/ده او سپارښتنه يا توصيه کولای شي چې څنگه په مؤثره او مناسبه توگه په يوه ژبه کې تماس نيول کيدلای شي.

و الزامي ژبپوهنې ته د اعتقاد بله بڼه تر توصيه وي څخه زياته محافظه كاره کيدلای شي. دا هغه وخت کله چې دريځ يې دا وي چې په يوه ژبه کې بايد د تغير يا بدلون مخه ونيول شي. ژبپوهنيز پوريزم همدلته پيلېږي. په دې ترڅ کې د يوې ځانگړې ژبې د تاثيراتو په وړاندې د خپلې ژبې ساتنه هم راتللای شي. دا هڅې بعضـې وخت د دولت پر سطحه هم تر سترگو کېږي. لکه ايران، فرانسه، سوېډن، اوکراين او يو شمير نور هيوادونه چې د خپلې ژبې/ژبو د ساتنې له پاره يې په حقوقي توگه قوانين جوړ کړي دي. د بېلگې په توگه د فرانسې د ۱۹۹۴ کال د فرانسوي ژبې د ساتنې د قانون له مخې په دغه هيواد کې په اعلانونو کې د انگريزي ژبې کارول ممنوع دي(اځکزی، ۱۳۹۹، https://www.qamosona. com).

## ۲. ۱۰ . ۱ نگه/ سوچه ژبه

سوچه ژبه هغه ژبه ده چې د نورو ژبو اغېزې ورباندې نه وي شوې، دخيل لغات ونه لري او د چا خبره له خپله ځانه پوره وي، هېڅ ژبه د خلقت له مخې پوره نه وي، پر ژبو باندې اغېزې هرو مرو پېښېدونکې دي او پېښې شوې دي، دا اغېزې له گاونډيو ژبو، قومونو او اولسونو او مدنيتونو سره د ټولنيزې او اقتصادي راکړې ورکړې او راشې درشې له لارې يا هم پر اولسونو باندې د نورو اولسونو له خوا د پوځي عملياتو او فتوحاتو له لارې کېږي او شوې دي. مغلوب اولسونه د غالبو او فاتحانو ژبنۍ اغېزې پر ځان مني او منلې يې دي. په نړۍ کې د هغه اولس ژبه سوچه پاتېږي چې له ځانه پرته له بل هېڅ قوم، هېڅ ژبې، هېڅ دين او هېڅ مدنيت سره اړيکې ونه لري.(اځکزی، ۱۳۹۹: https://www.qamosona. com )

نو ويلای شو له هغه وخت څخه چې ښاري ژوند او تمدن منځ ته راغلی دی، نوره هېڅ سوچه او يوازې پر ځان بسيا ژبه په نړۍ کې وجود نه لري. سوچه او خالصه ژبه هغه ده چې يوازې په خپلو ويونکو پورې متعلقه ده او له نورې نړۍ سره هېڅ اړيکې نه لري.

د فرهنګونو تر منځ تعامل او راکړه ورکړه د دې لامل شوې چې پر ژبو یې هم تأثیر وکړي. پر همدې اساس د هر ملت فرهنګ او ژبه په بېلابېلو پړاوونو کې د هغو عناصرو ټولګه ده چې د تاریخ په اوږدو کې له نورو قومونو او ملتونو سره د راکړې او ورکړي په پایله کې منځ ته راغلې ده.

د مثال په توګه: نن ورځ انګریزي په لاتین خط لیکل کېږي چې دا خط لرغونو رومیانو د اتروسکانانو په واسطه له یونان څخه واخیست او بیا یې بشپړ کړ. د انګلیسي ژبې له پیدایښت څخه وروسته انګریزي ژبو له همدې خط څخه د انګلیسي ژبې په دریو دورو: لرغونې، منځنۍ او نوې دوره کې ګټه واخیسته او اخلي یې. همدار راز د انګلیسي ژبې اعداد د هغو نخښو په واسطه لیکل کېږي چې خپله دوی یې عربي بولي. عربي اعداد اروپایانو له عربو څخه واخیستل او د یوناني اعدادو ځای یې ورکړ چې هغه ډېر پېچلي وو او د عربي اعدادو کارولو د ریاضیاتو وده ممکنه کړه اما جالبه دا ده چې دا ډول عدد لیکنه د عربانو اختراع نه وه، خپله عربانو دا ډول عدد لیکنه له هندیانو څخه زده کړې وه. که له لیکلو څخه تېر شو لغتونو او کلمو ته راشو د انګریزي ژبې د لغتونوستره برخه او ذخیره د لاتین او یوناني ژبو رېښې او کلمې دي. په ځانګړې توګه د علم، ټکنالوژۍ، صنعت، تجارت او هنر په ډګرونو کې په لوړه پیمانه د لاتین او یوناني ژبو قدیمي او نوي لغتونه لري. که دا لغتونه له انګریزي ژبې څخه وباسو، نو د دې ځواکمنې ژبې کېږدۍ به پرمخې نسکوره شي.

د ژبې د سوچه توب موضوع یوه بله خبره هم منځ ته راوړې ده هغه دا چې کومه ژبه چې سوچه او خالصه وي، نو هغه لوړه او یا هم بهتره ژبه ده.

استاد تري په دې اړه لیکلي دي: هغه څه چې خلک یې د ژبې '' لوړوالی'' یا '' ټیټوالی'' یا هم فساد بولي اصلاً ثقافتي یا کلتوري ارزښتونه دي نه ژبني.

ژبه باید خپل طبعي سیر ته پرېښودل شي. اما دا د دې معنا نه لري چې هر څوک کولای شي ژبه په هره بڼه چې زړه یې وغواړي استعمال کړي. د ژبې غلط یا داسې استعمال چې د ژبې له سیستم نه وتلی وي، د هر چا له خوا په هر ځای کې چې وي ناسم دی، ځکه دا په خپله د افهام او تفهیم په لاره کې خنډ ګرځي. البته په دې برخه کې ځینې بیا داسې فکر هم کوي چې که موږ پښتو خپل طبیعي سیر ته پرېږدو، نو ښایي چې دومره پردي عناصر په کې داخل شي چې د دوی په خپله خبره

″ پارسي″ يا ″ اردو″ ورنه جوړه شي. يعنې دا چې د دوی په خبره له ″ است و نيست″ او ″ هيی نهيی″ به زياتي هېڅ شی هم خپل ورته پاتې نشي.

**دلته هم دوه د غور وړ ټکي موجود دي: ۱**. يوازې″ است و نيست″ نه بلکې د پارسي ژبې ټول سيستم خپله د پارسي ژبې مال دی.

۲. کله که له پښتو نه پارسي يا ″ اردو″ جوړه شي. دا نه د پښتو ژبې په ژبني ارزښت کې کوم ټيټوالی راولي او نه هم ژبه له منځه وړي. ″ پارسي″ او ″ اردو″ د خپل ژبني څه چې د ثقافتي ارزښت له نظره هم تر پښتو کښته او ټيټې ژبې نه دي. دا چې اردو يا پارسي ته زيات خارجي عناصر ور داخل شوي دي، نه يې د نومونړو ژبو په ارزښت کې کوم ټيټوالی راوستی او نه يې له منځه وړې دي. کله که دا کار کېدلای، نو انګريزي بايد د نړۍ يوه ډېره ټيټه او فاسده او مړه يا ورکه ژبه وای. په انګريزي کې د انګلوساکسون ژبې د کلماتو له جملې نه تر دېرش فيصده زيات څه نه دي پاتې، اما يقين دی هېڅوک او حتی خپله سوچه غوښتونکي نومونړې ژبه ټيټه يا فاسده ژبه نشي ګڼلای(تړی، ۱۳۸۹، ۹۳ مخ).

مخکې هم د دې يادونه وشوه چې په ايران کې هم په منظمه او د دولت په کچه د ژبې د نړه توب لپاره کار او هڅې کېږي، خو د سوچه غوښتونکو دريځونو په دوو برخو ويشلي دي، له يوې خوا د عربي ژبې د لغتونو د کمولو له پاره کار کېږي او له بلې خوا يې بيا يو شمېر نظر وركوي چې موږ بايد د انګريزي، فرانسوي او نورو غربي ژبو لغات او کلمې په خپله بڼه وکاروو.

## ۲ . ۱۱ د پښتو ژبې د سوچه‌والي بهير

له اتمې هجري پېړۍ راوروسته د پښتو د لوستې طبقې په ادبياتو او ژبه د عربي او دري ژبو اغېزه وشوه، نو ځکه يې ژبه له سوچتابه و ايسته او د عربي او دري ژبو لغات يې په زياته اندازه په کې راوستل، هماغه وو، چې د پښتو ژبې ځينې ليکوال د پښتو د سوجه کولو په فکر شول، که څه هم د دې سوچه کولو ډېرې نمونې په لاس کې نشته، خو په انفرادي ډول په بېلو بېلو سويو په دې برخه کې کار شوی دی، حتی د ځينو کتابونو کاتبانو هم د پښتو د سوچه توب په کار کې برخه اخيستې او د ځينو شاعرانو د شعرونو عربي او دري لغتونه يې پښتو کړي چې په دې توګه يې له شعرتوبه/ شعريت څخه ايستلي او لاس و پښې يې ور مات کړي دي.

د بېلګې په توګه د عبدالقادر خان خټک د دیوان هغه نسخې یادولای شو چې د یوې نسخې له مخې په کندهار کې پوهاند عبدالحی حبیبي د عبدالقادر خان خټک دیوان خپور کړی او د بلې له مخې په پېښور کې سید انورالحق د عبدالقادر خان خټک دیوان چاپ کړی دی. ښاغلي سید انورالحق د دې دوو نسخو د لغتونو د بدلون یو فهرست وړاندې کوي چې د کندهار د چاپ او اصله نسخه کې د عبدالقادر خان د شعرونو ډېر لغات او کلمې بدلې شوې دي، خو د سید انورالحق په نسخه کې سم دي او فکر کېږي چې دا لغات به کاتب د پښتو د څه نا څه سوچتابه په منطور بدل کړي وي.

چې دلته یې څو نمونې را اخلو: د پېښور نسخه(آواز، آهو، آهو چشم، باغ، بزرګ، به، بهار، بېمار) د کندهار نسخه(رفیع، ۱۳۹۷: ۳۷ مخ)

پوهاند تړي په ژبپوهنه او ژبني مسایل نومي اثر کې په یاده موضوع تفصیلي او منځلاری بحث کړی دی چې دلته یې ځینې دلایل او معلومات را نقلوو:

یوه بله ډېره عجیبه مسئله چې د ژبې په برخه کې سړی ورسره مخامخ کېږي، هغه د سوچه ژبې مسئله ده، په ځینو نورو ژبو مثلاً پارسي کې چې ډېر ښه مثال یې د فردوسي شهنامه ده. له ډېر پخوا وخت را په دې خوا د ژبې د سوچه کولو په نامه یو ډول کوششونه شوي دي، خو په پښتو کې چې دلته د بحث موضوع هم تر ډېره حده پورې همدا ده، تر لومړۍ نړۍوالې جګړې پورې پرته د ځینو اصطلاحاتو یا نومونو له وضع کولو نه، د دغه ډول یوه شعوري هڅې کوم څرګند مثال موږ ته نه دی څرګند.

وروسته له دویمې عمومي جګړې څخه په پښتو کې هم دغه ډول یو کوشش نسبتاً په شدت سره خصوصاً د ځینو کسانو له خوا پیل شو، څرنګه چې د ژبې د سوچه کولو د فکر منشاء اصلاً غیرژبني ارزښتونه دي، لکه سیاسي، مذهبي او داسې نور ... او هم دغه ارزښتونه په بېلو بېلو مثالونو او ټولنو کې په ځانته اشکالو تظاهر کوي، نو له دې امله د ″ سوچه ژبې مسئله په هر ځای او مهال کې په عین شکل نه ده تعبیر شوې، خو په پښتو کې د دې خبرې ډېر عام مفهوم دا شو چې باید د پردیو کلمو او اصطلاحاتو خصوصاً پارسي او بیا عربي یا اروپایي ژبو له استعمال نه ځان وژغورل شي.(تړی، ۱۳۸۹: ۸۵ مخ)

## ۲ . ۱۲ آرپوهنه/رېښه پېژندنه (etymology)

آر پوهنه د تاريخي ــ پرتليزې ژبپوهنې درېيمه کاري ساحه ده چې په فرانسوي ژبه کې ورته اتيمولوژي (**etymology**) وايي؛ دا يوناني کلمه ده چې د لاتين له لارې فرانسوي ژبې ته راغلې. په لرغوني يونان کې اتيمولوژي د '' اتيمون(**etymon**)'' يې د (ويي حقيقي معنا) ته وايه.

د لغتونو د زده کړې او پرې د پوهېدنې په برخه کې هغه پوهه چې د لغتونو آره بنه او تاريخ څېړي د ايتمولوژي په نوم يادېږي. ايتمولوژي له دوو لاتيني کلمو (etymon) ايتمون يانې د لغتونو اره بنه او (Lagia-) او لوژي يانې پوهه څخه رغېدلې ده، نو له ترکيب څخه يې ويلی شو چې ايتمولوژي هغه پوهه ده چې د لغتونو آره بنه، تاريخ او مانيز بدلونونه څېړي. د نورو ژبو په څېر په پښتو کې هم ډېری علمي کارېدونکي اصطلاحات له آره لاتيني، يوناني، فرانسوي او يا هم روسي ريښه لري.

رېښه پوهنه نه يوازې په نورو ژبو بلکې په خپله مورنۍ ژبه کې هم له انسانان سره دا تلوسه او علاقه وي چې د خپلې ژبې د کلمو په رېښو پوه شي، کېدای شي چې زياتره پښتو ژبې په دې نه وي پوه چې «کندهار» څه معنا لري او دا د پښتو ژبې خپله کلمه ده او که له بلې ژبې راغلی ويی دی؟

دا څرگنده ده چې د يوې ژبې ويونکي له دې سره علاقه لري او که څوک د خپلې ژبې د کلمو د رېښو په اړه ورته غږېږي، ټول ورته متوجه وي. دا د عام ولس خبره ده، خو د هرې ژبې د وييونو د رېښې پېژندنې په برخه کې په تخصصي او علمي بڼه پوهان کار کوي؛ تر څو پوه شي چې دا کلمه له کوم ځای څخه راغلې ده او د بدلون بهير يې څه ډول دی.

اتيمولوژی(Etymology) يا رېښه پوهنه د ژبپوهنې له څانگو څخه يوه څانگه ده، چې د کلمو د تېر او رېښې په اړه بحث کوي. دا کلمه د يوناني د étumon له رېښې څخه جوړه شوې ده چې د يوې کلمې د رښتينې معنا او مفهوم ته د اشارې په توگه کارول کېږي. د وبسټر قاموس اتيمولوژي د يوه ويي د جوړښت د تاريخچې او بدلون له لومړنۍ ثبت شوې نمونې څخه تر اوسنۍ ورځنۍ کارونې پورې تحليل او څېړې. دا څېړنه کېدای شي له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته د کلمو د لېږد مطالعه، د کلمې د اجزاوو تحليل او ژبنۍ کورنۍ را ونغاړي.

رېښنه پوهنه ګڼې څانګې لري چې ډېری برخې يې يوازې د متخصصانو او ژبپوهانو لپاره په زړه پورې وي. خو يو شمېر لومړني ټکي او موندنې يې کېدای د ژبې د زده کوونکو او عامو خلکو لپاره هم زړه راکښونکې وي.

د آرپوهنې په اړه پروفيسور ب. ن ګله وين خپل نظرونه په لاندې دول وړاندې کړي دي: څرنګه چې د تنې برخې ته په يوناني ژبه کې ايتمون(Etimon) ويل کېږي چې د رښتيا، حقيقت او واقعيت معنا لري، نو د ژبپوهنې هغه څانګه چې د لغتونو د را وتلو حقيقت تر څېړنې لاندې نيسي، اتيمولوژي بلل کېږي. د دغې پوهنې دنده دا ده چې د لغتونو هغه لرغونې بڼې او معناوې را وسپړي او توضيح يې کړي چې اوس له خلکو څخه هېرې شوې دي.

د دې لپاره چې د لغتونو پخوانۍ معناوې او پخوانۍ بڼې څرګندې او معلومې شي، نو په کار دي چې د ژبو د کورنيو په لړ کې د يوې ژبنۍ کورنۍ څو ژبې زده شي، نو ځکه هغه ژبپوهان چې د همدغه مقصد لپاره کار کوي د ژبو د يوې کورنۍ څو ژبې زده کوي او د يوې کورنۍ د ژبو د لغتونو پخوانۍ ستې او ولۍ د همدې لارې له مخې را سپړي او يو حقيقت ته ځان ورباندې رسوي.

آرپوه ته د ژبو د تاريخ او د خلکو د ژوندانه سره اشنايي پيدا کول او ور باندې ځان پوهول ډېر ضروري کار بريښي که څه هم اشتقاق پوهنه د لغتونو او مورفيمونو د اصل په حقيقت باندې پوهېدنه ده، خو په دې برخه کې بريالیتوب رسېدل خورا ګران او ستونزمن کار دی. د رېښه پېژندونکي څېړنې ډېر غور او پاملرنه غواړي، که آرپوه د خپلو تأييدونو او ترديدونو په ترڅ کې له بېړې او تلوار څخه کار اخلي، نو خامخا له تېر وتنو سره مخامخ کېږي. له همدې امله د آرپوهانو په څېړنو او کار کې زياتره وختونه د بحث وړ موضوعګانې پرتې وي. په ژبو کې کتل کېږي چې ځينې لغتونه د ځينو نورو لغتونو سره ډېره نژدې اړيکه لري. په دې ترتيب چې څه لغات د څه نورو لغتونو څخه راوتلي يا زېږېدلي وي. کوم لغتونه چې له بلې کلمې څخه راوتلي وي، زېږېدونکي او هغه چې بل ځينې وتلي وي، زېږونکي ګڼل کېږي. د همدې اصل له مخې په ژبپوهنه کې ژبپوهان د خپلو څېړنو په وخت کې وايي چې دغه لغت له هغه بل لغت څخه راوتلی دی او هغه د هغه لغت نه ... که په دې ترڅ کې پوښتنه وشي چې زېږوونکي لغت د منځ ته راتګ دليل څه دی چې يو څېز يا يوه پديده ورباندې

ونوموله شوه، دغه لغت چې په کوم ډول جوړ شوی د دغه جوړښت د جوړېدو اساس څه دی؟ نو په دې وخت کې دغه ډول پوښتنو ته ځواب ورکول گران برېښي(لودین، ۱۳۵۵، ۳۱ مخ).

## ۲ . ۱۲ . ۱ رېښه پوهنه د کلمو یادول او ذهن ته سپارل اسانوي

کله چې د کرونومټر(Chronometer) له کلمې سره مخامخ کېږو، یوازې پر دې بسنه نه کوو چې «کرونومټر یعنې د وخت اندازه کوونکی»، بلکې یو څه څېړنه وکړئ او وگورئ چې «کرون» د یوناني کلمې کرونوس(khrónos) څخه د مهال او وخت په معنا اخیستل شوی دی.

بل ځل بیا که له یوې نوې کلمې سره مخامخ کېږو، لکه: سینکرون(Synchronous) د هم مهال یا هم زمان معنا مو په اسانۍ سره په ذهن کې پاتې کېږي.

د دې تر څنگ که کوم کس د مزمنې ناروغۍ «کرونیک(Chronic) » په اړه خبرې وکړي، کېدای شي و نه توانېږو چې په لومړي ځل اورېدو سره د کلمې په معنا وپوهېږو، خو که د کرون په معنا پوه شولو، نو بیا په ټولو هغو کلمو پوهېدای شو چې رېښه یې کرون وي، نو دکرونیک(Chronic) رېښه هم کرون ده چې معنا یې اوږدمهاله ناروغي ده.

رېښه پوهنه مرسته کوي چې د وییونو د معناوو په اړه له خپل گومان څخه په اسانۍ سره گټه واخلو. هېڅوک هم د یوه انگلیسي متن د لوستلو په وخت کې د ټولو کلمو په معناوو نه پوهېږي. که څه په انگلیسي ژبي هېواد کې زېږېدلی وي. همدارنگه که موږ په خپله مورنۍ ژبه پښتو هم متن لولو، طبیعي ده چې د ټولو کلمو معناوو ته مو ذهن نه رسېږي. نو د لوستلو یو پړاو گومان او حدس کول دی او همدغه گومان له موږ سره د متن په پوهېدلو کې مرسته کوي.

اوس آرپوهنه د یو ویي تاریخ ته وایي چې د کارونې له لرغونې زمانې د لیکنې تر وخته پورې یې پر لفظ او معنا غږېږي. په یو ټاکلي زمان کې په هره ژبه کې ځینې کلمې له کاره لوېږي او نورې نه کارول کېږي، آرپوهنه د دې ډول کلمو تاریخ هم دی چې د لفظ او معنا له مخې یې د کارونې له لرغونې زمانې څخه د عامېدو تر زمانې پورې پرې بحث کوي. آرپوهنیزې څېړنې چې څومره دقیقې او ژورې ترسره شي، په هماغه اندازه د کلمو د رېښو په اړه شکونه لا ډېرېږي(ساپی، ۱۴۰۲، ۸۶ مخ).

یا هم ــ آرپوهنه یا رېښه پېژندنه: د ژبپوهنې یوه څانگه ده چې د کلمو تېر او رېښه پلټي او تر مطالعې لاندې نیسي. دا کلمه له یوناني کلمې (etymon) څخه جوړه شوې ده چې یوه څېز ته د معنا او واقعي مفهوم لپاره کارول کېږي(ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۱ مخ).

د کلمو رېښه پېژندنه حتی په مورنۍ ژبه کې هم چې تل پر هغې خبرې کوو د ځانگړي ارزښت درلودونکې او په زړه پورې موضوع ده. موږ په خپله ژبه کې ډېرې داسې کلمې لرو چې پر معنا یې نه پوهېږو، خو په ورځني ژوند کې یې کاروو، خو په ژبه کې بیا داسې کسان او پوهان هم شته چې هغوی خپل ژوند د کلمو رېښې پېژندنې ته وقف کړی دی، تر څو وکولای شي، ډېرې هغه کلمې چې معنا یې نه ده څرگنده او دا هم نه ده معلومه چې له کوم ځای څخه راغلې ده، نو دې ته یې کار ویلی دی او غواړي چې د کلمو رېښې وپلټي او په گوته کړي چې دا کلمه له کومه راغلې، رېښه یې څه ده؟ او یا هم څه ډول یې تحول او بدلون موندلی دی.

په نولسمه پېړۍ کې د دودیزې ژبې پر وړاندې تاریخي ژبپوهنه را ولاړه شوه. دې نوې ژبپوهنې ژبې ته له تاریخي زاویې څخه وکتل او د فرهنگ د بل هر اړخ په څېر یې ژبه هم بدلیدونکې پدیده وگڼله، چې بېلابېلې دورې لري او په بېلابېلو دورو کې یې گرامري جوړښتونه او د کلمو زېرمه، بڼې او معناوې توپیر لري. په دې توگه پر یوه ژبه هله ښه پوهیدای شو چې له تاریخي منشا او بدلونه یې خبر اوسو. د تاریخي ژبپوهنې مشهور عالم ولیم جونز د سنسکریټ او نورو آریایي ژبو تر منځ جوړښتي او ویېزه همرنگي ولیده او په دې ډول د ژبو تاریخي پرتلې ته لار هواره شوه. تاریخي ژبپوهنې د بېلابېلو ژبو د کلمو د رېښو د پېژندلو او ورته والي له مخې ژبې ډلبندي کړې. کومو ژبو چې له تاریخي پلوه گډ خصوصیتونه لرل، خپلوانې ژبې وبلل شوې او په یوه کورنۍ کې وشمېرل شوې(ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۲ مخ).

دا چې قاموس‌لیکنه له ویېپوهنې سره اړیکې لري یا هم ویلای شو چې د ویېپوهنې فرعي څانگه ده، تېرو آثارو ته په کتنه کې مو هم ځینې د قاموس اړوند آثار او مقالې راخیستې وې، نو دلته هم یو شمېر هغه مهم موضوعات چې له ویېپوهنې سره تړاو لري او یا هم د ویېپوهنې د یوې فرعي څانگې په توگه د یادولو وړ دي او په کار ده چې په اړه یې معلومات وړاندې شي، نو پیل له قاموس‌لیکنې څخه کوو او بیا په ترتیب سره د ویېپوهنې او قاموس‌لیکنې پر تړاو او اړیکو رڼا اچوو او

ورپسې ځینې هغه موضوعات چې سپړنه یې ضرور ده راوړو، د بېلګې په توګه د قاموس او فرهنګ تر منځ توپیر، آنلاین سیندکښنه او داسې نور ...

## ۲ . ۱۳ قاموس‌لیکنه (Lexicography)

د هرې ژبې وییونه (لغتونه) د هماغې ژبې د ویناوالو د اندونو او طبیعیت ښکارندویي کوي، ځکه لغتونه د پېړیو په اوږدو کې د یوې ژبې د پوهانو او د فکر څښتنانو د دماغ د پرلپسې هڅو پایله ده او همدغو پوهانو او د ژبې ویونکو بېلابېل لغتونه جوړ کړي او را منځ ته کړي دي. د یوې ژبې د لغتونو تاریخ او شالید د هماغې ژبې لرغونتوب ته ورګرځي، ځکه له لغتونو پرته ژبه نه وي او همدغه وییونه دي چې د یوې ژبې ویناوال پرې خپل فکرونه او خیالات له خپلو همژبو سره شریکوي.

قاموس لیکنه لکه څنګه چې نوم یې څرګندوي، د قاموسو له تألـــــیف او لیکنې ســره سر و کار لري . په بله وینا، قاموس لیکنه عملي او تطبیقي لغـــت پوهــــنه ده. قــامـوس لیـــکوونکـــی د لغــــــت پوهني له اصولو، قواعدو او نظریو څخه د یوې ژبې د قاموسونو په لیکنه او تألیف کې ګټه اخلـي. د لغتپوهني د ژبنیو علمي څانــګـو(مـانـاپوهني او ګرامر) او د قاموس لیکنې د عمــلي اړخـو تر منځ ګډو اړیکو، د اوسنیو قامـــوســـونو د جوړښت او محتـــویاتو له بشپړتیا سره، په زړه پوري مرسته کــړې ده.
د قاموس لیکنې تمرین اوږد او مستقل دود دی، چې د معــــــاصـــرو ژبنیو علمي څانګو تــــــــر پیدایښت پېړۍ پېړۍ اوږد تاریخ لري. قاموس لیکنې، د لغتپوهني(چې پـــــه تېرو څلوېښتو کلونو کې پیل سوې ده)په ګډون د بېـــلابېـلو ژبنیو علمي څانګو پر بډاینه او پرمختـــګ لـــویه اغــــېزه ښندلې ده. د لغـــتپوهني اساسات په څرګــنــده ښیـــي، چې دا پــــوهه به پــه راتلونـکي کـــي د نوو علمي قاموسونو په را منځ ته کېدو کي قاموس لیکوالـو او ژباړونکو ته ډېر څه وړاندي کړي.
قاموس عربي کلمه ده، چې جمع یې قوامیس دي. لغوي معنا یې سیند، د سیند ژورځای، د سیند تل او لوی سیند ده. په اصطلاح کې د لغاتو مجموعې یا د لغاتو تدوین شوي کتاب ته وایي(صوفی، ۲۰۲۴، https://www.nunn.asia//).

قاموس ته په پښتو کې سیند او دریاب وایي. قاموس عموماً په الفبایي ترتیب جوړېږي یعنې سرویی له (ا) شروع کېږي په ترتیب په (ي) ختمېږي چې قاموسي ترتیب ورته وایي، خو ځینې قاموسونه د موضـوع له مخې ترتیبېږي، ځکه چې نن ســبا له قاموســه په هره برخه کې ګټه اخیســتل کېږي او

ننني قاموسونه يوازې ريفرنس نه، بلکې د يوې ژبې د کلماتو زېرمه‌تون هم دی. نن سبا قاموسونه د کلمو املا، څپې، وينګ (تلفظ)، ريښې، کارونې، هممانيزونه، او کله نا کله انځورونه هم لري(نورزی، ۲۰۲۴، (https://pohawaimedia.com/?p=2241).

قاموس يا په مجموع کې لغتنامه هغه ټولګه ده چې بېل بېل کلمات پکې په يو ډول نه په يو ډول توضيح شوي وي، د کلماتو د توضيح تر ټولو ساده لاره دا ده چې د يوې ژبې لغتونه په بله ژبه واړول شي، لکه: عربي په پښتو يا دري، پښتو په انګليسي او نور ... د دواړو ژبو تر منځ موازي کلمات پيدا کول يو څه اسانه کار دی او تر ډېره حده د اکثر ستونزو د حل لپاره کافي دي.

د قاموس دويم ډول هغه قاموسونه دي چې په يوه ژبه کې د کلماتو د توضيح لپاره کارول کېږي. دا قاموسونه به يا د مترادفاتو قاموسونه وي، يعنې هغه کلمې چې معناوې يې سره ورته دي، هغه به سره راټولوي او يا به تشريحي قاموس وي، يعنې ځينې شيان چې د بلې کلمې په مرسته نه شي روښانه کېدلی، د يوې جملې په مرسته په يو څه تفصيل سره روښانه کېږي.

د قاموس ليکنې د تاريخچې په اړه هم د ادبياتو دنيا په اثر کې کوټلی بحث شوی دی چې دلته يې په لنډيز سره را اخلو:

تقريباً په ډېرو ژبو کې کله چې له دويمې ژبې سره تماس پيدا شي، نو هلته د لغت کتابونو ته ضرورت پيدا کېږي. دا کتابونه جوړ شوي دي، خو د لغتونو ټولګه جوړول او بيا د لغت پيدا کول د دې لپاره يو ميکانيزم په کار دی. دغه ميکانيزم ډېر وخت نيولی دی. څکه چې له يوې خوا د ژبو د ليک سيستمونه بېل دي، ځينې ژبې په تورو ليکل کېږي، ځينې ژبې په داسې نښو ليکل کېږي چې هره نښه د يوه مفهوم ښکارندويي کوي.

د ځينو ژبو نښې د څو غږونو مجموعه افاده کوي. د دغه شي د ترتيب لپاره هم يو څه کار شوی دی او د تاريخ په اوږدو کې پر دې زحمت اېستل شوی دی.

که چې تاسې زموږ د الفبې ترتيب ته وګورئ(موږ الفبې څکه ورته وايو چې د تورو په مرسته يو غږ ليکل کېږي) که وګورو په يوناني ژبه کې الفا، بيتا، ګاما، دلتا دا څلور لومړي حرفونه دي. که په عبري ژبه کې وګورو، الف، بيت، ګيميل، داليت  لومړي حرفونه دي(زموږ ابجد). که په لاتيني ژبه

کې يې وګورو، آ بې، کې، دې لومړي حرفونه دي. بيا هم همغه الفبې شوه. په ختيځو ژبو لکه چيني او جاپاني کې بيا يوه نښه د يوه مفهوم لپاره کارېدله.

کله چې دغو خلکو قاموسونو جوړولو ته شروع وکړه. د کلماتو د ترتيبولو سره ستونزې ورته پيدا شوې. هغه چا چې د الفبې سيستم درلود، دوی بايد پخپله الفبې کې يو تجديد نظر راوستی وای او دغه نظم بايد ثابت پاتې شوی وای. هغو چې ليکبڼې يې په يوه شکل سره مفکوره ښکاره کوله، لکه چينايان، د هغوی لپاره نورې ستونزې وي. زموږ په قاموس کې لومړۍ ستونزه دا وه چې بايد په ژبه کې د الفبې ترتيب جوړ شي، دغه ترتيب ډېر پخوا په آرامي او عبري ژبو کې جوړ شوی دی او له هماغې نه نورو ژبو تقليد کړی دی. زموږ پښتو او دري خط هم په عربي کې راځي. موږ د عبري، لاتيني ژبو مثالونه ورکړل، چې زموږ د ابجد په حساب کې راځي. مګر زموږ اوسنۍ الفبا ظاهراً د ابجد په ترتيب نه ده، مګر که لږ ورته دقيق شو، دا بيا هم د ابجد په ترتيب ده، ځکه کله چې عربي خط جوړ شو، په هغه کې د تورو د بېلولو لپاره ټکي نه وو، نو الف يو حرف و. دويم د ب د کورنۍ حرفونه وو چې ب ت او ث وو او په يو ډول ليکل کېدل، درېمه کورنۍ د ج د کورنۍ وه چې په هغې باندې ج، ح، خ يو ډول ليکل کېدل. څلورمه کورنۍ د «د، ذ» کورنۍ وه. د او ذ په يو ډول ليکل کېدل. دغه الفبا چې موږ يې اوس لرو د عربي الفبې د هماغې نه يو ډول اخيستنه کړې ده. اصل منشا يې هغه ده. د الفبا لپاره يو سيستم په کار و چې تنظيم شي، بيا دغه ډول تنظيم شوي کلمات په يوه ژبه کې په بله ژبه اړول کېدل.

د يوې ژبې او د بلې ژبې تر منځ تطابق سل په سلو کې نه وي، که موږ آب په دري کې واخلو، نو په پښتو کې اوبه هم ترې مطلب اخيستلی شو او عزت هم مطلب ترېنه اخيستلی شو. د دري د آب لپاره موږ په پښتو کې آب نه استعمالو. که څه هم په ځينو شرايطو کې يې کېدای شي استعمال کړو. د عزت لپاره يې ممکن وکارو، مګر په هغومره کثرت نه لکه په دري کې چې استعمالېږي(منلی، غصنفر، ۱۳۹۹، ۵۰۰ مخ).

قاموس ليکنه د ژبپوهنې يوه څانګه ده چې د يوې ژبې تلفظ، د يوې ژبې د الف و با تشريح د يوه ويي ګرامري او مانوي ځای په جمله کې د يوې کلمې لغوي تعريف او د کلمې لغوي او اصطلاحي معنا د يوې کلمې ريښه او د هغې کلمې مشتقات د الفباء په ترتيب سره پکې اوډل کېږي.

لکه څنګه چې وړاندې هم وویل شول چې  قاموسپوهنه یا هم قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې یوه مهمه برخه ده چې د یوې ژبې کلمې پکې راټولې شوي، معنا او سپړل شوي وي او د یوې ژبې د ویيونو بهترینه او اسانترینه وسیله ده چې کلمات راپېژني. قاموس په کلمو کې د ستونزې پر مهال او د معلوماتو په زیاتېدو کې مرسته راسره کوي او خلک یې د معلوماتو د زیاتولو، ژبزده‌کړې او ستونزې حلولو لپاره کاروي. د یوه قاموس دنده دا ده، چې د یوې ژبې ویيونه یا د بلې ژبې د کلمو معنا تشرېح کړي.

په یو بل پېژند(تعریف) کې بیا داسې ویل شوي دي: قاموس د یوې ژبې د کلمو زېرمه ده، چې د یوې ژبې ټوله ویي‌پانګه پکې راټوله شوې وي. قاموس د یوې ژبې د ویيپانګې د خوندیتوب او له نورو ژبو څخه د راغلو کلمو د تنظیم په موخه لیکل کېږي. پر دې سربېره که د یوې ژبې ویونکي دویمه ژبه زده کوي، تر ټولو لومړی قاموسونو ته اړتیا لري، څکه د بلې ژبې پر ستونزمنو لغاتو پوهېدل له قاموس پرته امکان نه لري. که له یوې خوا د قاموس په مرسته د ویيونو بېلابېلې معناوې څرګندېږي او د دویمې ژبې د سختو لغتونو په حل کې کار ورکوي، نو له بلې خوا لغوي زېرمه هم له ورکېدو څخه ژغوري او راتلونکي نسل ته یې انتقالوي(نورزی، ۲۰۲۴، .(https://pohawaimedia.com/?p=2241

که د پښتو ژبې لومړینو لاس ته راغلو آثارو ته وګورو چې له دویمې هجرې پېړۍ څخه راپاتې دي، نو وینو چې پښتو ژبه د امیرکروړ په ویاړنه کې ډېر سوچه او خواږه پښتو لغتونه لري او همدارنګه د نورو ژبو لغتونه هم پکې موندلای شو، نو ویلای شو چې پښتو ژبې د امیر کروړ تر ویاړنې وړاندې بډایه لغوي زېرمه درلوده او دا لړۍ بیا وروسته روښانیانو او همدارنګه خوشحال خان خټک او فرهنګي کورنۍ یې وپالـــله چې بیا وروسته معاصر دوران ته رارسېږي، ویلای شو چې په دې ویزه زېرمه کې د پښتو ژبې ټولو ویونکو، فرهنګي کورنیو او بهیرونه او ټولو پوهانو خپله ونډه کار ترسره کړې دی او د پښتو ژبې لغوي زېرمه یې بډایه کړې ده.

وییپوهنه(Lexicology) او وییلیکنه (قاموس لیکنه) (Lexicography) په اصل کې هغه بحثونه او مسئلې او اساسات دي چې د یوې ژبې د تدریجي پرمختګ او وروسته پاتې‌والي د لاملونو په پېژندلو کې له موږ سره مرسته کوي.

که څه هم په پښتو ژبه کې د ویپوهنې او قاموس‌لیکنې په اړه ډېر کارونه شوي دي، په ځانګړې توګه د قاموسلیکنې په برخه، خو دې بهیر ته په کره‌کتنیزه او جامع ډول پام اړول په کار دي او وخت پر وخت د ترسره شویو کارونو د ارزونې اړتیا ده، تر څو غوره کارونه وستایل شي او کوم کارونه چې نیمګړتیاوې لري، د هغو کمزورې خوا په ګوته شي او د سمون په موخه یې رغنده نظریات ورکړل شي.

په پښتو ژبه کې هم د نړۍ د نورو ژبو په څېر د قاموس لیکنې په برخه کې له کلونو را په دېخوا انفرادي او ډله‌ییز کارونه شوي دي او دا پر خپل ځای د یوې پراخې څېړنې او مطالعې ایجاب کوي، خو موږ به په اجمالي توګه سره په یاده برخه کې د ترسره شویو کارونو جاج واخلو او د کومو قاموسونو په اړه چې منابعې او معلومات په لاس کې لرو، د هغو په اړه خبرې وکړو.

## ۲ . ۱۴ ویپوهنه او قاموس(lexicography and Dictionary)

لغت پوهنه هغه پوهه یا هم د نظریاتي اساساتو ټولګه ده چې قاموس لیکنې ته زمینه برابروي. بل لور ته قاموس لیکنه یا لیکزیکوګرافي د قاموس لیکنې علمي او مسلکي څېړنه ده. قاموسونه د لغتونو له معنا، تلفظ یا اداینې او تمرین سره سر و کار لري یا قاموس د لغتونو د معنا، تلفظ، لیکبڼې او ورتنیو لغتونو مرجع کتاب دی. په عمومي توګه د قاموس اصطلاح د هر هغه مرجع کتاب لپاره کارول کېږي چې وییونه پکې په الفبايي توګه ترتیب شوي وي. د قاموس یا ډکشنري اصطلاح له لاتینې /کلمې (Dictionarium) یا (Dictionarius) څخه اخیستل شوې چې د لغتونو او عبارتونو د زېرمې معنا ورکوي. د قاموس کلمه له پخوا راهیسې د کتابي کار لپاره کارول کېږي چې د لغتونو په اړه مانیز او تشریحي معلومات ورکوي. دایرة المعارف یا انسایکلوپیډیا بیا په بېلابېلو برحو کې کاریدونکي اصطلاحات او معلومات د قاموس په پرتله لږ څه په تفصیل سره وړاندې کوي.

قاموس د یوې ژبې د ځانګړې علمي ساحې لغوي زېرمه او معناوې یې په اوډل شوې بڼه وړاندې کوي. قاموس د الفبا په سیستماتیکه بڼه د ترتیب شویو لغتونو، د هغو د لیکبڼې، تلفظ، معنا او ګرامري ډلګۍ څرګندونکی جونګ دی. په لوړه کچه او ستر قاموسونه د لغت د معنا، تلفظ، ګرامري ډلګۍ ترڅنګ د شونتیا تر برېده د هغه انځور، مترادفه او متصاده معنا او اشتقاق په اړه معلومات وړاندې کوي(څولیزی، ۱۳۹۹، ۲۴۵ مخ)

که څه هم له قاموسپوهنې سره د ژبپوهنې ځینې نورې څانګې لکه: لغتپوهنه، صرف، نحوه، غږپوهنه او ځینې داسې نورې برخې په قاموس جوړونه کې په بدرګه درومي، خو له دې سره ــ سره د قاموس جوړولو لپاره اساسي لاره قاموسپوهنه هواروي.

قاموسپوهنه د قاموس جوړولو یوه عملي پوهنه ده چې له یوې خوا د قاموس جوړولو لپاره تیوري وړاندې کوي او له بلې خوا دغه تیوري په عمل کې پلې کوي.

لغتپوهنه ور سره دا مرسته کوي چې لغت ورته وپېژني او د قاموسي واحد په توګه ځای پر ځای شي. همدارنګه په لغتپوهنه باندې دا څرګندېږي چې لغت په څه ډول ژوند کوي او زموږ په وینا کې خپلې دندې په څه ډول پر مخ بیایي.

هغه څوک چې قاموس جوړوي، ورته په کار دي چې د قاموسونو له ډولونو سره ښه بلدتیا ولري او دا ورته څرګنده وي چې د قاموسونو هر ډول له کومو لار چارو له مخې جوړېږي او څه شي ته په کې ډېر ارزښت او اهمیت ورکول کېږي.(لودین، ۱۳۹۵، ٦ مخ).

قاموس په حقیقت کې واقعي ژبه ده چې د ژبې د ویونکو په مغز کې د چاپېریال له انعکاس څخه منځته راځي، د یوې ژبې د ویونکو په شعور کې چې ژبنۍ پانګه موجوده ده په ټولنه کې د ټولنې د غړو تر منځه په ټولنیز ژوند کې د اړیکو درلودلو او ګډون کولو په ترڅ کې په بېلابېلو بڼو را وځي او ټولنیز ژوند ته ورباندې سمښت او پرمختګ ورکول کېږي، ژبه چې په عملي ډول د ټولنې د غړو تر منځ د ورځني ژوند په جریان کې د ګډون د وسیلې په توګه مرسته کوي یا د خبرو اترو په واسطه منځته راځي او یا به لیکلې یا نورې بڼې لري.

د دې لپاره چې د یوې ژبې د ویونکو ژبه راټوله شوې وي او کتابي بڼه ولري، نو د شعوري ژبې له مظاهرو څخه چې وینا ګڼل کېږي(که په لیکلي ډول وي او که د ویلو په شکل وي قاموس جوړېږي) په قاموس کې زیاتره د ژبې د موجودیت درې رکنه«لغت، ګرامر او غږونه» ضروري ګڼل کېږي، لغات پکې له ګرامر او غږ سره سم ترجمه یا تشریح کېږي، په قاموس کې لغات، ګرامر او غږیز اړخ یې واقعي ژبه ګڼل کېږي او دغه ژبه له نورو انسانانو سره د مرستې کولو په منظور یا ترجمه او یا هم تشریح کېږي(لودین، ۱۳۹۵، ۸۹ مخ).

ځرنګه چې د هرې ټولنې ژبه په خپل وخت کې د خپلې ټولنې د ټولنیز، اقتصادي، سیاسي، هنري او نورو اړخونو محصول ګڼل کېږي، نو ښه به دا وي چې د هرې ژبې قاموس هم په خپل خپل وخت کې د خپلې ژبې استازولي وکړي او له دغه باره ووتلای شي، که د کومې ژبې قاموس په وخت وخت کې جوړ شوی وي او ډېر کلونه وروسته چې ټولنه له هره پلوه له پخوا وختونو څخه په بل شان شوې وي او بیا هم هماغه په پخوا وختونو کې جوړ شوی قاموس د همدغې ژبې د عصري قاموس په ډول ګڼل کېږي، نو دا خبره له لویو اشتباوو او تېروتنو څخه خالي نه ده، ځکه دغه ډول پخواني قاموسونه ورځنۍ اړتیاوې په هغه ډول چې د حل کولو غوښتنه یې کېږي او یا یې هم اړتیا ده، نه شي حل کولای.

په ژبه کې که قاموسونه جوړ شوي وي ، هغه باید تر پایه پورې په خپله پخوانۍ پانګه باندې محدود پاتې نه شي، د دې لپاره چې پخواني جوړ شوي قاموسنه په راتلونکو وختونو کې بیخي له موده ونه وځي، ښه به دا وي چې وخت په وخت کله چې د ټولنیزو اړیکو بدلون محسوسېږي او لیدل کېږي چې په ژبه کې د ځینو اړتیاوو له مخې نوي لغتونه زېږېدلي دي، نو په دې وخت کې په کار ده چې په ژبه کې د نویو پیدا شویو لغتونو لټه وشي، پته یې معلومه شي. په پخواني قاموس کې له ردیف سره سم ځای کړل شي او پخوانی قاموس د نویو لغتونو په ور زیاتولو سره له سره بیا چاپ شي(لودین، ۱۳۹۵، ۹۰ مخ).

## ۲ . ۱۵ د قاموس ډولونه (Types of Dictionaries)

قاموس، فرهنګ یا هم ډکشنري د وییونو او لغتونو هغه مرتبه او اوډل شوې ډلګۍ ده چې په ټولیزه توګه او یا هم په خانګړې او مسلکي توګه پکې وییونه په الفبایي بڼه ځېل او ترتیب شوي وي. په قاموس کې چې د راز راز وییونو ستر یا کوچنی جونګ ګڼل کېږي. د یوه لغت په مختلفو اړخونو، لکه: معنا، تلفظ، ګرامري ډلګۍ، استعمال، همرنګي، بلرنګي، تضاد، آروالي، پوروالي او نورو ... تفصیلي یا هم لنډ معلومات وړاندې کېږي. دا چې قاموس یا ډکشنري په عمومي توګه د وییونو زېرمه ګڼل کېږي، نو په ټوله کې قاموسونه په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

## ۲ . ۱۵ . ۱ عمومي قاموسونه(General Purpose Dictionaries)

هغه قاموس چې د ژبې د ټولو ویونکو لپاره جوړ او عمومي معلومات په ځان کې رانغاړي. د دغو قاموسونو تر ټولو کوچنۍ بڼه جیبي ده او ستر یې تر څو ټوکونو پورې لري. هره ژبه چې ادبیات او لیکنۍ بڼه لري، دا ډول قاموسونه پکې پیدا کېږي. په پښتو کې جیبي قاموس د عصمت ځاروان ژورنالیستکي ډکشنري او د څو ټوکیز ببلګه یې پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس او یا هم پښتو لهجوي قاموس چې په دې وروستیو کې د افغانستان د علومو اکاډمي له لوري د چاپ په ګاڼه پسولل شوي یادونه کولی شو.

## ۲ . ۱۵ . ۲ ځانګړی یا ټاکلی قاموس (Specialiesd Dictionary)

دا هغه قاموس دی چې د ژبې د یوې ټاکلې علمي ساحې وییزیزمه وړاندې کوي. دا ډول قاموسونه د وییونو اشتقاقي جوړښت، تلفظ او د کارونې لارې چارې وړاندې کوي. دا قاموسونه معمولاً د هغه چا لپاره لیکل کېږي چې د ژبې په یوه ځانګړې کاري ساحه کې تخصص او مهارت لري. لکه: د مترادفو او متضادو وییونو قاموس یا تلفظي قاموسونه او نور ...

په عموم کي د قاموس پوهني په برخه کي د معیاري او په تول پوره قاموسونه د یو ژبي له پاره خورا مهم دي، ځکه چې یو خو مکمله او پوره ژبه نســته، د ژبو تر منځ ارتباطات موجود دي او بل د ژبو ویونکي ته خورا اســانتیا ده چې یو ښــه او معیاري قاموس په یو ژبه کي وجود ولري او د بهرنی ژبي په زده کړه کي ورڅخه اســتفاده وکړي. نو د عربي پښــتو قاموس، په پښــتو ژبه کي د ډیره وخته د عربي د یو معیاري قاموس اړتیا محسوسیږي او استاد مزمل دغي اړتیا ته په کتو ښه او غنیمت کار کړی دی(رحیمي، ۲۰۸۸، https://www.nunn.asia/212945/).

قاموس د شاګردانو، محصلینو، او د عامو کسانو له پاره د استفادې وړ دئ، او خاصتا بیا هغه څوک چې د عربي ژبي د زده کړي لیوالتیا لري د هغو له پاره خورا ګټور دی.

## ۲ . ۱٦ قاموس او فرهنگ

موږ په دې لړ کې له يوه بل مفهوم سره هم مخامخ يوو، دلته مو وړاندې د قاموس په اړه بحث وکړ، خو يوه بله خبره يا مفهوم چې کله نا کله داسې فکر کېږي چې دواړه يو دي، هغه د قاموس او فرهنگ اصطلاحات او نومونې دي او موږ په پښتو ژبه کې د قاموسونو تر څنگ يو شمېر ځانگړي فرهنگونه هم لرو او د پارسي ژبې په پلوۍ وايو چې د لغتونو فرهنگ او له قاموس سره يې يو گڼو، خو داسې نه دي، ځکه قاموس او فرهنگ دوه بېل اصطلاحات دي او جلا معناوې او دندې لري، دلته به لومړی د دغو دوو اصطلاحاتو په اړه خبرې وکړو او بيا به تر همدې سرليک لاندې په پښتو ژبه کې هغو ليکلو فرهنگونو ته تم شو چې لاسرسی ورته لرو او د هغو کره‌کتنيزه کتنه به وکړو.

په يوه ژبه کې د قاموس‌ليکنې اړتيا په عامه توگه د يوې ژبې په لومړنۍ دوره کې نه ده مخ ته راغلې، بلکې د دې پيل له هغه وخت څخه شوی چې د دويمې ژبې ويونکو د هغې بلې ژبې له ويونکو سره اړيکه او ارتباطات ټينگ کړي دي او د هغوی په ذهن کې د دغې ژبې د زده کولو هيله راټوکېدلې ده.

يا هم د قاموس‌ليکنې اړتيا هغه وخت مخې ته راغلې چې يوې ژبې خپله لومړنۍ دوره بشپړه کړې او د پرمختگ دورې ته داخله شوې او د ادبياتو له نړۍ سره يې اړيکې ټينگې شوي او د هغو لغتونه يې هم خپل کړي دي. په دې ډول د ژبې اصلي ويونکي په خپله ژبه کې له ډېرو پرديو او اجنبي کلمو، مفهومونو او معناوو سره بلد نه وو او د دغو لغتونو د پوهېدلو لپاره او د هغو د معنا کولو لپاره د قاموس‌ليکنې اړتيا احساس شوې او قاموس ليکنه پيل شوې ده.

په اوسني وخت کې نړۍ د يوه کلي بڼه خپله کړې ده او ادبيات په ډېره اسانۍ سره د نورو ژبو ويونکو ته رسېدلی شي، نو له همدې امله د قاموس ليکنې او لغت جوړونې بهير ته تربل هر وخت ډېر ضرورت دی.

په پښتو ژبه کې معمولاً د قاموس لپاره، د سيند او درياب نومونې کارول کېږي، په پارسي ژبه کې ورته بيا د فرهنگ کلمه استعمالېږي، په اُردو ژبه کې بيا ورته د ډکشنري ويی کارول کېږي، خو په انگريزي ژبه د ډکشنرۍ تر څنگ يو بل لغت هم شته چې هغه (Glossary) دی.

قاموس هغه کتاب ته ویل کېږي چې په هغه کې د یوې ژبې لغتونه او کلمې د ابجد تورو په اساس لیکل شوي وي او په دې کې د نوموړو لغتونو، معناوې، تشریح، اشتقاق او نور معلومات لیکل شوي؛ د لغتونو کتاب داسې یو اثر دی چې یوه بشپړه موضوع یا هم د موضوع د یوې برخې په اړه د ابجد حروفو په اعتبار ترتیب شوی وي.

قاموس(د لغتونو کتاب) د یوې موضوع او یا هم د یوه کتاب کره لغتونو، اصطلاحاتو او نورو ... لیکلړ او د هغو معنا، حاشیه او شرحه ده.

د انګریزي ــ اُردو په جامع قاموس کې یې مفهوم داسې راغلی دی: د یوه کتاب دقیق لغتونه، اصطلاحات او نورو لیکلړ دی او د هغه تشریح، حاشیه او شرحه ده.

یو بل بحث چې دلته به یې راوړل بې ګټې نه وي، هغه دا چې په پارسي ژبه کې د قاموس لپاره په عمومي توګه د فرهنګ نومونه کارول کېږي، خو په نورو ژبو کې دا بحث مطرح دی او پوهانو په ځرګندو ټکو د فرهنګ او قاموس تر منځ توپیر په ګوته کړی دی او دا داوړه یې بېل ګڼلي دي، موږ هم په خپله ژبه کې وینو چې یو شمېر ځانګړي فرهنګونه چاپ او خپاره شوي دي او وروستی چې زما په یاد دی د استاد محمد آصف صمیم په زیار د عبدالرحمن بابا فرهنګ چاپ او خپور شو، نو اړینه ده چې دلته د قاموس او فرهنګ تر منځ پرتفاوت خبرې وکړو:

ډېری قاموس لیکوالو د فرهنګ کلمه د انګریزي ژبې د (Dictionary) مترافه ګڼلې ده او دویمه خبره دا چې فرهنګ یې د پارسي ژبې ځانګړې کلمه ګنلې ده. درېیمه دا چې کله نا کله په نورو ژبو کې هم د لغتونو د کتاب لپاره کارول شوې ده. څلورمه دا چې ویل شوي دي چې فرهنګ او قاموس هم‌معنا یا هم مترادفې کلمې دي، خو په حقیقت کې داسې نه دي.

ډاکټر ګیان چند جین په خپل اثر"تحقیق کا فن" کې د فرهنګ او قاموس تر منځ توپیر داسې ځرګند کړی دی:

"د فرهنګ کلمه هغه معنا ورکوي چې په متن کې مراد وي. نور مفاهیم مه ترېنه اخلئ. فرهنګ یو عام قاموس نه دی دا په یوه متن پورې اړوند ځانګړي لغتونه دي چې سمه معنا یې وړاندې کوي. دا نه چې د متن سیاق و سباق ته وګورو او په اټکلي توګه یې معنا ولیکو.

له پورتني بحث څخه څرګندېږي چې قاموس د يوې ژبې د لغتونو زېرمه ده او د هغو ټولې ممکنې معناوې په کې ليکل شوې وي، خو فرهنګ بيا هغه دی چې د يوه ځانګړي متن پېچلي، ستونزمن او هېر شوي لغتونه، د رسمي او ولسي ويناوو لغتونه او محاورې او د پوهنو او هنرونو او د هغو د مفهمونو فهرست دی او دا داسې فهرست دی چې په جلا ډول د کتاب په بڼه هم ترتيب او چمتو کېږي او د يوه متن په وروستۍ برخه کې مل هم ورسره راځي.

آغلې کرن الطاف د فرهنګ او قاموس د مفهمونو او د هغو د توپير په اړه داسې ويلي دي:

کله چې د فرهنګ او قاموس د مفهومونو په اړه فکر کوو، نو دا څرګندېږي چې په قاموس کې د کلمو فهرست ترتيبېږي او يوه بله ژبه احاطه کوي، خو په فرهنګ کې د يوه ځانګړي متن(چاپ يا ناچاپ) د لغتونو مفاهيم را اخيستل کېږي. په بله وينا په قاموس کې د يوې ژبې ستونزمن وييونه، ورک لغتونه، محاورې او داسې نورو توضيح کېږي، خو د فرهنګ د کار ساحه له قاموس څخه محدوده او کوچنۍ دی. په قاموس کې د لغتونو تشريح او توضيح وړاندې کېږي، خو په فرهنګ کې بيا داسې نه کېږي. د دې لامل دا دی چې په قاموس کې د کلمې او لغت ټولې معناوې او مترادفې کلمې راځي، اما په فرهنګ کې موزون‌ترينه مفهوم وړاندې کېږي، دا مفهوم د متن په پوهېدلو کې له لوستونکي سره مرسته کوي.

ويلای شو چې فرهنګ د کومې ژبې د ټولو لغتونو او کلمو پر ځای، يوازې ځانګړي وييونه، ترکيبونه، اصطلاحات او تلميحګانې را نغاړي(عابدي، ٢٠١٦، ۴۵۵ مخ).

## ۲ . ۱۷ د قاموس ليکنې سره د نورو علومو اړيکې

قاموس ليکنه د ژبپوهنې يوه څانګه ده، چې په خپل وار سره د ژبپوهنې له نورو څانګو سره نه شلېدونکې اړيکې او ارتباطات لري:

په قاموس ليکنه کې تر ټولو په زړه پوري او ډېر مهم اصـــل د قاموس ليکنې پر مهال د ليکوال ناپېلتوب او بې طرفي ده. ليکوال بايد هڅه وکړي، چې د قاموس ليکنې پر مهال د هيڅ ډول سياسي، ژبني، ديني، ګوندي، قومي، شخصي- ذوق او ايډيالوژي څخه کار وانه خلي او د قاموس ليکنې په فرهنګي او علمي اصولو کې زياتوالی او کموالی رانه ولي.

که چیري یو قاموس د پورته ذکر سوو ځانګړتیاوو پر اساس نه وي لیکل شوی، دوې نیمګړتیاوې رازېږي؛ یو دا چې قاموس لیکنې د اصولو څخه په ښکاره ډول سرغړونه شوې ده. بل دا چې قاموس خپل علمي ارزښت له لاسه ورکوي.

د ژبې له پلوه د قاموسونو ډولونه:

د ژبې له پلوه قاموسونه پر درې ډوله وېشل کېږي:

الف: یو ژبیز قاموسونه

ب- دوه ژبیز قاموسونه

ج ـ څو ژبیز قاموسونه

او بیا دوه ژبیز قاموسونه هم پر دوو برخو وېشل کېږي:

الف: یو اړخیز دوه ژبیز قاموسونه، چې په انګریزي کي ورته (Dictionary unidirectional bilingual)ورته وایي.

ب: دوه اړخیز دوه ژبیز قاموسونه، چې په انګریزي کې ورته (bidirectional bilingual dictionary)وایي.

په یو اړخیز دوه ژبیز قاموس کې د راغلو لغاتونو او کلماتو تشریحات په یوه ژبه وړاندي کېږي، نو ځکه یې یو اړخیز دوه ژبیز قاموس بولي.

په دوه اړخیز دوه ژبیز قاموس کي د راغلو لغاتونو او کلماتو او تشریحات په دوو ژبو وړاندي کېږي. چې یوه خپله هغه اصله ژبه وي، چې قاموس په لیکل شوي وي.

دویمه د ژباړې او ترجمې ژبه وي. اصلي ته په انګریزي کي (Source language) وایي. او د ترجمي ژبي ته (Target language) وایي(رحیمي، ۲۰۸۸، https://www.nunn.asia/212945/).

د بحث په دې برخه د قاموسونو ویب سایټ چې محمد ولي اڅکزی یې د امتیاز څښتن او بنسټ ایښودونکی دی، هغه جدول راخلو چې په نوموړي سایټ کې خپور شوی دی او د پښتو سیندونو نومونه، لیکوال، چاپکال، چاپځی، ژبه او د ځینو سیندونو د ویېونو شمېر یې هم پکې ښودلی دی:

دلته مو د پښتو قاموسونو یو لښتلیک د بېلابېلو سرچنیو له مخې ترتیب کړی دی چې د پښتو قاموسونو د شمېر او تعداد څرګندونه کوي.

| ګڼه | د سیند نوم | لیکوال | چاپکال | چاپځی | ژبه | د کلمو شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ریاض المحبت | نواب محبت خان | ۱۸۰٦ ز. | | | |
| ۲ | عجایب اللغات | نواب الله یار خان برېخ | ۱۸۰۸ ز. | | پښتو - عربي - پارسي – هندي | |
| ۳ | A Vocabulary of the Laghmani, Tirahi, Highlands of Deer, Moghal Aimaks Dialect | R. Leech | ۱۸۳۸ ز. | کلکته | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | Chrestomathy of the Pashtu or Afghan Language to which is subjoined a glossary in Afghan & English | B. Dorn | ۱۸۴۷ ز. | سېنټ پیټرزبورګ | پښتو - انګرېزي | |
| ۵ | A Dictionary of the Pukhto or Pushto or Language of the Afghans | هېنریـجورج راورټي | ۱۸٦۰ ز. | لندن | پښتو - انګرېزي | ۹۰۰۰ |
| ٦ | A Dictionary of the Pukhto or Pushto Language | Henry Walter Bellew | ۱۸٦۷ ز. | لندن | پښتو - انګرېزي او انګرېزي - پښتو | |
| ۷ | Grammar & Vocabulary of Waziri Pashto | John Gordon Lorimer | ۱۹۰۲ ز. | کلکته، هند | | ۳۴۵ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | خیر اللغات | قاضي خیرالله | ۱۹۰٦ ز. | | پښتو - اردو | |
| ۹ | Pashto English Dictionary | میرزا سید محمد | ۱۹۰۷ ز. | راولپنډۍ | پښتو - انګرېزي | |
| ۱۰ | پښتو ترجمان | یفیمپت | ۱۹۰۷ ز. | تاشکند | | ٦۰۰ ویيونه او ۴۵۰ متلونه |
| ۱۱ | د پښتو لنډ ګرامر او قاموس | تومانوویچ | ۱۹۰۸ ز. | تاشکند | | ۲۲ مخه سیند او ۵ مخه ګرامر |
| ۱۲ | A New Etymological Vocabulary of Pashto | ګیورګ مورګېنست یارنه | ۱۹۲۷ ز. | اوسلو، ناروې | | ۱۲۰ مخه |
| ۱۳ | پښتو – اردو | | ۱۹۳۱ ز. | هند | پښتو - اردو سیند | |
| ۱۴ | The Pakkhto Idiom: A Dictionary | Major George Waters Gilbertso n | ۱۹۳۲ ز. | هېرټفورډ، انګلېنډ | پښتو - انګرېزي | |
| ۱۵ | پښتو سیند | محمد ګل خان مومند | ۱۹۳۸ ز. | کابل، افغانستان | پښتو - دري | ۷۰۰۰ ویيونه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ۳۹۹ مخونه |
| ١٦ | خير اللغات | قاضي خيرالله | ١٩٠٦ ز. | | پښتو - اردو | |
| ١٧ | Pashto English Dictionary | مرزا سيد محمد | ١٩٠٧ ز. | راولپنډۍ | پښتو - انگرېزي | |
| ١٨ | پښتو ترجمان | يفيمېت | ١٩٠٧ ز. | تاشکند | | ٦٠٠ وييونه او ۴۵۰ متلونه |
| ١٩ | د پښتو لنډ گرامر او قاموس | تومانووېچ | ١٩٠٨ ز. | تاشکند | | ٢٢ مخه سيند او ۵ مخه گرامر |
| ٢٠ | A New Etymological Vocabulary of Pashto | گيورگ مورگېنست يارنه | ١٩٢٧ ز. | اوسلو، ناروې | | ١٢٠ مخه |
| ٢١ | پښتو – اردو | | ١٩٣١ ز. | هند | پښتو - اردو سيند | |
| ٢٢ | The Pakkhto Idiom: A Dictionary | Major George Waters | ١٩٣٢ ز. | هېرتفورډ، انگلېنډ | پښتو - انگرېزي | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Gilbertson | | | | |
| ۲۳ | پښتو سیند | محمد گل خان مومند | ۱۹۳۸ ز. | کابل، افغانستان | پښتو - دري | ۷۰۰۰ ویيونه ۳۹۹ مخونه |
| ۲۴ | سپېڅلي پښتو | لال محمد او عبدالحی حبیبي | ۱۹۴۰ ز. | کندهار، افغانستان | پښتو - دري | ۱۰۰۰۰ |
| ۲۵ | لس زره پښتو لغتونه | | ۱۹۴۱ ز. | کابل، افغانستان | | |
| ۲۶ | Kratkij Afgansko - Russkij Slovar | P.B. Zudin | ۱۹۵۰ ز. | مسکو، روسیه | پښتو- روسي | ۱۲۰۰۰ |
| ۲۷ | روسي-پښتو قاموس | P.B. Zudin | ۱۹۵۵ ز. | مسکو، روسیه | روسي - پښتو | ۲۱۰۰۰ |
| ۲۸ | افغان قاموس | عبدالله افغان نویس | ۱۹۵۷ ز. | کابل، افغانستان | دري - پښتو | |
| ۲۹ | د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس | شاه عبدالله بدخشي | ۱۹٦۰ ز. | کابل، افغانستان | پښتو، دري، شغاني، سنگلېچي ، واخي، | ۲۲۵ مخونه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | اشکاشمي او منجي | |
| ۳۰ | پښتو روسي قاموس | M. G. Islanof | ۱۹٦٦ ز. | مسکو، روسیه | پښتو - روسي | ۵۰۰۰۰ |
| ۳۱ | اردو - پښتو قاموس | سید انورالحق | ۱۹٦۹ ز، | پېښور | اردو - پښتو | |
| ۳۲ | English Pushtu Dictionary | Barbara Hanley | ۱۹۷۰ ز. | کابل، افغانستان | انګرېزي - پښتو | English Pushtu Dictiona ry |
| ۳۳ | پښتو ژبه | | ۱۹۷۰ | پېښور پښتو اکېډمي | پښتو – پښتو | پښتو ژبه |
| ۳۴ | روسي - پښتو قاموس | K.A. Labidef, C.Yasow ich, Z.M.Kle nina | ۱۹۷۳ ز. | مسکو، روسیه | روسي - پښتو | روسي - پښتو قاموس |
| ۳۵ | انګرېزي - پښتو قاموس | | ۱۹۷۵ ز. | | انګرېزي - پښتو | انګرېزي - پښتو قاموس |
| ۳٦ | پښتو - انګرېزي قاموس | | ۱۹۷۹ ز. | د افغانستان د علومو | پښتو - انګرېزي | پښتو - انګرېزي قاموس |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | اکاډمي ، کابل، افغانستان | | |
| ۳۷ | پښتو- پښتو تشریحي قاموس | | ۱۹۷۹ ز. | د افغانستان د علومو اکاډمي ، کابل، افغانستان | پښتو - پښتو | پښتو- پښتو تشریحي قاموس |
| ۳۸ | روسي پښتو درسي قاموس | E,A. Kedaiteni, K.A. Lebidef, L.C: Yasowich, W.E. Mitrokina | ۱۹۸۰ ز. | مسکو، روسیه | روسي - پښتو | ۲۱۰۰ |
| ۳۹ | پښتو - جاپاني قاموس | ناواتا تېکوو (Nawata Tecuo) | ۱۹۸۲ ز. | جاپان | پښتو - جاپاني | ۱۵۰۰ وییونه او ۱۸۳ مخونه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۰ | روهي متلونه | طاهر، محمد نواز او T.C.Edwards | ۱۹۸۲ ز. | پښتو اکېډمي، پېښور | پښتو - انګرېزي | |
| ۴۱ | زړه پانګه | دوست شینواری | ۱۹۸۴ ز. | کابل، افغانستان | پښتو - پښتو | |
| ۴۲ | Lexique Francais - Pashto | Sylvie Heslot | ۱۹۸٦ ز. | فرانسه | فرانسوي - پښتو | ٦۰ مخونه |
| ۴۳ | Beginning Pashto: Glossary | حبیب الله تېری او باربارا روبنسون | ۱۹۹۰ ز. | امریکا | | |
| ۴۴ | پښتو - اردو لغت | حاجي پردل خان خټک | ۱۹۹۰ ز. | پښتو اکېډمي، پېښور | پښتو - اردو | ۵۰۰۰۰ |
| ۴۵ | پښتو لغت دریاب | قلندر مومند او فرید صحرایي | ۱۹۹۴ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | |
| ۴٦ | ژبپانګه | دوست شینواری | ۱۹۹۸ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۷ | د لرغوني شاعری ګړنې | محمد آصف صمٍیم | ۱۹۹۹ ز. | | پښتو - پښتو | ۱۰۰۰ |
| ۴۸ | Dictionnaire Pashto Francais | کبیر، اکبر حبیب | ۱۹۹۹ ز. | پاریس، فرانسه | پښتو - فرانسوي | |
| ۴۹ | انګرېزي - پښتو سیندګی، پښتو سربلونه اوستربلونه، ګړنې او څرګندنې | مجاور احمد زیار | ۲۰۰۰ ز. | پېښور | انګرېزي - پښتو | |
| ۵۰ | پښتو سیندګی (همماniزونه) | مجاور احمد زیار | ۲۰۰۰ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | ۸۰۰۰ – ۱۰۰۰۰ |
| ۵۱ | پښتو سیندګی (نویزونه) | مجاور احمد زیار | ۲۰۰۰ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | ۸۰۰۰ - ۱۰۰۰۰ |
| ۵۲ | د عبدالحمید مومند فرهنګ | محمد آصف صمیم | ۲۰۰۲ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | ۷۰۰ |
| ۵۳ | Dictionary of English Pashto, language of the Afghans | | ۲۰۰۲ ز. | نوی ډیلی، هند | انګرېزي - پښتو | |
| ۵۴ | انګلیسي - پښتو - دري قاموس | شاه ولي يارزی زیرک | ۲۰۰۲ ز. | انګلستان | انګرېزي - پښتو - دري | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ٥٥ | پښتو وييزپرمه - لغوي زخيره | محمد آصف صميم | ۲۰۰۲ ز. | پېښور | پښتو - پښتو | ۱۱۰۰ |
| ٥٦ | A Dictionary of Spoken Pukhto | روبرت سېمپسون | ۲۰۰۴ ز. | پېښور | انګرېزي - پښتو | ۴۰۰۰ |
| ٥٧ | پښتو قاموس | پښتو ټولنه | -۱۹٥۲ ۱۹٥٥ ز. | کابل، افغانستان | پښتو - دري | |
| ٥٨ | ظفر اللغات | سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل | ۱۹٦۰ ز. | پېښور | پښتو - اردو | |
| ٥۹ | پښتو - روسي جېبي قاموس | K.A. Lebidef | ۱۹٦۰ - ۱۹٦۲ ز. | مسکو، روسيه | پښتو - روسي | ۷۰۰۰ |
| ٦۰ | روسي - پښتو جېبي قاموس | K.A. Lebidef | ۱۹٦۰ - ۱۹٦۲ ز. | مسکو، روسيه | روسي - پښتو | ۷٥۰۰ |
| ٦۱ | د پښتو شعري او ادبي قاموس | عبدالخالق واسيعي | ۱۹٦۲ - ۱۹٦۳ ز. | کابل، افغانستان | پښتو - پښتو | |
| ٦۲ | عربي - پښتو قاموس | | | | | |
| ٦۳ | English Pashto Medical Dictionary | غلام جان جګړ شينواری | | | | |
| ٦۴ | لغات افغاني | راحت زاخېلي | | پېښور | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦٥ | Pashto - English, English - Pashto Dictionary & Phrasebook | Nicholas Awde او عصمت الله ثاروان | ۲۰۰۲ ز. | امریکا | انګرېزي - پښتو، پښتو - انګرېزي | ۲۳۵ مخونه |
| ٦٦ | بهیج طبي سیند | عبدالحمي د بهیج | ۲۰۰٦ ز. | پېښور | انګرېزي - پښتو | ۱۲۰٦ مخونه |
| ٦٧ | بهیج سیاسي قاموس | عبدالحمي د بهیج | | پېښور | انګرېزي پښتو | ۴۱۱ مخونه |
| ٦٨ | انګلیسي - پښتو فلسفي قاموس | عبدالحمي د بهیج | | پېښور | انګرېزي - پښتو | ۳۲۲ مخونه |
| ٦٩ | بهیج انګلیسي - پښتو سیند | عبدالحمي د بهیج | ۲۰۰۸ ز. | پېښور | انګرېزي - پښتو | ۱۰۰۰۰۰ وییونه او ۱۳۱۴ مخونه |
| ۷۰ | پښتو انګلیسي سیند | عبدالحمي د بهیج | ۲۰۰٦ ز. | پېښور | پښتو - انګرېزي | |
| ۷۱ | ناروېژي - پښتو سیندګی | احمد نجیب بیاباني او احمد مجیب بیاباني | ۲۰۰۸ ز. | اوسلو، ناروې | ناروېژي - پښتو | ۱۱۰۰۰ وییونه او ۴۷۰ مخونه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۲ | ډنمارکي - پښتو سمندرگی | محمد صفر خواریکښ | ۲۰۱۰ ز. | | | |
| ۷۳ | پښتو - الماني سیند | احمد ولي اڅکزی | | | | |
| ۷۴ | آلماني - پښتو سیند [۱] | ډاکټر محم د اکرم ملکزی | ۲۰۱۰ ز. | المان | الماني - پښتو | ۲۵۰۰۰ |
| ۷۵ | زاهد پښتو پښتو سیند | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | | | | |
| ۷۶ | DICTION[۲] NAIRE - KHAYBAR FRANçAIS - PASHTO | خلیل الله وفا راستین خدرخېل | ۲۰۰۸ ز. | بلجیم | فرانسوي - پښتو | ۲۲۰۰۰ |
| ۷۷ | عارف مصور قاموس آلماني - دري - پښتو قاموس [۳] [۴] | محمد عارف وردگ | | آلمان | آلماني، دري، پښتو | ۳۸۰۰۰ |
| ۷۸ | پښتو او اوېستا وییبنود | لطیف جان بابی | | | پښتو - اوېستا | |
| ۷۹ | دري پښتو لنډ قاموس | د افغانستان | | کابل | دري - پښتو | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د علومو اکادمي | | | | | |
| ۸۰ | پښتو دري لنډ قاموس | د افغانستان د علومو اکادمي | | کابل | پښتو - دري | |
| ۸۱ | هندي پښتو قاموس | روشن لال ملوترا | | نوی ډیلی، هند | هندي - پښتو | |
| ۸۲ | پښتو چینی قاموس | چې هونګڅای | ۲۰۱۵ ز | بیجینګ، چین | پښتو - چینی | |

## ۲. ۱۸ په پښتو ژبه کې د یو جامع قاموس اړتیا

که څه هم په یوه ژبه کې قاموسونه د اړتیا له مخې لیکل کېږي او په دې برخه کې وخت پر وخت نویو کارونو او سیندونو لیکلو ته ضرورت دی او هغه هم په داسې ډول چې بشپړ او جامع وي، خو په پښتو ژبه کې د نجیب منلي په وینا چې داسې ستونزې شته چې په پښتو ژبه کې د یو جامع قاموس لیکلو پر وړاندې خنډ دي چې دلته په لنډه توګه خبره پرې کوو:

د «د ادبیاتو دنیا» اثر کې استاد غضنفر او استاد منلي په دې اړه لنډ بحث کې دی چې دلته یې ځینې برخې را اخلو:

غضنفر: ډاکتر هلالي په افغانستان کې د هغو لغتونو یو لیست جوړ کړی و چې په پښتو جملو کې ډېر راځي.

منلی: دا یوه هڅه وه چې تقریباً ۳ یا ۴ زره لغتونه په کې راغلي وو او طبعاً د پښتو ټول لغتونه یې نه احتوا کول، خو بیا هم یوه ډېره جالبه هڅه وه. دا یې یوه لاره ده. بله لار طبعاً د قاموس لیکونکي خپل ذوق دی. د هغې تر څنګ د ژبې ګرامري مسایل هم مطرح کېږي. کله چې موږ د یوه ټکي په مقابل کې یا نوم لیکو یا فعل لیکو، نو په حقیقت کې موږ په دې برخه کې تصمیم نیسو چې دا موږ په کومو معناوو وکاروو.

غضنفر: یو وخت عصمت څاروان یوه ډکشنري لیکه. انګریزي ـ پښتو ډکشنري وه. یو نیم ځل به ما ورسره مرسته کوله. یوه ډېره مشکله برخه یې کله کله د کلمې د ګرامري حیثیت معلومول وو. بیخي به حیران پاتې وو چې دا اوس څه شی وبولو. په هغو کلونو کې ارواښاد قلندر مومند په پېښور کې په پښتو لغت(دریاب ډکشنري) کار کاوه، نو د هغه لومړی پوښتنه همدا وه چې د کلمو د ګرامري حیثیت مشکل مو حل کړ که نه؟ ما ته دا خبره په ذهن کې راتېره شوه چې ده ته هم همدا مشکل ورپېښ دی.

منلی: دا یو ډېر جدي مشکل دی او همدا علت دی چې موږ نشو کولی چې یو جامع قاموس ولرو.

د قاموس لیکونکي لپاره تر ټولو عمده ستونزه دا ده چې باید وټاکي چې د چا لپاره قاموس لیکي. که چېرې څوک وغواړي چې د هر چا لپاره قاموس ولیکي، نو هغه د هر چا له ستونزو سره مخامخ کېږي او هغوی ته باید لاره پیدا کړي. دلته له یوې خوا د کلماتو په انتخاب کې، له بلې خوا د کلماتو په توضیح کې او که د دوو ژبو تر منځ وي، د کلماتو په تلفظ کې هم پوښتنې پیدا کېږي. موږ چې د کومو قاموسونو سره مخامخ یو، د اصلي ژبې د کلمې تلفظ کله کله لیکل کېږي او په مقابل کې د دویمې ژبې نه لیکل کېږي. ځکه چې فرض دا دی چې دا یې زده ده. ما(منلی) چې قاموس لیکه، په فرانسوي مې لیکه، نو د فرانسوي ـ پښتو قاموس لپاره زما د لوستونکي فرانسوي زده وه، پښتو یې نه وه زده، نو آیا ما باید د پښتو تلفظ هم ورکړی وای او که نه؟ که نه مې ورکاوه، فرانسوي لوستونکي ترې استفاده نه کوله. که ورکاوه مې، د افغان لوستونکي لپاره اضافي کار و. د فرانسوي کلمې لپاره د ګرامري دریځ ټاکل اسانه و، مګر د هغې په مقابل کې چې د پښتو کومې کلمې راتللې د هغو ګرامري دریځ بدلېده. باید د هرې کلمې پر وړاندې دا ګرامري دریځ ښودل شوی وای. ځینې کلمې ترکیبي دي. ایا ټوله ترکیبي کلمه را اخلو، که هغه اصلي عنصر یې را اخلو او نور مشتقات بیا د هغه عنصر لاندې راولو. دا هم یو سوال دی. که موږ د کور کلمه واخلو، په کور پسې کورګی هم راځي، کوربه هم ورپسې راځي. کوروالی هم ورپسې راځي. موږ څو کلمې لرو چې د کور پر اساس جوړې شوې دي. اوس کېدای شي چې دا په قاموس کې په بېل بېل ډول یوه په بلې پسې راشي او یا دا ووایو چې اصلي کلمه کور ده او نورې کلمې له هغې نه مشتقې شوې دي. دا هم یو ډېر سخت انتخاب دی. ځکه که چېرې بېلې بېلې کلمې را اخلو، د کلمو تر منځ یووالی له لاسه ورکوو، که

چېرې یوه کلمه را اخلو، نو هغه کلمې چې په دویم  یا درېیم مفهوم استعمالېږي، هلته بیا د لوستونکي لپاره د کلمې پیدا کول مشکل کېږي، نو دا ټولې هغه ستونزې دي چې د قاموس لیکونکي په مخ کې پرتې دي(منلی، غضنفر، ۱۳۹۹، ۵۰۴ مخ).

که څه هم په پښتو ژبه کې ګڼ قاموسونه لیکل شوي دي او دا لړۍ لا هم روانه ده، خو بیا هم نظر د نړۍ نورو ژبو ته موږ ته لا هم په دې برخه کې اوږد واټن په مخ کې پروت دی او له اوسنیو قاموسونو څخه د سترو قاموسونو لیکلو اړتیا لیدل کېږي. خو په پښتو ژبه کې د سترو قاموسونو لیکلو لارې او اصول هم باید وخت پر وخت نوي او په دې برخه کې د نړۍ د پرمختللو ژبو له تجربو او لارو چارو څخه ګټه واخیستل شي. پوهاند حبیبي د«د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کېږي» څو لسیزې وړاندې لیکنه کړې ده او ډېرو مهمو ټکو ته یې په کې نغوته کړې ده چې د موضوع د اهمیت له کبله یې ځینې اصول او لارې دلته رانقلوو:

له ډېره وخته د پښتو د ژوندي کولو لپاره فکرونه کېږي، ځینې اشخاص په شخصي ذوق او ځنې په رسمي ډول په دغه کار بوخت دي او تر اوسه پورې ځینې کارونه هم د پښتو لپاره شوي دي چې د هغو په ګټورتوب کې شک نشته، خو خبره دا ده چې کوم کار په کوم وخت کې باید وشي؟

د ژبې لومړنۍ او ابتدایي اړتیاوې کومې دي؟ او که لومړني ضروریات نه وي پوره شوي، نو نهایي کارونو ته لاس اچول د وخت ضیاع او د فعالیت بې ځایه مصرفول نه دي؟

د پښتو لپاره چې تر اوسه پورې کوم قاموسونه په داخل او بهر کې لیکل شوي دي، پخپل نوبت هر کار غنیمت دی، خو د پښتو یو جامع او حاوي قاموس نه لرو چې د ژبې ټول مواد په عصري توګه پکې راټول شوي او تشریح شوي وي.

په اوس وخت کې لکه چې د نورو علمي کارونو لپاره عصري لارې چارې پیدا شوې دي، د ژبې د مینه‌والو د لیکنې لپاره هم دغسې علمي او تحقیقي ګټورې لارې غوره شوې دي او اوس د ژبې یو لغوي څېړونکی د «السامی فی الاسامی» په ډول لغوي کتابونه نه لیکي، بلکې د نوي علم او پلټنې او څېړنې په رڼا کې هغه ډول سیندونه لیکل کېږي چې لوستونکو ته ډېر ګټور وي او د لیکنې بنسټ یې د اوسني علم او تحقیق پر بنیاد اېښودل شوی وي.

اوس که څوک عصري قاموس ته د یوې کلمې د پوهېدلو لپاره رجوع کوي، نو هغه قاموس د کلمې حرکات او تلفظ او ګرامري احوال او مختلفې معناوې او حتی د کلمې تاریخچه او د استعمال مختلف تاریخي بدلونونه هم ورښیي او د ربښو اشتراک یې له نورو همرېښه ژبو سره څرګندوي او دا ښکاره کوي چې د کلمې رېښه چېرې ده او له کومه ځایه رازېږېدلې ده او د لفظي او معنوي تحول مراتب یې کوم دي؟ دا کار که څه هم خورا ګران او مشکل دی، خو ګټور او د ارزښت وړ هم دی او ښایي چې د یوې علمي ټولنې له خوا د ژبپوهانو، متخصصانو او ادیبانو او لیکوالو په ګډه هڅه او سعیه سره وشي.

د پښتو په دغه لوی سیند کې یاید دغه لاندې ولې وبهېږي:

۱. د پښتو خپل سوچه لغتونه او هغه کلمې چې سپېڅلې ګڼل کېږي، لکه: آس، اوبه، لوړ، غټ، بګ او نور ...

۲. پښتو شوي(مفغنات) او دخیل لغتونه چې له نورو ژبو څخه په ظاهري یا معنوي تغییر راغلي وي، لکه: وخت، کمیس، سبا او نور ...

۳. له پارسي یا هندي ژبو سره مشترکې کلمې، لکه: سیب، درخته، ببل، ګړۍ چې دغسې کلمې په شرقي پښتو د هند له خوا او په غربي پښتو د پارسي له خوا را ګډې شوي او داسې ډېر پېژندل شوي او کارول شوي دي، چې اوس یې د پښتو تابعیت قبول کړی او د ادب جز ګرځېدلي دي.

۴. د ژبې مصطلحات(ګړنې) او محاورې او مخصوص تعبیرونه او ټرمونه لکه، خوله‌پرېکول، غوړاېښوول، پښې پسې‌لوځول، لاس‌ځنې اخیستل، خاشې پکې ماتول او نور ...

۵. مصادر، د فعل نومونه، روابط، ادات، حروف، تاړي، ضمایر، غږونه(اصوات)، مرکبات، سابقې، مشتقات، لکه: کول، کړنه، په، د ــ ته، چا، څوک، څه، څخه، ځنې، من، نه، پرې، خوړلی، شړلی، شړونکی، بېوونکی، تون، ځی، پرتوګاښ(پرتوګ+ واښ)، مزغاړی(مزی+ غاړی) یا غږونه(اصوات)، لکه: شر، بغ، غړا او نور ...

۶. د پښتو مخصوص اعلام او نومونه، لکه: مسری خان، ریدي خان، ببرک، زمرک، هوتک، بارک او نور ...

۷. د پښتو هغه مهجور او متروک مواد چې پخوا مستعمل وو او اوس نه ویل کېږي، لکه: لرمل، برمل، ویرانه، پاړکی او نور ...

۸ . د پښتنو په غرونو او قبیلو کې چې کوم خاص خاص او نادر لغات مستعمل دي، خو د نورو سیمو پښتانه یې نه وایي، لکه: پمبی(آخور)، بڼه(رنګ)، بشپړ(کامل)، کاوړ(قهر) او نور ... لغتونه راټول او په جامع قاموس کې ضبط شي.

په دې ډول باید د ژبې ټول لغتونه په خورا دقت او احتوا او جامعیت سره را ټول کړل شي، خو دغه ضبط او راټولول هم تر ځانګړو شرایطو او شرطونو لاندې کېدای شي چې عمومي شرایط یې دا دي:

۱ . د لغاتو حرکات او غږیزې ځانګړنې په بین المللي بشپړې املا(فونیمکه الفباء) ضبطول چې بیا یې لوستونکي ته سم تلفظ کول اسان وي او په هغه ډول یې وویلای شي چې پښتانه یې پخپله لولي، د بېلګې په توګه: بڼه، رنګ ته هم وایي او د مرغه بڼې(پر) ته ویل کېږي، خو په حرکت او ادا کې یې توپیر شته.

۲. د لغتونو او کلمو ګرامري هویت او کیفیت باید وښودل شي، لکه: نوم، فعل، ستاینوم، ادات، جمع، مفرد، ښځینه، نرینه او نورې اړینې ګرامري اشارې او نخښې.

۳. په ژبه کې د استعمال مختلف موارد، لکه: هېواد د لرې ځای ـ یا د مملکت او وطن په مختلفو معناوو کې له ادبي شواهدو سره یا مېنه د قرارګاه او کور یا وطن په معنا یا لاس د لاس، قدرت او ځواک په معنا.

۴. د لغتونو د معنوي تغییر موارد، لکه: د عربي جماعت چې په پښتو کې جومات شو، دلته له هغې اصلي معنا څخه، څنګه د مسجد په معنا تغییر ورپېښ شو.

۵. لغتونه او کلمې په مختلفو محاورو او لهجو کې څه ډول کارول کېږي؟ لکه: د کندهار په محاوره کې کوچنی یا وړوکی د طفل په مفهوم عام دی، حال دا چې په ختیځو لهجو کې ماشوم ورته وایي، نو آیا دغه کلمه له عربي معصوم څخه پښتو شوې ده؟ که پخپله اصیله پښتو ده. دا د لغوي څېړونکي کار دی چې دغسې مطالب په علمي نظر وڅېړي.

٦. د پښتو ډېر کلمات ادبي استعمال هم لري او د ادب په کتابو کې په نظم او نثر کې کارول شوي دي. داسې کلمې باید د ادبي شواهدو سره مستندې ولیکل شي، مثلاً: د هېواد کلمه د لرې ځای په معنا:

مور له هېواده، تنها راغلي یو　　　　د بڼ توتیان یو په دام وتلي یو

(پیر محمد کاکړ)

۷. د لغتونو رېښه معلومول او د مقایسوي فیلالوژۍ له پلوه یې تحقیق او که شونې وي د کلمې تاریخي تحول د معنا او لفظ له پلوه ښوول.

۸ . د پښتو شویو او دخیلو کلمو اصل ښوول او هغه په تحقیقي ډول مطالعه کول، لکه: سدرۍ له عربي صدرۍ څخه پښتو شوي یا مغفنه کلمه نه ده، بلکې رېښه یې زردشتي قدیمه کلمه سدره ده. تپوس له عربي تفحص څخه نه دی راغلی، بلکې د تپ، تپا، تپېدل له رېښې د پښتو د لغاتو له جوړښت سره سم جوړ شوی دی. همدارنګه ښاغلی، شاه قلی نه دی، بلکې ښه + آغلی او پښتو لغت دی.

۹. د کلمو لهجوي مختلف شکلونه او مترادفات ښوول او هغه خپل اصل ته رجوع ورکول، لکه: پنبه، خپه یا ژبه، جبه، زبه یا څمکه، مځکه چې اصل یې ځمکه دی.

پوهاند حبیبي تر پورتنیو یادو شویو شرایطو راوړلو وروسته لیکلي دي چې تر دغو شرایطو لاندې باید د پښتو لوی/اغېز سیند وکښل شي او دا نو د ژبپوهنې کتابونه او د غږونو د تجزیې وسایل او نور ډېر عصري لوازم غواړي چې لیکونکی یې باید پوره مجهز وي(حبیبي، ۱۳۴۵، ٦۴ مخ).

په پورتني بحث کې د پښتو ژبې د جامع قاموس/ سیند لیکنې په اړه یو شمېر علمي او تخنیکي خبرې وشوې او ځینې شرایط په ګوته شول چې تر نومړو شرایطو لاندې او د دغو شرایطو او حالاتو په مساعدولو سره کېدای شي چې یو جامع پښتو سیند وکښل شي. دلته غواړو ځینو هغو ټکو ته اشاره وکړو او یاد یې کړو چې د پښتو قاموس لیکنې په عملي ډګر کې ورته اړتیا ده. دوکتور روان فرهادي په ۱۳۵۴ ل کال کې د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز له لوري جوړ شوي سیمینار ته د «د پښتو قاموس لیکنې عملي موضوعات» تر عنوان لاندې یوه جامع لیکنه کړې ده او د دې لیکنې په

ترخ کې یې د پښتو قاموس لیکنې لپاره یوه علمي طرح او پروګرام وړاندې کړی دی. د مقالې په یوه برخه کې یې لیکلي دي: د علمي او عملي لاملونو او تدریسي ایجاباتو په نظر کې ساتلو سره د پښتو قاموس لیکلو یو اووه کلن پروګرام په لاندې ډول وړاندې کوم:

د پښتو قاموس لیکنې اووه کلن پروګرام: لومړی ــ سملاسي پړاو

په دې پړاو کې چې له ۱۳۵۴ ل کال څخه بیا تر ۱۳۵۷ ل کال پورې وي، یو پښتو ــ دري قاموس چې نیژدې لس زره لغات ولري، باید جوړ او چاپ شي.

پښتو ــ دري قاموس: دا قاموس به د پښتو لس زره هغه اساسي وییونه(لغات) ولري چې له دري سره ګډ نه دي یا هم غوره مانیز توپیرونه سره لري.

د لغت پېژندنې او د هغه د معنا د وړاندې کولو بڼه به په لاندې توګه وي:

۱. اصلي لغت د الفباء په ډول.

۲. لغت به د صحیح لوستلو لپاره معموله زور او زیر ولري او هم به له لغت سره لاتیني لیک، په هغه توګه وي چې د پښتو ژبپوهانو او پښتو پېژندونکو متخصصانو له لوري، پښتو په لاتیني ژبه لیکل کېږي.

۳. د کلمې د ګرامري ماهیت پېژندنه چې اسم دی، فعل دی، قید دی او که نور …

۴. د کلمې د جمعې بڼه ــ او د ضرورت په حال کې د هغې ښځینه بڼه.

۵. د کلمې لومړی معنا ــ د اهمیت په ترتیب او د کلمې کارونه په یوه لنډه جمله کې.

٦. د کلمې د دویمې معنا پېژندنه د اهمیت او ارزښت په ترتیب او همدا ډول د کلمې درېیمه معنا او نور، که چېرې یې ولري.

۷. نورو پښتو کلمو ته اشاره او مراجعه ورکول، که چېرې اړینه وي.

په دې قاموس کې به د پښتو قاموس پر لغاتو او د هغو پر معناوو سربېره ټول هغه لغتونه راټولېږي چې په راډیو او ورځپاڼو کې کارېږي او یا خلکو د اړتیا له مخې جوړ کړي او اوس د اکثریت له خوا

منل شوي دي. د دې قاموس په پای کې دي د پښتو ژبې قواعد له دري شرحې سره ور زيات شي(فرهادي، ۱۳۴۵، ۱۷۲ مخ).

**د ښوونځي پښتو ـ دري قاموس**

په دې قاموس کې به درې زره داسې را چاپ شوي لغتونه راټولېږي چې زده کوونکي او ټول هغه کسان چې په پښتو نوې زده کړې کوي، ورته اړ دي. په دې قاموس کې به هم د لغتونو پېژندنه داسې، لکه د لس زريز قاموس خو يو څه په ساده ژبه.

د دې قاموس په پای کې به هم يوه لنډ ډول د پښتو ژبې  قواعد له دري شرحې سره اضافه کېږي.

**د ښوونځي دري ـ پښتو قاموس**

په دې قاموس کې به درې زره داسې غوره او دود دري لغات له لنډې دري شرحې او پښتو معنا سره راټولېږي چې د ښوونځي زده کوونکي او ټول هغه کسان چې نوې پښتو ژبه زده کوي، ورته اړ دي. د دې قاموس په پای کې به د دري ژبې لنډ دستور(گرامر) له پښتو شرحې سره راځي.

**دويم پرمختللی پړاو**

دا پړاو به له ۱۳۵۸ کال څخه بيا تر ۱۳٦۳ ل کال پورې وي.

**لومړی. د پورتني ياد شوي لس زريز قاموس بيا پوره کول.**

د دې مقصد لپاره به تل له دې لاندې درو منابعو څخه گټه اخيستل کېږي:

۱. پر لرغونو او نويو پښتو آثارو باندې څېړنه او له هغو څخه د منل شويو کلمو او معناوو را ايستنه.

۲. د پښتو گړدودونو(لهجو) څېړنه او په معياری سطحه د وييونو را کښل.

۳. د پوهنځي د غوره زده کوونکو په ملتيا د استادانو څېړنه په مختلفو پوهنو کې: د مثال په توگه: د پښتو په لهجو کې د دود بوټو، گلانو، درملو، ژوو(غټو او وړو) او ډول ډول ډبرو او نورو نومونو په برخه کې څېړنه او که چېرې لازم وبلل شي، د دغو شيانو انډول لاتين نومونه.

۴. د ژبې مطالعه د هغه تحول په شاوخوا کې چې د لیکوالو، خبریالانو، ورځپاڼه لیکونکو او راډیویي کار کوونکو له خوا په ژبه کې منځ ته راځي.

د قاموس دا ډول بشپړول او پوره کول به نه یوازې له علمي پلوه وي، بلکې دا خو به هم ورسره څرمه وي، لکه: د چاپ ښه والی، د تصویرونو اضافه کېدل او نور ...

**دویم. د ښوونځي پر قاموسونو به پرلپسې نوې کتنې کېږي.**

درېیم. په دې پړاو کې کولای شو یو له درېیو تر پینځو زرو لغاتو پورې پښتو ـ انګریزي قاموس جوړ او چاپ کړو. دا قاموس به له یوې خوا خارجي زده کوونکو ته ګټور وي او له بلې خوا به زموږ خپلو زده کوونکو ته د انګریزي ژبې په څېړنه کې ګټه وکړي.

**درېیم ـ راتلونکي پړاوونه**

د دې اوو کلونو د دورې تر تېرېدو وروسته به هم د قاموس د لا پوره کېدو لپاره د بیا بیا کتنو اړتیا تل وي. په دې پړاو کې به د لس زریز اساسي قاموس چارې تر پوره کېدو پر مخ ولاړې شي. پخپله په قاموس کې به هم نور ډېر والی راشي. د لرغونو ژبو په پام کې نیولو سره باید د پښتو کلمو د رېښو څرګندونه د استاد مورګنسټرنې د خدمتونو په لړ کې پوره شي. همدا ډول به په راتلونکو مرحلو کې د پښتو قاموس په نورو ژبو او د یوه څه نا څه لوی پښتو دري سیند(قاموس) جوړېدل د پاملرنې وړ شي.

البته دا به د هغه وخت د پوهانو یو ستر کار وي چې د پښتو یو لوی سیند د دایرة المعارف په بڼه په ځو ټوکو کې جوړ او خپور شي(فرهادي، ۱۳۴۵، ۱۷۶مخ).

دا پورتنۍ طرحه پنځه لسیزې وړاندې د استاد روان فرهادي له لوري د یوه جامع پښتو قاموس په اړه د یوه سیمینار په ترځ کې وړاندې شوې ده چې د طرحې ځینې پړاوونه او مرحلې د دې پینځو لسیزو په تېرېدو سره بشپړې شوې دي، خو داسې برخې یې هم شته چې لا هم بشپړېدو ته انتظار باسي، نو ځکه مو دلته ترینه په تفصیل سره یادونه وکړه، تر څو په پښتو وییپوهنه او په ځانګړې توګه د پښتو سیندکښنې په راتلونکو کارونو او لړۍ کې ورته پام وشي.

### ۲. ۱۸ . ۱ د جامع قاموس ليکلو لپاره ځينې اړين ټکي

۱. د يوه بشپړ جامع قاموس ليکلو لپاره اړينه ده چې د هرې کلمې په اړه په کې بشپړ معلومات ورکړل شي، که پوروييونه وي، نو په کار ده چې په اړه يې وليکل شي چې دا لغت کله او په کومه ښه ژبې ته راغلی دی. د راتګ له پيل څخه بيا تر اوسه پورې د لغت په ښه او معنا کې کوم کوم بدلونونه راغلي دي. کومې کومې معناوې يې ورکې شوي او متروکې دي او کومې معناوې يې تر اوسه پاتې دي او تر دې مهاله پورې يې کومې نوې معناوې خپلې کړې دي. د دغو ټولو خبرو او سپړنې لپاره دې د مشرانو شاعرانو او اديبانو د کلام بېلګې د لاسوند په توګه وړاندې شي. د هر ويي د اصل سپړنه هم مهمه ده او دا ويل په کار دي چې دا د کومې ژبې لغت دی. دا يې هماغه اصلي ښه ده او که بدله شوې ده. په اصلي ژبه کې د دې څه معنا ده او اوس يې معنا څه ده؟ که يې په معنا کې څه توپيرونو وي، نو هغه کوم دي. د ويي د تاريخي حالت د څرګندولو لپاره د اصل يا اشتقاق معلومول هم ډېر ضرور دي.

په قاموس کې د لغتونو د درج يا ليکلو په لړ کې يو بل بحث دا دی، چې قاموس ليکوال کوم ډول لغتونو ته په خپل قاموس کې ځای ورکوي. د دې لپاره عام اصول او معيارونه دي، چې دا په موجودو قاموسونو کې ليکل شوي دي. د انفرادي کار په لړ کې دا لاره ځکه اغېزمنه ده چې له يوه کس سره ډېر وسايل او امکانات نه وي. هغه عامه لاره دا ده قاموس ليکوال د خپلې ژبې موجود قاموسونه، څو عربي او پارسي قاموسونه او ټول علمي او ادبي کتابونو او د شاعرانو د ديوانونو فرهنګونه خپلې مخې ته کښېږدي. له هغو څخه هغه وييونه غوره او منتخب کړي چې هغه په پښتو ژبه کې په ورځني ډول کارېدنګ لري.

۲. د قاموس لپاره د کلمو انتخاب لپاره دا عامې لارې چې مشهورې شوې دي او ډېرې کارول کېږي د دې معنا دا نه ده چې قاموس ليکونکي او مؤلفان له نورو طريقو سره بلد نه دي، بلکې په فردي ډول له قاموس ليکوال سره نه ډېر امکانات وي او نه هم دومره شتمني لري او نه هم تجاران د قاموس په برخه کې ډېر لګښت کوي، نو د دې لپاره اړتيا ده چې د يوه جامع قاموس ليکلو او ترتيبولو لپاره د پوهانو يوه ډله وي او زيات مرستندويان ولري. په يوه جامع قاموس کې د لغتونو د راټولولو طريقه دا ده چې د يوه شخص پرځای څو فاضلان او ښاغلي سره يوځای شي، د پښتو ژبې اساسي آثار

ولولي او مطالعه يې کړي او له هغو څخه هر ډول لغتونه غوره کړي، له دغو لغتونو څخه هر لغت يوه کارډ ته ولېږدوي او ورسره هغه شعر او بيت هم وليکي چې شاعر يا مصنف په کې کارولی وي.

۳. په يوه معياري قاموس کې د کلمو سم لوستل او تلفظ هم ډېر مهم دي. ډېرى لغتونه په دې لړ کې د نه پاملرنې ښکار کېږي. له همدې امله د زياتره لغتونو ناسم تلفظ په ژبه کې دود شوی دی. چې دا ستونزه له نورو ژبو په پښتو ژبه کې ډېره ده. چې زياتره پوهان يې يوه حل‌لار د لغت فونيميکه بڼه ليکل ګڼي، دا هم تر يوې اندازې پورې د پوهانو او هغه څوک چې له ژبې او ژبپوهنې سره اړيکه لري، حل کېدای شي، خو عام ولس خو په فونيميکه الفباء نه پوهېږي، نو د داسې لارې لټون او موندل په کار دي چې په پښتو ليکدود کې د سم لوستلو چاره اسانه کړي او د ناسم تلفظ مخه ونيسي.

په نورو ژبو کې چې په عربي ليکدود ليکل کېږي د دې ستونزې د هواري لپاره له اعراب څخه ګټه اخيستل کېږي، يعنې وييونو ته زور، زېر او پېښ ورکول کېږي. چې اوس په پښتو ژبه کې دا چاره څه نا څه کارول کېږي. د دې چارې لپاره هم څه نا څه کارونو ته اړتيا ده:

کومو لغتونو ته چې زور، زېر او پېښ ورکول کېږي، هغه بايد پر ټاکلي ځای وليکل شي، تر څو د کلمې تلفظ ناسم او زيانمن نه شي.

۴. له سم تلفظ او لوستلو وروسته د وييونو د تشريح او وضاحت ورکولو موضوع مخ ته راځي. قاموس ليکونکي ته تر ټولو لومړی دا په کار ده. کوم لغت چې په قاموس کې درج کوي. دا لغت د کومې ژبې دی او بيا د هغې ژبې د مورفولوژيکي قواعدو پر بنسټ هغه وشني، د بېلګې په توګه واضح کړي چې دا لغت په پارسي او پښتو ژبه کې کارول کېږي او په هره يوه ژبه کې د قواعدو په اساس نوم، ستاينوم يا فعل دی. له دې وېش څخه وروسته چې په هره کټګوري کې راځي، لږ لږ يې معنا وليکل شي. د درج کولو په وخت کې د کارونې سندونه او بېلګې هم وړاندې شي. تر څو د تشريح پر وخت د لغت د ډېرو مترادفاتو پرځای د هغه ځانګړې معنا درج شي چې په بېلګه کې يا هم د شاعر په کوم بيت کې راوړل شوې ده او د شاعر يا هم ليکوال په ذهن کې ده.

۵. قاموس ليکونکی د وييونو او د هغو د معنا يو مورخ دی، کره کتونکی نه دی. له دې خبرې څخه موخه دا ده  چې کوم لغت په کوم وخت کې په کومو کومو معناوو کارول کېده. د لغت د فصيح او

نافصیح والي  بحث د نومونړي د کار په دایره کې نه شاملېږي. هغه یوازې د معنا د بیانولو ذمه وار دی. د لغت د ښه والي او بدوالي په اړه  فتوا او حکم ورکول د ده کار نه دی. د ده به وروستۍ هڅه دا وي، چې ټول لغتونه او د هغو معناوې چې په ولس کې کارول کېږي، هغه ثبت او درج کړي. قاموس لیکونکی به د لغتونو په اړه وضاحت او تشریح ورکوي، خو د لغتونو د ښه والي او بدوالي په اړه نظر ورکول د تبصره لیکوال کار دی، نه د قاموس لیکونکي.

٦. د لغتونو گڼ ډولونه دي. یو د ادبي وینا ویيونه دي او دویم عام لفظونه دي. د دوی تر منځ فرق کول هم اړین دي. د دې تر څنگ د هرې څانگې او فنونو ځانگړي ویيونه او اصطلاحگانې دي. ځینې وخت د دغو کلمو تر منځ په وېش کې ستونزې وي. چې کوم لغت په کومه کټگورۍ کې راولي. د دې ترڅنگ هره ورځ د نورو ژبو لغتونو پښتو ژبې ته داخلېږي چې دا هم د عامو لغتونو په قطار کې راځي.

۷. د فصیح او نا فصیح لغتونو په څېر د هېرو یا متروکو او نا متروکو کلمو په اړه د قاموس لیکونکي له لوري بحث او نظر ورکول بې گټې کار دی. دا د ژبې د ویونکو کار دی چې هغوی کومه کلمې متروکه او کومه مروجه یا دود ویی گڼي. په کار ده چې ټول لغتونه درج او په قاموس کې ځای ورکړل شي. دا خبره د لغت په اړه شته سندونه واضح کوي چې دا لغت تر کومه وخته پورې ویل کېده او کوم وخت هېر او متروک شو.

پر دې سربېره دا هم کېدای شي چې کوم ویی په اوس وخت کې متروک وي، خو په راتلونکي وخت کې وکارول شي. یا هم یوه ژبپوه متروک گڼلی وي، خو بل ژبپوه ته به دا نظر د منلو وړ نه وي.

د اُردو ژبې د لیکوال مولوي عبدالحق په وینا: د یوه هېر او متروک لغت درج کول او په قاموس کې راوړل د دې لپاره ضرور دي چې د پخوانیو متونو په معنا او تفسیر کې له موږ سره مرسته کوي. که په کوم قاموس کې  دا ډول لغتونه ونه لیکل شي، نو د مشرانو او پخوانیو لیکنو په معنا اخیستلو کې به له کړاو سره مخامخ شو.

په دا ډول کار کولو سره له یوې بلې کشالې او ستونزې سره مخامخ کېږو، هغه دا چې قاموس لیکوال پیل له کومې دورې څخه باید وکړي او د کومې دورې د لغتونو په راټولولو پیل وکړي. آیا اړتیا ده چې

هغه ټولو هغو لغتونو ته په خپل قاموس کې ځای ورکړي چې د ژبې له پيل څخه تر اوسه پورې دود دي.

نو په داسې حال کې بيا په کار ده چې د هر ډول پوهنو، ساينسي علومو، موسيقي، تجارت او داسې نورو برخو لغتونه او اصطلاحات او نظامي بولۍ هم ثبت کړي. په دې حالت کې بيا نو له قاموس څخه د عجيبو او نادرو کلمو گډوله جوړېږي.

د متروکو او نا متروکو لغتونو بحث په ژبپوهانو پورې اړه لري، د قاموس ليکونکي دا دنده ده چې هر هغه لغت ته په خپل قاموس کې ځای ورکړي چې په ادب او ورځنۍ وينا کې کارول کېږي. خو که يو لغت د عام ولس له لوري ناسم ويل کېږي. د دغه ناسم لغت ثبتول بيا په کار نه دي. د هغو لهجو لغتونه چې لوستي کسان يې پر معنا پوهېږي او د ورځنۍ محاورې برخه وي، د هغو ثبتول هم په يوه جامع او مستند قاموس کې اړين دي.

۸. د پوهنو او فنونو اصطلاحات او کلمې يوازې هغه وخت په قاموس کې ثبت کېدای او ځايدای شي چې په عام ادب کې يې اړتيا ليدل کېږي.

په دې حالت کې هره لغت چې له هر علم او فن سره اړيکه لري، د هغه علم او پوهنې سره دې حواله ورکړل شي او اصطلاحي معنا دې وليکل شي، خو هغه لغتونه چې معنا يې په ژبه او ادب کې دود نه ده او يوازې د هغې برخې پوهان او متخصصان پرې پوهېږي. د ژبې په لغتونو کې دغسې کلمې کوم ځای نه لري. د دې تر څنگ د فنونو او علومو دومره عام لغتونه هم شته چې د ژبې ښځې او نران پرې پوهېږي او پېژني يې او په ورځني ژوند کې ورسره اړيکه لري. د دغو عامو او مشهورو لغتونو ثتبول ضرور دي.

۹. وړاندې د پورويينو په اړه څه نا څه په تفصيل سره خبرې وشوې، خو دلته يو بل بحث هم مهم دی، هغه دا چې زياتره داسې پېښ شوي دي چې له پورويينو سره د پښتو ژبې تاړي يوځای شوي او يا نورې ساده کلمې له پورويي سره نښلول شوي او يو نوی ترکيبي لغت منځ ته راغلی دی او د دې نوي لغت معنا په هغه ژبه کې نشته چې پورويی ترې اخيستل شوی دی، نو د دغسې لغتونو ثتبول په قاموس کې مهم دي. لکه: کتابتون، ماشوم او داسې نور ...

۱۰. د یوه معیاري او جامع قاموس لپاره دا هم اړین دي چې په هغه کې قاموس لیکونکی د هر لغت لپاره د سند په توگه د یوه ادیب او مشر شاعر د کلام بېلگې هم راوړي چې یاد لغت په کې ذکر شوی وي. که څومره هم قاموس لیکونکی خپل وضاحتونه ولیکي، خو بیا هم د لغت معنا د لوستونکي او د ژبې د ویونکي په ذهن کې نه کښېني، خو که د شعر په یوه بیت او یا هم د شاعر په کلام کې راوړل شوی وي او هغه بیت ولیکل شي، نو بیا دا لغت په ښه ډول د ژبې د ویونکو په ذهن کې ځای نیسي. که دا بېلگې د مشهور او نوموتي شاعر هم نه وي او د یوه ځوان او اوسني شاعر وي، بیا په کار ده چې بېلگه ولیکل شي او په دې برخه د قاموس لیکنې د پوهانو تر منځ څه نا څه اختلاف هم شته، یو شمېر وايي که څه هم موږ بېلگه ونه لرو او یا د کوم شاعر د کلام نمونه نه وي، بیا هم د لغت ثبتول ضرور دي، ځکه که اوس د سند په توگه څه نه وي، په راتلونکي کې به داسې څوک پیدا شي چې دا لغتونه په خپلو شعرونو کې وکاروي، نو بهتر دا ده چې لغتونو د ښې معنا موندنې لپاره د شاعرانو د شعر نمونې راوړل شي، خو که بېلگه نه وه، بیا هم په کار ده چې لغتونه ثبت شي.

۱۱. زموږ په قاموسونو کې زیاتره د لغتونو د تشریح او توضیح پرځای د هر لغت تر څنگ د هغه لغت گڼ شمېر مترادف لغتونه لیکل کېږي، دا چاره د دې لامل گرځي چې د ژبې د ویونکي په ذهن کې د لغت سمه معنا نه کښېني. نو په کار ده چې مترادفات ونه لیکل شي، بلکې د لغت معنا او توضیح وشي. په غربي نړۍ کې هم اوس پر دې ټینگار کېږي چې په قاموسونو کې مترادفات ونه لیکل شي، یو لغت په بل لغت تشریح نه شي، بلکې خپله لغت تشریح او توضیح کړل.

۱۲. د یوه مستند او جامع قاموس جوړول او ترتیبول ډېر ستونزمن کار دی او دا د یوه وگړي او فرد د وس موضوع نه ده. د دې کار لپاره ډېرو کسانو او سمونکو ته اړتیا او بیا سمونکي باید نور مرستیالان ولري. د یوه غني کتابتون اړتیا هم ده. چې په هغه کې د پښتو ژبې د ادبیاتو بشپړه زېرمه وي.

د قاموس لیکونکی باید له خپل کار سره لېوالتیا او مینه ولري. د ژبې څېړنیز او د لغتونو بېلابېل ډوله قاموسونه ورسره موجود وي. قوي مالي ملاتړ ته اړتیا لري او دا چاره څو ورځنۍ نه وي، بلکې داسې ژبې شته چې د یوه جامع قاموس لیکلو لپاره یې په لسگونو کلونو کار کړی دی.(عابدي، ۲۰۱٦: ۴٦۳ مخ)

### ۲ . ۱۹ پرلیکه(انلاین) سیندکښنه

لکه څنګه چې څرګنده ده په اوس وخت کې ټکنالوژي د ژوندانه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده او تر ډېره پورې یې بشري چارې اسانه او چټکې کړې دي. پر انټرنټ یا هم پر لیکه قاموسونو اړتیا اوس هم پر خپل ځای په پښتو ژبه کې ډېره احساسېږي، پښتانه او د پښتو ژبې د زده کړې مینه‌وال دا هیله او غوښتنه لري چې په آنلاین ډول پښتو قاموسونو او سیندونو ته لاسرسی ولري.

د پرلیکه قاموس لیکنې په برخه کې د پښتو ژبې ډېرو خواخوږ هڅې کړې دي او ځینو پوهانو بیا د دې برخې د ارزښت او اهمیت په اړه لیکنې او مقالې خپرې کړې دي چې د پښتنو او پښتو ژبې خواخوږو پام دې برخې ته راواړي او په یاده برخه ورځ تر بلې نوي تحقیقات او څېړنې وشي.

د آنلاین یا پرلیکه قاموسونو په برخه کې د پښتو ژبې د یوه خواخوږي محمد ولي اڅکزي هڅې تر بل هر چا وړاندې نظر ته راځي. دلته تر دې وړاندې چې په تفصیل سره د یادې ویبپاڼې د قاموسونو په اړه رڼا واچوو، پیل د محمد ولي اڅکزي له یوې مقالې څخه کوو: چې سرلیک یې دی(په پښتو قاموس لیکنه کي د نوي ټیکنالوژۍ استعمال) او اړینه هم ده چې بحث له همدغه ارزښت څخه شروع کړو چې څه ډول کولای شو په پښتو قاموس لیکنه کې نوې ټکنالوژي وکاروو.

قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې یوه زښته مغلقه او پراخه عملي او تیوریتیکي څانګه ده. په عمومي توګه د یو قاموس لیکنه د یو کس یا لږ شمېر کسانو د وس کار نه دی. دا هغه وخت هم که دغه کس یا کسان پوره عالمان هم وي. قاموسونه لیکل په اصل کي د اکاډمیو او د لویو علمي ډلو کار دی. د مثال په توګه د فرانسې په هیواد کي د ۱۹۰۵م مېلادي کال یعني د ۱۰۸ کالونو را په دې خوا، په پرله پسې توګه Petit Larousse نومي قاموس د Académie française لخوا چاپېږي. پر دغه قاموس د ۱۰۸ اتو کلونو راهیسي کار جریان لري او همېشه یې نوې بڼې چاپېږي. لاغوس نومی دغه قاموس چې په فرانسوي ژبه کي پخپله د سیند یا قاموس سینونیوم یا هم معنا لغت ګرځېدلی دی، وربانديې د ٤٠ کارپوهانو یوه ډله دایمي کار کوي. دغه څلوېښت کسان د علم د بیلابیلو برخو سره تړاو لري چې پکښې د شاعرانو او لیکوالانو تر څنګ سایسن‌پوهان هم شامله دي. کله چې د دغو ٤٠ کسانو څخه یو مړ شي، نو پاته ۳۹ کسان د خپلې ډلې لپاره ٤٠ م نوی کس انتخابوي، خو داسې یو کس چې زیات کتابونه یې لیکلي وي او په خپل مسلک ک کارپوه او په ټوله فرانسه کي منل شوی او پېژندل شوی عالم وي.

که موږ د یاد فرانسوي قاموس لاغوس د لیکنې جریان د پښتو قاموس لیکنې سره مقایسه کړو، نو ډېر ژر راته روښانه کېږي چې ټول هغه کسان چې په یوازې سر یې د پښتو قاموسونه لیکلي او یا یې په دوو کسانو دغه کار بشپړه کړی وي، هغوی د پښتو ځومره لوی قهرمنان او ځومره لوی محسنان دي. قاموس لیکنه د شعر د لیکلو په ډول نده چې الهام راشي او په لږ وخت کې یو نظم بشپړ شي. قاموس نثر هم نه دی چې قلم یو واري وچلېږي، نو د کاغذ پاڼې ډکې کړي. په قاموس‌لیکنه کې هر لغت خپل ځان ته یو جهان او د څېړنې او پلټنې جلا موضوع ده. قاموس لیکنه یو دومره لوی مسؤلیت دی چې ښایي په یوه ژبه کې بله داسې له مسؤلیته ډکه ځانګه او وظیفه نه وي. هغه په دې دلیل کله چې که یو چا ته د املا او انشا یا د معنا په اړه شک ورپیدا شي، نو و قاموس ته مراجعه کوي او له همدې کبله قاموس باید درست وي او باید مراجعه کوونکي ته سمه رهنمایي وکړي.

دا د شکر ځای دی چې د پښتو قاموس لیکنې په ډګر کې دغه اندازه کار شوی دی، لکه شوی چې دی، خو دا هم یو تریخ حقیقت دی کوم کار چې شوی دی، هغه ابتدایي بڼه لري او تر ډېره برېده اصولي نه دی. د مثال په توګه موږ په ورځنی ژوند کې زیات داسې لغتونه په خبرو او لیکنو کې کاروو چې تر اوسه په یوه پښتو قاموس کې هم نه دي ثبت شوي. زه په دې نظر یم چې د پښتو ژبې له تر ټولو مهمو اړتیاو څخه هغه مهمترینه اړتیا د پښتو د لهجو د اوسنیو لغتونو یا پانګې راټولونه ده. دا یو داسې کار دی چې د هري ورځې ځنډ پکې له نه تلافي کېدونکي تاوان سره مل کار دی. پښتو ژبه د ګلوبلازېشن له کبله د نورو ژبو او کلتورنو تر برید لاندې ده. هغه ځوک چې پخوا یې په خپله لهجه کلیوالي خبرې کولې، اوس تلویزیون وینې او راډیو اوري او ور څخه مصنوعي لهجه زده کوي. کله چې ځوک د دغو کسانو سره خبرې وکړې، نو ته چې وای راډیو یې چالانده کړه. ولې چې بالکل هغه د راډیو په ډول خبرې کوي.

ژبه د اړتیا او ضرورت یو شی ده. د هغې تر ټولو مهمه او اصلي وظیفه دا ده چې د ویونکو تر منځ د تماس نیولو او سره خلاصېدلو آله او اوزار شي، نو که ځوک په ژبه سره ونه پوهیږي، دا چې بیا هر ځومره کره او سوچه وي، هغه خپله اصلي وظیفه نشي، پرځای کولای او په دې توګه سره نوره ژبه نه پاتېږي.

کوم کار چې اوس ګټور دی، هغه دا دی چې باید له دې څخه تر مخه چې زموږ لهجې خدای ناخواسته ورکې شي، چې د پښتو زینت او ښایست په همدغو لهجو کې دی، باید د هغوی لغتونه او سرمایه راټوله شي. د دې لپاره باید ښه قوي قاموسونه جوړ شي، چې پکې هر پښتو لغت د فونیټیک د نړۍ والو اصولو سره برابر لیکل شوی وي. موږ تر اوسه پورې د پښتو یو قاموس هم نه لرو چې په بشپړه توګه فونیمیکي او فونیټیکي اصول پکې مراعت شوي وي. د مثال په توګه موږ د پښتو تورو لپاره لاتیني توري کاروو، لکه: د ټ لپاره د انګلیسي ټي توری چې لاندې ټکی لري او داسې نور، خو د لغتونو د ادا کولو پر وخت د آهنګ، کږ و پېچ یوازې د دغو تورو په مرسته نشو لیکلای.

دلته یوه جمله د مثال په توګه وړاندې کړم:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هغه | ستا | پلار | دی؟ |
| هغه | ستا | پلار | دی؟ |
| هغه | ستا | پلار | دی. |

اوس دلته په آهنګ سره جمله بیخي بله رنګ اخلي سوالیه کېږي یا جواب کېږي.

د دغو فرقونو ثبتول د ژبپوهنې د علم جلا او مغلقه څانګه ده تر کوم ځای پورې چې زه خبر یم موږ تر اوسه یو هم داسې کارپوه نه لرو، چې دغه علم دې یې زده کړی وي. خو د اوسنیو تخنیکي اسانتیاو په مرسته موږ کولای شو چې د لغتونو د ټولولو پر وخت د خلکو اصلي غږونه ثبت کړو. دا یې هغه آسانه لاره ده ولې چې موږ پنځوس نور کاله دې ته په انتظار نشو کولای چې مسلکي فونېټیک کارپوهان و روزو. خو د آوډیو د ثبت پر وخت هم باید زیات اصول په پام کې ونیول شي، لکه دا چې د ثبت پر وخت ویونکی کس په رښتیا هم خپله لهجه او آهنګ د مایکروفون د لیدو سره بدل نه کړي او بیا بي بي سي چالانده نه کړي، بلکه په خپله هغه اصلي لهجه باندې دغه لغت یا جمله تلفظ کړي.

دا کار به له زموږ سره زیات کومک وکړي. په داسې مواردو کې هم چې موږ د یو شي لپاره د پښتو د لغت په تلاش یو، نو بیا کېدلای شي چې د پښتو په همدغو لهجو کې ورته غوره لغت پیدا کړو. دا تر

هغه ډېره بهتره ده چې له ځانه ورته لغتونه راوباسو چې نه پښتنو اورېدلي وي او نه يې هضم کړي وي.

د پښتو د لغتونو د راټولولو وروسته يو بل مهم کار د پښتو د لغتونو فريکونسي جوړول دي. فريکونسي دې ته وايي چې يو لغت په يوه ژبه کي څومره ډېراستعماليږي. د مثال په توګه که څوک د پښتو لغتونو فريکونسي ولري، نو داسي يوه سوال ته جواب ورکولای شي چې ايا ستونزه هغه لغت دی چې ډېر کارول کېږي او که تکليف، مينه که محبت او داسي نور. د قاموس ليکنې لپاره د لغتونو فريکونسي بيخي يو ډېر مهم کار دی. هغه پدې دليل چې په ژبه کي بعضي داسې لغتونه وي چې هره ورځ د چا په کار کېږي او بعضې داسې لغتونه وي چې په کال کې يې لا هم څوک نه اوري يا يې نه لولي، خو بيا هم د ژبي برخه وي. نو کله چې څوک قاموسونه جوړوي، هم لوی قاموس جوړلای شي چې تقريبا ټول لغتونه پکې وي او هم کوچنی چې پکې تر ټولو مهم يا زيات استعمالېدونکي لغتونه راټول شوي وي. په پښتو کي به زما په فکر دغسې يو قاموس تر يو لکو څخه زيات لغتونه ولري چې د پښتو ټول لغتونه پکې وليکل شي، خو دغه قاموسونه ډېر درانه وي او بايد تر څنګ يې جيبي ورينتېونه هم موجوده وي. د دغو جيبي قاموسونو د لغتونو شمېر بيا کم وي. خو دا داسې لغتونه وي چې بيخي ډېر کارېږي او هغه د اکثرو مراجعه کوونکو پوښتني جوابولای شي.

نو د يو شمېر نورو ژبنيزو څېړنو تر څنګ د قاموس ليکنې لپاره دغه د لغتونو فريکونسي بيخي زياته مهمه ده، چې موږ يې لا تر اوسه په پښتو کي نه لرو. د دغې فريکونسي د جوړولو لپاره موږ نه يوازي ژبپوهانو ته اړتيا لرو بلکې داسې کمپيوټرپوهانو ته هم پکې اړتيا لرو چې کمپيوټري ژبپوهنه يا computational linguistics يې اصلي مسلک او تخصص وي. د پښتو د لغتونو فريکونسي د قاموسونو ټکی کام پروژې تقريبا څلور کاله تر مخه لا جوړه کړې ده، خو پر هغه د زيات کار اړتيا لا شته.

بعضي پښتانه چې کله په کمپيوټر کي يو برېښناليک يا ايمېل وليکي، نو خوشحاله شي، چې ښه دی بالآخره پښتو هم په کمپيوټر کي ځای پيدا کړی، خو حقيقت دا دی چې پښتو تر اوسه لا په کمپيوټر کي ځای نه دی پيدا کړی. د ژبپوهنې هغه برخه چې پر کمپيوټر ولاړه ده، موږ تر اوسه

پکې هیڅ تخصص او تجربه نه لرو. دا د ژېپوهنې هغه برخه ده چې له مخې یې د ترجمې یا ژباړې کمپیوټري پروګرامونه جوړېږي، هغه پروګرامونه جوړېږي چې د انسان ثبت شوې خبري په لیکل شوي متن او یا لیکل شوی متن په انساني غږ اړوي، د OCR یا آپټیکل کېرېکټر ریکګنیشن پروګرامونه چې سکېن شوی یا انځور شوی متن په اتوماتیکه توګه ټایپ شوي متن ته اړوي. دا هغه پروګرامونه دي چې په مرسته یې موږ کولای شو چې چاپ شوي کتابونه په داسو کمپیوټري فایلونو واړوو چې په متن کې یې بیا تغییر او تبدیل راوستلی شو او بېله دې چې دغه ټول چاپ شوی کتاب له سره ټایپ کړو، دغه پروګرام یې راته په ټایپ شوې بڼه اړوي. دا ټول هغه شیان دي چې حتی زموږ په ګاونډیو ژبو کې ورته په کلونو کلونو کار شوی دی، خو موږ تر اوسه شروع کړی لا نه دی. د مثال په توګه د اُردو ژبې لپاره د لسو کالو څخه زیات وخت کېږي چې تر یو څخه زیات قوي انسټیټیوټونه چې دولت یې مصارف په غاړه اخلي په خاصه توګه په دغه ډګر کې کار کوي.

د کمپیوټري ژبپوهنې لپاره یاد ټول مثالونه اول دې ته اړتیا لري چې د یوې ژبې پانګه راټوله شوې او منظمه شوې وي. یا په بله اصطلاح باید د دغې ژبې ښه قوي او پیاوړي قاموسونه  تر مخه لا موجوده وي.

له نن څخه تقریبا دولس کاله تر مخه د قاموسونه ټکی کام په نوم پروژه شروع شوه. په لومړیو دوو کلنو کې په نیوزیلېنډ کې ژوند کوونکي افغان ځوان سید مصطفی سادات زما سره ملګری و، خو وروسته د شخصي مصروفیاتو له کبله یې خپلې همکارۍ ته دوام ورنه کړلای سوای. د هغه راهیسي د دغې پروژې بار یوازې زما پر اوږو دی او بېله خدایه دویم څوک راسره نه دی ملګری.

د قاموسونه ټکي کام د پروژې مقصد دا دی چې په اول قدم کې د پښتو ټول هغه قاموسونه چې چاپ شوي دي هغه په کمپیوټر کې ټایپ او دیجیټل شي او بیا پر انټرنټ د کارولو لپاره وړاندي کړل شي. زه د خدای حمد و ثنا وایم او ور څخه شکر کوم چې زما په در په  دره حال، مسافرۍ او زما په بې علمۍ او بې تجربه توب کې یې زما سره دومره کومک وکړی چې د چاپ شوو قاموسونو د ټایپولو او د هغو د آنلاین کولو تقریبا هغه زیاتره برخه اوس پوره شوې ده. په دویم قدم کې د دغې پروژې مقصد د نوو قاموسونو جوړول وو چې په دې لاره کې هم الله راسره زیاته مرسته کړې ده. په تیرو

کلونو کې د قاموسونه ټکی کام د پروژې په ترڅ کې الحمدالله تر دولسو څخه زيات نوي پښتو قاموسونه ليکل شوي دي، چې پکې د مثال په توګه د پښتو فرانسوي قاموس هم شامل دی.

خو د قاموسونه ټکی کام پروژې هغه تر ټولو ګټور اړخ هغه دی، چې د دغې پروژې د شروع کولو پر وخت زما په ذهن کې هيڅ نه ؤ. هغه د پښتو د لغتونو ټولول دي. هر هغه څوک چې قاموسونه ټکی وېبپاڼې ته راځي او يو لغت لټوي، نو دغه لټول شوی لغت د پاڼې په سيستم کې ذخيره کېږي. له دغه لغت سره دا معلومات هم ذخيره کېږي چې په کومو انلاين قاموسونو کې شته او په کومو کې نشته. په دې توګه سره نن موږ تاسو تر يو نيم مليون څخه زيات لغتونه لرو چې د دغې وېبپاڼې کارونکو پسې کتلي دي. موږ کولای شو چې په ډېره آساني سره يې له دغو لغتونو څخه هغه راجلا کړو چې خلک پسې ګرځي، خو په هيڅ قاموس کې نشته. دا چې موږ نه ضروري وسايل او نه هم پيسې لرو، نو دا د الله يو لوی احسان دی، چې دغه وېبپاڼه پخپله د پښتو لغتونو د ټولولو يوه ښه منبع ګرځېدلې ده. هر څومره چې ډېره دغه پاڼه استعمالېږي هومره زيات لغتونه ثبتيږي او د پښتو د پانګې په ټولولو کې موږ پرمختګ کوو.

په تيرو دولسو کالو کې د دغې پروژې په برکت موږ دومره تجربه ترلاسه کړې، چې موږ د دغې تجربې په مرسته چې پکې زيات تخنيک شامله دی، د يو قاموس ليکنې پروسه حد اقل پنځوس فيصده آسانه کولای او لنډولای شو. يعنې د قاموس ليکنې له پيل څخه بيا تر چاپ پورې که د مثال په توګه پخوا لس کاله وخت پکارېدی، د تر لاسه سوو تجربو او زموږ خپلو طرحه شوو کمپيوټري پروګرامونو، چې شمېر يې تر سلو اوړي، په مرسته دغه قاموس اوس په پنځه کلونو کې بشپړېدلای او چاپ ته تيارېدلای شي.

د پښتو ډيجيټل قاموسونو لومړی پروژه همدغه قاموسونه ټکی کام وه. خو اوس په دې ډګر کې يو څو نوري هڅې هم شوې دي چې پکې http://thepashto.com/ نومي انټرنټ پاڼه هم شامله ده چې پکې پښتو انګليسي او انګليسي پښتو قاموس انلاين دی. که څه هم چې د دغه قاموس د لغتونو شمېر ډېر کم دی، خو طرحه يې ډېره په زړه پوري ده. دغه وېبپاڼه د موحيط خان نومي ځوان لخوا پر مخ بېول کېږي.

قاموسونه ټکی کام تر اوسه پوري یوازي هغه څوک کارولای شي چې انټرنټ ته لاس رسی ولري. زیات کتونکي دا غوښتنه کوي چې موږ ولي داسې کمپیوټري پروگرامونه نه جوړوو چې په موبایل یا کمپیوټر کي یې څوک انسټال کړي او بیا انټرنټ ته د تلو ضرورت نه وي. دا چې زه دغه اړخ ته پام نه کوم وجه یې دا ده چې بیا به خلک په خپلو کمپیوټرونو او موبایلونو کي دغه قاموسونه ولري او وېبپاڼې ته به د راتلو ضرورت نه وي. او که داسي وشي، نو بیا د پښتو د لغتونو د ټولولو هغه اوتوماتیکه پروسه له خطر سره مخامخ کېږي. د وینډوز د پخواني ورژنونو لپاره د قاموسونه ټکی کام دوه کمپیوټري قاموسونه چې یو یې پښتو فرانسوي او بل یې انګلیسي پښتو ؤ، ډېر پخوا لا جوړ کړي وو چې بېله انټرنټ څخه ورڅخه کار اخیستل کېدلای شي. دغه پروګرامونه اوس هم په ډاونلوډ ټکی کام نومي وېبپاڼه کي ډاونلوډ کېدلای شي. د قاموسونه ټکي کام د همکار اجمل حمزه تر څنګ یو بل خواریکښ افغان ځوان چې اسرار احمد کریمزی نومېږي، هم د کمپیوټر لپاره یو آفلاین یعنې چې انټرنټ ته اړتیا نه لري قاموس جوړ کړی و.

د دغه علمي څېړنغونډې له لاري زه هر هغه چا ته چې غواړي قاموس ولیکي، وړاندیز کوم چې له ما سره تماس ونیسي چې موږ په ګډه دغه پروژه داسي پلان کړو چې ان شاءالله هم ژر بشپړه شي او هم په آسانه توګه. د دې تر څنګ هر هغه څوک چې د قاموسونه ټکی کام وېبپاڼي ته راځي او پکې د لغتونو معنا لټوي، هغه له دغې پروژې سره لوی کومک کوي.

موږ د قاموسونو په ډګر کي لا بیخي زیات کار ته اړتیا لرو. موږ باید په دې دلیل لاس تر زني کې نه نو، چې ته ودرېږه اوس لا سم کارپوهان نشته، دولتي مرستې نشته او یا پیسې نشته. هغه څه چې زموږ په اوسني وخت کي د اوسنیو وسایلو او شرایطو په موجودیت کي په وسه پوره ده، هغه باید ونه ځنډول شي. په زیاته بیا تخنیک اوس زموږ سره لوی کومک کولای سي چې پدغه ډګر کي په لږ وخت کي ډېر کار وکړو.

په دې بحث کې به موږ د قاموسونو پر وېبپاڼه او په دغه وېبپاڼه کې چې څومره پښتو قاموسونه پرلیکه شوي دي، رڼا واچوو:

۱. انګرېزي ـ پښتو، (د علومو اکاډمي کابل)

۲. انګرېزي ـ پښتو، د سیاسي لغتونو قاموس
۳. انګرېزي ـ پښتو، د شمېرپوهنې قاموس
۴. انګرېزي ـ پښتو، کمپیوټري قاموس (عمر منصور انصاري)
۵. ایسپرانتو ـ پښتو
٦. اېټالوي ـ پښتو
۷. پورتګالي ـ پښتو
۸. پښتو ـ اردو
۹. پښتو ـ انګرېزي (احمدولي اڅکزی)
۱۰. پښتو ـ انګرېزي کمپیوټري قاموس (عمر منصور انصاري)
۱۱. پښتو ـ ایسپرانتو
۱۲. پښتو ـ اېټالوي
۱۳. پښتو ـ پورتګالي
۱۴. پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس (د علومو اکاډمۍ کابل)
۱۵. پښتو ـ پښتو دریاب (قلندر مومند)
۱٦. پښتو ـ پښتو زاهد قاموس (عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه)
۱۷. پښتو ـ ترکي
۱۸. پښتو ـ جرمني (احمدولي اڅکزی)
۱۹. پښتو ـ جرمني کمپیوټري قاموس (احمدولي اڅکزی)
۲۰. پښتو ـ چېنایي
۲۱. پښتو ـ دري (د علومو اکاډمي کابل، سمون او زیاتونې رحمت آریا)
۲۲. پښتو ـ روسي
۲۳. پښتو ـ سوېډني
۲۴. پښتو ـ عربي
۲۵. پښتو ـ فرانسوي (ډاکټر محمد اکبر وردک ستایلی او حبیب کبیر)
۲٦. پښتو ـ هسپانوي

۲۷. پښتو ـ ډنمارکي

۲۸. پښتو ) انګرېزي (د علومو اکاډمی کابل)

۲۹. پښتو نيو لوجزمونه (استاد مجاور احمد زيار)

۳۰. جاپاني ـ پښتو

۳۱. جرمني ـ پښتو

۳۲. جرمني ـ پښتو (احمدولي اڅکزی)

۳۳. جرمني ـ پښتو (حکيم الله نورزی)

۳۴. چېنايي ـ پښتو

۳۵. چېک ـ پښتو

۳٦. روسي ـ پښتو

۳۷. سانسکرت ـ پښتو

۳۸. سوېډني ـ پښتو

۳۹. عبراني ـ پښتو

۴۰. عربي ـ پښتو

۴۱. پارسي ـ پښتو

۴۲. فرانسوي ـ پښتو

۴۳. کوريايي ـ پښتو

۴۴. لاتيني ـ پښتو

۴۵. ناروېژي ـ پښتو

۴٦. ناروېژي ـ پښتو (احمد نجيب بياباني ابراهيم خېل)

۴۷. هالنډي ـ پښتو

۴۸. هسپانوي ـ پښتو

۴۹. هنګري ـ پښتو

۵۰. ډنمارکي ـ پښتو.

قاموسونه. کام يا (qamosona.com) د انټرنټ پر مټ د پښتو دوه ژبنيو سيندونو يوه پروژه ده. د دغې پروژې موخه د پښتو د چاپ شويو سيندونو راټولېدنه او په ګڼياليزه يا ډېجېټال بڼه خپرونه ده.

دم مهال دا پروژه په پښتو ژبه ۵۰ چاپ شوي او ناچاپه سیندونه پرلیکه کړي او همدا راز یې د پښتو ژبې د ۱۰۰۰۰ لنډیو یو توکبنسټ پرلیکه کړی.

د قاموسونو د پروژې په لګښت چاپ شوی سیند

د قاموسونو د پروژې بنسټ په ۲۰۰۳ ز. کال کې د یوه افغان زده کړیال احمد ولي اڅکزي لخوا ایښودل شوی. په پیل کې د دې پروژې موخه په پښتو ژبه د دوه ژبنیو قاموسونو راټولېدنه او د انټرنټ پر مخ خپرېدنه وه. خو بیا وروسته یې د انټرنټ پر مټ د پښتو ژبې د دوه ژبنیو قاموسونو د راټولولو، ګنیالیزولو، د وړیا سرچینې ساوترې په توګه د دودولو تر څنګ په انټرنټ کې د پښتو قاموسونو د خپرېدو د رښتو ترلاسه کول او د نوؤ قاموسونو جوړېدل هم خپلې اهمې موخې وټاکلې.

د قاموسونو وېبپاڼه چې شپول یې qamosona.com دی د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۳ ز. کال کې د یو آلمان مېشتي پښتون، احمد ولي اڅکزي لخوا ثبت شو. د دې پروژې لومړنۍ وېبپاڼه د یوه بل افغان زده کړیال سید مصطفی سادات لخوا ډیزاین شوه. سید مصطفی سادات په ۲۰۰۴ ز. کال کې د قاموسونو د پروژې غړی شو او د احمد ولي اڅکزي سره یې د وېبپاڼې په سمبالښت کې خپله لویه ونډه ترسره کړې. د قاموسونو د وېبپاڼې لومړنی سیند یو انګرېزي - پښتو دوه ژبنی سیند ؤ چې د پورته نومېدلو افغانانو لخوا په ۲۰۰۴ ز. کال کې پرلیکه شو او په دې توګه د انټرنټ پر مخ د انګرېزي - پښتو د لومړني پرلیکه قاموس ویاړ یې خپل کړی.

د ۲۰۰۵ ز. کال د سېپتمبر په ۸مه، د قاموسونو د پروژې په نوښت د لومړي ځل لپاره د انګرېزي- پښتو سیند د ساوترې په بڼه پرلیکه شو، چې بیا ګڼ شمېر افغانانو د بې لیکه سیند په ډول خپل کمپیوټر کې نصب کړ او تر دې دمه یې کاروي. د وړیا سرچینې همدې ساوترې د ونډوز چلیز غونډال لپاره جوړ شوی و. چې د دې جوړښت د پروګرامنګ تر شا، په برتانیه کې مېشت د یو افغان زده کړیال اجمل حمزه لوی لاس درلود(۲۰۲۰، **https://www.samsoor.com/article/1144).**

## ۲۰.۲ پایله

د دویم څپرکي د مفاهیمو د تعریفولو په لړۍ کې د هغو مهمو مفهومونو او اصطلاحاتو په اړه چې زموږ د څېړنې له موضوع سره نیغه اړیکه لري، هر اړخیز بحث وشو او د بېلابېلو ژبپوهانو او څېړونکو نظریات مو را واخیستل. د یادو مفاهیمو له تعریفونو او تشریحاتو څخه څرګندېږي چې ځینې یې له یو بل سره نږدې اړیکې لري او په ځینو برخو کې سره نږدې دي، خو د علمي بحث او څېړنې له پلوه هر یوږ ځانګړی مفهوم، حدود او د کارونې ساحه لري.

د ویي، وییپوهنې، ترمینولوژۍ، وییرغونې، نویزونو، پورویینو، ارخاییزمونو، ګړویزونو، آرپوهنې، قاموس او قاموس‌لیکنې په څېر مفاهیم د ژبې د لغوي نظام له بېلابېلو اړخونو سره تړاو لري او د یوه بل بشپړوونکي هم دي. له همدې امله، د دغو مفاهیمو دقیق پېژندل او له یو بل څخه یې بېلول اړین دي چې د څېړنې په راتلونکو بحثونو کې د اصطلاحاتو له ګډوډۍ او د مفاهیمو له ناسمې کارونې څخه مخنیوی وشي. په ځانګړې توګه د وییپوهنې، وییرغونې او قاموس‌لیکنې ترمنځ د اړیکو او توپیرونو روښانه کول، زموږ د څېړنې له موضوع سره ځانګړې اړیکه لري.

له دې بحثونو څخه څرګندېږي چې ژبه یو ثابت او ولاړ نظام نه دی، بلکې د وخت په تېرېدو، د ټولنیزو او فرهنګي اړیکو، علمي او تخنیکي پرمختګونو او د نورو ژبو له اغېزو سره سم په دوامداره توګه بدلون او پراختیا مومي. د ژبې په لغوي برخه کې هم دغه بدلونونه په بېلابېلو بڼو راڅرګندېږي؛ نوي وییونه او اصطلاحات رامنځته کېږي، ځینې وییونه له کارونې وځي، ځینې نور له نورو ژبو څخه په پور اخیستل کېږي او یو شمېر وییونه د نوو معناوو او کارونو لپاره کارول کېږي. له همدې امله، د وییونو او اړوندو مفاهیمو څېړنه یوازې د هغوی د تعریف تر کچې پورې محدوده نه ده، بلکې د هغوی د جوړښت، معنا، تاریخي بهیر او د کارونې د څرنګوالي څېړنه هم رانغاړي.

د یادونې وړ ده چې د پورتنیو مفاهیمو په اړه د بېلابېلو څېړونکو نظریات او تعریفونه په ځینو مواردو کې سره ورته او په ځینو نورو مواردو کې توپیر سره لري. دغه توپیرونه تر ډېره د څېړونکو د نظري لید، د څېړنې د موخې او د هرې اصطلاح د کارونې له ساحې سره تړاو لري. له همدې امله، په دې څېړنه کې هڅه شوې ده چې د اړوندو مفاهیمو بېلابېل تعریفونه او لیدلوري راټول او له څېړنیزې موضوع سره د تړاو له مخې وکتل شي، تر څو د بحث لپاره مناسبه مفهومي زمینه چمتو شي.

په ټوله کې، د مفاهیمو د تعریف او تشریح دغه بحث د څېړنې لپاره یو ګډ مفهومي اساس چمتو کوي او د دې امکان رامنځته کوي چې په راتلونکو برخو کې د پښتو ژبې د وییونو، د هغوی د جوړېدو

او بدلون، نويو وييونو او اصطلاحاتو او د لغوي زېرمې د پراختيا موضوع په روښانه او منظم ډول وڅېړل شي. په همدې اساس، د پورتنيو مفهومونو پېژندنه يوازې د اصطلاحاتو د معنا معلومولو لپاره نه ده، بلکې د ټولې څېړنې د بحثونو د تنظيم او د موضوع د علمي تحليل لپاره هم ځانګړې اهميت لري.

# دریيم څپرکی

# د څېړنې میتودولوژي

په ټوله کې څېړنه د پښتو ويبپوهنې پر موضوعاتو را څرخي، له لغت څخه نيولې بيا تر قاموس او فرهنگ پورې د موضوعاتو شننه وړاندې کوي. د پښتو ويبپوهنې په برخه کې د ترسره شوو کارونه هر اړخيز جاج اخلي او د ويبپوهنې او قاموسپوهنې په اړه پراخ بحثونه او مطالب لري.

## ۳ . ۱ د څېړنې ډول

څېړنه د موضوع، موخې او د معلوماتو د ترلاسه کولو د څرنگوالي له مخې بېلابېل ډولونه لري. دا څېړنه د معلوماتو د ترلاسه کولو له مخې کتابتوني ـ اسنادي څېړنه ده؛ ځکه د څېړنې لپاره اړین معلومات له موجودو علمي او څېړنيزو آثارو څخه راټول شوي دي.

په دې څېړنه کې د پښتو ويبپوهنې اړوند کتابونه، علمي مقالې، قاموسونه، فرهنگونه، څېړنيزې رسالې او نور علمي اسناد مطالعه شوي دي. سربېره پر چاپي آثارو، له هغو معتبرو برېښنايي او انټرنېټي سرچينو څخه هم گټه اخيستل شوې چې د څېړنې له موضوع سره مستقيم تړاو لري.

له همدې امله، دا څېړنه پر موجودو علمي او اسنادي موادو ولاړه ده او د پښتو ويبپوهنې د ترسره شوو کارونو د جاج او کره‌کتنې لپاره له کتابتوني موادو څخه استفاده پکې اساسي ارزښت لري.

## ۳،۲ د څېړنې ماهيت

د دې څېړنې ماهيت کيفي دی؛ ځکه د څېړنې معلومات متني، ژبني، علمي او اسنادي بڼه لري او د عددي او احصايوي معلوماتو پر ځای د موجودو نظرياتو، بحثونو، اثارو او ويبپوهنيزو موادو له مطالعې او تحليل څخه ترلاسه شوي دي.

په دې څېړنه کې د پښتو وييپوهنې اړوند موضوعات د هغوی د محتوا، مفهوم، علمي ليدلوري او موجودو بحثونو له مخې مطالعه شوي دي. د بېلابېلو ليکوالانو او څېړونکو نظريات او آثار راټول او د څېړنې له موخو سره سم تحليل او کره‌کتل شوي دي. له همدې امله د څېړنې کيفي ماهيت له موضوع سره مناسب ګڼل کېږي.

## ۳. ۳ د څېړنې ميتود/کړنلاره

په دې څېړنه کې د موضوع او موخو له مخې له توصيفي ـ تحليلي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده. په توصيفي برخه کې د پښتو وييپوهنې اړوند موضوعات، نظريات، آثار او ترسره شوي کارونه راټول، تنظيم او تشريح شوي دي او په تحليلي برخه کې د راټولو شوو معلوماتو او موادو ترمنځ پرتله، تحليل او کره‌کتنه ترسره شوې ده.

د توصيفي ـ تحليلي ميتود په کارولو سره هڅه شوې چې لومړی موجود علمي مواد په منظم ډول وړاندې او تشريح شي او وروسته د هغوی ترمنځ ورته‌والي، توپيرونه، ګډ ټکي او د بحث وړ موارد څرګند شي. په دې توګه د څېړنې موخه يوازې د موجودو مطالبو راټولول نه دي، بلکې د هغوی علمي تحليل او کره‌کتنه هم د څېړنې اساسي برخه جوړوي.

## ۴. ۳ د څېړنې ډيزاين

د دې څېړنې ډيزاين کتابتوني ـ اسنادي او توصيفي ـ تحليلي دی. د څېړنې د ډيزاين له مخې لومړی د موضوع اړوند علمي سرچينې او آثار پېژندل شوي، وروسته اړوند معلومات ترې راټول او د موضوع له مخې تنظيم شوي دي. تر دې وروسته د راټولو شوو معلوماتو تحليل، پرتله او کره‌کتنه ترسره شوې ده.

د څېړنې په دې بهير کې د پښتو وييپوهنې اړوند موجود آثار او نظريات د څېړنې د موخو او پوښتنو له مخې مطالعه شوي دي. د بېلابېلو سرچينو مطالب سره پرتله شوي او د موضوع له اړتيا سره سم اړوند معلومات د څېړنې په بېلابېلو برخو کې ځای پر ځای شوي دي.

## ۵. ۳ د څېړنې مواد

د دې څېړنې مواد هغه علمي او اسنادي آثار دي چې د پښتو وييپوهنې او له هغې سره د تړلو موضوعاتو په اړه ليکل شوي دي. په دې موادو کې کتابونه، علمي مقالې، قاموسونه، فرهنګونه،

مونوگرافونه، د ماسټرۍ او دوکتورا رسالې، څېړنيزې ليکنې او معتبرې برېښنايي سرچينې شاملې دي.

## ۳. ٦ د معلوماتو سرچينې

د دې څېړنې معلومات له بېلابېلو علمي او اسنادي سرچينو څخه ترلاسه شوي دي. د سرچينو د ماهيت او کارونې له مخې په دوو اساسي برخو وېشل کېږي:

### ۳. ٦. ۱ لومړۍ لاس سرچينې

لومړۍ لاس سرچينې هغه اصلي علمي آثار دي چې په مستقيم ډول د پښتو وييپوهنې او اړوندو موضوعاتو په اړه ليکل شوي دي. په دې برخه کې د پښتو وييپوهنې او قاموسپوهنې اصلي آثار، قاموسونه، فرهنگونه، علمي مقالې او اصلي څېړنيزې رسالې شاملې دي.

له دغو سرچينو څخه د موضوع د اصلي معلوماتو، نظرياتو او علمي ليدلورو د ترلاسه کولو لپاره استفاده شوې ده.

### ۳. ٦. ۲ دويم لاس سرچينې

دويم لاس سرچينې هغه علمي مواد دي چې د لومړۍ لاس سرچينو د تشريح، تحليل، پرتله او ارزونې لپاره ترې استفاده کېږي. په دې برخه کې د ژبپوهنې، وييپوهنې او قاموسپوهنې عمومي آثار، تحليلي مقالې، څېړنيزې ليکنې او نور علمي اسناد شامل دي.

د دويم لاس سرچينو له معلوماتو څخه د موضوع د روښانتيا، د نظرياتو د پرتله کولو او د تحليل د علمي بنسټ د پياوړتيا لپاره استفاده شوې ده.

## ۳. ۷ د معلوماتو د راټولولو لارې چارې

د دې څېړنې معلومات د کتابتوني او اسنادي مطالعې له لارې راټول شوي دي. د معلوماتو د راټولولو په لومړي پړاو کې د څېړنې له موضوع سره اړوند کتابونه، مقالې، قاموسونه، فرهنگونه، څېړنيزې رسالې او نور علمي اسناد پېژندل شوي دي.

وروسته اړوند آثار مطالعه شوي او هغه معلومات ترې استخراج شوي چې د څېړنې له موضوع، موخو او پوښتنو سره تړاو لري. راټول شوي معلومات د اصلي او فرعي موضوعاتو له مخې تنظيم شوي او د اړتيا له مخې د بېلابېلو سرچينو مطالب سره پرتله شوي دي.

د برېښنايي سرچينو په برخه کې هم يوازې هغه مطالب په پام کې نيول شوي چې سرچينې علمي اعتبار او د معلوماتو د کره‌والي شرايط پوره کړي.

## ۳. ۸ د موادو د ټاکلو لارې چارې

د څېړنې لپاره د موادو په ټاکنه کې له موضوع سره د سرچينې تړاو او علمي اعتبار اساسي معيارونه ګڼل شوي دي. د موادو د ټاکلو پر مهال لاندې موارد په پام کې نيول شوي دي:

له څېړنيزې موضوع سره مستقيم تړاو؛

د سرچينې علمي اعتبار؛

د ليکوال يا څېړونکي علمي اعتبار؛

د معلوماتو کره‌والی او اړوندتيا؛

د سرچينې د خپرېدو او اعتبار وضعيت؛

د څېړنې له موخو او پوښتنو سره همغږي.

هغه مواد چې له موضوع سره مستقيم تړاو يې نه درلود يا يې علمي اعتبار ځرګند نه و، د څېړنې د اساسي موادو په توګه نه دي کارول شوي.

## ۳. ۹ د معلوماتو د تحليل ډول

په دې څېړنه کې د معلوماتو د تحليل لپاره توصيفي ـ تحليلي او کره‌کتنيز تحليل کارول شوی دی. د تحليل په لومړي پړاو کې راټول شوي معلومات د موضوعاتو له مخې تنظيم او تشريح شوي دي. په دويم پړاو کې د بېلابېلو ليکوالانو او څېړونکو نظريات او ليدلوري سره پرتله شوي دي.

په وروستي پړاو کې د پښتو وييپوهنې په برخه کې ترسره شوي کارونه، وړاندې شوي، نظريات او موجود علمي بحثونه د څېړنې د موضوع او موخو له مخې کره‌کتل شوي دي. په دې تحليل کې هڅه شوې چې د آثارو ترمنځ ورته‌والي، توپيرونه، ګډ ټکي او د بحث وړ موارد په علمي او بې‌طرفه ډول ځرګند شي.

## ۳. ۱۰ د څېړنې د اعتبار او باور وړتیا

د څېړنې د اعتبار او باور د تأمین لپاره له معتبرو علمي سرچینو څخه استفاده شوې ده. د مهمو موضوعاتو په اړه د امکان تر حده د بېلابېلو سرچینو معلومات سره پرتله شوي دي، څو د معلوماتو د کره‌والي او علمي اعتبار کچه لوړه شي.

همدارنګه د نورو لیکوالانو د نظریاتو د وړاندې کولو پر مهال د هغوی اصلي مفهوم ته پام شوی. د سرچینو د انتخاب او کارونې پر مهال د موضوع اړوندتیا او علمي اعتبار هم په پام کې نیول شوی دی.

## ۳. ۱۱ د څېړنې اخلاقي اصول

په دې څېړنه کې د علمي څېړنې اخلاقي اصول مراعات شوي دي. د نورو څېړونکو د نظریاتو، لیکنو او معلوماتو د کارولو پر مهال د هغوی علمي حق ته درناوی شوی او اړوندې سرچینې په سمه توګه ثبت شوې دي.

د نورو لیکوالانو نظریات او مطالب د خپل فکر په توګه نه دي وړاندې شوي؛ بلکې د اړتیا له مخې په مستند ډول ترې استفاده شوې ده. همدارنګه د مستقیمو اقتباسونو، غیرمستقیمو اقتباسونو او علمي معلوماتو د کارونې پر مهال د سرچینې د څرګندولو اصل مراعات شوی دی.

په څېړنه کې هڅه شوې چې د بېلابېلو لیکوالانو نظریات په بې‌طرفه ډول وړاندې او تحلیل شي او شخصي تمایل د علمي ارزونې ځای و نه نیسي.

## ۳. ۱۲ د څېړنې محدودیتونه

د هرې علمي څېړنې د ترسره کېدو پر مهال څېړونکی له ځینو علمي، معلوماتي او عملي محدودیتونو سره مخامخ کېږي. د «پښتو ویپیوهنې کره‌کتنیز جاج» د څېړنې پر مهال هم یو شمېر محدودیتونه موجود وو چې د شته امکاناتو او علمي سرچینو په کارولو سره حل‌لارې ورته موندل شوې دي.

د دې څېړنې یو محدودیت د پښتو ویپیوهنې په اړه په بشپړ او منظم ډول د پخوانیو او معاصرو اثارو د راټولولو ستونزه وه. د ویپیوهنې اړوند یو شمېر مطالب په ځانګړو کتابونو کې د مستقل اثر په توګه او ځینې نور یې بیا په ګرامرونو، علمي مقالو، مجلو او نورو اثارو کې په خپره وره بڼه وړاندې شوي

دي. د دې ستونزې د حل لپاره ببلابېلې کتابتوني او اسنادي سرچينې وکتل شوې او اړوند وييپوهنيز مطالب تر ممکنه بريده راټول او طبقه‌بندي شول.

بله ستونزه ځينو پخوانيو اثارو او سرچينو ته د لاسرسي محدوديت و. د ځينو آثارو موندل او ترلاسه کول اسانه نه وو او په ځينو مواردو کې د اصلي اثر پر ځای له موجودو ثبت شوو او فرعي سرچينو څخه ګټې اخيستلو ته اړ شو. د دې لپاره هڅه وشوه چې د معلوماتو د اعتبار کچه د څو سرچينو له پرتله کولو او د موجودو اسنادو له ارزونې سره لوړه شي.

د څېړنې بله ستونزه د وييپوهنې، قاموس‌ليکنې، وييرغونې او نوم‌اېښودنې ترمنځ د مفهومي او موضوعي پولو د ټاکلو مسئله وه؛ ځکه په پښتو آثارو کې دغه اصطلاحات او موضوعات په ځينو مواردو کې سره ګډ کارول شوي دي. د دې محدوديت د کمولو او له منځه وړلو لپاره د اړوندو مفاهيمو بېلابېل تعريفونه او ليدلوري وکتل شول او د څېړنې لپاره د مفهومي چوکاټ له ټاکلو وروسته اړوند مواد د هماغه چوکاټ له مخې وڅېړل شول.

همدارنګه، د پخوانيو آثارو د علمي ارزونې پر مهال له معاصرو وييپوهنيزو نظرياتو او معيارونو سره د هغوی د پرتله کولو مسئله هم له هغو ستونزو څخه وه چې ځانګړې توجه ته يې اړتيا لرله. د دې لپاره د وييپوهنې اړوند معاصر نظريات او علمي اصول د ارزونې د بنسټ په توګه وکارول شول او پخواني آثار د هغوی د تاريخي او علمي شرايطو په پام کې نيولو سره وکتل شول.

په ټوله کې ياد محدوديتونه د څېړنې د اصلي موخو د ترلاسه کولو خنډ نه شول، بلکې د موجودو سرچينو د څو اړخيزې کتنې، د معلوماتو د پرتلنې، د مفهومي چوکاټ د ټاکلو او د سرچينو د علمي ارزونې له لارې يې د امکان تر کچې حل‌لارې وموندل شوې.

## ۳. ۱۳ پایله

په دې درېیم څپرکي کې د څېړنې میتودولوژیک چوکاټ وړاندې او واضح شو. څېړنه د معلوماتو د ترلاسه کولو له مخې کتابتوني ـ اسنادي، د ماهیت له مخې کیفي او د میتود له مخې توصیفي ـ تحلیلي ده. د څېړنې ډیزاین هم د کتابتوني ـ اسنادي او توصیفي ـ تحلیلي تګلارې پر بنسټ ولاړ دی.

د څېړنې لپاره له کتابونو، علمي مقالو، قاموسونو، فرهنګونو، څېړنیزو اثارو او معتبرو برېښنایي سرچینو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د راټولولو او موادو د ټاکلو لپاره ټاکلي معیارونه په پام کې نیول شوي او راټول شوي معلومات د توصیفي، تحلیلي، پرتلیز او کره‌کتنیز تحلیل له لارې څېړل شوي دي. په ټوله څېړنه کې د سرچینو اعتبار، علمي امانتداري او د څېړنې اخلاقي اصول مراعات شوي دي.

# څلورم څپرکی

## د موادو تحلیل او موندنې

زموږ د څېړنې موضوع د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج دی، نو په دویم څپرکي کې مو د «مفاهیمو تعریفونه» تر سرلیک لاندې د وییپوهنې اړوندې موضوعگانې او تیوریکي مسایل راوړل او پرې وغږېدلو، دلته په څلورم څپرکي کې په مشخصه توگه د پښتو وییپوهنې پر اړوندو موضوعاتو او چاپ شوو آثارو بحث او خبرې وکړو. یوه خبره دلته د یادولو وړ چې زما د څېړنې موضوع د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج اخیستنه ده، نه د پښتو وییپوهنیزو آثارو، نو دلته په څلورم څپرکي کې مو لومړی د پښتو وییپوهنې اړوند پر تاریخي سیر او د پښتو وییپوهنې اړوندو مهمو موضوعات کره‌کتنیز بحث کړی دی، نه معلوماتي او دا یادونه مو ځکه مهمه وگڼله چې معلوماتي موضوعات په دویم څپرکي کې د مفاهیمو د تعریف تر سرلیک لاندې راوړل شوي او خبرې پرې شوې دي.

کله چې په پښتو ژبه کې د وییپوهنې د مخینې په اړه خبرې کېږي، درې موضوعات سره گډېږي چې هغه د وییپوهنې، قاموسولیکنې او په ځینو آثارو کې د پښویې او گرامر موضوعات هم ور سره یوځای شوي دي، که یو څوک وغواړي چې د وییپوهنې پر تاریخي بهیر رڼا واچوي، نو د قاموس‌لیکنې تاریخي بهیر هم ور سره په خوا کې راځي او ویلای شو چې پولې یې سره نږدې دي، خو اوس قرار ــ قرار د دوی تر منځ د بېلتون کرښه ژورېږي، اصول او معیارونه یې سره بېل دي او د ژبپوهنې د بېلو څانگو او رشتو په ډول مطرح کېږي.

که په عمومي توگه وگورو، نو کېدای شي د پښتو وییپوهنې تاریخي بهیر کله چې د پښتو ژبې په اړه د بهرنیو ژبپوهانو(ختیځپوهانو) له لوري د تاریخي ژبپوهنې په برخه کې څېړنې پیل شوي دي، ورسېږي، خو پوهاند مجاور احمد زیار په «پښتو وییپوهنه او وییرغاونه» اثر کې په دې اړه تفصیلي

بحث کړی دی او په دې برخه کې ترسره شوي کارونه او څېړنې يې په تفصيل سره معرفي کړې دي چې له موضوع سره په اړيکه کې يې ځينې برخې دلته راوړو.

څومره چې جوته ده پښتو وييپوهنه (Lexicology) هم زياتره له زده کړېزې ـ ښوونيزې(ګرامري) څېړنې او سيندکښنې (Lexicography) سره د اتلسمې پېړۍ له نيمايي راهيسې را پيلېږي. هسې خو د پښتو وييپوهنې او وييرغاونې(word formation) او همهاله د آرپوهنې(etymology) پيلامه له جېمز دار مستېتر سره د نولسمې پېړۍ د نهمې لسيزې په وروستيو کې رانښلي.

پير محمد کاکړ د اتلسمې پېړۍ په نيمايي(۱۱۹۵ س، ل) د معرفته الافغانی په نامه يوه ښوونيزه ډوله ښوونيزه کښلې ده چې د ګرامري وييونو تر څنګ يې يو بشپړ (لسم څپرکی) د بېلابېلو (يوستوو، بېلښتي او تړښتي) وييونو ليکلړ ته را ځانګړی کړی او ډلبندي کړی دی.

الماني ګويلدن شيت (J. A. Guidensteadt) تر اوسه لومړی ختيځپوهاند برېښي چې تر پيرمحمد کاکړ (۲ ـ ۲۵ کاله) وروسته په خپل الماني اثر ( Reisen durssland in sischen Gebirge cauaca) کې د روسيې له لارې ققفاز غر لړۍ ته يونونه) نومي فرهنګ کې د دوه‌ګونو اوسيتي ګړدود(الاني او ديګوري) وييونو تر څنګه ۲۱۵ پښتو وييونه کښلي دي. دا کتاب لومړی ځل د ده تر مړينې لس کاله وروسته پر ۱۷۹۱ ز کال پيترسبورګ کې چاپ شوی دی(زيار، ۱۳۹٦، ٦٦ مخ).

پر ۱۲۲۱ (۱۸۰٦) د نواب محبت خان رياض المحبت فرهنګ ډوله ښوويه. پر ۱۲۲۵(۱۸۱۰) کال د محمد ارتضا خان(نواب امان خان زوی) د (فرهنګ ارتضايی) په نامه يو څلور ژبی(عربی، پارسي، اردو او پښتو قاموس دی او پر همدغه کال د کلا پروت ګرامر هم د يادونې وړ دی.

پر ۱۲۲۸(۱۸۱۳) د الله يار خان(د نواب محبت خان ورور) عجايب اللغات او په هغه پسې(کتاب خيالات زمانی در لغت و زبان افغانی)، دغه راز يې د (آمد نامه افغانی) په نامه د ګړپوهې(فعلي صرف) يو بل کتاب چې يو وييلړ(لغتنامه) راخلي، د نولسمې پېړۍ په سر کې کښل شوی ښکاري.

ايوريسن پر ۱۸۲۳ کال پښتو ويي کښلي چې په پارسي، تاتاري، جرمني او روسي ژباړل شوي دي.

پر ۱۸۳۹ د جرمني د پوهاند ايوالد(افغاني يا پښتو) د ختيځ د څېړنې په مجله کې) او دورن پښتو ښوويه د منتخباتو قاموس برخه او پر ۱۸۲۷ کال يې جلا پښتو انګليسي فرهنګ خپور کړی دی. پر

۱۸۲۰ کال د میجر لیچ گرامري رساله، پر ۱۸۵۵ کال د کیپتان واگن یو انگریزي ـ پښتو ژبې سیند کښلی دی(زیار، ۱۳۹٦،٦۷ مخ).

## ۱ . ٤ ویيپوهنه(Lexicology)

ویيپوهنه (علم اللغة) د ژبپوهنې هغه تشریحي څانگه ده چې د یوې ژبې یا ژبو ویيونه څېړي. معنا یې دا چې د ویيپوهنې یوون(واحد) ـــ ویی دی او په دې ډول د دغه ژبني توکي په تړاو گردې خبرې له بشپړ سپړاوي او پراخو بېلگو او ډلبندیو سره تر څېړنې لاندې نیسي.

د یوې ژبې د ویيپانگې ټولیز رغښت او تاریخي ادلون بدلون او په پای کې د ویي جولیز، گرامري، مانیز او د چال چلند څېړنه رانغاړي.

په نورو ټکو، په دغه څېړنه کې د ویي پیدایښت، رغښت، ویيرغونه، نوې یا بیا ویيرغونه(نیولوجیزم) او د ویي او ویيپانگې ډولونه، ډلبندۍ او نورې اړوندې ربړې او سکالوگانې راځي، پخوا یو نیم ژبڅېړونکي ویيپوهنه له دې دومره ارت و بیرت څېړنیز ډگر او بوختیاو سره هسې ببڅایه تر غږپوهنې، گړپوهنې، غونډله پوهې وروسته د پښویې(گرامر) څلومه برخه او یا یې د گړپوهې دننه له نوم اوړون او کړ اوړون سره په یو لړ کې راوسته.

نن سبا ویيپوهنه دومره غځېدلې راغځېدلې چې سیندکښنه(فرهنگ نویسي) یې هم نوره په ججوره کې نه ځایېږي او د ډېرو ډولونو او لارو رودو سره د یوې جلا څانگې په توگه څېړل کېږي، آرپوهه (اتمولوژي) خو لا وار له مخه د یوې خپلواکې پوهنې په توگه پېژندل شوې ده.

ویيپوهنه (واژه شناسي lexicology )، علم اللغة د ژبپوهنې هغه څانگه ده چې د کلمو او لغتونو له پېژندنې څخه بحث کوي او یا هم څېړي یې. په دغه څېړنه کې د ویي پیدایښت، ویي رغښت، ویيرغونه، نوې یا بیا ویيرغونه (نیولوجیزم) او د ویي او ویيپانگې ډولونه، ډلبندۍ او نورې اړوندې ربړې او سکالووې راځي(زیار، ۱۳۹٦، ۴۱ مخ).
یا هم: ویيپوهنه د تشریحي ژبپوهنې دغه څانگه د یوې ژبې د کلمو له جوړښت او پیدایښت څخه بحث کوي او هم په نورو ژبو کې د کلمو انډول گوري او همانیزه او همجولیزه کلمې پیدا او تر څېړنې

لاندې نیسي. په نورو ټکو وییپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د یوې ټاکلې ژبې وییونه، د هغوی ترکیب، اوډنه، جوړښت او ډولونه تر سپړنې لاندې نیسي.(څولیزی، ۱۳۹۹، ۷۸ مخ).

نو ویلای شو چې د ژبپوهنې علم د خپلې یو مهمې څانګې په اړه جوت دریځ او اصول لري. له همدې اصولو او جوت دریځ څخه څرګندېږي چې نیولوجیزم د ژبپوهنې د وییپوهنې (واژه شناسي lexicology) یوه مهمه برخه جوړوي.

پورته مو څکه د مورفولوژي، وییپوهنې او قاموس‌لیکنې په اړه بحث وکړ چې زیاتره وخت د درېواړو څانګو پولې سره ګډېږي او یا هم مورفولوژي ته وییپوهنه ویل شوي دي، موږ په پښتو ژبه کې ځینې کتابونه لرو چې د(غړپوهنې او وییپوهنې) تر سرلیک لاندې لیکل شوي دي، خو د وییپوهنې د برخې بحثونه یې بیا د مورفولوژي بحثونه دي، که څه په وییپوهنه په ځانګړې توګه په ویيرغونه کې د مورفولوژي له امکاناتو ګټه اخیستل کېږي، هغه که مختاړي دي، که وروستاړي او که تاړي، خو د وییپوهنې بحث په بشپړ ډول له مورفولوژي سره توپیر لري.

## ۴ . ۱ . ۱ ویي (لغت)

ژبه څه ده؟ د لفظونو او وییونو ټولګه ده، لفظونه او وییونه څه دي، له انساني ستوني څخه وتونکي ځانګړي غږونه دي، نو وییونه په خپله د بېلابېلو آوازونو ټولګه ده.

د بېلابېلو وییونو ویل او تلفظ د هغو غږیزې ځانګړنې ټاکي. د وینګ او املا بنسټیزه موخه دا ده چې له بېلابېلو غږونو څخه جوړه شوې ټولګه د هر آواز لپاره خپل حد وټاکي او هر آواز د خپلو ځانګړنو له مخې وپېژندل شي، ترڅو ژبه د مختلفو او بېمعنا غږونو په ځنګل بدله نشي.

په عربي ژبه کې د ویي«لفظ» لغوي معنا له خولې څخه وتونکي اوازونه دي، پر دې سربېره لفظ د څېزونو د جمع کولو او په داسې نورو معناوو کې هم کارول کېږي. ویی له غږونو او توریو څخه جوړېږي، بسټ یې توري او غږونه دي. په بسنټیزه توګه وییونه د دوو حالتونو لېږدونکي دي، یو د وګړو، ژوو او موجوداتو نومونه دي او دویم د احساساتو، عواطفو او جذبو د اظهار لپاره کارېدونکې کلمې دي. د بېلګې په توګه لمر، سپوږمی، ستوري او داسې نور ... وییونه چې د دغو شیانو استازولي کوي، د دغو له قطعیت څخه انکار ناممکن دی.

په دویمه ډله کې هغه وییونه دي چې د احساساتو، عواطفو، جذباتو او ذهني کیفیتونو لپاره کارول کېږي، د بېلګې په توګه د درد او کړاو د څرګندولو یا هم د خوښۍ او خپګان د اظهارولو لپاره استعمالېږي، خو دغه کلمې په پرېکنده توګه جذبې نه شي بیانولی، د دغو کیفیتونو د اظهار لپاره ډېر مترادفات کارول کېږي، خو بیا هم د دغو کیفیتونو د د ابلاغ حق په بشپړه توګه نه شي ادا کولی.

د هرې ژبې د لغتونو او کلمو عمر د هغې ژبې د ویونکو له عمر څخه ډېر وي، ځکه کله چې موږ د انساني عمر کچې ته ګورو، نو د انسان عمر له اویا تر اتیا کالونو پورې وي، خو د یوې ژبې لغتونه بیا تر سلګونو او حتی تر زرګونو کلونو پورې وي او ژوندي پاتې کېږي. البته پر دې شرط چې د دغو وییونو او لغتونه اړیکه له خپلو ویونکو سره ټینګه پاتې شي او هغه په دوامداره توګه وکارول شي. خو د یوې ژبې ویونکو دا هیله هم درلوده او  لري یې چې خپل اندونه او فکرونه د وینا پر ځای په لیکنۍ بڼه هم خوندي او تر نورو پورې ورسوي، نو د خپلو لفظونو لپاره د شکل او بڼې د موندلو په فکر کې شول، د لیکني فن یا هم لیکدود(رسم الخط) د منځ ته راتګ او ایجاد لامل هم د انسانانو پورتنۍ جذبه وه. نو له همدې ځایه څخه دا خبره را منځ ته کېږي چې لیکدود څه ډول منځ ته راغلی دی او د بېلابېلو تورو او حروفو شکل څه ډول ټاکل شوی دی.

دلته دا خبره هم مهمه ده چې د مختلفو ژبو د حروفو شمیر او د لیکدود ډول  ولې یو نه دی. یو شمېر ژبې له کیڼ څه ښي لوري ته لیکل کېږي او ځینې یې بیا له ښي لوري څخه کیڼ لوري ته لیکل کېږي. د لیکدود مسئله دومره اسانه او ساده نه ده، ځکه چې له هغه سره د ژبې او ژبپوهنې تر څنګ، اسطورې، لرغونی تاریخ، تهذیب او تمدن او د انساني علم ځېړنه او مطالعه هم یو ځای شوې ده او بې کچې پراختیا یې موندلې ده.

د لیکدود په اړه هم په پخوانیو تاریخونو کې لیکل شوي دي. په پخوانیو تهذیبونو کې د رسم الخط پیل هم له اسطورو څخه شوی دی.

په پخوا وختونو علم او پوهنه ډېره عامه نه وه، لوستل او لیکل یوازې تر ستوروپېژندونکو، شاعرانو او حکمرانانو پورې محدود وو. دا خلک به د عام ولس لپاره له اسرارو ډک انسانان ښکاره کېدل، چې د پورتنیو کسانو له ویناوو او تقریرونو څخه دا خبره درک کېږي.

له همدې امله دا چاره مافوق الطبيعي ګڼل کېدله او عام خلک به د ليک و لوست د زده کړې لپاره سترو سترو قربانيو او تېرېدونو ته تيار وو.

په هندوستان کې ليکدود(رسم الخط) د برهما د دين تر دهرم پتنی سرسوتي پورې چې د علم، ژبې او موسيقۍ سرپرسته ديوې بلل کېدله منحصر و.

همدارنګه په سنسکرېټ کې ديوتا د ليکونکې په توګه تصور کېدله. د سنسکرېټ په اړه يوه پخوانۍ کيسه ډېره مشهوره ده چې د هندوانو رسم خط مټ يا ورک شو او خلک له پوهې څخه لرې او په پای کې د اسره لور بياس د الهام په وسيله په پنځوسو تورو سره له سره نوی ليکدود ايجاد کړ او د دغو تورو نوم يې (اکثر) کېښود. دغه رسم الخط ته (ديوناګري) رسم الخط ويل کېده او د سيکانو رسم الخط ته يې (ګورمکهی) ويل کېده. په چيني تهذيب کې هم ليکدود(رسم الخط) له مذهبي اسطورو سره مل بهير موجود دی.

د اسلام په سپېڅلي او مبارک دين کې بيا د رسم الخط پيل له اسطورو سره نه دی تړلی، خو د اسلام په سپېڅلي دين کې هم د خط او ليکلو د مقدسوالي او سپېڅلتيا تصور موجود دی.

په اسيا کې د تمدن د پيل ځمکه په عراق کې د دجلې او فرات پر غاړو پرته سيمه ده. د ابن حنيف وينا ده: د نړۍ پر دې ځمکه لومړنۍ جنګي او رزمي کيسه د ګيلګميش په نامه مونډل شوې ده. د دجلې او فرات د لرغوني تمدن او تهذيب تر ټولو ستره کارنامه او لاسته راوړنه د ليکلو د هنر او فن ايجادول دي. که څه هم مصريانو هم د خط هنر ژر تر لاسه کړی دی، خو د وياړ دا تاج بيا هم د لرغونو عراقيانو پر سر دی.

د يوې ژبې لغتونه د هغې ژبې د ويناوالو د اندونو او طبيعيت هينداره ده، څکه دا د يوه قوم، ملت او هېواد د غوره ذهنونو د پېړيو په اوږدو کې د دوامداره هڅو او کوښښونو پايله ده.

د هرې ژبې د لغت ليکنې مخينه هومره پخوانۍ او لرغونې وي، څومره چې هغه ژبه مخينه لري، خو کله نا کله داسې هم کېږي چې د يوې ژبې او قوم فرهنګ او ادب د جګړو او د زبرځواکونو د يرغلونو په پايله کې له منځه تللی وي او د هماغې ژبې د لغتونو او وييليکنې بهير هم ورسره تالاترغۍ شوی وي(عابدي، ۲۰۱٦، ۲۸۸ مخ).

کلمه یا لغت یوه دنده تر سره کوي، یو څه نوموي او یو څه افاده کوي. د لغت د پښتو بدیل چې اوس یې په ژبپوهنه کې خپل ځای موندلی دی، هغه (ویی) دی. په لومړنیو وختونو کې پوهاند حبیبي په وړمه مجله کې د «نوي مفاهیم او زاړه کلمات» تر سرلیک لاندې په خپره شوې علمي مقاله کې د ویي(کلمې) په اړه لنډ خو مهم بحث کړی دی چې دلته یې د موضوع اړوند برخه را اخلو: په پښتو ژبپوهنه او گرامر کې موږ ډېرو اصطلاحاتو ته اړتیا لرو او باید د فونیم، مورفیم، کلمې او سلایبل(څپې) او کلام په مقابل کې خپلې پښتو کلمې او اصطلاحگانې ولرو چې تر ټاکلو او کارولو وروسته دغه کلمې په علمي ډول مأنوسې او مفهومي شي او خلک یې له کارولو سره اشنا شي.

په پښتو کې درې دغسې کلمې شته چې پوهان یې په گرامري احتیاجاتو کې کارولی شي او دلته یې له ادبي سندونو سره ښایو: د (ویل) له مادې څخه یوه کلمه په پخواني ادب کې موجوده وه چې اوس یې موږ نه وایو، خو شونې ده چې دغه کلمه په گرامري او ژبنیو بحثونو کې پر خپل ځای کښېږدو او کار ځینې واخلو.

(ویی) د خوشحال خان په کلام کې مقرر راغلی دی او داسې ښکاري چې په ختکو کې دا کلمه وه، خوشحال خان وایي:

چې به بل تر تا را تېر کړم　　　　دا ویی د زړه وباسه

بل ځای وایي:

یو ویی د دلاسا را ته پرېښږدي　　　　ځان که هر څو خپل مین ته مرورو کړم

یا بل ځای وایي:

دا ویی زما د راز دی　　　　دا منزل دور و دراز دی

په یوه قصیده کې وایي:

چې په نیم ویي یې کار کېږي د خلق　　　　د خلاصۍ مې همیشه کاندې جدال

له دې ادبي سندونو څخه ښکاري چې ویی په پخوانۍ پښتو کې د کلمې په مفهوم کارول کېده(حبیبي، ۱۳۴۶، ۳۸ مخ).

لغت هغه وینا او افاده ده چې هیڅکله هم په دوو یا زیاتو مستقلو مورفیمونو باندې نه وېشل کېږي. له دې تعریف څخه ښکاري چې یو معنالرونکی لغت اصلاً د تجزیې او شننې وړ نه دی، ځکه چې که هغه ووېشل شي، خپله معنا له لاسه ورکوي او نور نو ورته مستقل لغت نه شي ویل کېدای.

یا هم: کلمه یا مورفیم د ژبې تر ټولو کوچنی معنا لرونکی عنصر دی چې د څو آوازونو له یوځای کېدو څخه جوړېږي او له تجزیه کېدو څخه یې بې‌معنا ساده آوازونه لاس ته راځي. له دې څخه جوته شوه چې لغت، کلمه او لفظ یو مطلب افاده کوي او موږ یې د هم‌مانیزو کلمو په توګه کارولی شو(تنیوال، ۱۳۹۷، ۲۲۶ مخ).

په اصل کې لغت د سامي ژبې کلمه ده. د یوناني ʼʼ لوګسʼʼ (Logas) ویی یې هم‌معنا کلمه ګڼل کېږي.په عربي ژبه د لغت ویی د غږونو او وییونو یعنې د غږونو او ویلو دواړو لپاره کارول کېږي. خو په ځانګړو معناوو کې د قاموس(لغت) لفظ په پخوانۍ پارسي ژبه کې فرهنګ دی، په انګریزي کې ʼʼ ډکشنريʼʼ او په سنسکریټ کې د ʼʼکوشʼʼ لپاره کارېده. په اُردو ژبه کې بیا ʼʼلغتʼʼ ک د لفظ کلمې معنا هم ورکوي او د لغتونو د کتاب یا قاموس لپاره هم دود دی. چې په کې د ابجد د حروفو په اساس لغتونه راټولېږي او د هغو معنا او مفهوم هم بیانوي.

د ʼʼډکشنريʼʼ سرچینه بیا د ایټالوي ژبې (Dictionorious) لغت چې د دې لغوي معنا بیا د لغتونه زېرمه ده. په یوناني ژبه کې د دې مفهوم د (Lexicon) ویی دی. د (Glossary) یعنې فرهنګ سرچینه بیا د یوناني ژبې (Glossa) کلمه ده چې معنا یې ژبه ده(عابدي، ۲۰۱٦، ۳۹٦ مخ).

د قاموس موضوع د یوې ژبې د لغتونو او لفظونو زېرمه ده. د دغو لغتونو په ټاکلو کې هم لوړې ژورې او سختۍ وي، دا ځکه چې په تاریخي لحاظ د هرې ژبې د لغتونو او کلمو په زېرمه کې بدلون او تغییرات راځي. په قاموسونو کې د کلمې او لغت اړوند د معلوماتو د لیکلو ترڅنګ د رېښې یا اصل موندلو عمل هم شامل وي. چې په انګریزي کې دې ته (Etymology) وایي.

په روسیه کې د علم اللغات او قاموس لیکنې مطالعه د ژبې او ژبپوهنې مهم ښاخونه ګڼل کېږي. په روس کې د علم اللغات مشهور پوه شیربا(Scherba) دی چې نوموړي د دې پوهنې او علم په اړه هم په تیوریکي لحاظ لیکنې کړې دي او هم یې په عملي توګه قاموس لیکنه کړې ده.

ګیان چند په خپله یوه لیکنه کې په دې اړه رڼا اچولې ده. نوموړی وایي چې ژبه دوه برخې لري، یوه برخه یې کلمې او لفظونه دي او دویمه برخه یې اصول او قواعد دي.

په قاموس کې ویی(لغت) په منفرده توګه تر سترګو کېږي او قواعد یې بیا ټولې اړیکې څرګندوي.

په دې ډول کلمې په دوو ډولونو وېشل کېږي: لومړی. لغوي کلمه ده او دویمه یې بیا د لغت قاعدې دي. لغوي کلمه بنسټيزه او پر خپل ځان تکيه وي، خو د کلمې قاعدې بیا اجزاوې، حروف او نور وي.

یقیناً لغت او ویی که له یوې خوا د بشري اظهار وسیله ده، خو له بل پلوه د ملتونو د تاریخ عکاس دی. هر ژوی د خپلو جذبو او احساساتو د څرګندولو لپاره یو شمېر ګډوډ آوازونه په خپل منځ کې د پیغام رسونې لپاره سره تبادله کوي. دا چې انسان ناطق حیوان دی، نو متعال رب د ژبې تر څنګ هغه ته د وینا او خبرو کولو نعمت هم بخښلی دی، چې دغې شتمنۍ ته یې د خپل شعور او ذهن په وسیله یو شمېر ځانګړو غږونو ته بڼې او ګرافیمونه ترتیب کړي دي(عابدي، ۲۰۱٦، ۴۰۰ مخ).

په یوه بل ځای کې بیا د ویي(لغت) په اړه داسې راغلي دي: ویی د ویپوهنې او پښوېې د یوون(واحد) په توګه یو آزاد ګړ دی او په غونډله(جمله) دیوه غونډله‌ییز یوون(constituent) په توګه له مخکې او وروسته ګړ یا ویي سره له نښلونې پرته خپله پښوییزه ـ جولیزه او مانیزه خپلواکي ساتلای شي. په نورو ټکو، یو ویی په یوځاني توګه یو څیز او پدیده را پر ګوته کولای شي. له نورو ویيونو او ګړونو سره، نه یوازې په یووستوې، بلکې بېلښتي(اشتقاقي) او ترښتي(ترکیبي) بڼه هم جولیز او مانیز او غږیزو فونیمکي یا ورته نژدې الفبایي ډولونو یا سیستمونو، لکه یوناني، لاتیني ... او څه نا څه زموږ عربي آرې دې لیکنې یووالی هم خوندي ساتي.
یو ویی د ویيرغونې په نورو ټکو، د جولیز رغښت له مخې درې رازه دی: یووستوی ویی، بېلښتي ویی او ترښتي ویی او یا غونډېز(عبارتي)؛ له پښوییز پلوه یو ویی، یا نوم دی(له څلورو ډولونو او ګرداني بڼو سره) او یا کړ دی(له بېلابېلو ډولو او ګرداني بڼو سره)(زیار، ۱۳۹٦، ۳۴ مخ).
له ژبپوهنې وړاندې د ژبې بنسټ توري یا حروف وو، خو کله چې ژبپوهنه منځ ته راغله بیا نو د ژبې بنسټ او اساس غږونه (فونیمونه) و ګڼل شول، ځکه کله نا کله داسې پېښېږي چې په یوه ژبه کې د غږونو یا فونیمونو لپاره ګرافیمونه او حروف نه وي ټاکل شوي، خو په نوموړې ژبه کې یاد غږونه موجود وي چې موږ یې په خپله ژبه (پښتو) کې ډېرې بېلګې لرو، یاده ستونزه په هغو ژبو کې ډېره منځ ته راځي چې په بل لیکدود لیکل کېږي. پښتو ژبه هم په عربي رسم الخط لیکل کېږي، نو له دې امله په پښتو ژبه کې د ځینو غږونو لپاره ګرافیمونه نه لرو. په هر صورت له دې موضوع څخه

دلته مطلب  دا دی چې د يوې ژبې اساس او بنسټ په اوسنۍ ژبپوهنه کې فونيمونه ګڼل کېږي او بيا له همدغو غږونو څخه لغتونه او کلمې منځ ته راځي. لکه څنګه چې وويل شول چې د اوسنۍ ژبپوهنې له مخې  غږونه يا فونيمونه د يوې ژبې اساس بلل کېږي، دا بنسټيز عناصر هغه وخت خپل مسؤوليت په سمه توګه سرته رسولای شي چې په لغتونو او کلمو کې وکارول شي او د همدغو ارزښت لرونکو غږونو له يو ځای کېدو څخه لغتونه منځ ته راځي. د لغت د ارزښت په اړه ژبپوهان وايي: چې د لغت ارزښت او اهميت دومره زيات دی، لکه څومره چې د ژبې اهميت دی. ژبه په حقيقت کې له لغتونو څخه جوړه شوې ده. ګرامر او غږپوهنه د لغت ګرامري خواوې او غږيز جوړښت څېړي، نو ځکه د لغت دريځ له ګرامر او غږونو څخه هسک دی.

د لغت پېژندل او معلومول په هغه ډول چې ښايي ګران کار دی، همدا سبب دی چې په ژبپوهنه کې د لغت لپاره په مختلفو وختونو کې مختلف تعريفونه غوره شوي دي(لودين، ۱۳۵۵. ۳ مخ).

په اجتماعي علومو کې مور دا نشو ويلای چې دا تعريف سم دی او دا تعريف ناسم، ځکه په اړونده برخه کې پوهان د خپلې پوهې او تخصص په رڼا کې تعريفونه وړاندې کوي.

ويی يا لغت د بېلابېلو غږيزو توکو يا فونيمونو او مورفيمونو معنا لرونکی جونګ دی. وييز جوړښت د لغتونو له پنځې(جوړولو)، مرکب او ترکيبي حالت څخه بحث کوي. په وييز جوړښت کې د لغت د غږيز، ګړيز او پښوييز جوړښتونه په پرتليزه توګه څېړل کېږي، ځينې وختونه ويلی شو چې لغت له کوچنيو معنا لرونکو او بې معنا توکونو څخه په ګډه رغېدلی ترکيبي جوړښت دی چې مورفيمونه يې بولي(څوليزی، ۱۳۹۹. ۱۵۴ مخ).

له کوم وخته چې انسان د شعور او احساس خاوند شوی دی او په مغزو کې يې د ادراک رڼا او د تخيل بربېښنا ځلېدلې ده، په ژبه کې هم يو حرکت پيدا شوی دی او ګړېدلی دی(الفت، ۱۳۲۱، ۱ مخ).

له شک پرته ژبه په موجود عالم او کائناتو کې له مهمو ښکارندو څخه ګڼل کېږي. دا پديده د بشري ژوند يوه له مهمو او نه جلا کېدونکو برخو څخه ده. د انساني ژوند فردي او ټولنيز اړخونه له ژبې سره نږدې او نه شکېدونکې اړيکې لري.

د ژبې پېژندل او د هغې غږيزه ښکارونديي يعنې وينا ځکه اړينه ګڼل کېږي چې په دغه زنځيري جوړښت يعنې وينا کې «ويی» مهم او ټاکوونکی رول لري.

لغات او کلمات په حقیقت کې د انسان د افکارو او احساساتو نغمه ده چې د ده د شعور او تصوراتو مولود ګڼل کېږي. د انسان په ذهن او دماغ کې چې هر څومره معنوي ذخیره او پانګه زیاته شوې ده او د ده په فکري او تخیلي سیمه کې څه پراخوالی راغلی، هماغومره وسعت په لفظي دنیا کې هم پیدا شوی او د لغاتو لمن اوږده شوې ده، نو الفاظ او کلمات د مفهوم او معنا دویم کور او مېنه ده چې له ذهن او دماغ ځینې یې ورته انتقال کړی دی(الفت، ۱۳۲۱، ۲ مخ). دلته له پورتني تعریف څخه یو بل څه ته هم موږ متوجه کېږو هغه دا چې په ژبه کې د لغتونو پراختیا او منځ ته راتګ د افکارو او خیالاتو له پراخوالي او پرمختیا سره مستقیمه رابطه لري، کله چې یوه ژبه د علم، ټکنالوژۍ، ادبیاتو، هنر، تیاتر، سینما او ساینس ژبه ګرځي، نو له همدې پراخوالي او پرمختیا سره د نویو لغتونو د ایجاد اړتیا او ضرورت هم تر بل هر وخت زیاد احساسېږي او همدا پرمختګ په ژبه کې د نویو لغتونو منځ راتګ ته زمینه مساعده وي.

کله چې یوه ټولنه په بېلابېلو برخه کې پرمختیا کوي، نو د هماغې ټولنې له پرمختګ سره د ژبې پرمختیا هم تړلې ده، ځکه چې ژبه یې ټولنیزه پدیده ده، په کومه اندازه چې ټولنه پر مخ ځي، علم او تخنیک په کې پرمختیا مومي، په هماغه اندازه د ټولنې ژبه هم پراختیا مومي او د زیاتو مفاهیمو لپاره به په کې نوي ژبني واحدونه پیدا کېږي(لودین، ۱۳۹۵، ۲۰ مخ).

په پورتنیو بحثونو کې تر ډېره د لغت په اړه ژبپوهنیز بحثونه وشول، خو د لغت د پېژندلو یو بل اړخ چې مهم دی، هغه قاموسي دی، ځکه همدا وییونه د قاموسونو د بحث منځپانګه ده او یا هم د لغتونو تشریح او راټولونه په قاموسونو  او سیندونو کې کېږي.

د امریکایی ژبپوهې (کلینینه) په یوه تعریف کې داسې راغلي دي: ویی(لغت) د ژبې د قاموسي جوړښت واحد دی. له دې سره ــ سره په عمومي توګه د ژبې اساسي واحد هم ګڼل کېږي. لیکواله د پورتني تعریف د لا روښانتیا په موخه وضاحت کوي او زیاتوي: په ژبه کې پرته له ویي(لغت) څخه، نور واحدونه هم شته، لکه، مورفیمونه او فرازیالوژیکي واحدونه، خو لغت له دوی څخه توپیر لري، ځکه چې لغت د ژبې اساسي واحد ګڼل کېږي، نور واحدونه به یا د لغت یوه برخه وي او یا به له لغتونو څخه جوړ شوي وي، پرته له دې یوازې په ژبه کې لغات دا پیاوړتیا لري چې د ګرامري قانون له مخې یو په بل پسې راشي، جمله او پوره خبرې اترې ځنې جوړې شي.

د نوموړې ژبپوهې په نظر هم د لغت تعریف ډېر ګران کار بریښي، دا د لغت تعریف په دې سبب سخت بولي چې لومړی خو دا چې لغت د یوې داسې موضوع حیثیت لري چې پکې ژبپوهنیز، منطقي او ارواپوهنیزې ستونزې ګډې شوې دي. دویمه خبره دا ده چې لغت په هره ژبه کې د ګرامري جوړښت او معنوي اړخ له نظره په ډېرو زیاتو ډولونو وېشل شوی دی، همدا سبب دی چې تر اوسه پورې د لغت عمومي منل شوی تعریف نه دی وړاندې شوی(لودین، ۱۳۵۵. ۱۱مخ).

## ٤ . ١ . ٢ د ویي(لغت) ځانګړنې

دا چې وړاندې مو د لغت د پېژند او تعریف په اړه خبرې وکړې او بېلابېل تعریفونه مو راوړل، خو دلته اړتیا ده چې د ویي د پېژندنې په برخه کې د لغت/کلمې ځانګړنو ته تم شو او د لغت پر خصوصیاتو وغږېږو:

۱) هر لغت د آوازونو یا تورو د یوه کمپلکس له اتصال یا یووالي څخه منځ ته راځي او یوه خپلواکه معنا لري.

۲) د لغت معنا د انسانانو په شعور کې د هغه څه عکس دی چې دغه لغت یې په نخښه کوي.

۳) په تحریري ژبه کې د لغتونو د تورو کمپلکسونه د لغتونو په منځ کې د واټن په واسطه داسې سره جلا کېږي چې د لغتونو پولې یقیني وي.

۴) په شفاهي ژبه کې اکثراً د لغتونو د آوازونو د کمپلکسونو تر منځ پولې داسې بېلېږي چې د لغتونو بریدونه په اصل کې یوازې د معنا له مخې پېژندل کېږي.

۵) لغتونه د جملې او د لغتونو د ګروپ د جوړښت برخې دي، دوی د مشخصو اصولو له مخې یو له بل سره یوځای کېږي(ټنیوال، ۱۳۹۷. ۲۳۰ مخ).

## ٤ . ١ . ٣ د ویي ارزښت او اهمیت

د لغت د اهمیت په اړه ژبپوهان پر دې نظر دي او وایي چې څومره د ژبې اهمیت دی، نو په هماغه کچه لغت هم ارزښت لري، ځکه ژبه په حقیقت کې له لغتونو څخه جوړه شوې. ګرامر او غږپوهنه د لغت ګرامري خواوې او غږیز جوړښت څېړي، نو ځکه د لغت دریځ له ګرامر او غږونو څخه هسک دی. سره له دې چې په ژبه کې لغت اساسي او مرکزي واحد ګڼل کېږي بیا هم د لغت پېژندنې په برخه کې ډېرو ژبپوهانو پرېکنده نظرونه نه دي ورکړي، د لغت له تعریف کولو څخه یې یا ډډه کړې

یا دا چې د لغت لپاره یې کوم مهم او داسې تعریف چې لغت ورباندې په صحیح ډول معرفي شي نه دی موندلی(لودین، ۱۳۵۵، ۴ مخ).

په یوه تعریف کې بیا داسې لولو: لغت د جملې په چوکاټ کې معنا لرونکی واحد دی یا دا چې هغه غږ یا د غږونو مجموعه چې معنا لرونکې وي، لغت ګڼل کېږي، خو ځینې ژبپوهان بیا دا تعریف هم بشپړ نه ګڼي، هغه ځکه چې وایي چې په پورته ډول د لغت کومې ځانګړنې ووېل شوې، یوازې د لغت ځانګړې خواص نه ګڼل کېږي، بلکې د ژبې د هغو واحدونو لپاره هم راتلای شي چې له لغت څخه ټیټ یا جګ دي. د لغت لپاره باید داسې ځانګړتیاوې او خواص وموندل شي، کوم چې په لغت کې په واقعي ډول پراته وي او نور ګاونډي واحدونه یې دا رنګه ځانګړتیاوې ونه لري.

څرنګه چې له لغت سره مورفیم او لغوي ترکیبونه ډېر نږدې دي، باید چې د لغت د معرفي کولو په برخه کې د هغوی ګوښه ساتل په پام کې ونیول شي.

لغت او مورفیم که څه هم دواړه د ژبې معنا لرونکي واحدونه ګڼل کېږي، خو د دواړو توپیر په تجزیه کېدو او نه تجزیه کېدو کې دی، لغت په معنا لرونکو واحدونو باندې وېشل کېدای شي، خو مورفیم نور په معنا لرونکو واحدونو باندې نه شي وېشل کېدای.

د پورتني دلیل له مخې په ځینو لغتونو کې له تضاد سره مخامخ کېږي، ځکه داسې لغتونه هم شته چې نور په معنا لرونکو برخو باندې نه تجزیه کېږي، په دې کې یو مورفیم والا لغتونه راځي، لکه: په پښتو ژبه کې د (اې، او) ندائیه کلمې د(نه، مه) ادات، د (د، تر، له) او داسې ...

پرته له فرعي لغتونو څخه ډېر اصلي لغتونه هم یو مورفیم والا دي چې په تېرو لیکنو کې یې په پوره اندازه مثالونه راغلي دي او نورو مثالونو ته دلته ضرورت نه لیدل کېږي.

داسې لغتونه هم شته چې په څو معنالرونکو برخو باندې وېشل کېږي، په دې برخه کې هغه لغتونه راځي چې هر یو د څو مورفیمونو لرونکی وي. په پښتو ژبه کې داسې لغات ډېر موندل کېږي، لکه: پوهنتون(پوه + ن + تون) روغتون (روغ + تون) کښېناستل(کښې+ ناست + ل) مینه ناک(مین + ه + ناک) او داسې نور ...

که د لغت لپاره د نه تجزیه کېدو خواص ووېل شي، په دې کې یو مورفیم ولا لغت او پخپله مورفیم یو شان دي چې دا یې بېلېدونکې نښه ګڼل کېدای نه شي، خو هغه لغات چې څو مورفیمونه لري د مورفیم سره یې د همدغې نښې په واسطه هم توپیر کېږي، څرنګه چې د لغت دغه ډول خاصیت

ښودلو په یوه برخه کې د تضاد سره مخامخ شو، نو ښه به دا وي چې نور داسې خواص د لغت لپاره نه موندل کېږي چې له تضاد څخه وتلي وي.

د لغت په برخه کې دا هم ویل کېږي چې لغت د ژبې خپلواک واحد دی یا دا چې لغت په ژبه کې د مورفیم زیاته خپلواکي لري، که وویل شي چې لغت په ژبه کې زیات خپلواک واحد دی. په کوم ځای کې یا څرنګه یې زیات خپلواکتوب څرګندیدای شي؟

د پورتنۍ پوښتنې ځواب که څه هم په مختلفو ژبو کې په بېل بېل ډول دي، خو د پروفیسور ساسلوف له خوا په لاندې ډول ورته ځوابونه او توضیحات ورکول کېږي.

نوموړی پروفیسور د لغت خپلواک والی په نسبي ډول په دوو درجو وېشي یوې درجې ته ټیټه وایي او بلې ته لوړه درجه وایي. ټیټې درجې ته (دریځي) او لوړې ته (نحوي) ویل کېدای شي.

د ټیټې درجې خپلواکي یا دریځ واله خپلواکي دا معنا لري چې لغت په جمله کې د خپلواکۍ په برخه کې کوم دریځ لري! د لغت په باب ویل کېدای شي چې په وینا کې که څو لغاتونه سره نږدې، څنګ پر څنګ او د ګاونډیو لغتونو په ډول راغلي وي. دغه لغات یو تر بله سره بېل کړای شي. په منځ کې نور لغات راوستل شي او یا یو تر بله مخکې راوستل شي.

که څه هم دغه خپلواکي به په مطلق ډول د لغتونو په برخه کې نه وي، خو په نسبي ډول له مورفیمونو څخه په دغه ډول خپلواکۍ کې وړاندې ګڼل کېدای شي. د پورتنۍ نظریې د اثبات لپاره ځینې مثالونه په لاندې ډول راوړل کېږي: وبه کتل شي چې لغتونه څنګه سره مخې او وروسته کېږي، لکه:( نن هوا توده ده)، (نن هوا ډېره توده ده)، (نن ورځ خو ماته داسې ښکاري چې هوا یو څه زیاته توده او وچه ده).

په پوتنیو مثالونو کې وکتل شو چې د لغتونو ګاونډیتوب د پخوا په څېر پاتې نه شو، همدارنګه په منځ کې یې نور لغات راغلل بیا هم لکه چې لیدل کېږي بې معنا نه دي، خپله معنا یې ساتلې ده، یوازې په عمومي مفهوم کې یې بدلون لیدل کېږي.

که وویل شي چې(نن هوا توده ده) یا داسې وویل شي:( هوا نن توده ده) یا داسې(توده هوا نن ده).

په دغه مخکې وروسته والي کې بیا هم د لغتونو معناګانې په خپل حال پاتې شوې(هوا)، (نن) او (ده) هر واحد بې معنا نه شو، خو د مورفیمونو(توده) که دغه مورفیم وروسته او مخکې کړو، لکه:(هتود) نو معنا له لاسه ورکوي او بې معنا ترکیب ځنې جوړېږي. د (برني) لغت درې مورفیمونه

لري(بر، ن، ی) که د مورفیمونو ځای بدل کړو، نو بې معنا غږیز ترکیب به شي یا بې معنا لیکلی ترکیب به ځنې جوړ شي، لکه(ینبر).
د پورتنیو لیکنو له مخې ویل کېدای شي چې لغات دریځي خپلواکي لري، یو تر بله سره په قطاریز ډول مقید نه دي، خو مورفیمونه دغه ډول خپلواکي نه لري. په پښتو ژبه کې لغتونه په وینا کې د نویو لغتونو په راوړلو سره یو تر بله جلا کېدای شي. خو مورفیمونه دغه ډول خپلواکي نه لري. په پښتو ژبه کې لغات په وینا کې د نوو لغتونو په راوړلو سره یو تر بله جلا کېدای شي. د مورفیمونو تر منځه هم په ځینو مواردو کې دغه ډول خپلواکي میسره ده چې د ځینو ډېرو مورفیمونو لرونکو لغتونو د لومړي مورفیم پسې بل مورفیم راوستل شي. دغه ډول خپلواکي څومره چې لیدل کېږي، په فعلونو د(مخ وندي) څخه وروسته بل مورفیم راوستل کېږي(لودین، ۱۳۵۵، ۲۱ مخ).
له غږیز، املایي او مورفولوژیکي نظره د ویي څېړنه

مورفولوژي (صرف) د گرامر هغه برخه ده چې په هغه کې د یوې ژبې ټاکلي مورفیمونه او د هغوی جوړښت، ترکیب، گردان او د هغوی ډولونه تر څېړنې او بحث لاندې نیول کېږي.

مورفیم بیا هغه کوچنی ژبنی مانیز واحد دی چې که تجزیه شي، خپله معنا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزیه کېدو څخه بې‌معنا آوازونه لاس ته راځي. مورفیم یو نه تجزیه کېدونکی واحد دی (خویشکی، ۱۳۸۹، ۱۹ مخ).

دلته مو ځکه په لنډه توگه د مورفولوژي یادونه وکړه چې کله ناکله ویي او مورفیم یوه معنا مومي، خو کله بیا داسې کېږي چې ناخپلواک مورفیمونه کلمې یا ویي نه دي. چې دلته په لنډه توگه د مورفولوژي له نظره پر ویي (کلمه) بحث او خبرې وکړو.

کلمه یو رواني واحد دی چې غالباً بېل ویل کېږي او لیکل کېږي او لغوي معنا لري. کله تل خپلواک او مستقل مفاهیم لېږدوي، خو مورفیم یو لفظي واحد دی چې لغوي او گرامري معنا لري. مورفیم کله بېل او کله د یوې کلمې د جز په توگه راتلای شي. مورفیم یو گرامري نه تجزیه کېدونکی واحد دی. همدارنگه هرې کلمې ته مورفیم نه شو ویلی او هر مورفیم ته کلمه، یوازې بسیطې کلمې خپلواک مورفیمونه بلل کېدای شي. د بېلگې په توگه، بنوال یوه کلمه ده چې له دوو مورفیمونو «بن» او «وال» څخه جوړه شوې ده، نو بنوال یو معنا لرونکی واحد دی چې د تجزیې وړ دی، یعنې «بن»

یو خپلواک مورفیم دی او «وال» یو وروستاړی دی چې یو ناخپلواک مورفیم دی (خویشکی، ۱۳۸۹، ۲۱ مخ).

مخکې له دې چې د لغتونو په عمومي وېش خبرې وکړو، مهمه ده چې د ولې (رېښې) او همدارنګه د وروستاړو او مختاړو په اړه لنډه رڼا واچوو، ځکه له همدغو څخه وییونه او کلمې منځ ته راځي او بیا د وییونو له یوځایوالي څخه ترکیبي لغتونه منځ ته راځي.

په اوړوني (تصریفي) او ترکیبي ژبو کې د وییونو په شنلو کې ولې او لاحقې یو تر بل جلا کېدای شي. رېښه (ماده) د اصلي او بنیادي تصور لېږدونکې وي او له دې سره د مختاړو او وروستاړو په یوځای کولو سره د ژبو د لغتونو او لفظونو ټوله شتمني منځ ته راځي او وجود مومي. رېښه (ماده) یو کلک وجودي تصور وړاندې کوي چې ترې زیاتره انساني کړنې څرګندېږي. له دغو وجودي تصوراتو څخه د ولسونو له ذهني ارتقا سره سم مجرد تصورات وده مومي او د نویو تصوراتو لپاره نوي ترکیبونه را منځته کېږي. له مختاړو او وروستاړو څخه د نویو ترکیبونو په منځته راتګ او وضع کولو کې ګټه اخیستل کېږي. د لاحقو په اړه دا فکر موجود دی چې دوی هم په لومړیو کې تصورات او خیالونه ښکاره کول او لغتونه وو چې له نورو لغتونو سره له یوځای کېدو څخه به یې نوي مرکب تصورات منځته راتلل، خو اوس دغه لغتونه د غړیزې توګه د زیات استعمالېدو یا تر ډېرې کچې پورې عام کېدو وروسته یو رکني سابقې او لاحقې پاتې شوې دي.

بل بحث چې د ویي او مورفیم په برخه کې ارزښتمن دی، هغه دا چې خپلواک مورفیمونه، بسیطې کلمې او وییونه دي او ناخپلواک مورفیمونه بیا ویي او کلمه نه ده.

وړاندې هم په دې اړه وغږېدلو چې مورفیم د ژبې تر ټولو کوچنی مانیز عنصر دی چې د څو آوازونو له یوځای کېدو څخه جوړېږي او له تجزیه کېدو څخه یې بېمعنا آوازونه یا په بله وینا بېمعنا عناصر لاس ته راځي.

مورفیم په دوو ډولونو وېشل کېږي:

۱. خپلواک، غیرمقید مورفیمونه؛

۲. ناخپلواک، مقید یا تړلي مورفیمونه.

ناخپلواک، مقید مورفیمونه ((Bound Forms

د یوې ژبې په عبارت او وینا کې هغه وړې ټوټې او برخې چې په ځانګړې او مستقل ډول د استعمال وړ نه وي، یعنې که په ځانګړي او خپلواک ډول استعمال شي، نو هېڅکله هم معنا نه ورکوي، ناخپلواک مورفیمونه بلل کېږي (خویشکی، ۱۳۸۹، ۲۳ مخ).

## ۲.۴ د ویې او معنا ترمنځ د اړیکو څېړنه

دا چې معناپوهنه د یوې ټاکلې ژبې د کلمو له معناوو څخه بحث کوي، نو د ژبپوهنې په دې برخه کې په کلمو، عبارتونو او جملو کې د غږیزو او ویېزو جوړښتونو په پرتله معنا ته یې زیات ارزښت ورکول کېږي. د کلمو د ویلو، لیکلو یا هم اورېدلو او استعمال پر مهال ښایي له یوې کلمې څخه یو تن یوه معنا واخلي او بل ترې بل ډول اخذ وکړي چې په ژبپوهنه کې ورته ( (IndividualیاReferential ) (Meaningوایي او هغه چې ټول یې په یوه معنا او مفهوم کاروي، ډله‌ییزه معنا ( Associative (Meaningیې بولي. ځینې ویېونه چې په یوه ټاکلې سیمه او جغرافیه کې کارول کېږي او د نورو سیمو وګړي یې نه کاروي، د دې لامل کېږي چې په ټاکلې ژبه کې ویېز یا مانیز توپیرونه را منځ ته شي.

هغه لومړنۍ او ارزښتمنه معنا چې یو لغت یې لېږدوي، د لغوي (Referential Meaning) په نوم یادېږي. دا هغه معنا ده چې قاموسونه او لغوي فرهنګونه یې د یوه ټاکلي ویې د مانیزې افادې لپاره کاروي. د بېلګې په توګه، که د «چاقو» کلمه په قاموس کې وپلټو، نو معنا به یې «چاړه، چړه، اوسپنیزه پرېکوونکې اله...» وي چې دا د چاقو کلمې لغوي معنا یا مدلوله (Referent) ده، خو که څوک له همدغې کلمې څخه د «وینې، زخم، درد...» معنا واخلي، نو د یادې کلمې ضمني یا اصطلاحي معنا ده چې په معناپوهنه کې ورته ( (Connotative Meaning وایي.

مثلاً: کتاب احمد لولي. که دغه جمله وشنو، نو د پښتو ژبې د ګرامري او جملې جوړښت له مخې کتاب (فاعل)، احمد (مفعول) او لولي (فعل) دی چې د پښتو جملې د جوړښت له مخې یې ترتیب سم او هر یو په ترتیب سره په خپل خپل ځای کې کارول شوي دي؛ خو کله چې د جملې معنا ته راشو، نو ستونزه را پورته کېږي، یعنې «کتاب» چې د جملې فاعل دی، یو بې‌ځانه څیز دی او د دې

توان نه لري چې کوم کار ترسره کړي. احمد چې په پورتنۍ جمله کې مفعول واقع شوی او دلته د کتاب له لوري پرې کار (لوست) ترسره کېږي، نو مانيزه ستونزه را پورته کېږي. ځکه چې د «کتاب او احمد» ځايونه سره بدل شوي دي، خو فعل «لولي» په خپل ځای کارول شوی دی، خو که ووايو چې «احمد کتاب لولي»، نو دغه جمله له پښوييز او مانيز اړخه هېڅ ستونزه نه لري، ځکه چې د جملې مبتداء (فاعل) له خبر (فعل) سره سمون او مطابقت ښيي او هېڅ مانيزه ستونزه نه را منځ ته کوي.

په هره ژبه کې د غږونو، کلمو او جملو تر څنګ معنا هم يو مهم او ارزښتمن توکی ګڼل کېږي. د ژبې موخه هم د معنالرونکي پيغام لېږدول يا ترلاسه کول دي. په خپله «معنا څه ده؟ يا معنا څه ته وايي؟» هغه پوښتنه ده چې ژبپوهانو يې د ځوابولو لپاره دوه زره کاله هلې ځلې کړې دي. دا پوښتنه په بېلابېل ډول ځواب شوې ده. په يوه ځواب کې راځي چې په يوه ټاکلې ژبه کې د معلوماتو او انځورونو يا هغو څېزونو چې زموږ په ذهن کې يې ځای نيولی، په وييزه او لغوي بڼه وړاندې کول معنا ګڼل کېږي. په بل ځای کې ويل کېږي معنا په يوه ټاکلې ژبه کې د توکو او څېزونو پېژندنه او د هغوی له منښت څخه عبارت ده، لکه: د «پيشو» کلمې په اورېدلو سره په ذهن کې د يوه ټاکلي ژوي انځور مخ ته راتلل چې څلور پښې، دوه غوږونه، لکۍ او ... نور لري، خو دا ځواب بيا له ځان سره نورې پوښتنې راولاړوي او ښايي د هغو پوښتنو ځوابونه د نورو پوښتنو د را پورته کېدو لامل شي. همدا لامل دی چې د معناپوهنې لمن ډېره ارته او په نورو پوهنو (فلسفه، روانپوهنه، ساينس، انسانپېژندنه، پولنپوهنه...) کې هم خپل پام‌وړ د استعمال ځايونه لري. دغه واړه پوهنې بيا په خپل وار سره له ژبې سره تړاو لري او معنا بيا په ژبه کې يو غوښن او مهم عنصر دی.

فکرونه او تصورونه د لغتونو پر مټ لېږدول کېږي، خو يوازې لغتونه ورته بسنه نه کوي، دا ځکه چې له ژبني اړخه د تصوراتو په لېږد کې ګرامري جوړښت او د لغتونو ترمنځ اړيکې او تړاو هم له پامه نه شي غورځول کېدای، لکه په لاندې بېلګو کې:

سپي غوښه وخوړه.

غوښې سپی وخوړ.

که له ګرامري اړخه دواړه پورتنۍ جملې وڅېړو، کلمې او ترکيبونه هر يو په خپل ځای او سم واقع شوي دي. خو له مانيز اړخه دويمه جمله ناسمه او لومړۍ هغه يې سمه او منطقي ده. د لومړۍ

جملې فاعل (سپی) چې یو ساکښ موجود دی، د کار او عمل ترسره کولو توان لري، خو د دویمې جملې فاعل (غوښه) چې یوه بې‌ساه پدیده ده، په خپله د کوم کار او عمل ترسره کولو توان نه لري. یوازې کار پرې ترسره کېدای شي او په جمله کې مفعول واقع کېدای شي.

نو په یوه ژبه کې د سمې او پوره معنا د لېږد لپاره اړینه ده چې:

۱. سم لغتونه غوره او ترتیب کړای شي.

۲. په جمله کې غوره شوې کلمې باید په ګرامري توګه و اوډل شي.

۳. د کلمو ترمنځ تړاو (فاعل او مفعول) یا لغت او تصور ترتیبي بڼه ولري، څو معنالرونکی پیغام ولېږدوي.

په یوه ژبه کې هر لغت د ځانګړي تصور، تصویر او معلوماتو لرونکی او لېږدوونکی دی، خو د کره او پوره معنا لېږدونې لپاره کلمې او لغتونه باید په پورتني درې شمېریز ترتیب سره و اوډل شي؛ نو بیا هر لوستونکی او اورېدونکی ترې کره او پوره معنا اخیستلی شي (څولیزی، ۱۳۹۹، ۱٦۵ مخ).

## ۴. ۲. ۱ لغوي او ګرامري معنا

معنا د یوې ژبې د روح حیثیت لري. هره ژبه په لغتونو او جملو کې د هغو تصوراتو ښکارندویه ده چې د همدغو لغتونو له ترښت څخه را منځ ته کېږي. د مناسب او کره مفهوم او تصور د څرګندونې لپاره باید له ګرامري اړخه سمه او کره وي.

د یوه لغت له لغوي معنا څخه مطلب دا دی چې یاد لغت باید هغه مفهوم او تصور د کوم لپاره چې کارول شوی، په بشپړه توګه ورسولی شي او لوستونکی او اورېدونکی یې د یاد لغت په اورېدو سره مفهوم په ذهن کې ترسیم کړي. لکه: زمری، غوا، اوښ، مېز، چوکی... چې د هرې کلمې په اورېدو سره د یاد څيز شکل مو په ذهن کې انځورېږي، خو کله چې وایو «زمري پیشو وخوړه»، دا یوه جمله ده چې د یوې ټاکلې ژبې د ګرامري جوړښت پر بنسټ باید جوړه او پوره معنا ولېږدولی شي. که یې کره او پوره مفهوم افاده نه شو کړای، نو هغه به یوه غیرګرامري جمله وي.

په ټوله کې معنا د دوه ډوله کلمو په وسیله څرګندېږي:

۱. خپلواکې کلمې (Open Class Words): هغه کلمې چې ځانګړې او خپلواکه معنا لري. لکه: نوم، ستاينوم، نومځرى، شمېرنوم، قيد، فعل...

۲. ناخپلواکې کلمې (Close Class Words) هغه ګرامري کلمې دي چې د جملې په جوړښت کې يې معنا له نورو کلمو سره له تړاو څخه څرګندېږي. لکه: ويیکي يا ادات، سرينې، پسينې، تړوييکي...

مثلاً: احمد په کتابتون کې درس لولي. په دغه جمله کې «احمد، کتابتون، درس، لولي» خپلواکې کلمې دي، ځکه چې خپلواکه او ځانګړې معنا لېږدي او «په، کې» دوې ناخپلواکې کلمې يا تړلي مورفيمونه دي چې له خپلواکو کلمو يا مورفيمونو سره يې د جملې په جوړښت کې مرسته کړې او معنا يې هم د همدغو کلمو پر بنسټ څرګندېږي.

بله خبره دا چې همدغه خپلواکې او ناخپلواکې کلمې له موږ سره مرسته کوي چې د جملو ګونګوالى درک او په اصلي مطلب يې وپوهېږو. په جمله کې ګونګوالى يا ناڅيکوالى په دوه ډوله دى:

الف ــ لغوي ګونګوالى

ب ــ جمله‌ييز ګونګوالى

لکه: زوى مو راغى. په دې جمله کې «مو» هغه کلمه ده چې په جمله کې يې ګونګوالى را منځته کړى دى، يعنې دلته د «مو» جمع ضمير داسې کارول شوى چې نه ترې ښکاري چې دغه ضمير د جمع متکلم لپاره کارول شوى او که د جمع مخاطب لپاره استعمال شوى دى (ځوليزى، ۱۳۹۹، ۱٦۸ مخ).

## ۴. ۲. ۲ د لغتونو ډولونه

په هندو اروپايي ژبو کې لغتونه په درې ډوله دي:

۱. ساده: چې «ماده» وي.

۲. مشتق: چې لومړنې وروستاړي (لاحقې) ورپورې تړلو څخه جوړ شوي وي. په مشتقو وييونو کې د ثانوي وروستاړو (لاحقې) ورپورې تړلو څخه ثانوي مشتقات جوړېږي.

۳. مرکب لغتونه: چې له ولې (مادې) سره د مختاړو یا هم نورو لغتونو له یوځای کېدو څخه جوړېږي یا هم ویلای شو چې د دوو لغتونو له یوځای کېدو څخه جوړېږي.

هسې خو که وګورو لغات ډېر ډولونه لري او دلته موږ نه شو کولای چې په هر اړخیزه توګه د لغاتونو په اړه بحث وکړو او ټول ډولونه یې واضح کړو، ځکه د لغتونو په اړه څېړنه اوږده، ځانګړې او هر اړخیز بحث ته اړتیا لري. هڅه کوو دلته د هغو موضوعاتو په اړه بحث وکړو، کوم چې زموږ له موضوع، یعنې «نیولوجیزم» سره نږدېوالی لري او په یو ډول نه یو ډول ورسره اړیکه لري او یا هم د نیولوجیزم په بحث کې یې څېړل ضروري دي.

لغتونه او کلمې له مختلفو اړخونو څخه بېلابېل ډولونه او اقسام لري. د بېلګې په توګه که د مورفولوژي له زاویې څخه لغتونه څېړو، نو د لغتونو یو ډول وېش منځ ته راځي، که د پورویپوونو او خپلو اصیلو کلمو له مخې د لغتونو وېش کوو، نو بل ډول تقسیم منځ ته راځي، چې دلته به د موضوع د روښانتیا لپاره د لغتونو مختلف ډول تر خپلې وسې پورې تحلیل او خبرې پرې وکړو.

## ۴. ۲. ۳ مترادف لغتونه (Synonyms)

له نیولوجیزم سره د لغتونو یو ډول چې نږدېوالی لري، هغه مترادف لغات دي، ځکه په مترادفو لغاتو کې هم نوي جوړونه خپله ځانګړې ونډه لري. بله خبره دا چې په مترادفو لغتونو کې د مستعارو کلمو یا پورویپوونو موضوع هم مطرح ده او مستعارې کلمې د ترادف د منځ ته راتګ یو ډول تشکیلوي. دلته به لومړی د مترادفو لغاتو د پېژندنې په اړه معلومات وړاندې کړو او ورپسې به د پورویپوونو په اړه بحث ولرو.

مترادف لغتونه هغه کلمې دي چې د معنا او مفهوم له مخې یو له بل سره معادلې دي. دغه کلمې په وینا او یا لیکنه کې د یوه لغت د تکرار د مخنیوي لپاره کارول کېږي. انګریزي ژبې چې له خپلو پراخو سرچینو څخه یې پوره ګټه اخیستې ده، د مترادفو لغتونو له اړخ څخه هم ډېره غني ده. دا کار د دې لامل شوی چې انګریزي د لغتونو پراخه زېرمه ولري. ترادف د یوې ژبې پر لغوي بډاینه او رنګارنګۍ دلالت کوي. ژبې د وینا او لیکنې په برخه کې ښکلا وربخښي.

د مترادفو لغتونو یوه بله ګټه دا ده، کله ناکله د یوه مفهوم لپاره موږ نه شو کولای چې دقیقه او عیني کلمه پیدا کړو، نو پر ځای یې یوه بله مترادفه کلمه کاروو.

یا هم: مترادف لغات هغه دي چې دوه، درې لغات یوه ګډه معنا ولري، مثلاً: «تندی، ټنډه، وچولی» چې درې واړه د پارسي ژبې د «پیشاني» په معنا استعمالېږي (رښتین، ۱۳۷۸، ۴۴۲ مخ).

ادبي پښتو د خپل پرمختګ په اوسنۍ مرحله کې د مترادفو الفاظو یو پوره سیستم لري. د بدیعي، علمي، تخنیکي او متونو د تجزیې او تحلیل نه څرګندېږي چې ترادف په پښتو کې ډېر تعمیم پیدا کړی دی او ډېر په کې لیدل کېږي. کېدای شي چې یوه معنا په مختلفو الفاظو سره ادا شي، مثلاً د یوه مفهوم لپاره خلک، قوم، اولس او ملت استعمالوي. اخبار، جریده، ورځپاڼه یوه معنا لري. سپین، سپېڅلی، ستره، صاف او پاک یو مطلب لري. غریب، فقیر، مسکین، بېوزلی، تش لاسی، بېبضاعته او خوار د یوه مفهوم لپاره استعمالېږي (سیکوف، ۱۳۴۵، ۲۶ مخ).

باید وویل شي چې مترادف الفاظ له مختلفو ژبو نه منځ ته راځي. لکه په پښتو کې د عربي، پارسي، ترکي، هندي او نورو ژبو کلمات. د مترادفو الفاظو د اتیمولوجیکي تجزیې له مخې د ترادف لاندې درې منبعې ټاکل کېږي:

۱. د ترادف منبع به پښتو وي، یعنې مترادف الفاظ به سوچه پښتو وي.

۲. د ترادف منبع به خارجي ژبې وي، یعنې دواړه مترادف لفظونه به له خارجي ژبو نه وي.

۳. د ترادف منبع به پښتو او خارجي ژبه وي، یعنې یو مترادف به پښتو او بل به د بلې ژبې څخه وي چې دې ته مخلوط ترادف هم وایي.

ترادف د یوې ژبې د پراختیا نخښه ده، په دې برخه کې پښتو یو ښه مناسب او لوړ مقام لري. پښتو د پراختیا او وسعت په غرض له نورو ژبو نه هم استفاده کړې ده. له پارسي سره په تماس کې ده چې دا تماس بېتاثیره نه دی پاتې شوی او د پارسي په ذریعه ډېرې عربي کلمې پښتو ته راغلي دي (سیکوف، ۱۳۴۵، ۲۶ مخ).

په دې وروستیو وختونو کې د لوېدېزې اروپا له ژبو نه او خصوصاً له انګلیسي څخه ځینې کلمې پښتو ژبې ته راغلې دي.

«لیکوال: دا مقاله په ۱۳۴۵ هـ. ش کال کې لیکل شوې او خپره شوې ده، ځکه هلته د ځینو انګلیسي کلمو د راتګ خبره شوې ده او هغه مهال له غربي نړۍ سره د پښتو ژبې روابط ډېر نه وو، مګر ویلای شو چې انګلیسي اوس د علم، اقتصاد، سیاست او ډېرو نورو برخو ژبه ده او د انګلیسي په ذریعه بین‌المللي کلمې پښتو ژبې ته راغلې دي.»

بل دا چې د پښتو لویو استادانو لکه: رښتین، الفت، حبیبي، خادم، بېنوا او نورو د پښتو ژبې نوې اصطلاحګانې جوړې کړې دي چې په نتیجه کې له دې کار نه هم یوه سلسله مترادف الفاظ منځ ته راغلي دي، لکه: مکتب = ښوونځی، معلم = ښوونکی، فاکولته = پوهنځی او داسې نور... (سیکوف، ۱۳۴۵، ۲۷ مخ).

مخکې د دې خبرې یادونه وشوه چې ترادف یا مترادف لغات له نیولوجیزم سره نږدېوالی لري. هغه په دې معنا چې په پښتو ژبه کې د نیولوجیزم بهیر ډېر ورو او قرار مخ ته ځي او د نورو ژبو په څېر نه دی چې کله د علم، ټکنالوژۍ او د ژوندانه د نورو وسایلو له لارې یې پردي لغات ژبې ته داخلېږي، نو وړاندې له دې چې په ټولنه کې عام او خپاره شي، هلته علمي او ژبني مرکزونه نوې جوړونې کوي. خو په پښتو ژبه کې حتی له کلونو وروسته د پردیو کلمو لپاره په نویو جوړونو لاس پورې کېږي چې دا چاره پر خپل ځای ترادف منځ ته راوړي، هغه داسې چې د خارجي ژبو لغتونه په ټولنه کې خپاره او عام شوي وي او وروسته د هغو د ځای نیولو لپاره نوې جوړونې کېږي.

همدا وجه وي چې ډېر څله پښتو نوي جوړ شوي لغتونه د بهرنیو لغتونو ځای نه شي نیولای او پر وړاندې یې ماتې خوري او یوازې د کتابونو په پاڼو کې خوندي پاتې کېږي.

لوړ مو د جوړښت له مخې د وییونو په اړه رڼا واچوله، خو د لغتونو نور ډېر ډولونه هم شته چې په خپلو ځایونو کې به بیا پرې خبره وشي، د بېلګې په توګه د یوې ژبې خپل لغتونه او یا هم پور (پردي) لغتونه، خو دلته یو بل ډول ته هم اشاره کوو چې هغه د مورفولوژۍ له مخې وېش دی.

## ۴ . ۲ . ۴ د مورفولوژي له مخې د لغت ډولونه

نوم

نوم هغه کلمه ده چې د يوه شي، کس يا کار د نومولو لپاره کارول کېږي. نوم هغه کلمه ده چې کولای شي د ايښي، مضاف‌اليه رول ولوبوي.

لکه: انسان، آس، کښېناستل، کابل، ونه، کتاب او داسې نور...

عام او خاص نوم

عام هغه نوم دی چې خپل همډوله او همجنسه افراد او څېزونه راونغاړي، لکه: ولس، ښځه، ښار، قلم او کتاب.

خاص نوم

هغه نوم دی چې په يوه ځانګړي کس، شي او يا هم ځای باندې دلالت وکړي. لکه: کابل، قرآن کريم، جنت او دوزخ.

ساده او مرکب نوم

د ساده نوم يو جزء وي او نشو کولای چې هغه تجزيه کړو، لکه: حسن، کتاب، ښځه، سړی.

مرکب نوم بيا هغه نوم دی چې له يوه جزء څخه ډېر ولري او يا هم حداقل کولای شو چې يو جز يې په بل ځای وکاروو. لکه: ورځپاڼه، پوهنتون، زړه خوږی.

غږنوم

غږنوم هغه کلمه ده چې معنا نه لري او يوازې د يوه غږ بيانونکی وي او يا هم په بله وينا د يوه طبيعي غږ تقليد وي.

شرهار، کړنګهار، ميو...

نومځری (ضمير)

هغه کلمه ده چې د نوم ځایناستې کېږي. نومځري په هره ژبه کې د یوه نظام درلودونکي وي: زه، ته او داسې نور...

کړ (فعل)

فعل د ایښوني بنسټیز جزء دی چې څلور مفهومونه، د کار ترسره کېدل، د یوه حالت پېښېدل او منل، مهال (تېر، حال، راتلونکی)، شخص (لومړی، دویم، درېیم) او شمېر (یوګړی، جمع) سره رسوي.

لکه: مغول راغلل، ویې لوټل، ویې سېځل، ویې وژل، یو یې وړل او ولاړل.

ستاینوم (صفت)

صفت هغه کلمه ده چې د نوم یوه ځانګړنه بیانوي، یعنې د نوم څرنګوالی بیانوي. لکه: ښه ملګری، ښکلی هېواد.

تفضیلي ستاینوم: هغه صفت ته ویل کېږي چې یوه شي ته پر بل څیز باندې لوړوالی ورکوي.

لکه: تنبل انسان لږ کار کوي او ډېر آرام.

موصوف (ستایل شوي) هغه نومونو ته ویل کېږي چې د صفت په وسیله ستایل کېږي. لکه: پوه انسان، ښه سړی، هوښیاره ښځه.

قید

قید د فعل ځانګړتیاوې بیانوي، یا هم ویلای شو: قید هغې کلمې ته ویل کېږي چې د فعل د سرته رسولو یوه ځانګړنه بیانوي.

لکه: زمان، مکان، تکرار، حالت، نفې او داسې نور...

لکه: لږ خلک پر دې پوهېږي چې خپل وطن تر بل هر ځای خوږ دی.

غږ (صوت)

غږ هغه کلمه ده چې د یوه فعل او یا جملې رول سرته رسوي، له دې پرته چې د هغو بڼه ولري.

لکه: آه، کاشکې، اخ، اوف او داسې نور...

اخ چې نه مې وای لیدلی.

اېښی

د جملې هغه برخه ده چې د هغې په اړه خبرې کېږي او یا هم معلومات ورکول کېږي.

د کابل هوا ډېره سړه ده.

اېښوونی

هغه خبر دی چې د اېښي په اړه ورکول کېږي، چې فعل د اېښووني په برخه کې راځي.

مصدر

هغه نوم دی چې پر یوه کړ (فعل) یې ږدو. یا هم هغه نوم دی چې د فعل معنا پرته له مهال، شخص او شمېر څخه لري.

لکه: تلل، کښېناستل، خوړل، راوړل، پخول، راتلل او داسې نور...

## ۴. ۳ د پښتو ویي د ډولونو څېړنه

انساني ټولنې د پیدایښت له وخته بیا تر اوسه پورې په اقتصادي، تخنیکي، تولیدي، ټولنیزو اړیکو او نورو برخو له بېلابېلو بڼو سره مخامخ شوې دي. د انساني ټولنې له هر ټبر سره خپله ژبه ملګرې ده/وي او له دوی سره د ګډون او اړیکو موندلو په برخه کې مرسته کوي. ژبه د هر ټبر له اړتیاوو سره سمه پراختیا مومي. که کوم ټبر په پوهنه او هنر کې پرمختللی وي، پوهنې او هنر ډېره پراختیا موندلې وي، نو ژبې به یې هم په هماغه اندازه ورسره پراختیا موندلې وي. که کوم ټبر د تاریخ په اوږدو کې له پرمختګ څخه بېرته پاتې شوی وي او مخ پر ځوړ یې د تګ لوری غوره کړی وي، نو ژبه به یې هم خامخا ورسره مخ په ځوړ روانه وي. ډېر لغات به یې مړه شوي وي چې هغه لغتونو ته بیا د هیستوریزم په ډله کې راځي (لودین، ۱۳۹۵، ۷۹ مخ).

که چېرې موږ د یوې ژبې لغوي زېرمه تر ځېړنې لاندې ونیسو، نو ګورو چې ارخاییزم هم په دې برخه کې لویه ونډه لري. موږ د خپلې ژبې له پخوانیو لغتونو او کلمو څخه هم سترګې نشو پټولای او همدغه پخواني لغتونه د یوې ژبې د لغوي زېرمې له څلورو برخو څخه یوه برخه تشکیلوي او موږ کولای شو چې له همدغې پخوانۍ پانګې څخه د خپلې ژبې اوسنۍ زېرمه غني کړو او د خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې کار ترې واخلو.

د ارخاییزمونو یوه بله ګټه دا ده چې په فطري توګه د ژبې ویونکي له خپلو پخوانیو او زړو کلمو سره مینه لري او په کارولو سره یې یو ډول د ویاړ احساس کوي. نو که چېرې دې برخې ته هم پام وشي، نو په ډېره اسانۍ سره موږ پخواني لغتونه او کلمې راخیستلی او په ټولنه کې دودولی شو، خو خبره دا ده چې دا لغتونه په خپله نه تولیدېږي، بلکې د ژبې د متخصصو کسانو له خوا له زړو متنونو څخه را ایستل کېږي، ټولنې ته وړاندې کېږي او بیا تر هغه وروسته عمومیت مومي او کارول یې عامه بڼه خپلوي.

خو موږ دا نشو ویلی چې نیولوجیزم د ارخاییزم پر وړاندې ولاړ دی، ځکه نیولوجیزم خپل ځای لري او ارخاییزم خپل، خو څه نا څه چې د ارخاییزم برخه په پښتو ژبه کې پیکه ده، لامل یې دا دی چې دا چاره او کار ډېرو سترګیاوو ته اړتیا لري.

دا خبره هم د پام وړ ده چې موږ په یو مخیزه توګه باید یوازې او یوازې نویو جوړونو ته مخه نه کړو، بلکې هم باید په زړو متونو او آثارو کې په لغتونو پسې ځانونه ستړي کړو او هم د خپلې ژبې په ګڼو لهجو کې د لغتونو لټه وکړو. په دې حالت کې بیا یوه برخه پر بله منفي اغېزې نه کوي او په یو اړخیزه توګه یوې برخې ته مخه شي، نو دا طبیعي خبره ده چې بله برخه به ترې متأثره او اغېزمنه کېږي.

د ارخاییزم په برخه کې کله ناکله دا خبره هم مخې ته راځي چې زموږ د خپلې ژبې (پښتو) خو ډېر لرغوني لیکلي آثار لاس ته نه دي راغلي، نو موږ په دې برخه کې پراخ لاس نه لرو. دا په دې معنا نه ده چې موږ په لرغونو لغتونو پسې ګرځو او که لرغوني نه وي، نو موږ هغه نه را اخلو، بلکې هغه لغتونه چې په زړو متونو کې پراته وي، خو ببرته نه وي را دود شوي، را اخلو یې او دا مهمه نه ده چې حتماً دې د لرغونو زمانو وي.

موږ که د امیر کروړ له ویاړنې څخه پیل را وکړو او بیا تر ننه پورې پښتو ژبه سلګونه پخواني آثار لري او په دغو آثارو کې داسې لغتونه او کلمې په پرېمانه پیمانه شته دي چې موږ یې را واخلو او یو ځل بیا یې د ژبې په ژوندیو لغتونو او کلمو بدل کړو او د خپلې ژبې لغوي زېرمه پرې غني کړو.

ځینې لیکوالان ارخاییزم ته دومره ارزښت او اهمیت ورکوي چې په زړو متونو او لهجو کې له پلټنې پرته نوې جوړونې ظلم ګڼي. د لغوي څېړنې اثر په سریزه کې لیکل شوي دي: د ظلم بل اړخ په ژبه او د هغې په ټولو لهجو کې د لغتونو او کلماتو تر پلټنې او راټولونې له مخه د نویو پښتو کلماتو وضع کول او رواجول دي (الفت، ۱۳۲۱، ۱٦۴ مخ).

دا خپله د ارخاییزمونو پر اهمیت دلالت کوي، نو مهمه ده چې د ژبې پخواني لغتونه له پامه ونه غورځول شي. د کومو چې د بیا ژوندي کولو او دودولو شونتیا موجوده وي، باید را واخیستل شي.

که موږ د خپلې ژبې اوسنیو کلمو ته ځیر شو، نو ویلای شو چې یو اساس او بنسټ یې پخواني لغاتونه او کلمې دي. د بېلګې په توګه، موږ ډېرې اصیلې او پخوانۍ کلمې لرو چې یو شمېر یې مړې دي او یو شمېر یې بیا راژوندۍ شوې دي. هغه اصیلې کلمې چې را ژوندۍ شوې دي، زړویزونه یا ارخاییزم بلل کېږي او کومې یې چې لا تر اوسه مړې پاتې دي، هغه د هیستوریزم برخه ګڼل کېږي، نو ویلای شو چې ارخاییزم د ژبې د لغوي زېرمې یوه غني څانګه ګڼل کېږي او باید جدي توجه ورته وشي.

د لا ښه وضاحت لپاره د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا هغه ارخاییزمونه را اخلو چې نن ورځ په لیکنۍ پښتو کې په ډېرې مینې سره کارول کېږي او د پښتو ژبې اوسنۍ لغوي زېرمه یې بډایه کړې ده.

د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا د پښتو ژبې لومړنۍ را پاتې تذکره ده چې د (٦١٢) شپږسوه دولسم هـ. ق. شاوخوا لیکل شوې او د پښتو ژبې د نثر خورا قدیمه بېه ګڼل شوې چې زموږ د معاصرینو لاس ته رارسېدلې ده. دلته یوازې یو شمېر هغه لغات څېړل کېږي چې په تذکرة الاولیا کې راغلي دي. یو تعداد هغه کلمات چې په لیکنۍ پښتو کې کارېږي، اخیستنه یې د همدې تذکرة الاولیا له متن څخه ده:

وګروهید: ګروهېدل یا د ګروه (عقیده) له رېښې څخه د متعقد کېدو په معنا ده چې د پارسي له ګرون سره ورته ګڼل شوې ده. دا هغه زړه کلمه ده چې لرغونو پښتنو له اسلام سره یو ځای د عربي

(عقيده)، (اعتقاد)، (ايمان) او ځينو نورو اصطلاحاتو له راتګ څخه مخکې د خپلو مذهبي باورونو لپاره کاروله.

ګڼون: ګڼ، ګڼه؛ د شمېر او (شماره) په معنا ده او زما په ګومان لومړنۍ کارونه يې همدلته په تذکرة الاوليا ده چې د ګڼون لغت ورڅخه جوړ شوی، دلته ګڼون د رغون (جوړېدل) او يوون (اتحاد) په وزن د زياتوالي، ګڼ نفوس او ډېر شمېر په معنا دی. دا لغت د ګڼ (زيات) له رېښې څخه جوړ شوی دی.

مرستون: لغت د مرستې له رېښې څخه اخيستل شوی او دلته د مرسته غوښتونکي په معنا راغلی دی. لکه چې سليمان ليکلي دي: «او له څښتنه يې مرستون شوم.» (ون) وروستاړی دلته د مفعول په توګه راغلی، لکه: رغون، پرېکون، سمون او نورو پښتو کلمو کې چې راځي. ليکوال ليکي چې مرستون د مرستې ځای په معنا کارول کېږي، سم نه ښکاري، ځکه دلته (ت) د مرستې برخه ده، نه د «تون» برخه، لکه: په پوهنتون، زېږنتون، وسله تون او نورو کلمو کې چې په دې حساب د تذکرة الاوليا مرستون يو څه په زړه پورې او محاورې ته نږدې ښکاري(لېوال، ۱۳۹۸، https://mundigak.com/).

پاړکي: پوهېږو چې پاړکي د شعري قطعې ټوټې يا برخې په توګه تر ټولو متونو مخکې تذکرة الاوليا کې ياد شوي. له دې ښکاري پخوانيو پښتنو د خپلو اولسي او مدونو نظمونو، بيتونو او يا مسرو ته ځانګړي بومي نومونه درلودل چې پاړکی د قطعې په معنا يوه نمونه ده.

پېژندګلوي: تر هغه چې چا د تذکرة الاوليا متن نه وي لوستی، فکر کوي چې د «پېژندګلوي» کلمه به د اوسنيو نيولوجيستانو له خوا جوړه شوې وي، ځکه د لغت جوړونې له نظره نوې يا لږ تر لږه جوړه شوې ښکاري، خو په حقيقت کې داسې نه ده، بلکې دغه کلمه د سليمان ماکو له خوا دومره طبيعي کارول شوې چې ورڅخه دا ثابتېږي چې پېژندګلوي د وروړګلوي په څېر په خلکو کې زړه رېښه لري، «ګلوي» وصفي وروستاړی، له خورا زړو تاړو څخه دی چې له دوه مورفيمونو، «ګل» او «وي» څخه جوړ شوی دی. د «وي» مورفيم په خپلوي، پلوي او نورو کې همدغه ځای لري. پېژندګلوي د شناخت يا معرفت په فلسفي ـ عرفاني معنا ډېره خوږه راغلې، ځکه سليمان ماکو کاږي چې «خدای په پېژندګلوي تر ټولو لوی او بزرګ و.»

پښتنخا: د پښتو د سیمې په معنا دا کلمه په تذکرة الاولیا کې په زړه بڼه راغلې چې اوس په لړ بدلون «پښتونخوا» کارول کېږي. لیکوال ځینې نور زاړه لغات هم را اخیستي دي:

ـ پالنه: پرورش

ـ مېنه: ځای

ـ واکمن: د واک خاوند

ـ کټاره: تورې (دا یو ډول لویې او درندې تورې دي.)

ـ پپنا: پوپنا، نیست و نابود

ـ څښتن: خدای تعالی (ج)

ـ پړ: ملامت

ـ پیلوځې: مشعل

ـ بمیا: بومیا (مرشد، پیشوا) (لېوال، ۱۳۹۸، /https://mundigak.com).

## ۴ .۴ ارخاییزم (Archaism)

ارخاییزم ته په پښتو ژبه کې دکتور مجاور احمد زیار د «زړویزی» نوم کارولی دی او په اړه یې داسې لیکلي دي: هغه ویي ته وایي چې له متنو څخه را اخیستل شوی او د لیکنۍ بڼې له لارې د ویپانګې د ارکاییکې برخې په چوکاټ کې کارول کېږي او له مهال تېرېدنې سره یې دود ټولیزوالی مومي، لکه: هېواد، نړۍ، یون، نیاو، ښاخ (غرور)، څواک، ویی، آر، آره، لونل (نثارول) چې د پېښور خوا ته یې ګړویزی اړولې بڼه (نولل) بشپړ دود لري، همدا ډول «ویی» بیا د مردان خوا ته د «اووی، بول او قول» په معنا کارول کېږي (زیار، ۱۳۹٦، ۵۲ مخ).

د پښتو ځینې لغات به هم د نن ورځې په محاوره کې نه وي او له تلفظ څخه به لوېدلي وي او خپل ځای به یې د پارسي یا د پښتو کوم بل لفظ ته پرېښی وي، موږ باید دا راز لغات پیدا او ژوندي کړو او په دې لاره کې پلټنه شروع کړو. یعنې له یوې خوا خپلو زړو آثارو ته مراجعه وکړو او هغه لغات چې

زموږ په پخوانیو کتابونو کې لیدل کېږي او معنا یې ښه نه معلومېږي، په ډېر دقت وګورو او د مختلفو ځایونو له استعمال څخه یې صحیح معنا ځان ته معلومه کړو. له بلې خوا د پښتو په هره خوا کې وګرځو او د لغاتو راز راز معاني او مختلف استعمال تر نظر لاندې ونیسو چې موږ ته د لغاتو وضعي او اصطلاحي معاني ښکاره شي او د دغه معنوي تحقیق په اثر کې راته د لغاتو په لار کې یوه رڼا پیدا شي چې د لغاتو اشتقاقات او معنوي تعبیرونه ښه څرګند شي او په دغه ذریعه د خپلو پخوانیو لغاتو معاني هم راته روښانه شي او په لغاتو کې د تحلیل قوه او د لغت‌شناسي قریحه پیدا کړو (الفت، ۱۳۲۱، ۷۲ مخ).

نو که موږ د خپلو ترکیبي لغاتو نیلي او رېښې وپلټو، ډېر داسې لغات پیدا کولای شو چې د نن ورځې له تلفظ څخه لوېدلي دي او نورو لغاتو یې ځای نیولی دی.

لکه: زول چې د عمر په معنی په ترکیبي ډول مستعمل دی او د همسن او همعمر په ځای ویل کېږي. مګر یوازې زول په دغه معنا څوک نه پېژني او په خپله د عمر کلمه چې عربي لغت دی استعمالوي. د همزولي په کلمه کې سړي ته نه معلومېږي چې د «هم» بېله کلمه ده او «زول» بېله کلمه ده چې د عمر معنا لري او په آخر کې یې یوه (ی) زیاته شوې ده. لکه چې د همغاړي او همنامي په آخر کې هم زیاتېږي. نو سړی ویلی شي «زول» د عمر معنا لري، مګر په محاوره کې په بسیط ډول نه استعمالېږي او په ترکیبي ډول لا تر اوسه په ژبه کې باقي دی.

همدغه شان «نبز» د سیلاب په معنی د پښتو یو پخوانی لغت دی چې زیات پښتانه یې اوس په معنا نه پوهېږي او نه په خبرو کې اورېدل کېږي، مګر «نبزوی» هر چا ته معلوم دی او پېژني یې چې هغه لرګي ته وایي چې سیلاب راوړی وي، نو «نبز» بېله کلمه ده او «وړی» بېله کلمه چې دواړه مرکب شوي دي او یوه بله معنا یې پیدا کړې ده. دا مستعمل لغت زموږ یقین راولي چې نبز د سیلاب په معنا دی چې اوس له تلفظ څخه لوېدلی دی او د بلې ژبې د سیلاب وړی دی. مګر د دې امله چې له سیلاب څخه یوه داسې ترکیبي کلمه نه ده جوړه شوې چې هغه د نبز وړي ځای ونیسي، نو دا لغت په ژبه کې پاتې شوی او تر اوسه پورې ضرورت او احتیاج ساتلی دی (الفت، ۱۳۲۱، ۷۶ مخ).

موږ په خپله ژبه کې داسې ډېر لغات لرو چې له محاورې څخه لوېدلي دي او یوه پردي لغت یې ځای نیولی دی. مګر که لغوي پلټنه شروع کړو، د یوه بل لغت په رڼا کې یې پیدا کولی شو، لکه:

منګور چې نن له محاورې لوېدلی دی او په عوض یې مار ویل کېږي. مګر «منګری» په ژبه کې لا ژوندی لغت دی چې یو قسم مخصوص او نري مار ته ویل کېږي او موږ ته منګور د مار په ځای معرفي کوي، ځکه چې منګری د منګور تصغیر دی او له منګور څخه جوړ شوی دی، چې دا اشتقاق هر چا ته څرګند او ښکاره دی (الفت، ۱۳۲۱، ۷۸ مخ).

که موږ خپلو پخوانیو او زړو آثارو ته مراجعه وکړو، ډېر داسې لغات او تصریفات په خپلو زړو اشعارو کې مومو چې اوس نشته او هېر شوي دي. د همدغو لغاتونو بېرته را ژوندي کول او کارول ارخاییزم ګڼل کېږي.

د پښتو نیولوجېزم منظم او سیستماتیک بهیر له تېرو درو لسیزو را پیلېږي، خو د ارخاییزم برخه یې یو څه مخکینی تاریخ لري او کله چې موږ د پښتو د لرغونو لغتونو د بېرته را ژوندي کولو او یا له محاورو څخه و لیک ته د را لېږدولو پر بهیر غږېږو، نو د انصاف په حکم باید د فاضل استاد پوهاند رشاد هلې ځلې له پامه ونه غورځوو. استاد د لرغونو لغتونو یوه لویه برخه نظم او نثر ته را نقل کړې ده او ډېر داسې لغتونه یې په لیکنه کې کارولي دي چې په محاورو کې وو، خو قاموسونو ثبت کړي نه وو.

اروانښاد ګل پاچا الفت د «لودي پښتانه» د پوهاند رشاد تألیف په سریزه کې لیکلي دي: «... ښاغلي رشاد په پښتو لیکلو کې داسې لغتونو (زاړه لغات، م. هوتک) ته زیات مایل دی او د پخوانو په شان ځینې زاړه لغات په زاړه ډول استعمالوي، دا کار د ځینو مړو او نیمژواندو لغاتو د ژوندي کولو لپاره ښه دی او ده په کې هو دغه ګټه لیدلې ده» (هوتک، ۱۳۷۹، (http://hotakonline.com).

ژبې تغییر کوي، د تغییر په څنګ کې ژبني عناصر له منځه هم ځي. په ژبه کې د ورکېدو پدیده ډېره نه ده څېړل شوې، خو موږ له عمومي څېړنو څخه پوهېږو چې د لغتونو له منځه تلل ښایي په کلتور کې د تغییر له کبله منځ ته راشي. د مثال په ډول، نن هغه تخنیکي اصطلاحګانې چې په نجوم استعمالېدې موږ ته ګرانې برېښي، دا ځکه چې نن ورځ د ستورو پېژندنې علم په عامه توګه د کلتور برخه نه ده او په پخوانیو وختونو کې دا علم ډېر عام و، خو کله چې کلتور تغییر وکړي، لغتونه هم ورسره د ورکېدو او څنګ ته کېدو لوری ونیسي.

ژبه تل بدلون مومي. دا حقیقت هغه وخت ښه څرګندېږي کله چې موږ د څو پېړیو زوړ متن ولولو. همدا د ژبې بدلون دی چې لغتونه زړېږي او له کاره لوېږي او د همدې بدلون او تغییر غوښتنه ده چې ژبه نوي لغتونه خپل او د بشري ټولنې د وخت اړتیاوو او غوښتنو ته ځواب وو.ایي. کله چې د ژبې لغتونه له کاره ولوېږي، د ټولنې عام خلک بیا نه له هغو لغتونو سره سروکار لري او نه هم له هغو سره مخامخ کېږي. دا بیا د ژبې د متخصصو کسانو دنده او مسؤولیت جوړېږي چې له هېرو شویو او ورکو شویو لغتونو څخه د اړتیا او امکان په صورت کې ګټه واخلي او که شونې وه، ځینې لغتونه په نویو مفاهیمو وکاروي او د ژبې لغوي زېرمه پرې قوي کړي (وینفرید، ۱۳۹۹، ۲۲ مخ).

د لغتونو منځ ته راتګ او له منځه تګ په ژبو کې طبیعي چاره ده. د ځینو غوښتنو له مخې ځینې لغات د نویو لغاتو په څېر په ژبه کې پیدا شي، مګر بیا هماغه لغات تر ډېره پورې په ژبه کې نه پاتې کېږي او له منځه ځي. کوم لغات چې مړه شوي وي، نوموړي لغتونه د هیستوریزم په ډله کې راځي.

دلته د موضوع د ښه وضاحت لپاره د ژبې د لغتونو یوه بل ډول وېش ته اشاره کوو:

دا هغه کلمې او لغتونه دي چې هره ژبه یې د خپل ادبي میراث برخه ګڼي او د دغو لغتونو پر موجودیت ویاړ او افتخار کوي.

الف ــ رېښه لرونکې اصیلې ژوندۍ کلمې

هغه کلمې دي چې د پخواني او زاړه تاریخ څخه پاتې دي او نن ورځ په وینا او لیکنه کې له هغو څخه ګټه اخیستل کېږي.

ب ــ رېښه لرونکې اصیلې مړې (متروکې) کلمې

دا بیا هغه کلمې دي چې اوس په ژبه کې نه کارول کېږي او له محاورې او کتابت څخه وتلې او لوېدلې دي. دا ډول کلمې له هماغې خپلې پخوانۍ معنا سره د تاریخ په غېږ کې پرتې دي. کله چې د ژبې د پوهانو له خوا په یادو لغتونو کې پلټنه وشي او له پخوانیو متونو او آثارو څخه را واخیستل شي، په دې صورت کې بیا دا ارخاییزمونه ګڼل کېږي او یو ځل بیا په وینا او لیکنه کې ګټه ترې اخیستل کېږي او کارول کېږي، او کوم لغتونه چې په خپل حال د تاریخ په غېږ او د متونو په پاڼو کې خوندي او پراته وي، هیستوریزم ګڼل کېږي.

هیستوریزم له ارخاییز سره ډېر نږدې دی، ځکه کوم لغتونه چې په زړو متنونو کې پراته وي او څوک يې نه را اخلي، هیستوریزم بلل کېږي. دکتور مجاور احمد زیار په خپل کتاب «وويپوهنه او ويیرغاونه» کې د هیستوریزم لپاره د «تېرويزی» نوم کارولی دی او په اړه يې ليکلي دي: هغه زړويزی چې په زاړه متن کې راغلی وي، خو څوک يې نه را دودوي، لکه د امیر کروړ د وياړنې «من» (اراده)، «بامل» (پالل)... او که څوک يې د «اتل» په څېر را دود کاندي، بيا نو په زړويزونو کې شمېرل کېږي (مسلمی، ۱۳۸۸، ۴۲ مخ).

ځکه چې دغه ډول لغاتو ته ژبه نور ضرورت نهويني يا داسې کېږي چې دغه ډول لغات له استعماله بېخي لوېږي او يا يې د استعمال شمېر بيخي لږېږي (لودين، ۱۳۵۵، ۱۵٦ مخ).

موږ په خپل ځای کې پر دې خبره باندې بحث کړی دی چې امير کروړ په خپل وخت کې د نيولوجيزم په توګه د عربي کلمو پر ځای پښتو کلمې او لغتونه کارولي دي، خو د وخت په تېرېدو سره همدغه نوي جوړ شوي پښتو لغتونه هم له منځه تللي دي او د هیستوریزم برخه ګرځېدلي، خو له زړو متونو څخه را اخيستل شوې داسې ډېرې بېلګې موږ وينو چې بيا راژوندی شوې دي او د ارخاييزم برخه ګرځېدلي دي او د ژبې په لغوي زېرمه کې کار ترې اخيستل شوی دی. نو ويلای شو چې هیستوریزم او ارخاييزم سره نږدې دي، کوم لغتونه چې کارول کېږي ارخاييزم ګڼل کېږي او کوم چې پاتې وي او د تاريخ برخه ګرځېدلي وي، هغو ته هیستوریزم ويل کېږي.

چې په ګړدودو کې چېرې نيمژوانده پاتې وي، يا يې ګرد سره څرک نه لګي او تش په زړو ادبي او تاريخي ليکنو او متنو کې راخوندي شوي او يوازې د ليکوالو، شاعرانو او ژورناليستانو له خوا له اړتيا سره سم په لږ و ډېر جوليز او مانيز بدلون کارول کېږي او ورو ورو ګړنۍ ژبې ته لار پيدا کوي، لکه: نړی، هېواد، ويی، يون، وياړ، اتل...

هیستوریزمونه (Historisms) بيا هغه زړو وييونو ته ويل کېږي چې بيا را تاند او استعمال نه شي او همداسې تاريخي پاتې شي (زيار، ۱۳۷۸، ٦ مخ).

### ۴. ۴. ۱ د ارخاییزم ځینې شرایط او اصول

د ارخاییزمونو د استعمال په برخه کې په «نوې ژبپوهنه او ژبني مسائل» نومي اثر کې ځینې شرایط او اصول وړاندې شوي دي. لیکوال لیکلي دي چې که د دغو اصولو په اساس دا چاره سرته ونه رسېږي، نو ژبې ته یې د ګټې پر ځای زیان رسیږي. دا اصول او اساسات نه یوازې د ارخاییزم په برخه کې د تطبیق وړ دي، بلکې د نویو جوړونو او نویزونو په برخه کې هم صدق کوي چې د ارزښت له مخې یاد اصول او اساسات کټ مټ را اخلو:

۱. چې د ژبې د اصلي هدف او غایې، یعنې د خلکو تر منځ د افهام او تفهیم سره مرسته وکړي او په دې لاره کې د تسهیلاتو د ایجادولو سبب شي، نه د مشکلاتو.

۲. له دې اصل نه د نورو کلماتو په برخه کې هم استفاده وشي، مګر حقیقت دا دی چې د ځینو نورو کلماتو په برخه کې بیا د دوی حکم خلاف د دې دی.

مثلاً وایي داسې کلمات لکه «کمیس» باید د پښتو خپل مال وګڼل شي، مګر دلته بیا هم سوال مخې ته راځي چې ولې؟ ځکه کله که د مشرق او مغرب لپاره په زړو آثارو کې معادل کلمات پیدا کېږي، نو د «کمیس» لپاره د خلکو په ژبه کې د «خت» کلمه موجوده ده. اما کله که دوی وایي چې دغه کلمه مفغنه شوې او د پښتو تر قواعدو لاندې راغلې ده، نو په دې صورت کې بیا د دکان او سرک پر ځای د هټۍ او واټ کلمات څه له خلکو ته وړاندې کوي (تږی، ۱۳۸۹، ۸۹ مخ).

۳. کله چې موږ زړو آثارو ته د لغاتو را ژوندي کولو او رواجولو لپاره مراجعه کوو، دا کار هم اساساً باید په هغه صورت کې وشي چې د یوه مفهوم افادې ته ضرورت وي او د دغه مفهوم لپاره په مروجه ژبه کې کوم لفظ نه وي موجود. نو کومو آثارو ته باید استمداد وشي؟ هغه چې تر ټولو زیات قدیمي دي او هغه چې لږ؟ که لومړی صورت معیاري وي، نو دلیل یې څه دی؟ او که هغه نه، نو موږ د مشرق او مغرب لپاره د هغو کلماتو پر ځای چې د ښکارندوی په کلام کې لیدل کېږي، هغه کلمات څه له نه را اخلو چې د خوشحال خټک په کلام کې راغلي او هغه وخوت او پریوت دي.

تر وخوته تر پریوته څو ښځې پیدا کېږي

خو د یې پر جهان واړه څلور ذاته حسابېږي

دغه ډول په نورو مواردو کې هم څه چې د یوه لیکوال زړه غوښتي دي هغه یې کړي دي. مثلاً کله که کوم سړي یو دوه زاړه دیوانونه لوستي او په هغو کې یې ځینې کلمات پیدا کړي چې اوس یې ځای نورو کلماتو نیولی، نو یې معمولاً استعمال کړي دي. حتی کله کله دوی په دې برخه کې د خلکو په اصطلاح د «صحت» پر ځای «فساد» ته رسېدلي دي او کلمات یې غلط استعمال کړي دي. کله کله بیا ځینو کسانو له خپل ځانه او په خپل سر د کلماتو په وضع او بیا د هغو ځینو متروکو کلماتو په استعمال کې دومره افراط کړی دی چې خبره بالکل ورنه ورانه شوې ده او د خپل کلام په لاره کې یې ډېر مشکلات پیدا کړي دي.

## ۵.۴ ګړویزونه (Dialectisms)

دا هغه لغتونه او کلمې دي چې د اړوندې ژبې په بېلابېلو ګړدودونو (لهجو) کې ورځنۍ کارېدنه لري، لکه: کور، ډوډۍ، اوبه، خو د دغو لغتونو تلفظي بڼې بیا په لهجو او ګړدودونو کې مختلفې او بېلابېلې وي چې په پښتو ژبه کې په یاده برخه کې څه نا څه کارونه شوي دي او د ځینو لهجو یو شمېر لغتونه ثبت او راټول شوي دي چې ښه بېلګه یې د افغانستان د علومو اکاډمي «پښتو لهجوي قاموس» دی چې لومړی پړاو یې د هېواد په کچه په ټولو ولایتونو کې بشپړ شوی دی، خو د پښتو لهجو ګڼوالي او د پښتنو د اوسېدلو سیمو ته په کتو دا چاره بسنه نه کوي او اړتیا ده چې د پښتو لهجو غني زېرمه خوندي او راټوله شي.

## ۶.۴ پوروییونه

په ژبه کې د نویو وییونو له استعمال او دودېدو څخه یوه لړۍ هم په ژبه کې پوروییونه دي. پوروییونه په دې معنا چې د بلې همغاړې ژبې کلمې، ګړنې او اصطلاحات خپل ګڼل او هماغه بڼه، تلفظ او معنا کارول، خو کله کله داسې هم وي چې د بلې ژبې پور شوې کلمې د دویمې ژبې د لفظي او تلفظي جوړښت تابع ګرځي او د دویمې ژبې مال ګڼل کېږي، لکه: ابدست ــ اودس، صلح ــ سوله، خلق ــ خلک. له دغو کلمو څخه ځینو یې وییز او نورو یې څپیز بدلون موندلی دی (څولیزی، ۱۳۹۹، ۱۴۶ مخ).

ژوندۍ ژبې له نورو ژبو څخه اغېزمنې کېږي او پر نورو ژبو هم اغېز کوي. هغه ژبه ځواکمنه ده چې وکولای شي په دې تعامل کې خپله پېژندګلوي وساتي.

پښتو ژبې هم د نړۍ د نورو ژوندیو ژبو په څېر د نړۍ د نورو ژبو ګڼې کلمې خپلې کړې دي، ځینې یې بدلې کړې دي او ځینې د هماغې مبدأ ژبې په څېر منلې دي. چې دغه ډول لغتونو ته دخیلې کلمې ویل کېږي.

په هره ژبه کې هرو مرو د نورو ژبو کلمې استعمالېږي. که دغه کلمې بې له کوم تغییر نه استعمال شي؛ دخیل یا مستعار لغات ورته وایي، لکه: عالم، حاکم، قاضي، قلم... دا ډول کلمې په خپل اصلي عربي شکل لیکل کېږي. مګر کله کله یوه کلمه سره له تغییره په بله ژبه کې راننوځي چې دې راز کلمو ته په عربي کې معرب، په پارسي کې مفرس او په پښتو کې مفغن یا پښتو شوې کلمې ویل کېږي. دغه ډول کلمې چې د هغو لفظي او معنوي تغییر پوهانو منلی وي، په اوښتي شکل لیکل کېږي.

یا هم کومې ژبې ته چې راځي، د هغې ژبې ځانګړنې خپلوي او د ژبې ویونکي یې په خپل طرز تلفظ کوي.

دا کار د ټولو ژبو له علمي اساس سره برابر دی. دغه شان په عربي کې د (کافور، صندل، نیلوفر) چې اصل یې په سانسکریټ کې (کپور، چندنه، نیلو پل) دی، په اوښتي شکل لیکل کېږي. په دې اساس په پښتو کې (خلق، نقل، وقت) په (وخت، خلک، نکل) لیکل کېږي او دا له علمي اصولو څخه کوم مخالف کار نه دی (سیکوف، ۱۳۴۵، ۲۷ مخ).

پوروییونه یا قرض شوې کلمې په ټولو ژبو کې موجودې دي او په نړۍ کې هېڅ ژبه ترې مستثنی نه ده. دا ځکه چې بشري ژوند اجتماعي دی او انسانان یو له بل سره په مختلفو بڼو روابط او راشې درشې لري، نو د همدې اړیکو او ارتباطاتو په نتیجه کې ژبې یو له بل څخه لغتونه او کلمې اخلي.

د هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پراخوالي او د ډلیزو ارتباطي وسایلو پرمختګ، له نورو ژبو څخه د کلمو پور اخیستنه په یوه عادي چاره بدله کړې ده. په ننني پرمختللې نړۍ کې ډېرې لږ ژبې موندل کېږي چې له نورو ژبو څخه د اړتیا له مخې کلمې قرض وانخلي، یوازې د هغو ملتونو ژبې له قرض اخیستلو څخه لرې پاتې کېږي چې هغوی له نورو ژبو او ملتونو سره اړیکې نه لري.

دا هم باید هېره نه کړو چې پور اخیستنه تل د اړتیاوو د لرې کولو لپاره نه ده شوې، بلکې کله په یوه ژبه کلمې تحمیل شوې هم دي یا هم په بل عبارت، په هر تاریخي پړاو کې د پردیو ژبو د کلمو منل د دوو ژبو د اړیکو څرګندونه کوي او یا هم په یوه ژبه د بلې ژبې تسلط ښیي.

که د یوې ژبې ویونکي په دې هڅه کې وي چې پر بله ژبه خپله ژبه مسلطه کړي او تر تسلط لاندې راتلونکې ژبه تر کلتوري هجوم لاندې راغلې وي، نو په دې وخت کې بیا پور اخیستنه د یوې ژبې د زوال لامل ګرځي، ځکه د حاکمیت غوښتونکې ژبې ویونکي د خپلې ژبې د برلاسۍ لپاره په شعوري توګه کار کوي او د پور اخیستونکې ژبې د ګوښه کېدو او کمزوري کېدو په لټه کې وي. خو که پور اخیستنه د اړتیا له مخې او په اعتدالي بڼه ترسره شي، د کوم ستر زیان اړولو لامل نه ګرځي.

په پښتو ژبه کې هم د نورو ژبو په شان داسې کلمې موندل کېږي چې له بېلابېلو ژبو څخه امانت اخیستل شوې دي. دغو کلمو ته «پور»، «دخیلې» او «مستعارې» وایي. د مختلفو تاریخي جریانونو په لړ کې له عربي، پارسي، انګلیسي، ترکي، روسي او نورو ژبو څخه کلمې پښتو ژبې ته راغلې دي.

په ډېره پیمانه له عربي او پارسي ژبو څخه پښتو ژبې ته پورويیونه راغلي دي او لامل یې دا دی چې دا دواړه ژبې له پښتو ژبې سره ډېر مشترکات لري. عربي چې د اسلام مبارک دین ژبه ده، نو له مذهبي اړخ څخه له پښتو ژبې سره نه شلېدونکې اړیکې لري او پارسي ژبه هم د هېواد دویمه رسمي ژبه ده، له ښوونځي څخه نیولې بیا تر پوهنتون او رسمي ادارو پورې له پښتو ژبې سره څنګ په څنګ روانه ده. نو همدا نږدېوالی د دې لامل شوی چې په پښتو ژبه کې د عربي او پارسي ژبو په زیاته اندازه «پور» کلمې استعمال شي.

په پښتونخوا کې بیا له بده مرغه ویلای شو چې هلته د عربي او پارسي دخیلو کلماتو تر څنګ له اردو او انګلیسي ژبو څخه په پراخه کچه کلمې اخیستل شوې دي او متأسفانه پښتو ژبې بله بڼه خپله کړې. کله چې یې له لوستو ځوانانو سره خبرې کوې، که په انګلیسي ژبه پوه نه شې، نو په ډېرو کلماتو او خبرو به یې هېڅ پوه نه شې.

دلته موږ د مستعارو یا پورويیوونو په اړه تفصیلي بحث کوو، ځکه د یادو لغتونو په اړه مختلف نظریات موجود دي او د بېلابېلو پوهانو له لوري په بېلو وختونو کې بحثونه پرې شوي دي او په هر وخت او زمان کې یوه له مهمه موضوعاتو څخه پاتې شوې ده. د مستعارو کلمو دلته د څېړلو او تشریح کولو

بل ارزښت په دې کې دی، که چېرې په خپل وخت په پښتو ژبه کې نوې جوړونې وشي او نوي لغتونه جوړ شي، نو بیا به ډېره اړتیا نه وي چې موږ د نورو ژبو کلمې په لوړه پیمانه پور کړو او په خپله ژبه کې یې وکاروو.

د یوې ژبې لغتونه او ګرامري بنې پر دوو کټګوریو وېشل کېدای شي؛ اصلي عناصر چې موږ یې د ژبې تر ټولو پخوانۍ معلومې برخې ته رسولای شو او پور کړي عناصر چې یو وخت له بلې ژبې څخه اخیستل شوي دي.

په ژبه کې د پور کړیو عناصرو د داخلېدو بڼه او طرز یې له اصلي شکلونو سره توپیر لري. دا ښایي ډېول ډول وي، د ژبو ترمنځ ښایي بېل بېل ډولونه ولري. مثلاً د انګریزي او فرانسوي ترمنځ تماس د انګریزي او عربي د تماس په پرتله توپیر لري. سره له دې هم عربي کلمې او فرانسوي کلمې انګریزي پور کړې دي، خو پر انګریزي باندې د فرانسوي اغېزې د عربي په پرتله بې‌اندازه زیاتې دي (وینفرید، ۱۳۹۹، ۲۹۰ مخ).

کله چې موږ په مستعاریت باندې غږېږو، باید د تماس هغه ډولونه وګورو چې د ژبو ترمنځ عام دي او د هغو نتیجې له هغو نتیجو سره یوځای یادښت کړو چې موږ یې په عمومي ډول د دوو یا زیاتو ژبو یا لهجو ترمنځ د تماس د ډولونو په باره کې لاس ته راوړلای شو.

د دې لپاره چې ډول ډول پورول وپېژنو، موږ باید په هغو ژبو باندې د ویونکو د تسلط په اندازې پوه شو، ځکه چې د بیا تولید اندازه زیاتره پر دویمې ژبې باندې د ویونکو د کنټرول له اندازې څخه معلومېږي، په تېره بیا هغه کنټرول چې د پورولو تر رواجېدو له مخه یې لاره.

انګریزي کلمې په جاپاني کې څنګه رواج شوې دي. د انګریزي (violin)کلمه پر انګریزي باندې د ویونکو د تسلط د اندازې له مخې په بېلو بېلو ډولونو بیا تولید شوې ده. تعلیم موندلي کسان چې کله جاپاني وایي، دغه کلمه انګریزي ته ډېره ورته ادا کوي، مثلاً:( vaiorin)، که څه هم د هغوی په ژبه کې (v) نشته. د لږ زده کړې ویونکي د انګریزي د (v) پر ځای یا (w) راوړي یا (b) او (waiorin) یا (baiorin) وایي. دغه دواړه ډلې ویونکي (L) په (R) سره ادا کوي، خو په بې‌تعلیمه ویونکو کې پورول فونیمکي بدلون ښیي، نه فونیټکي (وینفرید، ۱۳۹۹، ۹۲ مخ).

لکه څنګه چې په پورتني بحث کې دې ته اشاره وشوه چې د مستعارو کلمو او لغتونو د داخلېدو طرز له اصلي شکلونو سره توپير لري، همدا توپير د دې لامل ګرځي چې يوې ژبې ته د مستعارو کلمو راتګ مختلف ډولونه خپل کړي. زموږ په ژبه کې دوه ډوله مشهور دي: دخيلې او پښتو شوې کلمې.

د مستعارو کلمو په اړه بېلابېل نظريات موجود دي. څوک وايي چې په پراخه پيمانه د مستعارو لغتونو کارونه ژبه ګډوله کوي او په کار نه ده چې ډېر يې وکاروو، خو بله ډله بيا وايي چې مخکې مو کوم پوروييونه اخيستي دي، هغه نور زموږ د ژبې خپله شتمني ګرځېدلې ده او د ژبې ويونکي يې په تلفظ او معنا پوهېدنه کې هېڅ داسې احساس نه کوي چې دا دې پردي لغات وي او حتی کله چې د يادو پوروييوونو لپاره نوې جوړونې شوې، د خلکو لخوا يې هرکلی نه دی شوی او نويو جوړونو د پوروييوونو ځای نه دی نيولی.

په نړيواله کچه هم د مستعارو لغتونو په اړه داسې نظريات موجود دي چې کله په يوه ژبه کې يو لغات او کلمه دېرش کاله تېر کړي، نو دا لغتونه نور د همدغې ژبې خپله لغوي شتمني ګرځي.

مخکې هم دې ټکي ته اشاره وشوه چې د لغتونو پور کول او اخيستنه له ډېرو پخوانيو وختونو څخه دود ده. خو دې مسئلې په ټولو ژبو کې هم پلويان درلودلي دي او هم يې په اړه مخالف نظرونه ورکړل شوي او نيوکې پرې شوې دي. د ژبو ترمنځ راکړه ورکړه کومه نوې خبره نه ده، بلکې ډېره لرغونې ده. د دې چارې مخنيوی يې هم ناشونې دی. تر څو چې ټولنيز ژوند وي، د انسانانو ترمنځ روابط وي، دا راکړه ورکړه به هم دوام لري.

لغتونه په دوامداره توګه جوړېږي او تحول کوي. له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته ځي. که دغه تګ د اعتدال په حد کې وي، نو کومه ژبه چې د نورو ژبو لغتونه پور اخلي، نه دا چې دې ژبې ته زيان نه رسېږي، بلکې د دغې ژبې لغوي زېرمه بډايه کېږي.

کله ناکله خو بيا نور فرهنګي، فکري او عقيدوي لاملونه هم ورسره يوځای شي او د دې ذهنيت د خپرولو هڅه پيل شي چې په کار ده مخکښنۍ راغلې او دود شوې کلمې هم بايد له ژبې څخه وايستل شي. خو د ژبپوهانو په نظر که د يوې ژبې ګرامر ته زيان ونه رسوي، له پرديو لغتونو څخه ګټه اخيستل ستونزه نه لري.

د نوزادي په یوه لیکنه کې چې عنوان یې دی «کلتور که ښکارهنګ» او اصلي بحث یې په همدې را څرخي چې د داود اڅک لخوا د کلتور لپاره د ښکارهنګ جوړه شوې کلمه مناسبه ده او که نه؟ که څه هم خپله لیکوال د نیولوجیزم په برخه کې ځان د نظر خاوند نه ګڼي او یاده موضوع یې د برېښنالیک له لارې له معصوم هوتک سره شریکه کړې او استاد هوتک ورته تفصیلي ځواب لیکلی دی چې دلته یې را اخلو او بحث پرې کوو:

«زه خپله له دغه راز جوړونو سره جوړ نه یم. یوې ژبې ته چې کله له بلې ژبې څخه یو لغت را ننوځي او د ژبې ویونکي یې ومني، یعنې ویې لولي، ویې وایي، ویې لیکي، دا لغت نو د ژبې خپل مال شي او په ادې او انا پسې یې څوک نه ګرځي او خپل لغت یې ګڼي. اولس له ترکي ژبې څخه زموږ ژبې ته را ننوتی دی، اوس زموږ په ژبه کې داسې منل شوی دی چې د پردي لغت خیال لا نه پر کوو.»

لیکوال لیکي چې د هغو کلمو او لغتونو په اړه چې په کلونو کلونو په یوه ژبه کې وکارول شي، نو اړتیا نشته چې موږ د هغو لپاره نوې کلمې جوړې کړو او که یې جوړې هم کړو، د مروجو مستعارو لغتونو ځایناستې نه شي جوړېدای. او زیاتوي: «د کلتور کلمه هم زموږ په ژبه کې عام شوی لغت دی او د ایسته کولو اړتیا یې دومره جدي نه ده. د دغه عام لغت پر ځای نوی لغت جوړول د ژبې د ویونکو دوه رازه انرژي ضایع کوي، یوه یې د نوي لغت د زده کولو انرژي ده او بله یې د زاړه لغت د هېرولو، تاسې ته معلومه ده چې په ژبه کې د هېرولو عملیه تر زده کولو زیاته انرژي غواړي، په دې معنا چې د یوه لغت زده کول اسانه دي، خو هېرول یې ډېر وخت غواړي. په تېره بیا د داسې لغت هېرول چې هغه په نورو ژبو کې د پراخ استعمال قوت ولري.»

د کلتور لپاره یو وخت وزیر محمدګل خان مومند د «هځوب» کلمه جوړه کړه. د ده په نظر کلتور داسې تعریف درلود: «هغه څه چې اولسونه سره بېلوي.» د دغه تعریف له کلماتو څخه یې (هـ، ځ، و، ب) را واخیستل او هځوب یې ترې جوړ کړ، خو عام ځکه نه شو چې د کلتور عمومیت پر پیاوړی و او هېرولو ته یې چا زړه ښه نه کړ. که فرضاً په ژبه کې د یوه لغت د جوړولو اړتیا را منځ ته شي، نو د لغت جوړوونکو ته په کار ده چې د لغت تر عامېدلو پخوا یو نوم ورته وټاکي (نوزادي، ۱۳۹۷، http://jameghor.com ).

نو ویلای شو چې له هغو مستعارو لغتونو سره چې کلونه کلونه یې زموږ په ژبه او ټولنه کې تېر کړي دي، ډېر حساسیت ښودل په کار نه دی. ځکه موږ وینو چې یو وخت په پارسي ژبه کې له پارسي عناصرو او لغاتو څخه د عربي ژبې لغات زیات وو، خو داسې ونه شول چې پارسي ژبه دې له منځه تللې وي. دا ځکه چې د بلې ژبې لغتونه او کلمې د یوې ژبې طبیعي جوړښت او ساختار ته بدلون نه شي ورکولای.

بل خوا دا خبره دا معنا هم نه لري چې موږ یوازې د نورو ژبو لغتونو ته کښېنو او خپله هېڅ تلاش ونه کړو، بلکې د ژوند د نورو برخو په څېر باید په دې چاره کې هم له اعتدال او منځلاریتوب څخه کار واخلو. د هغو لغتونو او کلمو لپاره په نویو جوړونو ځانونه ستړي نه کړو چې د ژبې ویونکي ورسره عادي دي او په ډېره اسانۍ سره یې په معنا پوهېږي، او بل دا چې موږ متأسفانه دومره کمزوري یوو چې هره ورځ ګڼ شمېر د نورو ژبو لغتونه زموږ ژبې ته راځي، نو که ډېر تکړه شو، د همدغو نویو راغلو لغاتونو لپاره نوې جوړونې وکړو او مخکې له دې چې دا نوي راغلي لغتونه زموږ په ژبه کې عام شي او خلک ورسره بلد شي، موږ یې پر ځای خپل لغتونه او کلمې ټولنې ته وړاندې کړو او ګټه به یې دا وي چې ډېر ژر به یې ټولنه ومني.

ښاغلی نجیب منلی د نویو لغتونو جوړول د ژبې پرمختګ بولي، خو زیاتوي چې په وچ زور د هغو پور شوو کلمو پښتو کول چې ژبې د پېړیو او لسیزو په اوږدو کې خپل کړي دي، د ژبې لپاره به ګټور وي یا به نه وي، خو د ژبې له ویونکو سره ظلم دی.

اکسفورډ قاموس د انګریزي ژبې د نړیوال کېدو یو لامل دا بللی چې انګریزي ژبه د نورو ژبو کلمې په آسانۍ سره مني او خپلوي. که غواړو چې پښتو ژبه د نړۍ په سیالو ژبو کې مخ ته ولاړه شي او دریځ یې نور هم پیاوړی شي، نو د پردیو یا مستعارو کلمو په برخه کې باید له انصاف څخه کار واخلو او همدارنګه د نویو جوړونو په برخه کې هم منځلاری تګ غوره کړو. نه دا چې له پردیو کلمو سره دښمنانه چلند وکړو او د کرکې په نظر ورته وګورو، بلکې له دغو اخیستل شویو او پور شویو کلمو سره جوړ راشو او د خپلې ژبې په بډاینه کې ګټه ترې واخلو.

ډېر ځله داسې هم شوي دي چې د نورو ژبو مستعارې کلمې په داسې ډول مفغنې یا پښتو شوې دي چې څوک دا ګمان هم نه کوي چې دا دې د بلې ژبې کلمه وي. استاد الفت په خپل اثر «لغوي

څېړنه» کې د مغغنو یا پښتو شویو کلمو په اړه ډېرې جالبې نقطې ته اشاره کړې ده: که لوبې په رښتیا له (لعب) څخه اخیستل شوې هم وي، نو هرکله چې یو عرب لوبه نه پېژني او په معنا کې یې د پښتو قاموس ته اړېږي، همدغه یې د پښتووالي صحیح سند او قوي دلیل دی (الفت، ۱۳۲۱، ۱۰ مخ).

د مفغناتو په اړه د یوې بلې خبرې روښانه کول هم ضرور دي، هغه دا چې که په تېرو زمانو کې هم موږ وګورو، د نوم اېښودنې بهیر ښه مخ ته تللی دی او کله چې د اسلام مبارک دین راغی، نو په پښتو ژبه کې د نورو ژبو د نومونو او اصطلاحاتو لپاره مناسبه نومونه کېږي چې دلته یې څو بېلګې را اخلو:

۱ ــ صلوات ــ لمونځ

۲ ــ مشرق ــ ختیځ

۳ ــ مغرب ــ لوېدیځ

۴ ــ پاچا ــ واکمن

۵ ــ شهنشاه ــ ستروا‌کمن

٦ ــ عسکر ــ ژوبلور

۷ ــ لښکر ــ جګړن

۸ ــ سخنوران ــ ژبور

۹ ــ قیامت ــ ورځلی (رفیع، ۱۳۹۷، ۷۳ مخ).

خو ملاحظه د مفغناتو (پښتو شوو لغتونو) په برخه کې موجوده ده. اوس هم متأسفانه د ځوانانو له خوا ډېره هڅه کېږي چې د نورو ژبو، په ځانګړې توګه د عربي ژبې کلمې سره واړوي او بیا داسې فکر کوي چې دا کلمې زموږ د ژبې برخه وګرځېدلې. لکه: معلومات ــ مالومات، خو دا کار په زیاته اندازه او په شعوري توګه کول، ژبې ته زیان رسوي او په راتلونکي کې د ژبې ویونکي له ستونزو او

کړاو سره مخامخ کوي. ځکه د مفغناتو بهیر د اولس له خوا مخ ته وړل کېږي او ډېر وخت اخلي، که په بېړه د څو مشخصو کسانو له خوا ترسره شي، د ګټې پر ځای تاوان رسوي، ځکه یو خو دا مفغنات په بشپړه توګه د ژبې برخه نه وي ګرځېدلي او له بلې خوا اولس ورسره آشنا نه وي.

د مفغناتو بهیر په ډېره طبیعي توګه مخ ته ځي چې زیاتره وخت دا ګمان نه کېږي چې دا دې د بلې ژبې کلمې وي، سړی فکر کوي چې دا مو د خپلې ژبې لغات دي. لکه: معصوم ــ ماشوم، صلح ــ سوله...

په کار نه ده چې موږ په خپله ژبه کې په دود شویو کلمو او لغتونو پسې ځراغ را واخلو او د هغوی د ربښې د پیدا کولو لپاره یې د مور او نیا په پلټلو او موندلو پسې ځانونه ستړي او خپله انرژي مصرف کړو.

## ۴. ۷ نویزونه

دا هغه وییونه (لغات) دي چې د نیولوجیزم د «نوي وییرغاونې» له لارې د ژبپوهنې او بیا وییپوهنې او د اړوندې علمي، تخنیکي څانګې د ماهرانو له خوا پخپل لاس (مصنوعي) جوړېږي، هغه هم د ترڼګ او بېلنګ (ترکیب او اشتقاق) او تیارو مخبېلګو (ماډلو) له مخې، لکه: پوهنتون له (پوهنه) او (تون) څخه د یوه ترڼګ یا ترکیب په توګه د مېړتون او یا توغندی (راکټ) د (توغولو) له فعل څخه د بېلنګ (اشتقاق) په توګه د مخبېلګې (ماډل) پر بنسټ؛ یا غرنی، وګړنی، ژبنی، ژبیز، لنډیز، سریز، پانګوال، ځمکوال... او یا لاسلیک، سرلیک، برخلیک، مخکتنه، ژبپوهنه، ټولنپوهنه....

سېمانتیزمونه (Semantisms) یا هغه وییونه چې تیار په ژبه کې په ټاکلو معناوو کارول کېږي، خو ویي رغوونکي په کې مانیز بدلون راولي، هم له نیولوجیزمونو څخه ګڼل کېږي، لکه: پند (نصیحت)، پځوانۍ معنا یې سفر، یا دریځ (موقف، پالیسي)، پخوانۍ معنا یې ممبر وه.

پورژباړه (Loan Translation) د نیولوجېزم یو بل ډول ګڼل کېږي او معنا یې دا چې یو ویي یا نومونه (ټرم) له یوې ژبې څخه بلې (پوروړې) ژبې ته راوژباړل شي، لکه: پوهنتون، دارالعلوم یا دارالفنون او دانشګاه یوه پورژباړه ده چې پښتو له ترښتي (ترکیبي) دود او قاعدې سره سم (پوهنه) او (تون)، (ځای) څخه رغول شوی دی (زیار، ۱۳۷۸، ۷ مخ).

تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې په ځانګړې توګه د ویيپوهنې په ډګر کې څومره چې اړتیا ده، هغومره څېړنې او آثار نه دي، لیکل شوي او څو د ګوتو په شمېر پښتو آثار دي چې په مشخصه توګه د ویيپوهنې اړوند موضوعات رانغاړي. که څه هم په نورو کتابونو او آثارو کې د پښتو ویيپوهنې اړوند موضوعات راغلي او خبرې پرې شوې دي، خو یو څه چې د پښتو ویيپوهنې په ډګر کې د اړتیا له مخې ډېر بحث پرې شوی دی. هغه ویيرغونه ده چې په اړه یې په پښتو ژبه کې ګڼ آثار لیکل شوي دي.

## ٤. ٨ ویيرغاونه(Word Formation)

ژبه ټولنیزه پدیده ده، پرمختګ او وروسته پاتېوالی یې د ټولنې له پرمختګ او وروسته پاتېوالي سره نیغه اړیکه لري. څرنګه چې هره ټولنه د نړۍ او ساینس له پرمختګ سره همغاړې پرمختګ کوي، نو دا هر څه د دې لامل کېږي چې په ژبه کې نوي ویيونه او کلمې وپنځېږي، نو دا په هره ژبه کې طبیعي لړۍ ده چې نوي لغتونه  پنځوي او یو شمېر زاړه لغتونه پکې مري او له استعماله لوېږي. دلته به په پښتو کې د کاریدونکو ویيونو جوړښت او کارونې ته په لنډه توګه تم شو:

نویزونه(Neologism) له آره یوه فرانسوي ګړنه ده چې له دوو یوناني کلمو (Neo) د نوي په معنا او (logos) د ویي، لغت کلمې او پوهې په معنا ده او په اصطلاح کې نوي لغت، اصطلاح، ګړنې او پنځونې او یا هم د زوړ او پخواني ویي په نوې بڼه کارولو ته وایي. په یوه ژبه کې نوي لغتونه له بېلابېلو لارو او د مختلفو اهدافو لپاره پنځېږي. ښای د نویو لغتونو رامنځته کول په ژبه کې د نوښتونو له کبله او ژبې ته د خدمت په موخه وي، بل لور ته ښایي د سیمې او نړۍ د پرمختګ له کبله دا ډول پنخونه وشي، نو د ژبنیو اړتیاوو، خدمتونو او پرمختګونو له کبه په ژبه کې د نوې کلمې رامنځته کولو ته په ژبپوهنه کې د نویزونو(Neologism) اصطلاح کارول کېږي، لکه برښلیک، ویپاڼه، نړۍجال، کورناستی، ټولبندیز ...

ژبې ورځ تر بلې پراخېږي او په خپله لمن کې نویو لغتونو او نویو خبرو ته ځای ورکوي او غوړېږي. د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره اړتیا لیدل کېږي چې نوې جوړونې وشي، خو دا نوې جوړونې باید د اصولو او معیارونو پر بنسټ ترسره شي.

نن ورځ موږ له ښه بخته داسې یوه حالت ته رسېدلي یوو چې ژبې پرمختګ او پراختیا موندلې ده او په وروستیو لسیزو کې د پښتو ژبې لغوي زېرمه په نویو کلمو سره بډایه او غني شوې ده، څه نا څه ټولو دا خبره منلې چې د پښتو ژبې لمن د نوي ژوند، پوهې او فلسفې، هنر او مډرنې ټکنالوژۍ په ځانګو کې غوړېدلو ته اړتیا لري او له دې چارې څخه خلاصون نشته او په دې برخه کې د پښتو ژبې پوهانو، لیکوالو او ژباړونکو تر خپلې وسې پورې کار او هڅې کړې دي. په اوس کې د پښتو ژبې د نیولوجیزم بهیر څه نا څه د شخصي او سلیقوي مخالفتونو ښکار شوی دی چې دا مخالفتونه هم تر ډېره بربده پورې په سمه توګه د ژبپوهنې له اصولو سره د نویو لغتونو له نه برابرۍ څخه سرچینه اخلي. کله نا کله خو ځینو کسانو داسې نظریات هم ورکړي دي چې تر اوسه لا په پښتو ژبه کې د نیولوجیزمونو اړتیا نشته او وایي چې موږ لا نورې ډېرې ستونزې پر وړاندې لرو، خو د دغو نظریاتو شمېر ډېر لږ دی. ډېری پوهان دا نظر لري چې د نیولوجیزم بهیر باید د افرادو له دایرې څخه را ووځي او د افرادو په ځای دا ستر مسؤولیت او اړین کار په علمي او څېړنیزو مرکزونو کې متخصصو کسانو ته وسپارل شي، له یوې خوا به د نویو لغتونو د جوړولو بهیر علمي او اکاډمیک شي او له بلې خوا به تر ډېره د مخالفتونو مخنیوي وشي. بله خبره چې د نیولوجیزمونو په برخه کې مهمه ده، هغه دا ده چې دا نوي جوړ شوي لغتونه څومره د ټولنې له خوا منل کېږي؟ که موږ هر څومره کلمې او لغتونه جوړ کړو، خو یوازې د کتابونو په پاڼو کې پاتې شي، نو نه به ژبې ته کومه ګټه ورسوي او نه به هم هغه تشه ډکه کړي، چې د نویو نومونو په برخه کې لیدل کېږي، نو که چېرې د نیولوجیزم بهیر علمي او اکاډمیک مرکزونه مخکې بوځي، نو له هره اړخه به پښتو ژبې ته ګټور او مفید تمام شي. ځکه کله چې د یوه علمي مرکز یا ټولنې له خوا دا چاره مخ ته یوړل شي، هلته بیا خبره د یوه تن له ذوق او سلیقې څخه وځي او دا چاره په طبیعت کې دا ایجابوي چې د یوه ټولي لخوا مخ ته بوتلل شي او حتی که امکان وي چې د ژبې د مختلفو لهجو ژبپوهان په کې برخه ولري او کله چې یو لغات جوړېږي د هغه په ټولو خواوو به غور کېږي او د ګڼو پوهانو له تائید وروسته به ټولنې ته وړاندې کېږي په دې ډول کولای شو چې په ټولنه کې د نویو جوړو شوو لغتونو د منلو فیصدي لوړه کړو او له مشخصو ادرسونو څخه د دې کار د ترسره کولو بله ګټه  دا ده چې د ګډوډیو مخه نیول کېږي او د دې مخنیوی به هم وشي چې د یوه لغت لپاره څو نوي لغتونو جوړ شي او بیا د ژبې ویونکو ته سخته شي، چې اوس کوم لغت سم دی او کوم ناسم؟ کو لغت وکاروو او کوم ونه کاروو؟

وړاندې تر دې چې په پښتو ژبه کې د نیولوجیزم پر اړتیا خبرې وکړو، لومړی به د نیولوجیزم پېژندنې ته راشو:

هره ژبه له څلور ډوله لغتونو څخه جوړه وي: ۱ ــ اصلي کلمې ۲ ــ پور یا مستعارې کلمې۳ ــ ترکیبي کلمې ۴ ــ اشتقاقي کلمې.

اصلي کلمې خو په ژبه کې موجودې وي او مستعارې کلمې هم له نورو ژبو څخه ژبې ته راځي او پور کېږي. ترکیبي او اشتقاقي کلمې کوم بل ډول نه دی، بلکې دا نوې لغت جوړونه ده چې په ترکیبي او اشتقاقي ډول تر سره کېږي.

د نویو لغتونو د بهیر لپاره چې کومه نومونه کارول کېږي، هغه نیولوجیزم بلل کېږي. د نیولوجیزم اصطلاح اصلاً په یوناني ژبه پورې اړه لري او د دوو لغتونو له ترکیب څخه منځ ته راغلې ده. لومړی برخه یې د (neos) لغت دی چې د (نوي) معنا لري، دویمه برخه یې د (logos) لغت دی چې د ویي یا لغت معنا لري.(تڼیوال، ۱۳۸۹، ۲۳۳ مخ).

یا هم نویزونه (Neologism) له آره یوه فرانسوي ګڼنه ده چې له دوه یوناني کلمو (neo) د نوي په معنا او (logos) د ویي، لغت، کلمې او پوهې په معنا ده او په اصطلاح کې نوي لغت، اصطلاح، ګړنې او پنځونې او یا هم د زوړ او پخواني لغت په نوې بڼه کارولو ته وایي(څولیزی، ۱۳۹۹، ۱۵۴ مخ).

نوې وییرغونه یا بیارغونه(نیولوجېزم) په بنسټیزه توګه په ګړنۍ ژبه کې ژبه کې د لنډو ګنډو(محدودو)، خو زېړنده تیارو شتو توکو او مخبېلګو له مخې چې د ویونکو یې د پېړیو په پوړیو کې له اړتیا سره سم، خو په ناآګاهانه توګه رامنځته کړې دي، د اړوندو څانګپوهانو له خوا په دوو غوره بېلښتي(اشتقاقي) او تړښتي(ترکیبي) ډول ترسره کېږي(زیار، ۱۳۹٦، ۴۱ مخ).

په وییپوهنه او وییرغاونه اثر کې راغلي دي: «وییرغاونه د ژبپوهانو او بیا وییپوهانو (Lexicolgists) له څانګیزو واکونو څخه ګڼل کېږي او په دې توګه پکې نور څوک په خپل سر او یوازې سر د لاسوهنې رشته نه لري. د بلې هرې پوهنیزې او فرهنګي څانګې والا هر ګوره خپلې اړوندې نومونې، په بله وینا، نومونپوهنې (ترمینالوجي) یوازې د یاد شویو پوهانو په ملتیا او لاربښوونه، یا لږ تر لږه د اړوندو لاربشودونو په رڼا کې را منځته کولای شي»(زیار، ۱۳۹٦، ۴۱ مخ).

د نیولوجیزم د تعریف او پېژندنې په اړه بیا په (پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه) نومي اثر کې یو څه تفصیلي بحث شوی دی. دلته به یې را واخلو: د لغت جوړولو لپاره په ننۍ ژبپوهنه کې د نیولوجیزم یا نیولوجېزم (neologism) اصطلاح کارېږي. نیولوجیزم هغه لغت، اصطلاح یا عبارت ته ویل کېږي چې نوی جوړ شوی وي او زیاتره په یوه نوي مفهوم باندې دلالت کوي یا یوې زړې اصطلاح ته نوی ژبنی رنگ ورکوي. نیولوجیزم د اختراعاتو، نویو پدیدو یا هغو زړو مفاهیمو د پېژندلو لپاره گټور دی چې په یوه نوې کلتوري قرینه کې واقع شوي وي. د نیولوجیزم یو مثال (e - mail) دی چې موږ یې په مدني ټولنو کې د انټرنټ په برکت له نامه سره ډېر اشنا یو. د تعریف له مخې هر نیولوجیزم باید نوې بڼه ونه لري، خو کله کله په مستقیمه توگه ځانگړو اشخاصو، نشراتو او یا یوې حادثې ته منسوب وي. د نیولوجیزم اصطلاح د اتلسمې میلادي پېړۍ په شا و خوا کې را منځ ته شوه، خو د نولسمې پېړۍ د پیل تر یو څه وخته پورې لا د «نیولوجیزم» لغت په خپله نیولوجیزم و. د طب د عقلي و عصبي ناروغیو په څانگه سایکیاټري ــ (psychiatry) کې د نیولوجیزم اصطلاح بل راز معنا لري او هغه وخت کارېږي چې یو ناروغ داسې کلمات تر خولې را باسي چې له ده پرته یې بل څوک په معنا نه پوهېږي. په کوچنیانو کې دغه راز پېښه غیر عادي نه ده، خو په لویانو کې دغه راز کلمات تر خولې را ایستل د افکارو د بې نظمۍ یوه نخښه ده چې د (شیزو فریني (schizophrenia) په شان د عقلي او دماغي ناروغۍ نمایندگي کوي. د نیولوجیزم کلمات تر خولې را ایستل کله کله د سټروک (stroke) یا د انسان سر ته د صدمې رسېدلو له کبله هم پېښېږي. په دغه وخت کې د ناروغ ژبه گنگوړه شي او نامفهومه کلمات تر خولې را باسي چې په سایکیاټري ورته نیولوجیزمونه وایي. که د ژبو د جوړښت جریان ته په ځیر وکتل شي، نو هر لغت به یو وخت نیولوجیزم و. هغه لغات چې د ټولنې له خوا منل شوي دي، نور نو د نیولوجیزم له حالته وتلي او د ژبې زېرمه گرځېدلې ده. د نیولوجیزمونو رواجېدل زیاتره د خبري او اطلاعاتي رسنیو (media) پر لاس سرته رسېږي(هوتک، ۲۰۰۷، ٥٦ مخ). د دې خبرې لړ نور هم وضاحت په کار دی، هغه دا چې نوې جوړونه تر هغې پورې نوې وي، تر کله چې ټولنې نه وي منلې یا هم نیولوجیزم تر پایه نیولوجیزم نه پاتې کېږي، بلکې کله چې نوي لغتونه یا نیولوجیزمونه د خلکو په ذهنونو او ژبو جاري شول، ټولنې او اولس ومنل، نو له هغه وروسته دا نیولوجیزمونه د ژبې لغوي زېرمه گرځي، کېدای شي نن یو لغت نوی وي، خو د راتلونکو نسلونو لپاره دا بیا نوی لغت نه پاتې کېږي او له پور ویيونو پرته چې له تحقیق

او څېړنې وروسته کېدای شي دا درک معلوم شي چې مستعارې کلمې دي؛ دا ناشونی کار دی چې موږ د یوې ژبې لغوي زېرمه سره بېله کړو چې دا پخوانیو لغتونه دي او دا له لهجو څخه اخیستل شوي دي.

د نیولوجیزم په اړه په یو بل تعریف کې لولو: نویزی«neologism» خپلاسی (رغولی) ویی یا (نیولوجیزم) هغه دی چې په بېلښتي (اشتقاقي) یا ترېښتي (ترکیبي) ډول د ژبپوهانو او بیا د بېلابېلو علمي ــ فرهنګي څانګوالو په ملتیا او د یوې ټولنې، اکاډمي په چوکاټ کې، د تیارو بېلګو له مخې جوړ شوی وي، لکه: لیکوال، لیکدود، لیکلار، پوهنځی، پوهنتون، ژبپوهنه، ښکېلاک...(زیار، ۱۳۹٦، ۵۳ مخ).

نوې جوړونې یوازې او یوازې د ژبپوهانو مسؤولیت او دنده نه ده، بلکې په دې بهیر او چاره کې د هرې علمي ــ فرهنګي برخې د متخصصینو ونډه او برخه اخیستل هم ډېر مهم او حیاتي دي، نن په پښتو ژبه کې له بده مرغه موږ د نیولوجیزم بهیر تر ډېره یوازې ژپپوهانو او ادبیانو ته پرېښی دی او په نورو برخو کې ویلای شو چې دا بهیر په نشت حساب دی. ادیبان او ژبپوهان هم دومره کولی شي، چې په خپله برخه یعنې ژبه او ادب کې نوې جوړونې وکړي. د نورو برخو له پوهانو سره د نویو جوړونو په برخه کې د ژبپوهانو دنده او مسؤولیت جوړېري چې د ژبې د طبیعي جوړښت او اصولو په رڼا کې له هغوی سره د خپلې برخې د لغتونو او اصطلاحاتو په جوړونه او بهیر کې مرسته او همکاري وکړي.

نوې خپلاسې رغونې یا نویزونه (نیولوجیزمونه) چې د یوې کره لیکنۍ پښتو له رغندو ټوکونو (اجزاوو) څخه ګڼل کېږي، هم همداسې یوه ژبپوهنیزه ربړه ده او تر ټولو مخکې په ژبپوهانو پورې اړه لري او د هرې علمي، تخنیکي یا انفارماتیکي څانګې پوهان هم خپلې اړوندوې نومونې بې د ژبپوهانو او په ځانګړې توګه، وییپوهانو (لیکزیکولوجیستانو) له لارښوونې رغولای او ټاکلی نه شي.

نیولوجیزم د یوې ژبې د لغوي زېرمې له څلورو خواوو څخه یوه خوا یا برخه ده او د ژبې وییپانګه بشپړوي: ۱ ــ ګړدودي وییونه یا ګړویزونه، ۲ ــ لرغوني یا ارکاییک وییونه او یا زړویزونه، ۳ ــ خپلاسي یا مصنوعي وییونه یا نویزونه او ۴ ــ پور یا مستعار او دخیل وییونه یا پورویزونه(زیار، ۱۳۸٦، ۱۴ مخ).

مخکې مو د یوې ژبې لغتونه په یو بل قسم په څلور ډوله وېشلي وو او دلته دا دي د یوې ژبې لغوي زېرمه بل راز تقسیم شوې ده، هلته موږ د موضوع د اسانۍ لپاره ارخاییزمونه او ګړویزونه دواړه د ژبې د اصیلو کلمو په ډله کې راوستل او مستعارې کلمې خو بېلې دي او بل ډول بیا نوې جوړې شوې کلمې دي چې د اشتقاق او ترکیب په چوکاټونو کې منځ ته راځي. دا کار مو هم ځکه وکړ چې نیولوجیزم په اسانه سره وپېژندل شي.

دکتور زیار په لیکلاربنود کې زیاتوي(په دې توګه ږومبنی درې ویې ډولونه د پښتو وییپانګې خپله نږه پانګه ګڼل کېږي او څلورم دا له (پارسي، هندي، عربي، انګریزي، پرانسي ...) ژبو څخه راپور شوي او دود شوي دي، معنا دا چې ټوله وییپانګه په سل کې (۷۵) په پښتو اړه لري او په سل کې (۲۵) په پردیو ژبو، تر ۲۵٪ زیاته پورونه پښتو له پښتنو څخه ورو ورو پردۍ کوي کنډباغي (پښتو) یا لږ تر لږه اردو ترې جوړېږي(زیار، ۱۳۸٦، ۱۴ مخ).

ژبه ټولنیزه پدیده ده، پرمختګ او وروسته پاتې والی یې د ټولنې له پرمختګ او وروسته پاتې والي سره نیغې اړیکې لري، څرنګه چې هره ټولنه د نړۍ او ساینس له پرمختګ سره همغاړې پرمختګ کوي، نو دا هر څه  د دې لامل کېږي چې په ژبه کې نوي وییونه او کلمې وپنځېږي، نو دا په هره ژبه کې طبیعي لړۍ ده چې نوي لغتونه پنځوي او یو شمېر زاړه لغتونه په کې مري او له استعماله لوېږي.(ځولیزی، ۱۳۹۹، ۱۵٦ مخ).

نیولوجیزم هغه وخت  ژر او په ډېره اندازه په ژبه کې منځ ته راځي چې د ټولنې په عادي ژوند کې نوی تحول  پېښ شي، په هېواد کې دننه ټولنیز ژوند د کلتور او تولید له مخې بله بڼه غوره کړي په کورني او بهرني سیاست کې نوې لاره غوره شي، نو په دې وخت کې د ټولنیزو اړتیاوو د لرې کولو لپاره دا ضرورت پېښېږي چې یا هم نوي لغات جوړ شي او یا هم له نورو ژبو څخه د ضرورت وړ لغات واخیستل شي، شته اړتیا پرې پوره او خپل ژبنۍ قاموس پرې غني کړل شي. دلته باید وویل شي که چېرې په ژبه کې د ضرورت له مخې نوي لغات جوړېږي په دې وخت کې باید د نویو لغتونو جوړولو قواعد له پامه ونه غورځول شي.

د نیولوجیزم ارزښت په دې کې دی. وړاندې له دې چې د نورو ژبو لغتونه په ژبه کې عام شي یا نوي مفهمونه یوې ژبې ته داخل شي او په ټولنه کې ومنل شي یا هم لږ تر لږه ډېر عام او خپاره شوي او

منل شوي نه وي. د هغو بدیل نوې جوړونه وشي. کله نا کله موږ داسې هم لیدلي دي چې د نورو ژبو لغات ډېر عام او منل شوي او له هغه وروسته بیا که د هغو پر ځای نوي لغات جوړ شوي هم دي، ډېرى بيا هماغه پردي يا پخواني عام شوي لغتونه په ټولنه کې پاتې شوي او نوي لغتونه نه دي عام شوي.

دلته د پښتو نوم ایښودنې یا نیولوجیزم په برخه تېر کارونو ته تم کېږو او پیل یې له دې ځخه کوو چې په شعوري او دولتي کچه دې چارې ته پام اوښتی دی او په دې برخه تلپاتې هڅې او کارونه ترسره شوي دي.

د نوم ایښودنې په برخه کې اساسي او بنسټیز ګام هغه وخت واخیستل کېږي چې په افغانستان کې یې تاریخ لیکونکي د ریفورم او اصلاحاتو دوره بولي.

دا وخت د هېواد د یوه خواخوږي ټولواک امیر شیرعلي خان د واکمنۍ دویمه دوره وه، دا امیر لومړی ځل په ۱۲۷۹ هـ، ق/ ۱۸۶۳ ز کال کې د هېواد واکمن شو او په همدې وخت کې د هېواد لوی عالم او فیلسوف علامه سید جمال الدین افغان خپل اصلاحي نظریات په لیکلي ډول ورته وسپارل.

په دې سپارښتنو کې د پښتو د پرمختیا او په رسمي چارو کې دودېدل هم شامل وو، خو ده د کورني اړو دور له امله ونه کړای شول چې د علامه پروګرام پلی کړي او په ۱۲۸۲ هـ، ق کې امیر محمد افضل خان واکمني ترې ونیوله، کله چې په ۱۲۸۵ هـ، ق/ ۱۸۶۸ ز کال کې امیر شېرعلي خان یو ځل بیا واکمن شو، نو د اصلاحاتو د یاد شوي پروګرام عملي کول یې پیل کړل، د کابینې پر جوړولو، د عسکري رتبو پر ټاکلو د مطبعو پر راوړلو، د اخبار پر را ایستلو، د ښوونځیو ، د عصري ښار، عصري سړکونو او نورو پر را منځ ته کولو سربېره یې د پښتو پاللو او رسمي کولو ته لاس اوږد کړ، نوموړي لومړی د پښتو د نومو د ټاکلو او ایښودلو لپاره د صدراعظم سید نورمحمد شاه په مشرۍ یوه کمېټه جوړه کړه او لارښودنه یې ورته وکړه چې د نومونو په ایښودلو او جوړولو کې د (عام فهمۍ) اص په نظر کې ولري، د دې کمېټې ډېر مهم او فعال غړی قاضي عبدالقادر پېښوری و چې د قاضي قادر په نامه مشهور و.

د نوم ابښودولو او اصطلاحاتو جوړولو پروګرام ډېر ژر نتیجه هم ورکړه او په لومړۍ مرحله کې د توپخانې، پلو او سپرو عسکرو د بولیو درې ټوکه کتابونه له انګریزي څخه د قاضي قادر په وسیله په پښتو را واړول شول او ټولې انګریزي بولۍ یې په خوړه او روانه پښتو ترتیب کړې چې په عسکري کې یې زده کړه پیل شوه او تر یوه کال وروسته دا ټولې عسکري بولۍ د عسکرو تر منځ معمولې او په زړه پورې ډول عملي او دود شوې. له دې کبله چې پښتو بولۍ د عسکرو لپاره تر پخوانیو بولیو اسانه وې، نو ځکه د ۱۲۹۱ هـ. ل کال د کوچني اختر په ورځ امیر شېرعلي خان د پلو د ۳۷ کنډک د سپرو د څلورو کنډکو او د توپخانې د پنځو ډلو سلامي واخیسته او دوی ته یې یوه لنډه وینا هم وکړه چې په ځواب کې عسکرو د پښتو بولیو په دودېدلو سره خپله خوښي وښوده او دا یې د عسکري تعلیم ډېره اسانه لاره وبلله. د بولیو تر څنګ یې د دولت د ملکي او عسکري مامورینو نومونه هم په پښتو کښېښودل، امیر شیر علي خان د ۱۲۹۰ هـ. ق کار د روژې په ۲۵ نېټه د هېواد د بېلابېلو چارو د ادارې لپاره بېل کسان وټاکل او کابینه یې جوړه کړه، دا لومړی ځل دی چې په هېواد کې د چارو واګې د هېواد بېلو بېلو ټبرونو کسانو ته وسپارل شوې، چارې سره ووېشلې شوې، د هر چا کارونه سره بېل شول او د هېواد د ټولو چارو د ترسره کوونکو لپاره پښتو نومونه وټاکل شول(رفیع، ۱۳۹۷، ۸۸ مخ).

چې دلته یې څو پښتو نومونې د بېلګې په ډول راوړو:

| پښتو نومونې | پخواني نومونه |
|---|---|
| لوی ټولمختار | صدراعظم |
| لوی ملک | مستوفی الممالک |
| لوی مین دباندې | وزیر دول خارجه |
| لوی مین(د) غرو | وزیر کوهستانات |
| لوی کښل | دبیرالملک(رفیع، ۱۳۹۷، ۸۹ مخ). |

په یوه ژبه کې د نویو جوړونو او نیولوجیزم په اړه ځینو پوهانو داسې نظرونه وړاندې کړي او ځینو داسې ټکو ته یې اشارې کړې دي چې له هغو نقطو له مراعت کولو وړاندې د نویو لغتونو جوړول ژبې ته د ګټې پر ځای زیان رسوي چې دلته هغه ټکي په لنډه توګه را اخلو:

## ۴ . ۹ د پښتو سوچه لغاتو پلټنه

هغه پردۍ کلمې چې اوس زموږ په ژبه کې کارول کېږي او ظاهراً یې په مروجه پښتو کې خپله کلمه نه لرو، داسې لغات دې په ډېر دقت ټول او ضبط شي، وروسته دې، هغو ګرځنده ډلو ته لغتونه ټولوي وسپارل شي چې په هر ځای کې خپله پښتو کلمه وپلټي او ویې مومي.

په دې ډول به نو موږ ډېرې د پښتو نادرې او مهجورې کلمې ومومو او د ژبې ډېر نوادر به مو لاس ته راشي. خو کله چې موږ پخپله ژبه کې خپله او زړه کلمه ولرو، نو د نوې کلمې وضع کول غلط کار دی. هو! که موږ پوره پلټنه وکړه او په ژبه کې مو داسې پښتو سوچه کلمه ونه موندله او له هرې خوا مأیوس شوو، هلته که نو موږ د پردیو کلماتو په مقابل کې نوې وضع وکړو، البته ښه به وي.

په دې ډول تر پلټنې دمخه شیانو ته نومونه وضع کول ژبه خرابول دي. «سګک» په مروجه محاوره کې پښتو نوم نه لري، چا د دې لپاره د ترجمې په ډول (کوترۍ) نوم ښه ګڼلی دی، مګر تر پلټنې وروسته ښکاره شوه چې دا شی په پښتو(غربی) بولي.

ډېر د پښتو پوهان په وضع کې خورا ډېر تلواري دي، دوی ژر ژر نوي نومونه تجویز کوي، خو که تر دې دمخه پلټنه وشي، حاجت وضع کولو ته نه پېښېږي، پخپله ژبه دغه مواد لري، موږ یې د وضع حق هم نه لرو.

## ۴ . ۱۰ د لغاتو وضع

تر پلټنې وروسته زموږ کار دې ته رارسېږي چې لغات وضع کړو، لغات وضع کول یعنې لغات جوړول اسانه کار نه دی او د یوه سړي یا دوو تنو له خوا لغات وضع(جوړېدای) کېدای شي، دا خورا مهم کار دی.

پوښنه دا ده چې کوم لغات باید وضع شي؟

د دې پوښتنې ځواب لږ څه شرح غواړي چې په لاندې موادو کې راوړله شي:

۱. په زړو نومو او اصطلاحاتو کې ځینې داسې شیان شته چې طبیعي مواد ګڼل کېږي او په اجتماعي ژوندون کې ګډ دي. د داسې شیانو لپاره که موږ په ښاري محاورو او مروجه پښتو کې لغت نه ومومو، نو ښایي چې ویې پلټو او ومونډل شي او تر پلټنې دمخه پر وضع پېښه ونه کړو.

۲. په زړو علمي اصطلاحاتو کې دې هم غور وشي، ممکنه ده چې پښتو ولري، که نه شوه مونده، نو دې دا علمي اصطلاحات بېل قید شي او وضع کولو ته دې وسپارل شي یا دې هغه په ژبه کې ومنل شي.

۳. نوي علمي اصطلاحات او ځینې اجتماعي او عصري نومونه چې د مدنیت د قرن نتایج دي ، دا شیان خو ټوله نوي دي، نو ښایي چې په وضع یې اوس ژر موږ پیل وکړو چې ژر رواج ومومي او د پردیو کلمو پر ځای چې د مدنیت سره راځي، خپلې کلمې استعمال کړو، لکه: پوهنتون، روزنتون، روغتون. دا خبره د علمي ټولنو د غور وړ ده چې هره ورځ د مدنیت له نویو آثارو سره زموږ زموږ په ژبه نوي نومونه هم ګډېږي او د عوامو په خوله کې لوېږي، د دې لپاره که علمي ټولنې تر رواج دمخه د پردیو کلمو پر ځای خپل پښتو کلمات وضع کړي، بده به نه وي(حبیبي، ۱۳۴۸، ٦ مخ).

## ۴ . ۱۱ د پښتو ژبې د نیولوجیزم په برخه کې انفرادي کارونه

له اتمې هجري پېړۍ نه را وروسته د پښتو د باسواده طبقې په ادبیاتو او ژبه د عربي او دری ژبو اغېزه وشوه، نو ځکه یې ژبه له سوچتابه وایسته او د عربي او دري ژبو لغات یې په زیاته اندازه په کې را وستل، هماغه وو چې د پښتو ژبې ځینې لیکوال د پښتو د سوچه کولو په فکر کې شول(رفیع، ۱۳۹۷، ۲۷ مخ).

د کلمو جوړول په ژبه کې یو طبیعي امر دی. د نویو لغتونو جوړول په واقعیت کې د ژبې د ځواکمنتیا او ساتلو یوه له مهمو لارو څخه ده او دا لړۍ به د تل لپاره په ژبو کې روانه وي. حتی که په علمي او تخصصي توګه هم دا چاره ترسره نه شي، ولې د ژبې د عامو ویونکو له خوا څخه هم دا چاره ترسره کېږي او نوي لغتونه منځ ته راځي. دلته موږ د هغو اشخاصو هڅو ته تم کېږو چې په شعوري توګه یې د ځینو علمي دلیلونو او اړتیا له کبله د لغتونو جوړولو ته ملا تړلې ده او د لغتونو د جوړولو په ډګر

کې یې عملي ګامونه اوچت کړي دي. د دې خبرې د وضاحت لپاره چې په پښتو ژبه کې له ډېره مودې مو د دې شاهدان یوو چې په انفرادي توګه د پښتو ژبې خواخوږو لیکوالانو، پوهانو او شاعرانو دې برخې ته توجه کړې ده. په یو ځای کې لولو: «حمید د نورو نومیالیو شاعرانو غوندې پر نویو رغاونو هم اړی نه دی کړی او له اړتیا سره سم یې یو لړ نیولوجیزمونه را منځ ته کړي. په تېره بیا د کړنومونو په برخه کې. لکه: له کړولي څخه په وني وروستاړي سره نومن (چاروال) جوړوي، تښېدونی، وېشتونی، رغېدونی ... (شینواری، ۱۳٦٦، ۵۱ مخ).

د پورتني یادونې له راوړلو څخه مو موخه دا ده چې وخت په وخت هر لیکوال او شاعر نوې جوړونې کړې دي او دا لړۍ د ژبنۍ اړتیا له مخې دوام موندلی دی، خو کله به چټکه روانه وي او کله هم قراره. نشو ویلای چې په پښتو ژبه کې د نیولوجیزم بهیر د تېرو پنځوسو کلونو خبره ده، بلکې اوږده سابقه لري. په دې برخه کې هم انفرادي هڅې شوې دي او هم د څېړنیزو مرکزونو لخوا ډله ییز کار تر سره شوی دی.

له بده مرغه پښتو ژبه لکه د نورو برخو په څېر د نیولوجیزم په ډګر کې هم وروسته پاتې ده او څه ډول کار او څېړنو ته چې اړتیا لیدل کېږي، نه دي ترسره شوې. دلته موږ له دې توپیر پرته چې دا کار په کوزه پښتونخوا کې ترسره شوی او که په افغانستان کې انفرادي او ډله ییزو هڅو ته اشاره کوو.

۴ . ۱۱ . ۱ حمید مومند

د حمید د دیوان او نورو آثارو مطالعه دا خبره زباتوي چې حمید د خپل وخت دود علوم لوستي وو. په دیني او شرعي علومو کې د ښې مطالعې څښتن و او په ادبي علومو کې یې ښه لاس درلود. په پارسي او عربي او حتی د هندي ژبو په ځینو لهجو پوهېده. په دیوان کې یې د یوې پښتو ــ هندي ملمع غزلې او ځینې هندالاصله وییونو موجودیت د دې خبرې ښه لاسوند دی. د دده د آثارو مطالعه دا هم راښیي چې حمید پر پښتو ادب سربېره په پارسي ادب کې هم ژوره مطالعه درلوده او د پارسي ژبې پر ادبیاتو هم لاس بری و(مومند، ۱۳٦۳، ۱۳ مخ).

پوهاند مجاور احمد زیار د ’’عبدالحمید مومند یاد‘‘ د سیمنیار د مقالو په ټولګه کې د ’’ د حمید مومند لیکلار‘‘ تر عنوان لاندې مقاله کې د حمید مومند په اړه لیکلي دي:

د یوې ګډې ټولنیزې کره لیکنې او ادبي پښتو رغښتي او بشپړتیایي بهیر چې سم دلاسه د امیر کروړ له ویاړنې سره را پیلېږي او له بایزید روښانه نیولې تر خوشحال خان خټک، قادر خان خټک، عبدالرحمن بابا پورې بېلابېل پړاوونه وهي، د نازکخیال شاعر حمید مومند له سترو او تلپاتې ادبي شهکارونو سره ډېرو لوړو ځوکو ته رسېږي او د هندي سبک د یوه نوي ځانګړي رومانتیک ــ استیتیکي ښوونځي د بنسټوال په توګه یې خپل را وروسته لارویان هم دغې خوا ته هڅولي دي. د حمید د شعر ژبه ډېره پراخه، بشپړه او هر اړخیزه ده او د همدې لپاره پر خپله لنډ تنګ سمیهییز پښتو ګړدود بسیا پاتې شوی نه دی. هم یې ورسره له تاریخي ادبي پانګو(ارکایزمونو) او نویو رغاونو(نیولوجیزمونو) کار اخیستی او هم یې له پارسي، عربي او هندي پورویيونو او بېلابېلو پښتو جغرافیایي ګړدودي پانګو او بېلابېلو مورفولوژیکي او نحوي رنګارنګیو او وریندونو څخه داسې چې د اوسنی(کره لیکنی پښتو) د انتخاب او ټاکنې په برخه کې اړوندو ځانګوالو سره ډېره ښه مرسته کولای شي(زیار، ۱۳٦٦، ۳۷ مخ).

هو یوه بل نومیالی شاعر او ادیب چې پښتو نیولوجیزم ته یې پام کړی دی هغه حمید مومند دی او حمید هغه څوک دی چې د نیولوجیزم په برخه کې ځان ته مشخصې کړنلارې لري او له بایزید روښان نه وروسته د نیولوجیزم په منځ ته راوړلو کې حمید مومند دویم ځای لري، ځکه د ده په څلور واړو آثارو کې د نیولوجیزم بېلګې ډېرې دي.

د حمید په کلام کې دوه ډوله نیولوجیزم لیدل کېږي: ۱. قیاسي نیولوجیزم ۲. غیر قیاسي نیولوجیزم.

دلته یې هر یو د بېلګو په ترځ کې درپېژنو:

۱. قیاسي نیولوجیزم

دلته د هغو مرکبو کلمو له جوړښت څخه عبارت دی چې په ژبه کې د هغه د جوړښت مبادي موجود وي او ګرامري ستونزه ونه لري، لکه: دغه څو راتلونکې کلمې: اوښلن ــ وښلن.

د (لن) سوفیکس په مرسته له (اوښه، اوښکه) څخه د صفاتو جوړول په پښتو ژبه کې قیاسي جوړښت دی. دغه صفات حمید داسې راوړي دي:

اوښلن: له اوښکو ډک په اوښکو ککړ.

وچ ګوګل، اوښلنې سترګې ګونه زېړه

ګوښې ګوښې کړي زما په آشـــــنا غرض

بې زما آتشین آه اوښلنو سترګو

نه یې شته بل آب و تاب د حسن کُف

(شینواری، ۱۳٦۳، ۲۴ مخ)

زېرمول: ذخیره کول، قاموسونو د فعل په صیغه نه دی اخیستی، یوازې یې (زېرمه) اخیتسی دی. له زېرمه څخه د (زېرمول) جوړول هم قیاسي جوړښت دی، لکه: له لټې څخه لټول، له هڅې څخه (هڅول) فعل چې نه پښتو قاموسونو اخیستی او نه د نورو کلاسیکو شاعرانو او لیکوالانو په کلام کې راغلی حمید داسې راوړی دی:

چې طلب در څخه نس خواږه تروه کا

زېرموې سبا حلوا بېګاه شوروا

(شینواری، ۱۳٦۳، ۲۵۰ مخ)

پوری ژل: (پورژنی) د وروستلو، ورجلاکولو پورې وهلو په معنا «زړه پانګه« اثر را اخیستی دی د حمید بابا په شاعرۍ کې هم پورتنی معنا لري:

ګفتګوی آزاد توتی په قفس بند کا

پورژني هر سړی بلا ته ژبه

۲. له قیاسه مخالفې جوړونې

د حمید په آثارو کې ډېر ځله داسې اشتقاقونه موږ موندلی شو چې له ګرامري قاعدو سره سمون نه لري او د ده د نیولوجیزم خاصه برخه جوړوي(شینواری، ۱۳٦٦، ۵۵ مخ).

بلاغواړی: دغه مرکبه کلمه چې د ماجراغوښتنې (وانتوریزم) په معنا ده، له دوو توکو جوړه ده:

۱. بلا، ۲. غواړی ــ غوښتونکی چې معنا یې ده

د پښتو ګرامري قاعده ده چې هم په بسیطو او هم په مرکبو کلمو کې اشتقاقونه ټول د فعل د ماضي له اساسه کېږي، نه د حال او مستقبل، لکه: غوښتـل ـ غوښتونکی، لیـدل ـ لیدونکـی... نو په دغو راتلونکو بیتونو کې د (بلا غواړی) مرکبه کلمه په غیر قیاسي او له ګرامري قاعدې مخالفه جوړه ده.

چې له آسه د کوهي په غاړه کوز شو

بـلاغواړی زړه یې پوه په بل رموز شو

(شینواری، ۱۳٦۳، ٦۹مخ)

اورلګاندی(اورلګونکی): دغه صفت هم د اورلګوونکي په معنا قیاسي نه دی جوړ شوی، هغه صفات چې د ( اندی) سوفیـکس په مرسته جوړېږي لازمي معنا افاده کوي، نه متعدي، لکه: ځپاند، زړاند، پوهاند(شینواری، ۱۳٦۳، ۵۴ مخ).

اورلګاندي چې اور ولګاوه لاړه

هغې جنې لره راغله لکه غاړه

(شینواری، ۱۳٦۳، ۳۰ مخ)

پټکاری: په پټه تښتېدونکی. که څه هم د پټکاري معنا په پټه تښتېدونکی دی، خو (ی) وروستاړي په مرسته چې کوم لغتونه جوړېږي، هغه د یوې چارې ترسره کوونکی وي، لکه: پټکاری یعنې هغه څوک چې په پټه یو کار سرته رسوي، نه دا چې پر هغه کوم کار ترسره شوی وي. دلته پټکاری مفعولي معنا ورکوي.

هغه زړه راڅخه مینې پټکاری که

چې ساتلی و په جار و په قربان عق

(شینواری، ۱۳٦۳، ۱۰۲ مخ).

د دې تر څنګ چې حیمد بابا نوې جوړونې کړې دي او نوي لغتونه را منځ ته کړي دي، بلې موضوع ته یې هم پام اوښتی دی چې دا هم له نوې جوړونې سره تړاو لري او هغه دا چې د حمید بابا په شعرونو کې موږ د نورو ژبو د کلمو د کارونې او راوړلو په خوا کې سوچه پښتو کلمې هم ډېرې موندلی شو چې دا چاره هم په شعوري توګه ترسره شوې ده او بل دا چې د نویو لغتونو د جوړولو یو ستر هدف هم همدغه دی چې ژبه د نورو ژبو د کلمو او لغتونو په زېرمه بدله نه شي.

بډایي: (۱. شتمني ۲. ویاړ، افتخار، کبر، غرور) ظفراللغات په دویمه معنا اخیستی دی چې حمید مومند هم په دویمه معنا(د کبر، غرور او افتخار په معنا کارولی دی، خو بډایی هغه پښتو کلمه ده چې د پښتو قاموس هم د (شتمني) معنا ترېنه اخیستې ده او اوس هم په پښتو ژبه کې کارېدنګ لري.

له عامه خلقه سوا جامه نه ښایي سوا

چې راځي ځینې بایي، بډایي، خود نمایي

(شینواری، ۱۳٦۳، ۵۵ مخ)

کره: معیاري، سم، سوچه

د مومند د مینې کوټ به کره ووځي

که پرې ځیر شي نکته دان دانا صراف

(مومند، ۱۳٦۳، ۱۲ مخ)

نه یوازې دا چې حمید مومند نوې جوړونې کړې دي او د پښتو خپل سوچه کلمې یې کارولې دي، بل مهم ټکی دا دی چې نوموړي په خپلو شعرونو کې د پښتو ژبې ګړدودي وییونه هم کارولي دي چې دلته یې په لنډه توګه څو بېلګې را اخلو:

ایسوړی: ایسوړی: بیلوڅه(پیلوڅه)

د دې مترادف لغت چې اوس هم پښتو ژبه کې ژوندی دی او حتی پر دې نامه ادبي خپرونې خپرېدلې، هغه پیلوڅه، یا پیلوڅه ده چې په زړه پانګه کې پیلوڅه بڼه لیکل شوې ده او په اړه یې لیکلي دي چې یو غرنی بوټی دی.

نرم پوست سړه سینه درلره ښایي

مه شه هسې سره لمبه لکه ایسوړی

(شینواری، ۱۳۶۳، ۲۷ مخ)

بروسه: دا لغت ظفراللغات د ډاډ، مرستې او حمایې په معنا اخیستی دی(شینواری، ۱۳۶۳، ٦١ مخ). خو دا کلمه اوس هم په ځینو پښتو لهجو کې کارول کېږي چې د باور او اعتماد معنا هم لري، لکه: پر تا مې هېڅ بروسه نشته.

۴ . ۱۱ . ۲ عبدالحی حبیبي

په ۱۳۱۰ هـ، ش کال. په کندهار کې د طلوع افغان اخبار ټول په پښتو واوښت، استاد عبدالحی حبیبي د دغه اخبار چلوونکی و او د پښتو ژبې د سوچتابه او بشپړتیا دغه ربړه هم دوی له پامه نه وه غورځولې او هڅه یې کوله چې په دې برخه کې د دغه اخبار له لارې کار وکا.

پوهاند حبیبي لکه څنګه چې د پښتو ژبې لپاره په نورو برخو کې مهم او نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي د نویو لغتونو جوړول یې هم نه دي هېر کړي او عملاً یې په دې څانګه کې هڅې او کار کړی دی او یو شمېر نوي لغتونه او کلمې یې جوړې کړي او د پښتو ژبې لغوي زېرمه یې پرې غني کړې ده.

دلته هم د استاد حبيبي له خوا چې کوم نومونه اېښودل شوي او نن ورځ يې هم څه نا څه دود دي، د بېلګې په توګه را اخلو، هسې خو يې ډېرې نومونې کړې دي، خو زياترو يې عامه بڼه نه ده خپله کړې.

فونولوجي ــ غږ پوهنه

بيوګراف ــ ژوند ليک

مايع ــ اوبلن

سيکولوژي ــ روزنه او پالنه

پيداګوجي ــ روزنه، پالنه.(رفيع، ۱۳۹۷، ۱۲۵ مخ)

۴ . ۱۱ . ۳ حسين کوثر

په کوزه پښتونخوا کې حسين کوثر هغه ليکوال دی چې د عيني ضرورت له مخې يې د نويو پښتو لغتونو په جوړولو لاس پورې کړی دی او نوې جوړونې يې کړې دي. نوموړي ''د هندو اروپايي او سامي ژبو وېشنه'' او ''د افغان يوريشيايي'' په نومونو کتابونه په ۱۹۵۸، ۱۹۵۹ او ۱۹۶۱ کلونو کې نشر کړل او نوي لغتونه يې پکښې وکارول(رفيع، ۱۳۹۷، ۱۲۷ مخ).

۴ . ۱۱ . ۴ عبدالصمد خان اڅکزی

خان عبدالصمد خان يو له هغو پښتنو مشرانو څخه دی چې د پښتون قوم د فکري او سياسي آزادۍ تر څنګ يې په علمي لحاظ هم پښتو ژبې خدمتونه کړي دي او د پښتو لغت جوړونې په برخه کې يې ځانګړې نظريات وړاندې کړي دي. تر اوسه پورې يې د پښتو ژبې په فرهنګي کړيو کې د نظرياتو پلويان موجود دي، خان عبدالصمد خان چې نوې جوړونې هم کړي او په دې برخه کې يې نظريات ورکړي دي، تر ډېره د پښتو ژبې په سوچه والي را څرخي او د عربي ژبې د کلمو پرځای يې د پښتو ژبې د لغتونو او کلمو پر کارونې ټينګار کړی دی.

«د پېښور د ژبني ياد شوي غورځنګ له وخت سره سم په کوټه کې هم د دې ځای يوه ملي مبارز د خپلې مبارزې ترڅنګ يو ژبنی بدلون او اوښتون هم را منځ ته کړ. دا شخصيت عبدالصمد خان اڅکزی و چې د پښتو ژبې او ليکدود په باب يې نوې رده تېره کړه.»

ده خپل نظريات په يوه کوچنۍ رساله کې وليکل او د ژبې د ژور اوښتون په برخه کې يې خپل دلايل وړاندې کړل چې موږ يې دلته د نويو لغتونو اړوند نظريات  را وړو:

۱. ترڅو چې په پښتو کې خپل ويي شته د نورو ژبو ويي دې نه کارول کېږي، ځکه په دې وسيله به د پښتنو د ټولو سيمو لغتونه دود شي. له همدې کبله د (ښځه، ماينه، تېر، ارتينه، د لغتونو په درلودلو سره د (اهليه محترمه) ليکل ناسم بولي.

۲. نورو راغلو نومونو ته دې د ژبې له دود سره سم نومونه جوړېږي او نوم اېښودنې دې کېږي، ځکه دا کار نورو هم کړی دی له همدې کبله په خپلو ليکنو کې (محکمې) ته (ميانځګری)، (جمهوريت) ته (اولسواکي)، (کلچر) ته (ژواک)، (خود غرض) ته (خپل چاری)، منتقم ته (غچن) وايي.

۳. هغه پردي ويي چې د اړتيا له مخې يې را اخلو، د پښتو د تلفظ سره سم دې کښل کېږي، څکه د عام اولس لپاره آسانه کېږي او په نورو ژبو کې هم دا کار شوی دی.

خپل نوم د (عبدالصمد) پر ځای (اودل سمد)،  (عبدالحق) اودل هک، (رحمان بابا)، (رهمان بابا) او نور ليکي(رفيع، ۱۳۹۷، ۱۲۷مخ).

۴ . ۱۱ . ۵  پوهاند دکتور مجاور احمد زيار

کله چې د پښتو نيولوجيزم په اړه خبرې کېږي؛ هلته به د پوهاند زيار يادونه هم حتمي وي. دکتور مجاور احمد زيار هغه څوک دی چې په پښتو ژبه کې يې د نيولوجيزم په اړه ډېرې ليکنې کړې او په دې برخه کې يې مستقل آثار هم چاپ شوي دي.

د نيولوجيزم په ډګر کې  د پوهاند زيار هڅې په دوو برخو وېشلای شو: ۱ ـ د نويو جوړونو په اړه د معاصرې ژبپوهنې دريځ، اصول او تيوريانو وړاندې کول.۲. نوې جوړونې/ نيولوجيزمونه.

په لومړۍ برخه کې واقعیت دا دی چې پوهاند زیار زیاتې لیکنې لري چې دلته یې د ځینو یادونه کوو، لکه: پښتو نومترنګونه یا اسمي ترکیبات (الماني)، پښتو سیند(نویزونه)، د یوې کره پښتو لیکلارې لارښود او ځینې نور آثار ...

پښتو وییپوهنه او وییرغاونه: د پوهاند زیار هغه اثر دی چې د وییرغاونې په اړه تیوریک اساسات او اصول بیانوي. د معاصرې ژبپوهنې د اساساتو له مخې په پښتو نیولوجیزم او نویو جوړونو ګټور بحثونه لري.

پوهاند زیار ژبپوه دی چې ځان د پښتو نیولوجیزم او نویو جوړونو سر لاری ګڼي او په دې برخه کې یې عملاً هم په یوازې ځان ډېر کار او هڅې هم کړې دي، خو بل خوا بیا د پوهاند زیار نویو جوړونو ډېر بحثونه هم را منځ ته کړي دي او حتی کله نا کله یې ځینې پوهان پر وړاندې دربېدلي او لیکنې یې هم کړې دي.

دا چې په پښتو ژبه کې له بده مرغه د نویو جوړونو په برخه کې منظمې ادارې او بنسټونه وجود نه لري، نو حتمي خبره ده چې انفرادي هڅې او کارونه به بېلابېل بحثونه منځ ته راوړي، خو بیا هم ویلای شو چې پوهاند زیار په پښتو ژبه کې له هغو پوهانو څخه دی چې د نیولوجیزم په برخه کې یې ډېرې هڅې او سترې ګاللي دي، دا چې نوې جوړونې یې تر اوسه څومره منل شوې دي؟ دا بیا ځانګړی بحث دی. دکتور زیار د خپلو نویو جوړونو په اړه وایي چې زما نویزونه د عامو خلکو لپاره نه دي، بلکې دا د ژبپوهنې د ځانګوالو لپاره دي، زیاتوي چې نوې جوړونې لومړۍ باید په تخصصي ځانګو وشي او له دې لارې بیا د عام اولس منځ ته لار پیدا کړي، خپرې او ومنل شي، ولې د ژبپوهانو تر منځ یې هم ګڼ بحثونه راپنځولي دي. له دې ټولو بحثونو سره سره دکتور زیار هغه ژبپوه دی چې د پښتو نیولوجیزم په برخه کې یې کار او زیار د قدر وړ دی.

## ۱۲.۴ د پښتو ژبې د نویزونو په برخه کې د علمي مرکزونو او فرهنګي ټولنو کارونه

پښتو د یوه وروسته پاتې هېواد لرغونې ژبه ده چې د دې ژبې د ویونکو پخوانۍ غښرو د وسایلو، افزارو او احتیاج ور خواوو لپاره ډېره مره او غني لغوي پانګه لري او د بشپړتابه بریالي پړاوونه یې وهلي دي او هم یې د نویو ایجاداتو لپاره معقولې او خوندورې ژبنۍ ستې او ربښې شته چې په ډېره آسانه د نویو پدیدو لپاره یو موزون او وړ نوم پکښې موندل کېدای او یا جوړېدای شي.

اما دا کار په خپله نه ترسره کېږي، بلکې په منظمه توګه د علمي مرکزونو او بنسټونو کار او زیار ته اړتیا ده، تر څو د لغتونو د جوړولو او نیولوجیزمونو د رامنځ ته کولو په برخه کې د پښتو ژبې له لرغونې او پراخې غښرې څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي او د دې ژبې د نني عصر غوښتنې او اړتیاوې پرې پوره او رفع شي. ځینې کسان د ژبې د بشپړتابه چار بدعت او ناروا بولي او په لوی لاس له خپلې ژبې نه د پردیو ژبو د لغتونو موزیم جوړول غواړي، خو په مقابل کې یې داسې کسان هم ډېر دي چې د ژبې د بشپړتابه په اساس زیار باسي او په ژبه کې نوې نوم ایښودنې کوي، خو دا د یوه یا څو تنو کار نه دی، بلکې په دې لار کې د ژبپوهانو او علمي مؤسسو د ګډو مرستو او هڅو ضرورت دی(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۳۱ مخ).

که څه هم د نویو لغتونو جوړول په نورو ژبو کې هم د یو شمېر پوهانو له لوري بدعت ګڼل شوی او پر وړاندې یې مخالفت څرګند کړی دی، خو له دې مخالفت سره ــ سره ژبپوهان او علمي ــ تحقیقي مرکزونه د لغت جوړونې په برخه کې په منظمه توګه کار او هڅې کوي.

کله چې موږ د پښتو ژبې تاریخ ته نظر واچوو، ګورو چې پښتو ژبه د خپل سوچتابه لپاره پراخه غښرې لري او پر مخ روانه ده. که څه هم د پښتو ډېر لرغوني متون په لاس کې نشته او نه یې زیات ډېرلیکونه تر لاسه شوي چې د هغو له مخې د پښتو په پخواني سوچتابه خبرې وکړو او یا یې سوچه والی او بشپړوالی را څرګند کړي. تر اوسه زموږ په لاس کې یوازې هغه درې مسریز هیجایي شعر شته چې دوه نیم زره کاله پخوا د ایران په بهستان (بیستون) کې د ایران هخامنشي کورنۍ د لوی داریوش (د واکمنۍ موده ۴۸۶ــ ۵۲۲ ق. م. پورې) په یوه ډبره کې کېندل شوی او په میخي خط لیک دی(رفیع، ۱۳۹۷، ۲ مخ).

دلته د شعر له راوړلو څخه تېرېږو، خو د پښتو ژبې د طبیعي سوچتابه په اړه د استاد رفیع نظر را اخلو:

د پښتو دوه نیم زره کلن شعر را ښیي چې پښتو حتی لا دوه نیم زره کاله پخوا په طبیعي ډول سوچه، بشپړه او په ځان پوره وه او بې له دې چې د بلې ژبې لغات او خبرې واخلي په خپله یې هر څه درلودل.

استاد رفیع د پښتو د طبیعي سوچه والي په بحث کې په مسلسله توګه د پښتو ژبې لومړني لاس ته راغلي شعرونه راوړي او خبرې پرې کوي.

زیاتوي چې حتی د اسلام تر راتګ پورې پښتو ژبې خپل طبیعي سوچتابه ته دوام ورکړی دی او د بېلګې په توګه لومړی د امیر کروړ ویاړنه را اخلي او بیا د ابو محمد هاشم له عربي ژبې څخه پښتو ته را ژباړل شوی پارکی راوړي. د امیر کروړ په ویاړنه کې، لکه څنګه چې استاد رفیع وایي چې د پښتو ژبې د سوچتابه هڅه په کې شوې تر څنګ یې وینو چې د عربي لغتونو پر ځای نوي پښتو لغتونو جوړ شوي او کارول شوي دي چې دا چاره موږ ته پښتو نیولوجیزم را ښیي. که څه هم په تېرو بحثونو کې د نیولوجیزم په تاریخچه کې په دې اړه کافي بحث وشو، دلته نور بحث نه پرې کوو، یادونه یې ځکه ضرور وه چې موږ دلته د پښتو د سوچتابه لپاره چې په معاصر وخت کې کومې هڅې شوې. د همدغو هڅو په ترڅ کې موږ د پښتو نیولوجیزم په برخه کې د تر سره شوو کارونو څېړنه کوو.

۱ . ۱۲ . ۴ مرکه د پښتو (پښتو مرکه)

لومړی ځل په اساسي توګه د سوچه پښتو په برخه کې د هېواد د خپلواکۍ له تر لاسه کولو وروسته د اعلیحضرت غازي امان الله خان په وخت کې د پښتو مرکې له خوا قدم پورته شو.

کله چې د خپلواکۍ له تر لاسه کېدلو وروسته د هېواد د هر اړخیز پرمختګ تحول او بدلون لپاره پلانونه جوړ شول، اداري رامنځ ته شوې او قوانین راووتل، د پښتو ملي ژبې د روزنې، پالنې او رسمي کېدلو ضرورت هم احساس شو، د وخت ټولواک اعلیحضرت غازي امان الله خان له پښتو سره شخصاً زیاته علاقه وښوده او سربېره پردې چې په خپله یې په پښتو خبرې کولای شوې، ویې غوښتل چې د هېواد دا ملي او لرغونې ژبه باید را ژوندۍ شي او محسوسه یې کړه چې د یوه ملت ژوند بې د ملي

ژبې له درلودلو نهناممکن دی، همداوو چې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د پښتو مرکه چې «مرکه د پښتو» یې نوم پرې کېښود، جوړه او د پښتو مرکې فاضلو غړو د پښتو روزنې او پالنې لپاره لېچې وغړلې(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۴۵ مخ).

د پښتو  مرکې تأسیس که څه تاریخ یې دقیق معلوم نه دی، د هغه وخت د اساسي تشکیلاتو له نظامنامې څخه څرګندېږي چې دا مرکه د اماني دورې په لومړنیو تشکیلاتو کې شامله او د پوهنې وزارت له درګونو ریاستونو نه د یوه ځانګړي ریاست په توګه را منځ ته شوې وه او هم ( یوازینۍ پښتو ) او ( پښتو پښویه ) کتابونه چې یو یېپه ۱۳۰۱ هـ، ش کال او بل په ۱۳۰۲ هـ، ش کال خپاره شوي څرګندوي چې پښتو مرکې په دې کلونو کې په خپلو اساسي کارونو پیل کړی و او د خپل کار لومړنۍ میوه یې د ( یوازینۍ پښتو ) په نامه ټولنې ته وړاندې کړه وه(رفیع، ۱۳۹۷،۱۴۶ مخ).

دې مرکې له یوې خوا د پښتو لغاتو د را غونډولو  په کار ګوتې پورې کړې، خو له بله پلوه یې د پښتو د هرې سیمې د نمایندګانو په وسیله د هرې سیمې سوچه لغات او محاورې را غونډ کړل او په دوو لویو قاموسونو «پښتو پښویه» او «یوازینۍ پښتو» په کتابونو کې یې خوندي کړل. د دې لپاره چې سوچه پښتو راغونډه شي، نو د پښتو مرکې لپاره یې د پښتنو د هرې سیمې نه پوهان راوستل او د پښتو په لیکلو بوخت شول(رفیع، ۱۳۹۷، ۲۹ مخ).

دلته هم ځینې هغه لغتونه او اصطلاحات را اخلو چې د پښتو مرکې له خوا جوړ او دود شوي دي: د وري میاشت، د غوایي میاشت، د غبرګولي میاشت، د زمري میاشت، د تلې میاشت، د لړم میاشت، د لیندۍ میاشت، د مرغومي میاشت، د سلواغې میاشت، د کب میاشت.

پسرلی (بهار)، دوبی (تابستان)، منی (خزان)، ژمی (زمستان).

ښوونکی، زده کړې، لاسلیک، پلازمینی (دارلسلطنه)، ټبر(قوم)، لیکوال.

یو شمېر هغه لغتونه هم را اخلو چې په ټولنه کې دود نه شول: ونج (میز)، ټاپ (چاپ)، ټاپن ځی(مطبع)، خبریال (اخبار)، کنبیده (نقشه)، لیرلیدی(دوربین) وړنګی (زده بین)، الس (ملت)، وزرتون (وزارت)، بربری (بیرق).

همدارنگه پښتو مرکې وظیفه درلوده چې د پښتو د ترویج او رسمي کېدو په لومړۍ مرحله کې پښتو ژبه په بشپړ او سوچه ډول وړاندې کړي او د عربي، دري او نور ژبو له اغېزې نه وتلې یوه سوچه پښتو د پښتنو د افهام او تفهیم وسیله شي.

په دې برخه کې «یوازینۍ پښتو» د پښتو مرکې لومړنی کتاب دی چې په سوچه پښتو لیکل شوی دی، په دې اثر کې هڅه شوې چې د پښتو لهجوي کلمې د نورو ژبو د کلمو په ځای ولیکل شي او هم ځینې لغات ورته جوړ کړي. همدا راز د پښتو مرکې دویم کتاب «پښتو پښویه» دی چې په دې اثر کې د پښتو صرفي او نحوي قواعد د سوچه پښتو په اساس ترتیب شوي او تنظیم شوي دي(رفیع، ۱۳۹۷، ۴۰ مخ).

«یوازینۍ پښتو» کتاب په ۱۳۰۱ هـ، ش کال د پښتو مرکې له خوا په (۱۵۲) مخونو کې د پوهنې وزارت په مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی. دکتاب خصوصیت دا دی چې ټول په پښتو دی، د پښتو مرکز غړو لومړی هڅه کړې چې د هرې عربي یا دری کلمې په مقابل کې چې په پښتو ویل کېږي، پښتو لغات پیدا کړي او کله یې چې په اولس کې دا لغات نه دي موندلي، نو بیا یې نوم ایښودنه کړې او د هر لغت له لغوي معنا سره سم یې لغت ورته جوړ کړی دی. په یوازینۍ پښتو نومي کتاب کې هم د نویو لغتونو جوړولو او کارولو ته پام شوی دی او د نورو ژبو د لغتونو پر ځای یې پښتو کلمې کارولې دي چې دلته یې ځینې بېلگې را اخلو: ۱ ـ کښنی (قلم) ۲ ـ ویی (لغت) ۳ ـ ټولواکي او ټولواگي (سلطنت او سیاست) ۴ ـ اووی (حکم) ۵ ـ وروستواله (پیروي).

د دې نومونو په باب د یادونې وړ خبره دا ده ځینې نومونه چې په سوچه پښتو کې موجود دي، د خلکو له خولو راټول شوي او ځینې نور یې وضع شوي او پښتو شوي دي(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۵۷ مخ).

د پښتو مرکې د قلمي آثارو په برخه کې یې دوه هغه مهم قاموسونه دي چې له منځه تللي او په لاس کې نشته، خو طلوع افغان د عبدالرحمن خان لودین د پېژندگلوۍ په برخه کې لیکلي دي چې ده هغه وخت د پښتو مرکې رئیس و یوسل او شپاړس زره ( ۱۱٦۰۰۰) دري لغات په پښتو او یوولس زره (۱۱۰۰۰) پښتو لغات په دري ولیکل چې د اماني دورې له نادرو آثارو څخه گڼل کېږي.

لیکوال زیاتوي: که څه هم دا قاموس اوس متأسفانه په لاس کې نشته خو پورتنی خبر ثابتوي چې د پښتو لپاره پښتو مرکې دا دومره دروند کار په هغه وخت کې ترسره کړی و.

د اماني غورځنگ ( ۱۳۳۷ ـ ۱۳۴۷ هـ، ق) له پای ته رسېدو سره سم پښتو مرکه هم له منځه ولاړه او هغه ادبي هڅې چې دغې مرکې د پښتو د سوچتابه او بشپړتابه لپاره پیل کړې وې ختمې شوې.

۴ . ۱۲ . ۲ د کابل ادبي انجمن

د کابل ادبي انجمن د جوړېدو فرمان په ۱۳۰۹ هــ، ش کال کې د اعلیحضرت محمد نادرشاه له خوا صادر شو او دغه انجمن په ۱۳۱۰ هــ، ش کال کې د (کابل) مجلې په خپرولو سره په رسمي توگه په کار پیل وکړ(بېلابېل، ۱۳۹۸، ۷ مخ).

نوموړي انجمن بېلابېلې دندې او موخې درلودې کومې وظیفې يې چې زموږ له موضوع سره سمون خوري دلته يې را اخلو او بحث پرې کوو:

انجمن به وخت په وخت د علمي او ادبي اصطلاحاتو د جوړولو او یو لاس کولو په لاره کې زیار باسي، د وزارت هغه کتابونه چې د ژبني سمون لپاره ورته رالېږل کېږي سموي او د ذوق او ادب له خاوندانو سره به که په هېواد کښې وي او یا له هېواده څخه دباندې خبرې او مکاتبه کوي او د دوی له نظریاتو څخه به استفاده کوي(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۷۸ مخ).

۴ . ۱۲ . ۳ پښتو ادبي انجمن

د پښتو ادبي انجمن د ۱۳۱۱ هــ، ش کال د لیندۍ په نهمه نېټه په کندهار کې د یوې درنې غونډې په ترڅ کې پرانیستل شو، د دې انجمن په پرانیستل کېدو کې د کندهار د هغه وخت د تنظیمیه رئیس اروانباد محمد گل مومند لوی لاس و، دا انجمن د همده په وینا پرانیستل شو او په دې غونډه کې ده په خپله د پښتو انجمن پروگرام او تگلاره تشریح کړه.

د پښتو ادبي انجمن دندې په اوو بېلابېلو مادو کې په گوته شوې دي چې دویمه ماده يې په مستقیمه توگه د لغتونو تدوین او را ټولولو ته اشاره کوي چې دا خپله د نیولوجیزم په ډگر کې یوه هڅه او توجه ښکاري چې هغه ماده دلته را اخلو:

د پښتنو له بېلابېلو سيمو او کليو څخه د پښتو ژبې د لغاتو راټولول او د لهجوي توپيرونو رفعه کول(بېلابېل، ۱۳۹۸، ۹ مخ).

پورته د مادې په لومړۍ برخې کې د پښتو لغتونو تدوين او را ټولولو ته اشاره شوې ده، په ځانګړې توګه د ارخاييزم برخې ته، ځکه دا خبره هغه وخت هم درک شوې ده، چې د لغتونو سترې زېرمې له اولس سره دي او پښتو ژبه په خپلو ګڼو لهجو کې د لغتونو بډايه زېرمې لري.

۴ . ۱۲ . ۴ پښتو ټولنه

دغه علمي ــ څېړنيزه مؤسسه د ۱۳۱۶ هــ. ش کال د غويي د مياشتې په لومړۍ نېټه (۱۳۳۷) کال اپريل) د کابل د ادبي انجمن او د کندهار د پښتو انجمن له ادغام او يوځای کېدو څخه منځ ته راغله.

پښتو ټولنه د «افغان اکاډمي» او «پښتو اکاډمي» په نومونو هم ياده شوې ده چې په دې نومونو يې بين المللي شهرت موندلی و. دغه علمي ــ څېړنيزه مؤسسه د خپل تأسيس پرمهال پّ اداري او تشکيلاتي لحاظ د پوهنې وزارت پورې تړلې وه چې هغه مهال يې لومړنی او افتخاري رئيس د پوهنې وزير سردار محمد نعيم خان او لوی مدير يې احمد علي خان درانی و(بېلابېل، ۱۳۹۸، ۱۱ مخ).

د پښتو ټولنې دندې

د پښتو ټولنې دندې خو زياتې وې او دلته نشو کولای چې په ټولو دندو او مسؤوليتونو يې بحث وکړو، يوازې يې په هغو دندو رڼا اچوو چې په ځانګړې توګه له لغت جوړونې سره تړاو لري.

- د يوې عصري ــ علمي ژبې په حيث د پښتو ژبې را ژوندي کولو او تدوينولو لپاره کارکول.

ــ د پښتو ژبې د لغاتو او قواعدو تدوين، د ضرورت له مخې د نويو اصطلاحاتو او لغاتو وضع کول، ادبي او لغوي څېړنې او د پښتو په لساني علومو پورې اړوند آثار ليکل او خپرول.

ــ په ۱۳۱۷ ل کال کې د دې لپاره چې پښتو ته ښه او بېړنی کار وشي، د پښتو ټولنې ټول غړي د ژبې په مديريت کې سره يوځای کړل شول، مدير يې امين الله زمرياليی وټاکل شو، انګريزي مترجم ارجنداس کپور او اداري کاتب يې عبدالصمد خان و. دې مديريت د تأليف او ترجمې او د لغاتو او

قواعدو دوې څانګې درلودې، چې دا کسان په کښې وو: قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، رادالدین خان، محمد اعظم خان ایازیو عبدالخالق خان اخلاص او محمد ګل نوري چې په همدې کال یې د پښتو کلي ګانو د لیکلو او خپرولو وظیفه پیل کړه.

د پښتو ټولنې پر فعالیتونو او کارونو ډېر آثار او کتابونه لیکل کېدای شي او تر ډېره پورې یې په اړه کار او لیکنې هم شوې دي، دلته یې موږ له نورو فعالیتونو او چارو سره کار نه لرو، یوازې هغه کارونه او فعالیتونه یې را اخلو چې زموږ له موضوع سره نږدې دي: د کابل په دیارلسمه کالنۍ کې بېلابېلې مقالې خپرې شوې دي چې یوه مقاله یې د پښتو لغتونو په اړه ده او سرلیک یې دی: (لغات فراموش شده پشتو)(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۸۲ مخ).

ــ «لغوي څېړنه» د ښاغلي الفت رساله ده چې په ۱۳۲۱ کال کې خپره شوې ده. په دې اثر کې د لغت او لغت جوړونې په اړه ښه او هر اړخیز بحث شوی دی.

ــ په ۱۳۲۸ کال کې د ښاغلي رښتین (د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه) اثر هم چاپ شو چې دا کتاب هم د پښتو لغت جوړونې په برخه کې غنیمت اثر ګڼل کېږي او تر اوسه پورې له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی. همدارنګه پښتو ټولنې په ۱۳۲۰ کال کې د ښاغلي ایازي د (لس زره پښتو لغتونه) کتاب هم خپور کړ.

۴ . ۱۲ . ۵ د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا اداره

په ۱۳۴۳ هـ. ل کال د افغانستان د خلکو په ارادې اساسي قانون جوړ او تصویب شو. د دې اساسي قانون په درېیمه ماده کې راغلي وو چې پښتو او دري په هېواد کې رسمي ژبې دي. دغه راز د همدې اساسي قانون په ۲۵ مه ماده کې د پښتو ژبې د پرمختیا او پیاوړتیا په اړه راغلي دي«دولت مؤظف دی چې د ملي ژبې پښتو د انکشاف او تقویې لپاره مؤثر پروګرام جوړ او تطبیق کړي. مطلب دا چې د پښتو ژبې د پراختیا او پیاوړتیا لپاره باید کوټلي ګامونه واخیستل شي.

د اساسي قانون د همدې حکم په رڼا کې د یاد شوي کال د لړم پر ۱۳ مه، د هغه وخت د هېواد لومړي وزیر دوکتور محمد یوسف د پوهنې او مطبوعاتو وزارتونه مؤظف کړي چې د پښتو ژبې د انکشاف پروګرام برابر کړي. د همدغو یادونو په ترڅ کې د هغه وخت د دولت له هڅو او پالیسۍ سره

سم، په ۱۳۴۵ هـ. ل کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په اډانه کې (د پښتو ژبې«د پرمختيا او پياوړتيا يو عمومي مديريت را منځ ته شو.

د هغه مهال د اطلاعاتو او فرهنگ وزير محمد عثمان صديقي«د پښتو ژبې د پرمختيا او پياوړتيا» په نوم د دولتي اُرگان د جوړېدو په اړه ويلي: له هغه ځايه چې د افغانستان ټول خلک د هېواد د دواړو رسمي ژبو(پښتو او دري) د زده کړې او پرمختگ په برخه کې په کوښښ کولو مکلف دي، په دې وروستيو کې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په چوکاټ کې د پښتو ژبې د پراختيا او پياوړتيا په نوم عمومي مديريت جوړ شوی دی، دغه اداره مسؤليت لري چې د ملي ژبې موجودې وضعې ته په کتو او د پرمختگ او پراختيا لپاره يې پراخو مؤثرو گامونو په اخيستو سره د دغې هيلې د پوره کېدو په موخه ترتيب شوي پروگرامونه عملي کړي(احمدزی، ۱۳۹۴، ۱۰ مخ).

د پښتو د پرمختيا او پياوتيا ادارې دندې تقريباً (۱۲) ښودل شوې دي چې زياتره يې د پښتو ژبې پر عاملو او دودولو را څرخي، يوه مهمه دنده يې چې له وييپوهنې په ځانگړې توگه له وييرغاونې سره تړاو لري را اخلو يې: په ملي پښتو ژبه کې د علمي اصطلاحاتو دودول او د باختر آژانس او د هېواد د نورو خپرنيزو مؤسسو له لارې عامول.

د پښتو د پرمختيا او تقويې ادارې د يو څه وخت لپاره له پښتو ټولنې سره د پښتو ژبې د معياري کولو په يوه شريکه پروژه کې هم مرسته او همکاري کړې ده. دې ادارې په کورنيو کارونو سربېره پر کورنيو بهرنيو خپرونو کې يو شمېر د اختلاف يا هم د مباحثې وړ لغتونه او ترکيبونه راټول کړي او د ادبي غونډو او پرېکړو لپاره يې چمتو کړي.

د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا ادارې او د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي د استادانو په گډون څو ادبي غونډې ترسره کړي او دې لړۍ تر ډېره وخته پورې دوام هم کړی دی(احمدزی، ۱۳۹۴، ۱۱۹مخ).

۴ . ۱۲ . ٦ انجمن اصلاح الافاغنه

د هند په ټوله نيمه وچه کښې د انگريزي استعمار ناروا کړو وړو د هند ملي حلقې دې ته اړې کړې چې د خپل هېواد د خپلواکۍ او نجات لپاره د منظمو سياسي او گوندي ډلو له لارې له دې پردي

قوت سره مبارزه او مجاهده وکړي، د دې ډلو ابتدائي حرکت ملي ادبيات هم وروزل او په دې برخه کې نوي بنسټونه کېښودل شول.

خان عبدالغفار خان لومړی د خپلې لارې همعقيده او سرتېري ملګري وموندل او بيا يې د انجمن اصلاح الافاغنه په نامه يو اجتماعي ټولنه چې سياسي او ادبي دواړه اړخونه يې درلودل جوړ کړ. نوموړی انجمن په ۱۹۲۱ ز کال کښې جوړ شو.

که څه هم ظاهراً د جرګې په منشور کښې د ادبي خدمت څه ذکر نشته، خو کوم خدمتونه يې چې ترسره کړي دا ټول يې عملاً د ادب له لارې کړي او دې انجمن پښتو ادب ته نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي او په پښتو کښې يې د ملي ادب يو داسې مکتب جوړ کړی چې زموږ د معاصر ادب بنسټ بړدي او پښتانه د ژوند لور ته وربولي او له ژوندي ادب سره يې روږدي کوي. د همدې انجمن د ادبي مکتب برکت دی چې تر ننه پښتونستاني اديبان او شاعران الهام ترې اخلي او د دې انجمن د سرلارو په پله پل بړدي(رفيع، ۱۳۹۷، ۲۲۸ مخ).

له هماغه وخت څخه بيا تر نن پورې په کوزه پښتونخوا کې د پښتو ژبې او ادب لپاره چې څومره مختلفې او ګڼې ادبي او فرهنګي ټولنې منځ ته راغلي دي او لا هم منځ ته راځي، تسلسل او فکري منشاء يې د باچا خان له فرهنګي مبارزې څخه سرچينه اخلي او کوم فکر چې هماغه وخت خپور او را منځ ته شوی اوس هم په کلتوري کړيو کې خپور او د همدې فکري مبارزې په پايله کې د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ لپاره هلې ځلې کېږي او هلته په پښتو ژبه څېړنې کېږي، په پوهنتونونو کې د پښتو ژبې او ادب څانګې فعالې دي او په لسګونو ادبي او ژبنۍ مجلې خپرېږي.

۴ . ۱۲ . ۷ انجمن ترقي پښتو

انجمن ترقي پښتو د ۱۹۲۷ ز کال په جنورۍ کښې چې د ۱۳۲۵ کال له رجب المرجب سره سمه وه. د پېښور په اسلاميه کالج کې جوړ شو(رفيع، ۱۳۹۷، ۲۲۹ مخ).

که څه انجمن ترقي پښتو نورې دندې او مسؤوليتونه هم درلودل، خو د نوموړي مرکز په دندو کې يو مسؤوليت دا ليکل شوی دی چې (په پښتو دې ذخيره پيدا شي.)

دلته له ذخیرې څخه موخه د لغوي زېرمې بډایه کول دي، د نویو لغتونو جوړول او له اولس څخه د لغتونو او کلمو راټول دي.

۴ . ۱۲. ۸ پښتو اکیډیمي

پښتو اکېډمي (پېښور) یوه له هغو ادارو څخه ده چې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې په برخه کې یې په علمي کچه توجه کړې ده چې دلته ترې په لنډه توګه یادونه کوو:

پښتو اکیډیمي د پیښور تر ټولو لویه اکیډیمي ده چې منظم تشکیل او دولتي بودجه لري.

د پښتو اکیډیمي په مرام کې له داسې مادو سره مخامخ کېږو چې په ځانګړې توګه د لغت جوړونې یا هم نیولوجیزم ته پام کوي چې دلته ترې نومورې مادې را اخلو:

- د پښتو ژبې د علمي معیار د اوچتوالي او یووالي لپاره به دا ضرور وي چې ټول نوي الفاظ یا اصطلاحات د اکیډمۍ تر خوښې وروسته دود شي.

ـ اکیډمي به د پښتنو د ټولو ټبرونو او سیمو د مخصوصو لغاتو او محاورو یو جامع قاموس تیار کړي(رفیع، ۱۳۹۷، ۲٦۵ مخ).

په پښتونخوا کې ځینو نورو ادبي ټولنو هم خپلې ملي ژبې پښتو ته ډېر خدمتونه ترسره کړي دي او کومې ټولنې چې تر نن ورځې پورې د پښتو ژبې خدمت کوي. دا دوو پښتنو مشـرانو د هغو مدیونې دي. خان عبدالغفار خان او عبدالصمد خان وکولای شول چې د خپلو سیاسي مبارزو تر څنګ د خپلې ژبې د خدمت لپاره علمي او فرهنګي ټولنې او بنسټونه رامنځ ته کړي او هلته پښتانه په شعوري توګه د خپلې ژبې خدمت متوجه او تیار کړي.

دلته چې موږ ته څه نا څه معلومات وو، له هغو فرهنګي مرکزونو څخه مو یادونه وکړه چې هغو د لغت جوړونې او یا هم نویو جوړونو په برخه هڅې کړې دي او دې چارې ته یې په شعوري توګه پام اړولی دی. په ۱۳۹۷ هـ، کال کې د پښتو اکیډمۍ له خوا د یوه لوی سیمینار په ترڅ کې د پښتو نیولوجیزم په اړه هم څو مقالې وړاندې شوې وې، خو متأسفانه ما نومورې مقالې له ډېرې هڅې وروسته هم تر لاسه نه کړې، نو ویلای شو چې پښتو اکیډمي د یوې علمي ـ څېړنیزې ادارې په توګه وخت په وخت

د پښتو ژبې او ادب په مختلفو برخو کې ګڼې علمي څېړنې ترسره کړې دي او دا د څېړنو لړۍ لا هم دوام لري.

## ۴. ۱۳ د هېواد په نظامي برخه کې د نیولوجیزم د بهیر څېړنه

د ځینو کسانو له یادونې پرته یوه برخه نیمګړې پاتې کېږي. په پښتو ژبه کې چې کله د نیولوجیزم په اړه بحث کېږي، یو له هغو کسانو څخه چې مجبور یو یاد یې کړو، هغه امیر شیرعلي خان خان دی چې د نوم اینښودونې برخې ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده او یاده دوره مؤرخین د ریفورم او اصلاحاتو دوره بولي.

دا وخت د هېواد د یوه خواخوږي ټولواک امیر شیر علي خان د واکمنۍ دویمه دوره وه. دا امیر لومړی ځل په ۱۲۷۹ ه، ق/ ۱۸٦۳ ز. کې د هېواد واکمن شو او په همدې وخت کې د هېواد لوی عالم او فلیسوف علامه سید جمال الدین افغان خپل اصلاحي نظریات په لیکلي ډول ورته وسپارل.

په دې سپارښتنو کې د پښتو پرمختیا او په رسمي چارو کې دودېدل هم شامل وو، خو ده د کورني اړو دوړ له امله ونه کړای شول، چې د علامه پروګرام تبطیق کړي او په ۱۲۸۲ ه، ق/ ۱۸٦٦ ز. کې امیر محمد افضل خان واکمني ترې ونیوله، کله چې په ۱۲۸۵ هـ، ق/ ۱۸٦۸ ز. کال کې امیر شیرعلي خان یو ځل بیا د افغانستان واکمن شو، نو د اصلاحاتو د یاد شوي پروګرام عملي کول یې پیل کړل، د کابینې پر جوړولو، د عسکري رتبو پر ټاکلو، د مطبعو پر راوړلو، د اخبار پر را ایستلو، د ښوونځیو، عصـري ښار، عصـري سرکونو او نورو پر را منځ ته کولو سربېره یې د پښتو پاللو او رسمي کولو ته هم لاس اوږد کړ.

د امیر شېرعلي خان د دویمې پاچایۍ په دوران کې پښتو د لومړي ځل لپاره د ملک رسمي او ملي ژبه شوه او دغه حیثیت حکومت ته داخله شوه. د پښتو لپاره دا یو انقلابي حرکت و، خو هغه پر افغانستان باندې د انګریزانو په دویم یرغل سره چې افغاني دولت ړنګ شو، په ټپه ودرېد. د امیر عبدالرحمن خان په پاچایۍ کې (۱۹۹۰ ــ ۱۹۰۱ ) پښتو له دفتر څخه په عمومي ډول بېرون پاتې شوه، خو د پښوا په شان په اردو (پوځ) کې پاتې شوه(کاکړ، ۱۳۷۸ ، ۱۳۰ مخ).

د امیر شېر علي خان د دویمې پاچاهۍ په دوران کې په نظامي او ملکي لوړو سطحو کې محمدزي سرداران له حکومتي منصبونو څخه محروم کړای شول او ځایونه یې پښتو ویونکو غیر محمدزیو پښتنو ونیول. د نورو څېزونو په ډله کې په نوي اصلاح شوي دولت کې د ملکي او نظامي چارو د اغېزمن چلند لپاره پښتو ته ضرورت پیدا شو(کاکړ، ۱۳۷۸ ، ۳۰ مخ).

د افغانستان د واکمنو په ډله کې امیر شېرعلي خان و چې د پښتو د رسمي کولو لپاره یې ملا وتړله. دا چې د نورو لویو اصلاحي پروګرامونو په ترڅ کې ده د پښتو د رسمي کولو لپاره کوښښ وکړ، څرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر قوي و. د امیر شېر علي خان لمسی سردار عبدالقادر افندي ( د سردار محمد ایوب غازي زوی) لیکي چې امیر شېرعلي خان ( ... د امید سترګې د پښتو کمو لغاتو، اصطلاحاتو، متلونو او متلي افادو ته ونیولې چې هغه په یوې رښتینې ملي ژبې تکامل وکړي او د پارسي ځای ونیسي.) د دغه مقصد لپاره د پښتو کتابونه چاپ شولو د پښتو قاموس د لاربنود په شان حتمي شو، واړه او ماموران په القابو وویاړل شول او په پای کې د پښتو بولۍ( امري کلمات) د افغان جنګیالیو د ګڼو صفونو لپاره جوړې شوې او اشکال یې واوښتل. دغه مشکور واکمن ځان ژر په داسې حال کې وموند چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د وطنوالو ملي ژبه شوې ده(کاکړ، ۱۳۷۸ ، ۳۱ مخ).

ده لومړی د پښتو نومونو د ټاکلو او ابښودلو لپاره د ارواښاد سید نور محمد صدراعظم په مـشرۍ یوه کمېټه جوړه کړه او لارښوونه یې ورته وکړه چې د نومونو ابښودلو او جوړولو کې د (عام فهمۍ) اصل په نظر کې ولري، د دې کمېټې ډېر مهم او فعال غړی قاضي عبدالقادر پېښوری و چې د قاضي قادرو په نامه مشهور و(رفیع، ۱۳۹۷ ، ۸۸ مخ).

کله چې د امیر شیر علي دویمه دوره مطالعه کوو، ګورو چې په نظامي برخه د نوم ابښودنې یا نیولوجیزم ته ډېره توجه شوې ده او نوموړې نوم ابښودنې ځای هم موندلی دی.

په لومړۍ مرحله کې د توپخانې او پلو او سورو عسکرو د بولیو درې ټوکه کتابونه له انګریزي څخه د قاضي قادرو په وسیله په پښتو را واړول شول او ټولې انګریزي بولۍ یې په خوږه او روانه پښتو ترتیب کړې چې په عسکرۍ کې یې زده کړه پیل شوه او تر یوه کال وروسته دا ټولې عسکري بولۍ د عسکرو تر منځ معمولي او په زړه پورې ډول عملي او دود شوې، له دې کبله چې پښتو بولۍ د عسکرو لپاره

تر پخوانيو بوليو آسانه وې، نو ځکه د (۱۲۹۱) هـ، ق. کال د کوچني اختر په ورځ امير شيرعلي خان د پلو د (۳۷) کنډکو، د سورو د څلورو کنډکو او د توپخانې د پنځو ډلو سلامي واخيستله او دوی ته يې يوه لنډه وينا هم وکړه، چې په ځواب کې عسکرو د پښتو بوليو په دودېدلو سره خپله خوښي وښوده او دا يې د عسکري تعليم ډېره آسانه لاره وبلله.

۴ . ۱۳ . ۱ د امير شېرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د پښتو ريفورمونو لنډيز

الف ـ د صدراعظم او د کابينې د هيأت د غړو لپاره نومونه.

ب ـ له سپاه سالار نه تر حواله دار پورې په پښتو کې د منصبدارانو رتبې.

ج ـ ټولې نظامي قوماندې او بولۍ په پښتو کې.

د ـ د نايب الحکومه گانو لپاره پښتو القاب.

چې دلته يې را اخلو:

| پښتو | دری يا نور |
|---|---|
| لوی ټول مختار | صدراعظم |
| لوی ملک | مستوفی الممالک |
| لوی مين دباندې | وزير خارجه |
| لوی مين دننه | وزير داخله |
| لوی مين د غرو | وزير کوهستانات |
| لوی کښل | دبيرالممالک يا سرمنشي |
| لوی نايب | نايب الحکومه |
| لوټولونی | خزانه دار کل |

| | |
|---|---|
| لوی ټولوال | رئیس گمرک یا چابوتره |
| سرام ز ټولمشر(څنګه چې و) | فیلد مارشال |
| سرغټ مشر | نایب سالار |
| غټ مشر | جرنیل، جنرال |
| سرمشرپنځر | میجر جنرال |
| غندناب | برگد میجر |
| ناب | میجر |
| لنداک | سارجن |
| رسون | وردی میجر(څنګه چې و) |
| سل مشر | رساله دار |
| پرکمشر | جمعدار |
| کوت لنداک | کوت دفعدار |
| ورکودن لنداک | لحادفعدار( څنګه چې و) |
| خوش لندا | لیس دفعدار |
| کرناب | طرم میجر |
| نعلبند | سرجن جراح |
| ډاکټر | طبیب |
| ټاپو | کمپ camp |

غند برگید brigade

کنډک سپور رجمنټ regiment

غنډک تروپ troop (کاکړ، ۱۳۷۸ ، ۱۲٦ مخ).

بولۍ او عسکري اصطلاحات په حقیقت کې هغه نومونې دي چې د عسکرۍ په برخه کې شوي او له یوې مسلکې لارې د پښتو د بشپړتابه هڅه شوې ده. په دې بولیو او اصطلاحاتو کې ځینې داسې دي چې پخوا موجودې وې او په عسکرۍ کې د هغې د اصلي معنا سره په لنډه معنا دود شوې او بل ډول یې هغه نومونې دي چې د ژبنیو ریښو او اشتقاقونو په رڼا کې د نویو عسکري پدیدو لپاره جوړې او دود شوې دي. د دې بولیو زیاته هغه برخه چې محرمیت نه لري ښې عامې شوې او د دوه کلنو افرادو په وسیله د هېواد گوټ ــ گوټ ته ورسول شوې، خو ډېرې یې بیا په اختصاصي توگه په هماغه محدود چوکاټ کې پاتې شوې.

له کومه وخته چې د عسکري بولیو او اصطلاحاتو خښته په پښتو کې کېښودله شوه تر اوسه له لویو او وړو بدلونونو سره را روان دي، دا په پښتو کې یو اغېزمن غورځنگ و او په دې وسیله پښتو د هېواد عسکري ژبه وگرځېده او له دې لارې د ژبې بشپړتابه ته په زړه پورې خدمت وشو(رفیع، ۱۳۹۷، ۱۱۱ مخ).

پر افغانستان باندې د انگریزانو په دویم نظامي یرغل سره، هم نوی دولت او هم د هغه پښتو اصطلاحات په عمومي ډول ترک شول، خو پښتو په نظامي برخه کې پاتې شوه او د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې چې دولت له سره تنظیم شو او تر بل هر وخت زیات متمرکز شو د پښتو ملکي القاب هم ترک شول. دا له دې امله و چې نوي واکمن دولتي عالي چارې او صلاحیتونه ځان ته منحصر کړل او څنگه چې د وزیرانو د کابینې هغه عصري شکل چې امیر شېرعلي خان جوړ کړی و، له منځه ولاړ، لوی القاب چې د قدرت تمثیل یې کاوه هم په خپله ترک شول، البته د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې پارسي د دفتر یوازېنۍ ژبه شوه او پارسي د دولت په حاوي کېدو سره تر بل هر وخت زیاته خپره شوه، خو د امیر شېرعلي خان د وختو نظامي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول(کاکړ، ۱۳۷۸ ، ۳۵ مخ).

د محمد ظاهر شاه د پادشاهۍ په اوږده واټن کې هم یوازې د عسکري د ځینو څو مقاماتو یو څو نومونه او عسکري رتبې په ملي ژبه پښتو ونومول شول، لکه: ستر درستیز، سترتوب، پېژنتون، پرېکون(محاکمات)، وسله تون، څارنتون، پېژندوال، وسله وال، درستیزوال، سترتوب(ریاست)، پېرېدونکی سترتوب( د خریدارۍ ریاست) او رتبې، لکه: پرکمشر، ډلگی مشر، بریدمن، جگتورن، جگړن، ډگرمن، ډگروال، بریدجنرال، تورن جنرال، ډگرجنرال، سترجنرال.

په خواشینۍ سره باید ووایو چې په وسله وال پوځ کې هم لکه د هېواد په نورو ارگانونو کې د ملي ژبې(پښتو) په خوځښت کې نور کوم پرمختگ محسوس نشو چې نشو(وردگ، ۱۳۷۸، ۱۹۱ مخ).

دا چې زموږ د بحث موضوع د پښتو وییپوهنې کره‌کتنیز جاج دی او په پښتو ژبه کې که د وییپوهنې د اوسنیو معیارونو په نظر کې نیولو سره غور وکړو، نو د پښتو وییپوهنې په برخه کې د گوتو په شمېر آثار لیکل شوي او خپاره شوي دي او کله خو داسې هم شوي دي چې د وییپوهنې او مورفولوژي پولې سره گډې شوې دي او داسې آثار لرو چې هغه د موفولوژي اړوند کېږي، خو د وییپوهنې عنوان ورکړل شوی دی او په تېرو پخوانیو آثارو کې خو داسې گرامري کتابونه وینو چې د وییپوهنې اړوند موضوعات پکې راوړل شوي دي، خو دلته موږ یوازې د پښتو وییپوهنې په برخه کې چې کومې د گوتو په شمېر وییپوهنې لیکل شوې دي، خبرې نه کوو، ځکه دا بیا موضوع ډېره محدوده کېږي،لکه څنگه چې مو په تاریخي شالید له ډېر وړاندې وخت څخه پیل کړی دی، دلته به د پښتو لغت او لغتپوهنې اړوندو آثارو تاریخي شالید او پس‌منظر ته په کتلو بحث او خبرې وکړو.

د څېړنې په دې برخه د وییپوهنې اړوند ځینې کتابونه معرفي کېږي او په اړه یې خبرې کېږي، البته هغه آثار چې له لغت او لغتپوهنې سره اړیکه لري.

## ۴ . ۱۴ د لغتونو د جوړولو اړتیا

هره ژبه چې علوم او فنون په ځان گډوي او د یوې ژبې خاوندان ځانونه علم ته نژدې کوي، نو د علم د اخیستلو او راگډولو پر وخت مجبور دي چې د علمي اصطلاحاتو لپاره یا د بلې ژبې نومونه واخلي او یا پخپله ژبه کې علمي اصطلاحات ورته وضع کړي، د ژبې کلمې اخیستل او په خپله ژبه گډول خو ځینې زیانونه لري، نو ځکه د دنیا ملتونه مجبور شوي دي چې په خپلو ژبو کې علمي

اصطلاحگانې وضع، جوړې او ومومي، عربو چې په عباسي دوره کې په عربي ژبه علوم او د یونان فلسفه ترجمه کوله، دوی سم له لاسه عربي اصطلاحات او لغتونه هم ورسره کول او ځینې الفاظ یې د عربي ژبې په کالب کې اچول، یعنې معرب کول یې، په دې ډول یې علوم ټوله عربي ته را نقل کړل، مگر د یونان، پارس او هند کلمې یې نه واخیستلې، که یې اخیستې ډېرې به لږ وي یا یې معرب کړې وي.

په هندوستان کې ځنې علمي ډلې شته چې دوی په خپله ژبه کې علمې اصطلاحات وضع کوي او جوړوي. نو موږ هم که خپله ژبه سموو او د نورو ژبو له اغېزو څخه یې ساتو، ښايي چې علمي اصطلاحات او نومونه او د عصري لوازمو او اختراعگانو نومونه په پښتو ولرو چې یو ژبه د پردو له اختلاطه وژغورو او بل مو په ښوونه او زده کړه کې اساني وي.

نړۍ نن ورځ د یوه کلي بڼه غوره کړې ده، لکه څنگه چې د هېوادونو په کچه اړیکې سره نږدې شوي، د ژبو هم یو پر بل اغېزې ډېرې شوې دي. نن ورځ په عمومي توگه د هېوادونو اقتصاد په یوه نړیوال اقتصاد بدلېدونکی او د پراختیا په حال کې دی. د ټکنالوژۍ په ډگر کې هم په اقتصادي لحاظ ځواکمن هېوادونه مخکې دي. د ملتونو او قومونو تر منځ ارتباطاتو په ډېره عجیبه توگه پراختیا موندلې ده او دا خبره د دې باعث شوې چې ملتونه او قومونه یو له بل څخه په ټولو برخو کې متاثره شي. په دې برخه کې د ژبو یو پر بل اغېزې ځینو ملتونو ته فرصتونه برابر کړي دي او ځینو نورو ته په جدي تهدید اوښتې ده.

موږ او تاسو گورو چې د قوي هېوادونو ژبې هم په نړۍ کې له برلاسي موقف څخه برخمنې دي. دغه هېوادونه چې هر څه تولیدوي او د نړۍ نورو هېوادونو ته یې لېږي یا صادروي، له همدې لېږلو سره یو ځای د دوی د ژبې لغتونه، اصطلاحات او نومونه هم تر نورو ټولنو او هېوادونو پورې رسېږي.

د ساینس او تخنیك له پرمختگ سره د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کې هر ورځ نوي نوي ساینسي اختراعات کیږي او په هره اختراع د هماغه هېواد د ژبې یو نوم اینبودل کیږي او بیا دا نوې پدیده له خپل نامه سره یوه ځای بل هیواد ته ځي او هلته مېشتېږي، نو که د وروسته پاتې هېوادو ژبې پټه خوله پاتې شي او په دې نوې میلمنه نوم کېنږدي، د دې پدیدو سلسله خو اوږده ده او کله چې د دې هېواد او خلك سترگې غړوي گوري به چې د دوی د ژبې ټول انگړ به د پرمختللو هیوادونو نه

راغليو سايـنسي، تخنيکي او نورو منځ ته راغلو لغتونو نيولی وي او اصلي ژبی ته به يوازې چوکاټ او ډانچه ورپاتې وي او که دا بې پروا يی يوازې يو څو کلونه دوام وکړي، نو په عمل کې به اصلي ژبه له روابطو او اداتو پرته نور څه ونه لري او په رڼو سترګو کې به له منځه تللې او مړه شوې وي.»(رفيع، ۱۳۹۴، ٦۷ مخ).

همدا سبب دی چې د دې ژبې خواخوږي هم هيله لري چې خپله ژبه د ژوند له روان ګړندي يون سره عياره کړي او پرېنږدي چې خپله پراخه او وسيعه ژبه يې د نورو ژبو لاس کتويه او د پرديو ژبو د لغتونو موزيم شي.

دلته د دې خبرې يادول مهم دي چې د ژبې په مرګ او له منځه تللو کې ګڼ عوامل دخيل دي، يوازې او يوازې د نورو ژبو د لغتونو په ورتګ سره يوه ژبه له منځه نه ځي او موږ ډېرې داسې ژبې ښودلای شو چې په پراخه پيمانه د نورو ژبو لغتونه په خپله ژبنۍ زېرمه کې لري، خو دا ژبې لا هم ژوندۍ دي او حتی د نړۍ د مخکښو ژبو په ليست کې ځای لري، خو پورته د نيولوجيزم د اړتيا له مخې دې ټکي ته اشاره شوې ده چې د يوې ژبې ويونکي بايد د خپلې ژبې په وړاندې شته او راتلونکو خطرونو ته متوجه واوسي او د دغو خطرونو د له منځه وړلو او يا هم د زيانونو د کمولو لپاره يې پلان او ستراتېژي ولري.

په هر صورت د نيولوجيزم د اړتيا په اړه  ويلای شو چې نيولوجيزم په ژبه کې له ځانګړي اهميت او ارزښت څخه برخمن دی، ځکه که چېرې په ژبه کې نېولوګېزم ته سمه پاملرنه ونه شي او د متخصصو کسانو له لوري مخ ته يو نه وړل شي، په تيورۍ او اصولو يې منظم آثار ونه ليکل شي، له يوې خوا که ژبه د نورو ژبو د فرهنګي اغېزو تر تاثير لاندې راځي، بل خوا خپله ژبه له ګنو ګډوډيو او مشکلات سره مخامخ کوي. موږ د نيولوجيزم اهميت په خپل وخت درک کړی نه دی، نو ځکه مو پر وخت اقدام هم نه دی او که مو کړی هم دی، زياتره يې انفرادي او په شـخصي توګه شوی دی، چې کله نا کله يې ژبې ته د ګټې پر ځای زيان اړولی دی، ځکه موږ اوس په رسنيو کې ګورو چې له تخصص پرته د نورو ببلا ببلو څانګو برخوال د معيارونو او اصولو په پام کې نيولو نه بغير لغتونه جوړوي او بيا يې له رسنيو څخه  خپروي چې يادې موضوع کله نا کله د نيولوجيزم د اهميت د درکولو پر ځای خلک د نيولوجيزم پر خلاف را پارولي دي. ځکه کله چې يو کار په علمي او  منظمه توګه تر سره

نشي، نو بيا د خلکو حساسيتونه را پاروي او د نيولوجيزم په ټول بهير کرښه را کاږي او دا ورته هسې د وخت ضايع کول ښکاري.

نو همدې اهميت او ارزښت ته په کتو په نورو هېوادونو کې د نيولوجيزم لپاره ځانګړي څېړنيز مرکزونه او اکاډمۍ موجودې دي، هغوی هر ورځ نوي لغتونه جوړوي او همدغه علمي مرکزونه بيا ځانګړې رسنۍ لري چې د هغو له لارې په ټولنه کې د رايجولو په پار خپرېږي. ويلای شو چې د سرعت او چټکتيا په اوسني عصر کې نيولو ګېزم په ژبه او ژبپوهنه کې ځانګړی ځای او ارزښت لري او په کار ده چې د نيولوجيزم په ډګر کې منظم، علمي او اصولي کار وشي. پښتو ژبه بيا د نويو لغتونو د منځ ته راتګ او جوړولو لپاره پراخه غېږ او امکانات لري، که په سمه توګه ګټه ترې واخيستل شي.

يوې خبرې ته بايد دلته اشاره وکړو چې د نيولوجيزم اهميت او ارزښت ته په کتو او اړتيا له مخې بايد نوې جوړونې وشي، که نه د ګټې پر ځای زيان اړولی شي، بل دا چې له اړتيا او ضرورت پرته د نويو لغتونو او کلمو جوړول ټولنه نه شي اخيستلی او د لغتونو ګڼه ګوڼه جوړوي او کله چې انساني ټولنه يو څه ته اړتيا ونه لري، نو له هغه څخه کار اخيستنه هم لږه يا هېڅ نه وي. که موږ غواړو چې د نيولوجيزمونو په ډګر کې مو هڅې ګټورې ثابتې شي او کوم لغتونه چې نوي جوړېږي او منځ ته راځي په ژبه او ټولنه کې وکارول شي او ځای ومومي، نو بايد د علمي او ژبنۍ اړتيا پر بنياد د نويو لغتونو د جوړولو په ډګر کې کار وشي او په دې ډول مو هڅې او زيار تلپاتې اغېزمن شي، نه دا چې کړې کارونه مو يوازې له موږ سره پاتې شي، د ژبې او ټولنې په درد ونخوري او دا بهير د اولس لپاره مخ ته ځي او کوم لغتونه چې د ژبې د طبيعي جوړښت او اصولو خلاف جوړ شي، په لومړي قدم کې هغه په سمه او روانه بڼه نه تلفظ کېږي، نو که ډېره لږ ستونزه او کمی هم په نويو لغتونو کې موجود وي، اولس او ټولنه يې نه مني، نو چې ټولنه يې و نه مني او و نه کاروي، نو بيا دا زحمت ايستل د څه لپاره؟ دا ډېره باريکه پروسه ده او ډېر دقت ته اړتيا لري.

وړاندې تر دې چې د نويو لغتونو د جوړولو پر اصولو او لارو چارو بحث وکړو، دلته يوې بلې موضوع ته هم تم کېږي چې هغه د سوچه سازۍ بهير دی، کله نا کله چې د نويو وييونو له جوړونې سره مخالفت کېږي، يو لامل يې دا په ګوته کېږي چې په نړۍ کې سوچه ژبه نشته، نو دا چې ټولې ژبې د نورو ژبو له کلمو او لغتونو څخه ګټه اخلي، نو اړينه نه ده چې موږ دې نوي لغتونه جوړ کړو او په

کار ده چې له پورویيونو څخه ګټه واخلو او له پردیو کلمو سره دښمنې ونشي، دلته له سوچه‌سازۍ څخه زموږ موخه په بشپړ ډول د نورو ژبو له لغتونو څخه د پښتو ژبې خلاصون نه دی، بلکې پر دې بحث کوو چې له افراط او تفريط څخه کار وا نه اخیستل شي.

## ۴. ۱۴ . ۱په پښتو ژبه کې د نویو لغتونو د جوړولو اړتیا

ژبه هم د نورو پدیدو په څېر د ټولنیز ژوندانه له تغییر او بدلون سره یو ځای بدلېږي، ځکه کله چې یوه ټولنه په اقتصادي او علمي لحاظ پرمختګ کوي، نو اړتیا لیدل کېږي چې ژبه هم د خپلې ټولنې د اوسېدونکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پراختیا وکړي، نو همدغه وخت دی چې له ټولنې سره یو ځای ژبې هم پراختیا مومي او پرمختګ کوي، که چېرې یوه ټولنه او هېواد په اقتصادي، علمي، سیاسي او فرهنګي میدانونو کې کې وروسته پاتې وي، ژبه به یې هم هماغسې وروسته پاتې وي.

په یوه ژبه کې په طبیعي توګه لغتونه زېږېږي او نوي لغتونه منځ ته راځي، نو د نویو لغتونو منځ ته راتګ او د یو شمېر کلمو مړه کېدل او یا هم له کارولو لوېدل، هغه طبیعي چاره ده چې تل په ژبو کې منځ ته راځي او دوام لري.

نیولوجیزم د ژبپوهنې یوه له نویو او مهمو موضوعاتو څخه ده چې په نورو ژبو کې په دې برخه کې ډېر کار او څېړنې شوې دي. ژبه هم د نورو علومو او فنونو په څېر وده او پرمختګ کوي، ورځ تر بلې یې لمن پراخه کېږي او کله چې په یوه ټولنه کې نورې څانګې د غوړېدا په حال کې وي. د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې چې یو ملت او ټولنه پرمختګ کوي او بېلابېلې برخې پراختیا مومي، نو نیولوجیزم په یوه دوامداره اړتیا بدلېږي؛ ترڅو په مختلفو برخو کې په خپله ژبه د ټولنې اړتیا پوره کړي او په دې توګه په ژبه کې د نویو لغتونو جوړولو ته لار پرانیستل کېږي او د ژبپوهنې د اصولو او اساساتو په رڼا کې نوې کلمې او لغتونه جوړېږي.

هو لکه څنګه چې وړاندې وویل شول بې له شکه ژبه د هر علم او هنر په څېر بدلون کوي او نوې کلمې منځ ته راځي او جوړېږي، وده او تکامل کوي(مفید، ۱۳۹۸، .(http://bamdaad.org/

له تېرو شلو کلونو د پښتو ژبې روابط تر بل هر وخت له نړۍ او نورو ژبو سره زیات شوي دي. د علم او تخنیک په مختلفو برخو کې د زده کړو دایره پراخه شوې ده، د بېلابېلو هېوادونو په پوهنتونونو کې

افغان محصلین زده کړې کوي او بېلابېلې ژبې یې زده کړې دي، نو په داسې پراخېدونکي حالت کې تر بل هر وخت د نیولوجیزم د بهیر د مخ ته وړلو لپاره منظم پلان او ستراتېژۍ ته اړتیا ده.

کله چې په یوه ټولنه کې تغییر او بدلون په پراخه پیمانه رامنځ ته شي، هغه وخت د نیولوجیزم اړتیا هم په لوړه کچه احساسېږي.

په ۱۳۸۰ ل کال کې هغه وخت چې د نړۍ له ګڼ شمېر هېوادونو سره ارتباطات ټینګېږي او افغانستان په ټولو برخو کې تغییر او بدلون کوي، له فرهنګي وضعیت څخه نیولې بیا تر ښوونې او روزنې، بهرنۍ اړیکې او ډیپلوماسي، رسنیزه برخه کې له تغییراتو راتلو سره سم د نیولوجیزم اړتیا هم ډېره محسوسېږي، ځکه ژبه د نویو مفاهیمو د لېږد لپاره هومره لغتونو ته اړتیا لري، څومره چې نوي مفاهیم ژبې ته را داخلېږي.

په ځانګړې توګه کله چې د ټکنالوژۍ ډګر ته متوجه کېږو، دلته هم تر بلې هرې برخې نوي لغتونه له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته راغلي دي. لکه: ((ID، لایک، کمنټ، آنلاین، افلاین، مسینجر، ویب سایټ، ویبپاڼه، ایمیل، فیسبوک پاڼه، وال، پاسورډ، سوشل میډیا، مبایل، مسیج، وایس مسیج او داسې نور ....

له نورو ژبو څخه د ضرورت او اړتیا له مخې د نویو لغتونو لپاره په خپله ژبه کې د لغتونو او کلمو جوړول نیولوجیزم ګڼل کېږي.

د همدې اړتیا له مخې د هرې ژبې خواخوږي ژبپوهان د خپلې ژبې د بشپړتابه مراحلو ته ځار وي او د ډېرو هیوادونو اکاډمۍ او علمي مرکزونه د پوهانو د ګډو او ګټورو مشورو له لارې نویو پدیدو ته نوي نومونه خوښوي او جوړوي او په دې وسیله خپله ژبه  په علمي توګه د پرمختیا لور ته وړي، د نړۍ له نورو ژبو سره یې د سیالۍ لپاره هڅې کوي او د زمانې له یون سره یې روانوي، د دې ډول علمي مؤسسو نوم اینښودنې د ډله ییزو رسنیو او ټولو نشراتي ادارو لپاره د منلو وړ وي او ټول یې په ګډه د عاملو لپاره کار کوي او په لنډه موده کې د یو ملت په ژبه کې ځای نیسي او عامیږي.

عربي، پارسي او اردو  ژبې چې له پښتو سره په فرهنګي لحاظ نږدې او  ژورې اړیکې لري، په دې چاره کې ډېرې مخ ته تللې دي او ګڼ لغتونه یې جوړ کړي، عام کړي او په خپله ژبه کې دود کړي

دي،په دې برخه کې پوهانو، علمي مؤسسو، ابلاغی او نشراتي ادارو په اخلاص او د ژبی د خدمت په هیله مرسته سره کړې او د دې ډول لغتونو په عاملو کې یې لاسونه سره یو کړي دي، سیاره، طیاره، هاتف او... چې د موټر الوتکې او تلیفون په معنا دي چې په ټولو عربي ژبو هیوادو کې په ګډه استعمالیږي او ټول عرب ورسره بلد دي.

پښتو هم د یوه لرغوني خو په عین حال کې د وروسته پاتې ملت یوه لرغونې او زړه ژبه ده چې د دی ژبې د ویونکو د پخواني ژوند د وسایلو ابزارو او اړتیا وړ خواو لپاره ډیره مړه او غني لغوي پانګه لري او د بشپړتابه بريالي پړاوونه یې وهلي دي او هم یې د نویو ایجاداتو لپاره معقولې او خوندورې ژبنۍ ستې او ریښې شته چې په ډیره آسانۍ سره د نویو پدیدو لپاره یو موزون او وړ نوم په کې موندل کیدای شي. همدا سبب دی چې د دې ژبې خواخوږي هم هیله لري چې خپله ژبه د ژوند له روان ګرندي یون سره عیاره کړي او پرېښږدي چې خپله پراخه او وسیعه ژبه یې د نورو ژبو لاس کتویه او د پردیو ژبو د لغتونو موزیم ش.(رفیع، ۱۳۷۸، ۱۵۲ مخ).

له همدې کبله د نویو ساینسـی، علمی او نورو پدیدو لپاره د خپلې ژبې د چوکاټ او اډانې سره سم نومونه ږدي او د بشپړ تابۀ سیر یې پالي، خو کله نا کله په یو څه کې افراط او یا تفریط کېږي چې دا دواړه حالته زیان رسوونکي او خطرناکه دي. که څه هم په ژبه کې د نویو کلمو او لغتونو جوړول یوه له مهمه اړتیاوو څخه ده، خو داسې هم نه ده چې د ژبې د لغت جوړونې برخې متخصصان دې یوازې د نویو لغتونو جوړولو یا هم نیولوجیزم ته مخه کړي. موږ د لغتونو او کلمو په برخه کې په خپله ژبه کې نورې لارې او انتخابونه هم لرو چې تر ډېره پورې توجه نه ورته کېږي او په نیولوجیزم زیاته تکیه کېږي. که څه هم د نیولوجیزم د بهیر دوام او اړتیا ډېره ده، لکه په اوسني وخت کې چې یوازې او یوازې په تیت او شېندلې بڼه ټوله توجه نیولوجیزم ته کېږي او نوې جوړونې کېږي او نورې برخې چې د لغوي زېرمې په بډاینه او غني کولو کې له پښتو ژبې سره مرسته کوي هېرې شوې دي او په هغو برخو کې کار نه ته ترسره کېږي.

په وییپوهنه او وییرغاونه کتاب کې یې لیکلي دي: وییرغاونه یا (نیولوجیزم) د پښتو د نومهالې سیالۍ اړینتیا او مخته پرتې ستونزې داسې څېړو: وییرغاونه، لکه د نورو دودیالو ژبو په څېر د کره لیکنۍ

پښتو وييپانګې يا وييزې زېرمې (لغوي ذخيرې  (vocabularyله څلورو برخو يوه برخه ( ٪۲۵) سلنه برخه را نغاړي(زيار، ۱۳۹٦، ۷۹ مخ).

نو که غواړو چې د خپلې ژبې لغوي زېرمه په مناسبه توګه بډايه کړو او يا هم قرار ـ قرار د کره توب او سوچه والي لوري ته ولاړ شو، نو په پاتې نورو درېو برخو کې هم کار په کار دی او مهمه ده چې توجه او پام ورته وشي چې لومړۍ برخه يې ارخاييزم (ارکاييزم) په ژبه کې د زړو پرتو او هېرو شوو کلمو بېرته را ژوندي کول دي. دويمه برخه يې په ژبه کې له شته لهجو څخه د لغتونو او کلمو را ټولول او بيا يې په کارېدونکې لغوي زېرمه کې ځای پر ځای کول دي او يا يې د نورو ژبو د لغتونو د بديل په توګه له سيمه ييزې بڼې څخه معياري بڼې ته راوړو او عمومي ملي حيثيت وربخښوو. درېيمه برخه يې بيا له نورو ژبو پورونه يا اخيستنه ده. که غواړو چې د پښتو ژبې ژبنۍ زېرمه په مناسبه توګه غني کړل شي، نو ټولو برخو ته په مناسبه اندازه  پام په کار دی، خو د وييپوهنې د اثر په خبره هغسې هم  داسې نه شي کېدای چې  دا څلور واړه برخې دې په بشپړه توګه( ٪۲۵) سلنه وي، په دې معنا چې څه پورته کښته حتمي په کې راځي، خو په بشپړه توګه له پورتنيو څلورو برخو څخه د يوې برخې هېرول او بلې برخې ته تر حده زياته توجه کول د ژبې لغوي زېرمې ته د ګټې پر ځای زيان اړوي، تعادل او منځلاری تګ په کار دی. نيولوجيزم د ژبې له هميشنۍ اړتيا څخه ګڼل کېږي او د دغې خبرې درک هغه چا ته ښه کېږي چې له نورو ژبو څخه ژباړې کوي. که څه هم پښتو ژبې ته له عربي، پارسي، اردو او انګليسي ژبو څخه تر اوسه ژباړې شوې او د نړۍ له نورو ژبو څخه ژباړې ډېرې لږې او يا هم په نشت حساب دي، خو له همدغو ژبو څخه که موږ پښتو ژبې ته له نږدې ژبې پارسي څخه هم ترجمه کوو، نو د کلمو او لغتونو د کمښت او نه بديل درلودلو له امله به له ډېرو ستونزو سره مخامخ شو او اوس چې د ټکنالوژۍ او مختلفو نويو پوهنو دايره ډېره پراخه شوې ده. کله چې په دغو علمي او ټکنالوژيکي برخو کې ژباړې کېږي، نو د ژبې مخکښنۍ لغوي زېرمه يې ځواب نه شي ويلای او اړتيا ليدل کېږي چې نوي لغتونه او کلمې جوړې شي، تر څو په خلاص مټ ژباړه وشي او بېلابېل مفهومونه خپلې ژبې ته په خپلو کلمو، لغتونو او عبارتونو کې را ولېږدو.

هو هره موضوع هم پلويان لري او هم مخالفان متأسفانه نيولوجيزم هم په پښتو ژبه کې يوه له هغو موضوعاتو څخه ګرځېدلې چې ځينې يې په افراطي توګه مخالفت کوي او ځينې يې بيا افراطي ډول پلويان دي، که د هر څه اړتيا او ضرورت په سمه توګه درک نه کړل شي او په مينه کې يې افراط

او تفریط وشي، هغه د ګټې پر ځای زیان رسوي، کله چې موږ په پښتو ژبه کې د نیولوجیزم د اړتیا په اړه بحث کوو او د اعتدال له حد څخه په کې واوړو، په پښتو ژبه کې د نورو ژبو له لغتونو سره دښمني پیل کړو او یوازې سوچه توب لوړ معیار وګڼو له شک پرته مو ژبې ته د ګټې پر ځای زیان اړولی دی، ځکه په نړۍ کې هېڅ ژبه نشته چې هغه دې د نورو ژبو کلمې او لغتونه ونه کاروي، نو نیولوجیزم په افراطي ډول پالل او د ډېرو مشهورو او معمولو کلمو پر ځای نا مأنوسې پښتو کلمې جوړو او بیا دا خبره کوو چې نیولوجیزم د ژبې ورځنۍ اړتیا ده، نو ویلای شو چې د ګټې پر ځای مو تاوان کړی دی او همدارنګه یو شمېر کسان بیا له لویه سره له نیولوجیزم او د نویو لغتونو له جوړولو سره کلک مخالفت ښیي او وایي چې پښتو ژبه لا په نورو برخو کې کار ته اړتیا لري او تر اوسه پورې بکره پرته ده، نو موږ د نویو لغتونو جوړولو ته ضرورت نه لرو، دوی هم په خپل نظر کې له تفریط څخه کار اخلي، ځکه نړۍ په چټکۍ سره بدلون کوي، نوې پوهنې منځ ته راځي، نو که موږ دې ته کښېنو چې یو ځل نورې برخې غني او ځواکمنې کړو بیا به د نیولوجیزم په برخه کې کار کوو دا به مو په لوی لاس د ژبې د وروسته پاتې والي لپاره زمینه مساعده کړې وي، نو ویلای شو چې نیولوجیزم د ژبې یوه له مهمو اړتیاوو څخه ده، خو په کار نه ده چې په دې اړتیا کې له افراط څخه کار واخلو او یو مخه ییزه د سوچه توب خوا ته مخه کړو او د خپلې دغې افراطي مینې په پایله کې ژبه خپلو ویونکو ته پردۍ او نابلده کړو.

## ۴ . ۱۵ د لغتونو د جوړولو اصول

لغت جوړونه: هم د ژبې د یوې برخې په توګه او هم د ژبپوهنې د علم د یوې څانګې په توګه په دوه عمده برخو وېشل کېږي: ترکیب او اشتقاق

په ترکیب کې معمولاً دوه لغوي واحدونه سره یو ځای کېږي، تر څو یو نوی ژبنی واحد تولید شي. (کتاب + تون= کتابتون( او په اشتقاق کې معمولاً وروستاړي او مختاړي له یوه نسبت سره نښلي، تر څو کلمې او لغتونه جوړ شي. (ختِه + ګر= خټګر)(خرمایی، ۱۳۸۷، ۷٦ مخ).

لغت جوړونه کوم تفنن او یا ځانګړی فن نه دی. لغت جوړونه داسې یوه چاره ده چې د خبرو کولو په وخت کې د لفظونو په وسیله مفهوم رسوي. ویونکي د خپلې اړتیا د پوره کولو لپاره په ژبه کې په لغتونو او کلمو پسې ګرځي، د نوموړې اړتیا د پوره کولو لپاره بېلابېلې لارې موجودې دي، خو تر

ټولو طبیعي لار يې د هغو لغتونو په مجموعه کې  پلټنه ده چې د ژبې مخینه او سابقه يې د دوی په اختیار کې ورکوي. یعنې هر هغه څه چې له دې شبېې وړاندې منځ ته راغلي دي. هغه یو ژبنی ـ فرهنګي میراث دی. اما که دا کار يې مقصد ته ونه رسوي او یا ویونکي ونه غواړي چې په خپله ژبه کې د لغتونو په موندلو پسې ځان ستومانه کړي، نور کوم انتخابونه د دوی پر وړاندې پراته دي؟ د ژبنیو راکړو ورکړو په شرایطو کې تر ټولو آسانه کار پور اخیستنه ده، خو که بیا هم ژبنیو او یا غیري ژبنیو لکه: ټولنیزو، ښکلا پېژندنې او یا ایډیولوژیکو دلایلو له پور اخیستلو څخه را وګرځاوه، نو بیا به له هغو امکاناتو څخه چې د ژبې نظام يې د ده په خدمت کې ږدي، مجبور دی یو له هغو څخه غوره کړي:

ـ یا هم د هغې کلمې رول او معنا ته بدلون ورکوي، تر څو د نوموړي له مقصود سره متناسبه شي.

ـ یا هم د مقصود د ترلاسه کولو لپاره مجبور دی چې اوږده نحوي ترکیبونه را واخلي.

ـ او یا هم دا چې نوې کلمه جوړه کړي.

نو ویلای شو چې لغت جوړونه په ژبه کې یوه طبیعي چاره ده. لغت جوړونه د یوې ژبې د ویونکو ژبنۍ توانايي ده او ژبې ته د نویو مفهمونو د داخلېدلو لاره ده.

د پورتنیو درېوو انتخابونو له جملې څخه یو د دغو درېوو له جملې څخه غالباً هغه وخت په کار وړل کېږي چې د نوي مفهوم او د هغه د بیانولو اړتیا خپله د ټولنې له تحولاتو څخه وي، خو که چېرې تازه مفهمونه له ټولنو څخه د راکړې ورکړې او چلند له مخې له یوې ټولنې څخه بلې تولنې ته ځي، نو په دې وخت کې بیا اسانترینه لار پور اخیستنه ده. د اسې کلمې موږ په پښتو ژبه کې ډېرې لرو. په دې صورت کې بیا هره ټولنه د دغې پور اخیستنې پر وړاندې غبرګون ښيي. د دغه غبرګون مروجه بڼه د پردیو کلمو لپاره په خپله ژبه کې د نویو کلمو جوړول دي. نوموړې چاره باید په متمرکزه توګه او د یوه منظم پروګرام له مخې مخ ته ولاړ شي.  دا کار باید د علومو اکاډمي په څېر ادارو او تحقیقي مرکزونو په همت تر سره او عملي شي. کله نا کله نوموړې چاره په تیت او پرکه توګه تر سره کېږي چې د لیکوالانو، ژباړونکو او د مختلفو څانګو د متخصصانو په کړنو او فعالیتونو کې ظاهرېږي. تجربو ښودلې ده چې د نویو جوړونو په برخه د انفرادي کارونو پر ځای د علمي ـ تحقیقي بنسټونو کوښښونو ښه پایله ورکړې ده او که اشخاص په انفرادي توګه هم په دې برخه کې زیار باسي؛ کوم

ممانعت نشته، خو دې اشخاصو ته لازمه ده چې د خپلې ژبې له طبیعي جوړښت او قاعدو سره پوره بلدتیا ولري، نه دا چې د هنري ادبیاتو له مطالعې وروسته او یا هم د ځینې نورو لاملونو له کبله پرته له ژبنۍ پوهې څخه نوې جوړونې وکړي.

داریوش آشوری  ایرانی لیکوال دی چې د د نویو کلمو او اصطلاحاتو په جوړونه کې لوی لاس لري، نوموړی په یوه مرکه د نویو کلمو د جوړونې په تخنیکونو غږېدلی دی. د هغو ژبو په اړه چې هغوی له نورو ژبو څخه نوي علمي مفهمونه په پور اخلي، وايي: یا هم په کار ده چې د لومړۍ ژبې اصلي کلمې را واخلې او په خپله ژبه کې یې وکاروي او یا هم د هغو کلمو مفهومي بار د خپلو اصیلو کلمو په اوږو ولېږدوي.

له اشوري څخه د (think tank) د کلمې په اړه پوښتنه شوې چې تاسو د دغې کلمې لپاره د «خزانه‌ی اندیشه» کلمه جوړه کړې ده. نوموړي یې په ځواب کې ویلي چې لومړی په کار ده هماغه کلمه په خپله ژبه کې وکارو، خو که له دې څخه وېره لرو چې ژبه مو د نورو ژبو د کلمو له ډېرښت څخه غرقه نه شي او که یې مفهوم ته په خپله ژبه کې اړتیا لرو، نو دا مفهوم د خپلې ژبې د یوې داسې کلمې یا ترکیب په اوږو سپروو چې په ټولنه کې ځای ومومي او اهلي شي.

د کلمو جوړولو په برخه کې یوه بله مهمه پوښتنه دا ده چې دا کار یوازې د دې ځانګې د متخصصانو او پوهانو دنده ده او که عام اولس هم د کلمو په جوړولو کې واک او صلاحیت لري؟

هو لغت جوړونه کولای شو په شعوري او ناشعوري ووېشو:

ناشعوري لغت جوړونه هغه ده چې عام خلک یې د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره او په خپل ذهن کې د موجوده اصولو مطابق لغتونه جوړوي.

شعوري لغت جوړونه بیا هغه وخت را منځ ته کېږي چې خلک ، ډلې او بنسټونه په شعوري توګه لغت جوړونې ته مخه کوي، د بېلګې په توګه ژباړونکي هغه کسان دي چې په شعوري او اګاهانه توګه د پردیو لغتونو د بدیل لپاره په خپله ژبه کې کلمې او لغتونه جوړوي او یا هم په بېلابېلو برخو کې د هرې برخې د متخصصانو په ملتیا ژبپوهان نوې کلمې او لغتونه جوړوي.

لغت جوړونه دو مهمو عاملونو ته اړتیا لري: یو هڅونه او ترغیب دی. بل اجبار او الزام دی. که له دغو دوو عاملو څخه کار وانخیستل شي، نو په ټولنه کې د نویو جوړونو لپاره ځای موندل به له ستونزو سره مخامخ وي. نوې جوړونې معمولاً د منلو لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري، خو د لیکوال په باور دا هڅونه او الزام هم هغه وخت نتیجه ورکوي چې دا نوې جوړونې د اصولو مطابق شوې وي. په ټولنه کې د منلو په پار بیا لږ انرژي او وخت مصرفېږي او د منلو موده یې هم راکمېږي(خرمایی، ۱۳۸۷، ۷۷ مخ).

د نویو جوړونو د پلي کولو او د ټولنې له خوا د منلو لپاره یو بل عامل هم مؤثر تمامېږي، هغه دا چې د کومو بنسټونو یا اشخاصو له خوا چې دا نوې جوړونې ترسره کېږي باید دا هم روښانه شي چې د کومو قاعدو او اصولو له مخې دا جوړونې شوې دي او که له وضاحت او دلایلو پرته ټولنې ته وړاندې شي، نو منل به یې ډېر اسانه نه وي. بله خبره دا چې نه یوازې موږ د نویو جوړونو په برخه باتجربه کسانو او مسلکي بنسټونو ته ضرورت لرو، د دې تر څنګ علمي او مسلکي کره کتونکو ته هم اړتیا لرو، تر څو هغوی د علمي دلیلونو پر بنسټ نقد وکړي او په دې ډول دا بهیر نور هم د معیار خوا ته ولاړ شي.

که څه هم د کلمو جوړول د هرې برخې د پوهانو او مسلکي کسانو کار دی، خو که په ژبه کې د کلمو جوړولو بهیر ته متوجه شو، نو ژبه تل په تغییر او بدلون کې ده. زړې کلمې ځای نویو کلمو ته پرېږدي او دا بهیر به تل دوام لري او په دې بهیر کې مخکې هم عام اولس پراخه ونډه درلودله، اوس یې هم لري او په راتلونکې کې به یې هم ولري، ځکه موږ په خپله ژبه کې هم ډېرې داسې کلمې لرو چې د عامو کسانو له خوا جوړې شوې دي، نو هېڅکله هم موږ په دې بهیر کې د عام اولس ونډه له پامه نه شو غورځولای، خو کله چې علمي برخو ته راځو هلته بیا کار د هماغې برخې د پوهانو او متخصصانو دی، خو په عامه لغتونو کې بیا کېدای شي، اولس هم ډېرې ښې او کلمې جوړې او ژبې برخه کړي.

دلته به په مشخصه توګه په هغو لارو چارو بحث وشي چې په ترڅ کې یې په ژبه کې نوي لغتونه او کلمې جوړېږي او منځ ته راځي.

وړاندې له دې چې د لغت جوړولو پر لارو چارو رڼا واچول شي، مهمه ده چې په دې برخه کې ځینې هغه اصطلاحات او برخې هم وپېژندل شي چې د لغت جوړونې په برخه کې مهم او اساسي رول لري، لکه: مورفولوژي، اشتقاق، ترکیب، د لغتونو ډولونه(ساده او مرکب)، ولې یا رېښه، افیکسونه او داسې نور...

په وضع(جوړونه) کې دوه مهم اصول مراعت کېږي او لحاظ یې ضرور دی. یعنې دوو خواوو ته رجوع کېږي:

۱. وضع کوونکي خلک باید پښتو ژبه پخپله د فقه اللغه او فقه الصوت له مخې وګوري، یعنې هغه اصول چې پخپله ژبه کې د وضع کولو لپاره موجود دي او مخکښنیو پر دغو اصولو خپله ژبه جوړه کړې ده، دا اصول ښایي چې په ډېر دقت او غور قید شي او بیا تر وروستي حده پورې پر دغو اصولو جوړونې وشي. په دې ډول به نو نوي وضع شوي کلمات د ژبې له عنصره سره مخالف نه وي.

۲. هغه بنسټونه چې نورو ملتونو د لغاتو په وضع کې ابښي دي او پر هغو قاعدو چې دوی علمي اصطلاحات جوړ کړي دي، ښايي چې د پښتو لغاتو په وضع او جوړونه کې ورته وکتل شي او ګټه ورڅخه واخیستل شي چې زموږ ژبه او اصطلاحات یې هم له مسلمو علمي اساساتو څخه مخالف نه وي.

## ۴ . ۱۶ عمومي شرايط

۱. وضع کېدونکي کلمات دې د توان تر برېده مفرد او لنډ وي، تر مرکبو کلمو دې مفرد کلمات غوره شي یا داسې کلمې چې لکه مفردې کلمې لنډې او بسیطې وي، مثلاً په انګلیسي sub په فرانسوي sons تل ته وايي، میرین Marine یعنې بحري او دریایي دا دوې کلمې سره یوځای شوې سبمیرین (Sumirine) ځنې جوړ شو، دا هغه کښتۍ ده چې تر اوبو لاندې ځي، عربو دا نوی شی په ترجمه (تحت البحری) وباله، د ایران فرهنګستان پارسي نوم په ترجمه(زیردیایی) ورته کښېښود. د پېښور پښتنو دې ته دغسې مرکب وضع کړ(اوبتل) چې له اوبه + تل څخه مرکب دی. دا نوم مفرد ته نژدې او تر پارسي زیر دریایي یا تحت البحري غوره دی، ځکه لکه: اروپايي سمبيرين کلمه مرکبه نه ایسي او مفرد ډول لري او معنا هم ښه افاده کوي.

۲. د علمي اصطلاحاتو د وضع کولو لپاره باید چې د فن ماهران او د ژبې پوهان دواړه سره یوځای شي او یو د بل په مرسته کلمې جوړې یا وضع کړي. ځکه داسې خلک خورا لږ دي چې هم د فن ښتنان وي، هم د ژبې پوهان، نو که داسې دوې ډلې په ګډه کار وکړي، ښايي چې وضع کړي کلمات به یې هم د فن لپاره صحیح وي هم د ادب له مخې.

۳. ځنې نوې اختراعګانې د خپلو جوړوونکو او موجدینو یا په بین المللي نامه مشهورې دي، پر دې اختراعګانو نورو ملتونو هم نومونه نه دي ایښي، که یې موږ هم په هغو نومونو وبولو بده به نه وي، لکه: راډیو، تلویزیون، ټلګراف، بیا هم که کوم ډېر موزون نوم ورته مونده شي، اېښودل یې عیب نه دي.

۴. هغه مواد چې وضع کېدونکي لغات ځینې جوړېږي یا ځینې ترکیبېږي، ښايي چې ډېر مشهور او مروج مواد وي چې هرڅوک ژر په وپوهېږي، ترکیب یې ساده وي، د ژبې او ادب له رویه هم خوږ او مقبول وي، مستهجن کلمات نه وي او عوامو پر محاوره سم وي.

۵. ځینې خلک د لغتونو د وضع کولو پلویان دي، نو هر کله نوي نوي کلمات وضع کوي دوی دوې یا درې پښتو کلمې سره نښلوي تر منځ یې حذف هم کوي، ځینې توري او غړونه یې حذفوي، وایي چې دغه توري په پای کې پخپله ځي، یعنې ډېر کارول یې لنډوي، درانه غږونه ځنې غورځي(حبیبي، ۱۳۴۸، ۸ مخ).

په دې ډول نو د دوی وضع کړي لغات یو عجیب او غریب رنګ مومي چې هغه مطلب د وضع کولو هم له منځه خي. د بېلګې په توګه له د لغتونو له وضع کولو څخه مطلب دا و چې پښتانه ژر په علمي اصطلاحاتو وپوهېږي او دوی ته خورا اسانه وي چې کلمه ولولي نور ژر د دوی فکر موضوع ته ولاړ شي، خو د وضع کولو ځنو مینه والو هغه کار چې په فطري او طبیعي ډول وروسته له پېړیو څخه کوي، یعنې په کلمو کې یو شمېر توري زیاتوي او ځینې حذفوي، دوی په یوه دقیقه کې وکړ، دا کار له طبیعي نوامیسو سره په ټکر کې دی او بېرته دغه کلمې پښتنو ته پردۍ ښکاري او هېڅ نه پرې پوهېږي.

لکه څنګه چې وړاندې هم رڼا پرې واچول شوه، لومړی دی پخپله د ژبې په فقه اللغه کې د وضع او نوې جوړونې د اصولو پلټنه وشي، بیا د نورو ژبو د لغاتو او کلمو او موضوعاتو اصول وپلټل شي، په

دې ډول به نوي جوړ شوي لغتونه د ژبې له عنصر سره هم ورته وي او علمي رنګ به هم ولري(حبیبي، ۱۳۴۸، ۱۴ مخ).

پښتو خو په اصل کې یوه آریایي ژبه ده چې د دې توکم له زړو ژبو سره نژدیوالی او نسبت لري، لاندې به د آریایي او نورو ژبو د اصطلاحاتو اصول له پښتو سره تطبیق کړو:

۱. تولید: د علمي اصطلاحاتو په اېښوولو کې موږ له تولیده ښه کار اخلو، د تولید یو ډول دغه دی چې د ژبې ځینې زاړه مواد او کلمې په نوې معنا مشهور کړي، د ژبو محققین تر نوې اختراع داسې کلمې ډېرې خوښوي، د ایران فرهنګستان په نورو اصطلاحاتو کې داسې ډېر کلمات اخیستي دي چې زاړه مستعمل او کارېدونکي وو، که یې د تولید په ډول څه معنوي تغییر خوړلی وي، هغه به هم د ارتباط وجه لري: د بېلګې په توګه(اژدر) یوه کلمه ده چې د ایران په زړو افسانو کې کارېدونکې وه، یو ډول مار و چې تر خولې یې اور بادېده.

اوس فرهنګستان دا نوم واخیست پر ټروپیل( (Tropilleیې کنښېښود، دا سمندري (بحري) بم دی.

هزینه: په پخوا پارسي ژبه کې خزانې او نفقې او خرڅ ته ویل کېده، اسماعیل وایي:

کردم هزینه در ره مدح تو نقد عمر　　　　ور اندکی بماند از ان هم برای تست

اوس فرهنګستان دا کلمه د مصرف او خرڅ لپاره ځانګړې کړې ده چې د دخل مقابله کلمه ده.

عربو هم په دغه توګه ډېر زاړه لغات نوي کړل، دبابه پخوا په عربو کې د جنګ له اسبابو څخه وه. دا آله په عربو کې زړه وه، اوس نو عربو دا زړه کلمه را واخیسته او پر اوسپنیزپوښ موټر یعنې ټانګ( (TANKیې اطلاق کړه. دوی وایي چې په یوه ترتیب زوړ نوم موندل کېږي، نوې نومونه اېښول سم نه دي.

همدغې دوی ټلیفون(هاتف یا مسره)، موټر(سیاره)، سایکل(دراجه) ایروپلان(طیاره) بولي.

د دې کلمو اصل خو زوړ دی، مګر استعمال یې په دغو معناوو، نوی دی. موږ هم په پښتو کې کولای شو چې ځینې زاړه مفرد کلمات ومومو او پر نویو شیانو یې اطلاق کړو. په دې شرط چې د ارتباط

وجه یې ټینګوي، د بېلګې په توګه: الوتکه = طیاره، برېښنا = برق، ونډ = سهم(بانکی اصطلاح)(حبیبي، ۱۳۴۸، ۱۸مخ).

په تولید کې له اشتقاق څخه ډېره ګټه اخیستل کېږي، مثلاً د یوې مادې مختلف مشتقات پر مختلفو معناوو اطلاقېږي.

۲. نښلول: یعنې دا د اداتو او علاماتو دمخه یا وروسته په کلمو پورې: دا کیفیت په آریایي ژبو کې ډېر دی، خو په سامي ژبو نشته یا هم نادر دی. هغه ادات چې دمخه په کلمو پورې نښلي په عربي سابقه او انګریزي یې پریفکس بولي او هغه لواحق چې د کلمې په پای پورې نښلي په عربي یې لاحقه او انګریزي یې سفکس بولي. مثلاً انټي( (ANTIیوناني کلمه ده چې د خلاف او مخالف معنا ورکوي. دا ادات په ډېرو شیانو کې استعمالېږي او دمخه په کلمو پورې نښلي. لیتهک یعنې ډبرین ـ انټي لیتهک( (Anti Lithicیعنې د ډبرین مخالف(په طبي اصطلاح هغه درمل دي چې په مثانه کې ډېره ورکوي) په پارسي ژبه کې هم داسې مختاړي ډېر دي. مثلاً بر: برجسته، برآمد، برآورد، برداشته، برخاست.

پس: پس خورده، پس انداز، پسمانده، پسادست ... چې داسې سابقې په آریایي ژبو کې خورا ډېر دي. پښتو هم لکه نورې آریایي ژبې داسې ډېرې سابقې او لاحقې لري، مثلاً نا: ناروغ، ناوړه، ناسیاله، ناپېنه.

بې: بې موره، بې ګټې، بې پلاره، بې کوره، بې مخه، بې شرمه.

خپل: خپلواک، خپلواکي، خپل چارو کې داسې مختاړي په علمي اصطلاحاتو او نورو نومونو کې زموږ ډېر په ښه راځي او په نویو جوړونو کې خورا ډېره مرسته راسره کوي.

په انګلیسي علمي اصطلاحاتو کې آټو( (Autoچې د (خود، خپل) معنا لري، ډېر کارول کېږي، مثلاً: آټولوژي، معرفت النفس یعنې ځان پېژندنه، اټوماټیک، هغه ماشین چې پخپله کار کوي، آټوموبیل یعنې پخپله تلونکی، اوټوګراف، خپل لیک، اوټونومی، خپل حق یا خپل واک(حبیبي، ۱۳۴۸، ۲۴ مخ).

## ۴ . ۱۷ په پښتو کې د نويو جوړونو ګټې او زيانونه

محمد هوډ په يوه مقاله کې چې ''د نويو اصطلاحګانو ګټې او زيانونه '' يې سرليک دی په پښتو ژبه کې د نويو جوړونو او وييرغونې په اړه ډېرو مهمو ټکو ته اشاره کړې ده او ياده برخه يې په هر اړخيزه توګه تشريح او سپړلې ده چې دلته د ليکنې ځينې مهمې برخې را اخلو:

وييرغونه يا نيولوجيزم د ژبپوهنې يوه ډېره پېچلې او سخته برخه ده، چې د ډېرو کلونو په ترڅ کې په پښتو ژبه کې منځ ته راغلې، په پښتو ژبه کې دغه مسايل لا هم دوام له لري، خو هغه ډول چې مخکې په مسؤولانه ډول مخ پر وړاندې روان وو اوسې هسې نه دي، بلکې يو څه ستونزې په کې شته دي، دا ځکه چې په دغه کار کې د ژبپوهانو همغږي نه ده موجوده او په تيت او پراګنده ډول هر يوه ځانته په خپله خوښه نومونې کوي او نوې اصطلاحګانې جوړوي. دغه کار نه يوازې د ژبې په پرمختګ کې مرسته نه شي کولای، بلکې ژبه له ستونزو سره مخامخ کوي.

د يوې ژبې د تکامل د هغې د تحول پر اساس نوې کلمې منځ ته راځي او يو شمېر نورې بيا زړېږي او له ګټې اخيستنې څخه لوېږي او په تدريجي ډول له منځه ځي يا متروکې کېږي، يو شمېر کلمې خپله مخکېنۍ معنا له لاسه ورکوي او نوې معناګانې خپلوي او يا د خپلې مستقلې معنا ترڅنګ بله معنا ځانته مومي. البته دغه پروسه په يوځايي ډول په يوه وخت او زمان که نه رامنځ ته کېږي، بلکې کرار کرار د وخت په بهير کې منځ ته راځي؛ همدا راز يوې ژبې ته د اړتيا په صورت کې د نوو علمي اصطلاحګانو راتګ چې د بهرنيو ژبو څخه د علم په هره برخه لکه: ساينس، ټکنالوژي، ديني علوم او ټولنيزو علومو په برخه کې راځي، د دې باعث کېږي چې په ژبه کې پېچلتيا راشي او د لوستونکو له پاره ستونزې جوړې کړي، نو په دې موخه چې دغه نوي اصطلاحات د ټولو لوستونکو لپاره آسانه شي او د فهم وړ وګرځي، نو لازمه ده چې دغه ډول اصطلاحاتو ته معادلې نومونې په همدې ژبه کې منځ ته راشي، خو دا چې څنګه د دغسې اصطلاحاتو معادلې کلمې په خپله ژبه کې پيدا کړو او هغه هم داسې کلمې وي چې د بهرنيو کلمو په څېر د لوستونکو لپاره سرخوږی نه شي او د کومو خلکو له خوا بايد جوړې شي(هوډ، ۱۴۰۱ ، .( https://www.nunn.asia ).

## ۴ . ۱۷ . ۱ د نويو اصطلاحگانو گټې

د ژبې کره کول يوه اکاډميکه اړتيا ده. د نړۍ د ټولو ژبو ويونکو دا اړتيا حس کړې او ور سه سم يې د خپلو ژبو د بېلبېلو گړدودونو (لهجو) څخه يوه سمه، سوچه، پر اصولو برابره او ټولو ته د منلو وړ ژبه را ايستلې او عامه کړې ده. د کره کولو په بهير کې د يوې ژبې ويلو (تلفظ) لوستلو او ليکل درې سره په پام کې نيول کېږي . تر کومه ځايه چې ما ته معلومه ده د نړۍ په ټولو متمدنو هيوادونو کې د رسنيو ( (Mediaژبه معياري ژبه وي او د هغې له مخې وگړي خپله ژبه سموي. د پښتو ژبې کره کېدل هم د وخت غوښتنه ده او د خوښۍ ځای دی چې دې بهير ته له تېرو دېرشو پنځه دېرشو کلونو راهيسې ډېر پام اړول شوی دی. نيولوجيزم (لغت جوړونه) د ژبې د کره کولو يوه برخه ده. دا چې موږ ته د پښتو نيولوجيزم څرکونه له امير کروړه رانيولې تر حمزه شينواري پورې را ښول کېږي، معنا يې دا نه ده چې په دغه اوږده واټن کې د ژبې د معياري کېدو لپاره هلې ځلې کېدلې.

د امير شېر علي خان، امير حبيب الله خان او امير امان الله خان په وختونو کې چې د پښتو د رواجېدني لپاره کوم کوښښونه شوي دي. د ژبې د معياري کېدنې عنصر په کې غوټ نه ليدل کېږي او نه د هغه وخت واکدارانو او د پښتو ژبې خواخوږو د معياري کېدنې اړتيا محسوسه کړې وه. دا د ژبې د ژوندي کېدو او دوديدو لپاره لومړنۍ هڅې وې چې موږ يې د احسان بشپړ منونکي يو. که تاسې د امير شېر علي خان د وخت پښتو نظامي لقبونه او د امير امان الله خان د وخت د پښتو مرکې ليکنۍ ژبې ته ځير شئ، و به وينئ چې د عربي ژبې ترکيبونه يې پخپله ژبه کې يو لړ مقلوب اضافي ترکيبونه ليکلي دي. پخپله د پښتو مرکې نوم د پښتو پر معيار برابر نه و (مرکه د پښتو) يې بلله . زما مطلب دا نه دی چې خدای مه کړه د هغو خواخوږو هڅو ته په درنه سترگه نه گورم . د هغوی هلې ځلې د اوسنيو د لارې مشال وي او چا خبره سعې يې مشکورې دي. زما مطلب دا دئ چې د پښتو د کره کېدنې هڅې ډېر زوړ تاريخ نه لري . له بده مرغه په تېرو شلو دېرشو کلونو کې چې چا د پښتو نيولوجيزم په وړاندې خپل ملحظات ښوولي دي، ټولني ته داسې معرفي کېږي چې گويا هغوی د پښتو د کره کېدنې په مقابل کې ټينگار کوي . په داسې حال کې چې موضوع دا ډول نه وه او نه ده . پر پښتو باندې د عربيت تر اغېزې لاندې د ناوړه ترکيبونو عمومي توب ټول پښتانه خواخوږي ځورول . د پښتو دغو عبارتونو (په کتابو کې يې دفقه راوړي دي)، (نيت د لمانځه د اختر داسې دی(شهادت ورکوم په وړاندې د محکمې)، (بر قراره دې وي تخت و بخت د پاچا د اسلم) او

دې ته ورته جوړښتونو زموږ پر ژبه سیوری اچولی دئ. د دغو جوړښتونو د سمون له پاره له طلوع افغانه رانیولې بیا د وخت تر پښتو ټولنې پورې ټولو د خپل اهلیت او صلاحیت په اندازه کار کړئ دئ او دا چې کافي و یا نه و، بېله خبره ده. زما مشاهدات راښیي د کره کېدني (معیاري توب) بهیر چې هر وخت او په هر نیت پیل شوی دی، پای یې پر لغت جوړونې (نیولوجیزم) درېدلی دی او نورې چارې ځنې پاته شوې دي.

لکه وړاندې چې وویل شو د پښتو نیولوجیزم ځرکونه موږ ته له امیر کروړه رانیولې بیا تر حمزه شینواري پورې راښول کېږي، خو د دغه بهیر د چټکتیا او زیاتې را برسېرېدنې زمانه له تېرو درو لسېزو را پیلېږي. دغه کلونه دي چې د پښتو لغت جوړونې یا نیولوجیزم د اړتیا او ځرګندتیا په برخه کې شعوري هڅې پیل کېږي او ور سه سم یې پلویان او مخالفین میدان ته راوځي. د نیولوجیزم بهیر که چا پیل کړی که یې کړلی دی، دواړه د پښتو ژبې خواخوږي وو او دي.  دواړه له خپلې ژبې سره د مینې په مقصد لاس او پښې وهي. دا نه د جګړې ډګر دی او نه د سیاست میدان چې ځوک پکې ماته خوري او ځوک پکې بریالی کېږي. که د پښتو نیولوجیزم یا د پښتو کره لیکنې بهیر ته په دغې روحیې سره ځوک وګوري او و یې څېړي زما په خیال ګټه به یې ډېره وي.

نیولوجیزم په حقیقت کې د پښتو کره لیکني د لوی بهیر یوه کړۍ ده. نورې کړۍ یې د زړو لغتونو را ژوندي کول (ارکاییزم)، له ګړدودونو څخه د لغاتو را ایستل او دغه راز له نورو ژبو څخه را پوروول دي.

## ۴ . ۱۷ . ۲ د نویو اصطلاحګانو زیانونه

د نورو ژبو د ویوونکو لپاره یعنې هغه ځوک چې پښتو ورته دویمه ژبه وي او غواړي یاده ژبه زده کړي، د نوو لغتونو منځ ته راوړل ستونزه ورته جوړولای شي، ځکه هغوی د هغو عربي، انګریزي او دري ژبو له لغتونو سره چې زموږ ژبې ته راننوتلي دي، مخکې له مخکې آشنایي لري، خو نوي لغات بیا ورته نوي وي، د بېلګې په توګه: که چېرته موږ د اونۍ ورځې چې شنبه، یکشنبه، دوشنبه... په خالي، یوه نۍ، دوه نۍ.... باندې نوموو او یا هم د هغې آلې لپاره چې د کمپیوټر یا مبایل سره نښلي او غوږونو ته غږ لېږدوي، ګوشکي یې بولو اوس په نوي متونو کې په خپل سري ډول د هغو لپاره غوږۍ کارول کېږي. دلته دوه ستونزې جوړیدلی شي یوه دا چې د یاد لغت زده کړه او غږن توب یې او دویم د غوا

یا غواګۍ چې یو کورنی ژوی دی له هغه سره به معنا ډېری کسان تفکیک نه شي کړای، همداراز نورې داسې بېلګې موندلای شو چې مخکې ژبې ته را ننوتې دي، خو اوس بیا هرڅوک پرته د کوم قانوني او علمي صلاحیته یې نوم ور بدل کړی، البته داسې کار که د یوې باصلاحیته مرجع څخه کېږي او یا ترڅو چې ژبې ته نوي لغات را ننوځي او په ټولنه کې عمومیت او مشروعیت مومي، بیا مخکې له دې یې چاره وشي او پر ځای یې نوی ټول منلی لغت ورته و کاروي، ترڅو د هغه نوي لغت په عامیدو سره زموږ نوی لغت عام شي.

که سرې د واقعیتونو له مخې مطالعه او څېړنه وکړي، نو و به ګوري چې په دې برخه کې هېڅ کوم ډول علمي معیار نشته، بلکې دا هر څه یوازې شخصي سلیقه او طرزتفکر دی، مثلاً په پښتو کې ځینې کسان (پتاټې) او (جغندر) تر (کچالو) او (لبلبو) غوره ګڼي، ځکه چې دوی وایي کچالو او لبلبو پردۍ کلیمې دي، خو د دې لپاره کوم اساسي دلیل نشته، چې پتاټې او جغندر کلیمې ولې پښتو ته نږدې دي؟ د یادونې وړ ده، چې د لبلبو کلیمه په افغانستان کې دومره معمول ده لکه په ایران کې چې جغندر کلیمه معمول ده، دا کلیمه پر پارسي سربېره په نورو ایراني لهجو کې هم د جغندر په بڼه ویل کېږي لکه د مازندران په لهجه کې، خو د پتاټې کلمه له پښتو څخه دومره لېرې ده لکه هسپانیه چې له پښتونخوا څخه لېرې ده (هوډ، ۱۴۰۱، https://www.nunn.asia ).

ـ د ژبې سره د خلکو عادت یې بله موضوع ده، که چېرته پرته د باصلاحیته، ټول منلې او اکاډمیکې کمېټې څخه خپل سري لغاتونه جوړ کړو او په ټولنه یې د تطبیق هڅه وکړو نو دا هڅه به مو ناکامه هڅه وي، ځکه پښتو ژبه نسبت نورو ژبو ته محافظه کاره ژبه ده او ویونکي یې هم د کلیمو د بدلون لېوالتیا نه لري، پښتون تېر تر ډېره مدرنیزم او نوی والی نه مني په ژبه کې ورته نوي لغاتونه پیدا کول سم لکه په دین کې بدعت ورته ښکاري، ځکه پښتنو د پښتونولی، دین، فرهنګ، رسوم، دود او د ژبې ساتل په خپله پخوانۍ بڼه ورته غوره برېښي.

که داسې نه وی نو پښتو ژبې به د نورو آریایي ژبو په څېر چې خپل د ژبې اصالت یې نه دی ساتلی او د ژبې په صرفي برخه کې د کمیت او جنسیت له پلوه خورا بدلون کړی، همداسې به پښتو ژبې هم خپل اصالت له منځه وړی وی، د مذکر او مونث توپیر به یې نه کیده خو پښتو بیا برعکس هغه

د کمیت او جنسیت مسله تر اوسه ساتلې، د دې څخه مالومیږي چې پښتو یوه محافظه کاره ژبه ده او ویوونکي يې هم په آسانۍ بدلون نه مني(هوډ، ۱۴۰۱، https://www.nunn.asia ).

د پښتو وییپوهنې او وییرغونې په اړه مو په پورتني بحث کې هر اړخیزې خبرې وکړې او دا برخه مو ځکه په څلورم څپرکي کې تر بحث لاندې ونیوله چې زموږ د موضوع اصلي بحث ترې پیل کېږي او پورتنی بحث مو تیوریکي او معلوماتي نه دی، بلکې هڅه مو کړې ده چې په اړه یې کره‌کتنیزې خبرې وکړ او دا په ډاګه کړو چې د پښتو وییپوهنې او وییرغونې تر اوسه پورې څه ډول مزل کړی دی او په دې برخه کې ترسره شویو کارونو ته مو په کره‌کتنیز نظر کتلي دي. په لوړو او ژورو مو تحلیلي بحث او څېړنه کړې ده.

د څلورم څپرکي بله مهمه برخه د پښتو وییپوهنیز آثار او کتابونه دي. که څه په پښتو ژبه کې د وییپوهنې اړوند څو د ګوتو په شمېر آثار لیکل شوي او خپاره شوي دي او په هغو کې ځینې داسې بحثونه هم راغلي دي چې له وییپوهنې سره اړیکه نه لري او کله خو داسې هم شوي چې د وییپوهنې په نامه اثر لیکل شوی دی، خو بحث يې مورفولوژیک دی، که څه هم په یوه ډول به له وییپوهنې سره اړیکه لري، خو مورفولوژي بېل بحث دی او وییپوهنه بېل چې موږ يې په اړه په تېرو بحثونو کې رڼا واچوله، دلته هغه آثار تر بحث او کره‌کتنې لاندې نیسو چې له لغت پوهنې سره اړیکه لري او په یو ډول نه یو ډول وییپوهنیز بحثونه لري، نو هڅه مو کړې ده چې دا آثار تحلیل، مثبت او منفي خواوې يې څرګندې او پایلې يې په ګوته کړو.

## ۱۸.۴ لغوي څېړنه

د دې اثر لیکوال استاد ګل باچا الفت دی او په ۱۳۲۱ هـ. ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې په عمومي توګه د لغتونو په اړه بحث شوی او دا روښانه شوې ده چې په یوه ژبه کې لغتونه څه ډول پراختیا مومي او ډېرېږي. د افکارو، خیالاتو او لغتونو تر منځ په تړاو خبرې شوې دي؛ یعنې کله چې یو ملت یا ټولنه پرمختګ کوي، نوي خیالات او افکار په کې وده کوي، ورسره یو ځای لغوي زېرمه هم پراخېږي.

«لغوي څېړنه» اثر د لغتونو په اړه له خپل وخت سره سم ډېر مهم بحثونه راخیستي دي او په ډېره ښه ډول پکې تحلیل او تجزیه شوي دي. د دې اثر له بحثونو څخه څرګندېږي چې د یوې ژبې لغوي زېرمه له ټولنیز، فکري او فرهنګي پرمختګ سره مستقیم تړاو لري. کله چې په یوه ټولنه کې نوي افکار، مفاهیم او اړتیاوې رامنځته کېږي، ژبه هم د دغو نوو مفاهیمو د بیان لپاره نوو لغتونو او یا د پخوانیو لغتونو نوو مانیزې کارونې ته اړتیا پیدا کوي. له همدې امله د لغتونو پراختیا یوازې د لغتونو د شمېر زیاتوالی نه دی، بلکې د ژبې د فکري او ټولنیز پرمختګ له بهیر سره هم تړاو لري.

د ویپوهنیزو نظریو له مخې د استاد ګل باچا الفت دا اثر ځکه ځانګړې اهمیت لري چې پکې د لغتونو د رامنځته کېدو او پراختیا موضوع له افکارو، ټولنې او د انسان له اړتیاوو سره تړل شوې ده. دا لیدلوری د ویپوهنې له هغو بحثونو سره نږدې اړیکه لري چې د ویي د رامنځته کېدو، پراختیا او د لغوي زېرمې د بدلېدو څرنګوالی څېړي. په دې توګه، «لغوي څېړنه» یوازې د لغتونو د پېژندنې او تشریح اثر نه دی، بلکې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې د پراختیا په اړه هم د پام وړ معلومات او نظریات وړاندې کوي.

په اوسني وخت کې چې د ژبپوهنې او په ځانګړې توګه د لغت جوړونې په برخه کې نوي نظریات او تیورۍ زموږ ژبې ته راغلې، اړتیا ده چې دا کتاب د ژبې د یو متخصص او دانشمند له خوا له نویو زیاتونو سره یو ځل بیا چاپ او خپور شي. دا اثر د لغت په اړه د خپل وخت مهم معلومات او بحثونه لري او کله چې له نوي نظر او کتنې وروسته چاپ شي، نو د ویپوهنې په برخه کې به ډېر مؤثر تمام شي.

## ۱۹.۴ لغت پوهنه

«لغت‌پوهنه» د څېړنپوه دوکتور دولت محمد لودین اثر دی چې په ۱۳۵۵ هـ. ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا د (۷۰۰) ټوکونو په شمېر کې چاپ شوی دی. دا کتاب د لغتونو په اړه تفصیلي بحثونه لري. د اثر په لومړنیو خبرو کې لیکوال د کتاب په اړه لنډ معلومات لیکلي دي چې دلته یې د وضاحت لپاره یوه برخه را اخلو: دغه اثر چې د لغت‌پوهنې په نوم یادېږي، د دې لپاره لیکل شوی چې د لغت په اړه د اړتیا وړ معلومات هغه چا ته وړاندې شي چې ضرورت ورته لري او یا هم مینه

ورسره لري. لغت پوهنه د عمومي ژبپوهنې یوه ډېره مهمه څانګه ده، نو ځکه د دغې مهمې څانګې په اړه تیوریکي معلومات او د اړتیا وړ مثالونه وړاندې کول یو ګټور کار برېښي.

د لغت پوهنې په دې اثر کې د لغتونو پر بېلو بېلو اړخونو باندې خبرې شوې دي. په هره برخه کې د څو ژبپوهانو نظریې له مختلفو آثارو څخه را اخیستل شوي او په پښتو ژبه تطبیق شوي او د ښه وضاحت لپاره یې مناسب مثالونه را وړل شوي دي. دلته د لغتونو هره برخه یوازې د دې لپاره څېړل شوې چې د پښتو ژبې له څېړونکو او مینه والو سره د لغتونو د څېړلو په وخت کې په تیوریکي برخه کې مرسته وکړي.

د ویپپوهنې له نظره د «لغت‌پوهنه» اثر ځانګړې ارزښت لري، ځکه چې لیکوال د لغتونو بېلابېل اړخونه د ژبپوهنې له نظریو سره تړلي او د پښتو ژبې له بېلګو سره یې روښانه کړي دي. له دې څخه څرګندېږي چې په اثر کې یوازې د لغتونو عمومي پېژندنه نه ده شوې، بلکې هڅه شوې چې د لغتونو د څېړنې لپاره یوه تیوریکي زمینه برابره شي. په ځانګړې توګه د پښتو ژبې له بېلګو څخه استفاده کول د دې اثر هغه ځانګړنه ده چې د پښتو ویپپوهنیزو څېړنو لپاره یې ارزښت زیات کړی دی.

همدارنګه په یوه ځانګړي سرلیک کې د نویو لغتونو د جوړولو په اړه هم بحث شوی دی. په یاد کتاب کې د ویيرغونې په اړه ډېرې نوې او جالبې خبرې شته دي. لیکوال په دې هم رڼا اچولې چې کوم ډول لغت جوړونه د ارزښت وړ ده او کوم ډول نه ده. له دې بحث څخه څرګندېږي چې د نویو ویيونو جوړونه باید یوازې د نوي ویي د منځ ته راتګ په موخه ترسره نه شي، بلکې د ژبې اړتیا، د نوي مفهوم یا نوي څیز د نومولو اړتیا او د ژبې د ویونکو د منلو مسئله باید په پام کې ونیول شي.

متأسفانه موږ اوس هم له دې مشکل سره مخامخ یوو چې ځینې کسان په دې فکر دي چې باید په زیاته پیمانه نوي لغتونه جوړ شي، خو په «لغت‌پوهنه» اثر کې بیا دا خبره روښانه شوې ده چې لغت جوړونه باید د هوس او ذوق له مخې په ژبه کې ونه شي، بلکې کله چې په ژبه کې د یوه مفهوم او یا نوي څیز د نومولو لپاره اړتیا ولیدل شي، هغه وخت د نویو لغتونو د جوړولو اړتیا ده. همدا ډول نوې جوړونه هغه وخت په ژبه کې د ځای موندلو امکان لري چې د ټولنې او د ژبې د ویونکو له خوا ومنل شي. کوم کارونه چې د اړتیا له مخې نه وي او همدارنګه د ژبپوهنې له اصولو او معیارونو سره سم تر

سره نه شي، هغه نوي جوړ شوي وييونه په ژبه کې ځای نه پیدا کوي او همداسې به د کاغذ پر مخ پاتې کېږي.

له دې امله، د «لغتپوهنه» اثر د دې څېړنې له نظره په ځانګړې توګه د نوې ويي جوړوونې، د وييرغونې د اړتیا، د ژبنیو اصولو مراعات، د نوي جوړ شوي ويي د منل کېدو او په ژبه کې د هغه د ځای موندلو له پلوه مهم اثر ګڼل کېږي. د اثر دا بحثونه ښيي چې وييرغونه باید له ژبنیو اړتیاوو سره تړلې وي او د یوه نوي ويي د بریالیتوب لپاره یوازې جوړېدل بسنه نه کوي، بلکې د ژبې له جوړښتي اصولو سره سمون او د ژبې د ویونکو له خوا منل هم مهم دي.

## ۴. ۲۰ ژبپالنه

«ژبپالنه» د څېړنوال حبیب الله رفیع اثر دی چې لومړی ځل په ۱۳۶۰ ل کال کې د افغانستان د علومو اکاډمي له لوري چاپ شوی او د دویم ځل لپاره په ۱۳۹۷ ل کال کې د امان کتاب خپرولو موسسې له خوا چاپ شوی دی. په نوموړي اثر کې په بېلابېلو وختونو کې پښتو ژبې ته د ترسره شويو کارونو په اړه تفصيلي معلومات راوړل شوي دي. زیاتره موضوعات يې د پښتو ژبې د پالنې او د پښتو ژبې لپاره د علمي کارونو په اړه بحثونه دي. ټول بحثونه يې مهم دي او د پښتو ژبې لپاره چې کوم کارونه شوي دي، هغه يې په تفصيلي ډول معرفي کړي دي.

په «ژبپالنه» اثر کې یو ځانګړی فصل د پښتو لغتونو او په ځانګړې توګه د پښتو ژبې د سوچه کولو په اړه دی. یاد څپرکی تر ډېره پورې له وییپوهنې سره تړاو لري او د پښتو ژبې د سوچتابه په اړه بېلابېلې تاریخي هڅې او کارونه په ښه ډول معرفي کوي. لیکوال د پښتو ژبې د لغوي زېرمې د ساتنې او پیاوړتیا، د پردیو وییونو پر ځای د پښتو وییونو د موندلو او کارولو او د ژبې د سوچه کولو په برخه کې ترسره شوې هڅې بیان کړې دي. همدارنګه د یادې موضوع پر ارزښت او اهمیت يې منځلاري او ګټمن بحثونه کړي دي.

د وییپوهنې له نظره د اثر اهمیت په دې کې دی چې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې د پالنې او پراختیا موضوع يې له تاریخي هڅو او ژبنیو کارونو سره تړلې ده. په ځانګړې توګه د پښتو ژبې د سوچه کولو بحث د وییپوهنې له مهمو موضوعاتو څخه دی، ځکه د یوې ژبې د لغوي زېرمې په ساتنه او پراختیا

کې د پردیو ویینو پر ځای د خپلې ژبې د شته ویینو کارول، د نوو ویینو جوړول او د ژبې د ویونکو اړتیاوو ته پاملرنه مهم ځای لري.

د دې اثر له بحثونو څخه د څېړنې لپاره یوه مهمه موندنه دا ده چې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې پالنه یوازې د پخوانیو ویینو په ساتلو پورې محدوده نه ده، بلکې د ژبې اړتیاوو ته په کتو د هغې د لغوي زېرمې غني کول هم د ژبې د پالنې یوه برخه ده. همدارنګه د پښتو د سوچه کولو تاریخي هڅې ښيي چې د پښتو ژبې د ویینو د ساتنې او پراختیا موضوع له اوږدې مودې راهیسې د ژبپوهانو او ژبې د پالونکو د پام وړ وه.

بله موندنه دا ده چې د ژبې سوچه کول له ویپپوهنې سره مستقیمه اړیکه لري؛ ځکه د ژبې د لغوي زېرمې د سوچه کولو په بهیر کې د ویینو انتخاب، د پردیو ویینو پر ځای د مناسبو پښتو ویینو موندل، د نوو ویینو جوړول او په ژبه کې د هغو دودول مطرح کېږي. له همدې امله د «ژبپالنه» اثر د پښتو ژبې د ویپپوهنیزو څېړنو لپاره د تاریخي شالید له پلوه د پام وړ ارزښت لري.

په ټوله کې، د «ژبپالنه» اثر دا څرګندوي چې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې پالنه او سوچه کول له یوې خوا تاریخي مخینه لري او له بلې خوا د ژبې د راتلونکي پرمختګ لپاره هم مهمه موضوع ده. د دې اثر مطالب ښيي چې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې د بډاینې لپاره باید د ژبې شته ویینه وپالل شي، د اړتیا پر مهال نوي ویینه رامنځته شي او هغه کلمې چې د ژبې له جوړښت او اړتیاوو سره سمون لري، د ژبې د ویونکو تر منځ دود او ومنل شي.

## ۴. ۲۱ زړه پانګه

«زړه پانګه» د سرمحقق دوست شینواري اثر دی چې د امیر کروړ د ۱۲۵۰ تلین د سیمینار په ویاړ په ۱۳۶۳ ل کال د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بین المللي مرکز له خوا په ۱۰۰۰ ټوکه او ۷۰۷ پاڼو کې چاپ او خپور شوی دی چې په پای کې ضمیمه هم لري او په ضمیمه کې هغه آثار او متون معرفي شوي چې د زړې پانګې لغات تربنه اخیستل شوي دي.

په دې قاموس‌ډوله اثر کې د لغتونو زیاته برخه هیستوریک (Historic) او ارخایک (Archaic) ده. تاریخي لغتونه هغو لغاتو او نومونو ته ویل کېږي چې یو نوم له خپل نومولي (اسم له مسمی) سره

یوځای د استعمال او په ژوندانه کې د ضرورت له ساحې وتلی وي. لومړی د داسې شیانو نومولی (مسمی) له منځه ځي، ځکه چې د ټولنو په کلتوري، سیاسي، اقتصادي، نظامي او نورو ساحو کې د هغه د ضرورت احساس پاتې نه وي او د هغه تش او خالي ځای له بلې لارې ډک شوی وي.

(ارخایک) بیا هغه نوم یا اصطلاح ته ویل کېږي چې نومولی یې د اجتماع په ژوند کې د یوې اړتیا لپاره استعمالېږي، خو نوم یا اصطلاح یې له منځه تللې وي او د هغه له استعمال سره د ژبې وګړي ناآشنا وي. له دې توپیر څخه څرګندېږي چې د تاریخي او ارخایک وییونو تر منځ اصلي توپیر د نومولي او نوم تر منځ په اړیکه او د هغه د استعمال په حالت کې دی. په تاریخي ویي کې له نومولي سره یوځای د استعمال اړتیا له منځه تللې وي، خو په ارخایک ویي کې نومولی لا هم د ټولنې په ژوند کې شته او اړتیا ورته موجوده وي، خو نوم یا اصطلاح یې له عام استعمال څخه وتلې وي.

په دې قاموسډوله اثر کې داسې لغات هم شته چې د پښتنو په کومه سیمه او یا سیمو کې ژوندي او په ورځني ژوند کې استعمالېږي، خو د پښتو معتبرو قاموسونو هغه نه دي را اخیستي او د کتاب لیکوال په پښتو متونو کې موندلي او په دې اثر کې یې خوندي کړي دي. دا برخه د اثر له مهمو او ارزښتمنو برخو څخه ده، ځکه څرګندوي چې د یوې ژبې ټول لغوي مواد یوازې په مشهورو او پخوانیو قاموسونو کې نه محدودېږي، بلکې سیمه‌ییز او ژوندي وییونه هم د ژبې د لغوي پانګې برخه جوړوي او د ثبت او څېړنې اړتیا لري.

د اثر لیکوال د «څو لنډې خبرې» تر سرلیک لاندې د کتاب د لغتونو په اړه لیکلي دي:

«د دغو لغاتو د څرنګوالي لپاره ما د پښتو دوه معتبر قاموسونه معیار ګرځولي دي:

۱. پښتو قاموس چې په دوو ټوکونو کې په (۱۳۳۰ ـ ۱۳۳۳) کال کې پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

۲. ظفر اللغات چې په پېښور کې چاپ شوی دی.

د دغو قاموسونو په رڼا کې دلته ما د څو اصولو له مخې لغات را اخیستي دي:

۱. د پښتو هغه لغات چې په یوه قاموس کې هم نه دي راغلي.

۲. هغه لغات چې په یوه قاموس کې راغلي دي، خو بل نه دي را اخیستي دلته د لغت د تثبیت لپاره متن د سند په حیث وړاندې شوی دی.

۳. هغه لغات چې قاموسونو په یوه معنا اخیستي او په متن کې بله معنا ورکوي او یا بله زایده معنا هم لري.

۴. هغه لغات چې یوه قاموس په یوه معنا اخیستي او بل په بله معنا،

۵. هغه لغات چې په قاموسونو (یا یوه قاموس) کې په یوه لیکدود قید دي او په متن کې په بل لیکدود.

٦. دلته ځینې هغه لغات هم اخیستل شوي چې په قاموسونو کې درج دي، خو د استعمال مورد او مثال یې نه دی ښودل شوی، ما د استعمال د مورد لپاره دا لغات دلته راوړي دي او دا کار که څه هم دومره ضروري نه را ته ښکاري، خو بې ګټې هم نه دی.

۷. دلته زیات شمېر داسې لغات هم شته چې نه په قاموسونو کې درج دي او نه یې زه په معنا پوه شوی یم، خو په دې باب د راتلونکو څېړونکو سره د مرستې لپاره ما را اخیستي دي.

۸. داسې لغات هم په زیاته اندازه دلته درج دي چې قاموسونو اخیستي، خو په محاوره کې نشته. دا په دې لحاظ راخیستل شوي چې د هغو هؤیت او د تاریخي استعمال عمومیت ښه ثابت شي» (شینواری، ۱۳٦، ۱مخ).

د پورتنیو اصولو له مخې څرګندېږي چې د «زړه پانګه» اثر د لغاتو راټولول یوازې د پخوانیو لغتونو د ثبتولو پر بنسټ نه دي ترسره شوي، بلکې لیکوال د بېلابېلو قاموسونو تر منځ پرتله، د متنونو شهادت، د معنا توپیر، د لیکدود توپیر، د استعمال مورد او محاوروي حالت هم په پام کې نیولی دی. دا کړنلاره د ویپوهنې له نظره ځانګړې اهمیت لري، ځکه د یوه ویي د پېژندنې لپاره یوازې د قاموس ثبت کافي نه ګڼل، بلکې د هغه د استعمال ځای، معنا، لیکدود او تاریخي شالید ته هم پام کوي.

د دې اثر له څېړنې څخه یوه مهمه موندنه دا ده چې د ویي د تثبیت لپاره متن د یوه مهم سند په توګه کارول کېدای شي. هغه لغت چې په یوه قاموس کې ثبت وي او په بل کې نه وي، د متن په

وسیله یې شتون او استعمال تثبیتېدای شي. له دې څخه څرګندېږي چې متون د ویېپوهنیزو څېړنو لپاره یوازې ادبي یا تاریخي ارزښت نه لري، بلکې د لغوي موادو د راټولولو او تثبیت مهمه سرچینه هم ده.

بله مهمه موندنه دا ده چې یو ویی کېدای شي په بېلابېلو قاموسونو کې په بېلابېلو معناوو ثبت شوی وي، یا په متن کې د قاموس له ثبت شوې معنا څخه بله معنا او یا هم زیاته معنا ولري. له دې څخه څرګندېږي چې د لغت معنا تل ثابته او محدوده نه ده، بلکې د استعمال له چاپېریال او متني شواهدو سره بدلېدلی او پراخېدلی شي. له همدې امله د ویېپوهنې په څېړنه کې د قاموسي معنا ترڅنګ د متن معنا ته هم پام ضروري ده.

همدارنګه د لیکدود توپیر هم د «زړه پانګه» د راټولولو له اصولو څخه یو مهم اصل دی. هغه ویېونه چې په قاموسونو کې په یوه لیکدود او په متن کې په بل لیکدود راغلي وي، د بېلو موادو په توګه ثبت شوي دي. دا کار ښیي چې د ویي د څېړنې پر مهال یوازې د هغه مانیز اړخ ته نه، بلکې د لیکلې بڼې او د ثبت د ډول توپیر ته هم پام کېږي.

د اثر بله مهمه موندنه د سیمه ییزو او ژوندي ویېونو ثبتول دي. هغه ویېونه چې د پښتنو په یوه یا څو سیمو کې په ورځني ژوند کې استعمالېږي، خو په معتبرو پښتو قاموسونو کې نه دي ثبت شوي، د دې اثر په وسیله خوندي شوي دي. له دې څخه څرګندېږي چې قاموسي سرچینې د ژبې ټوله لغوي زېرمه نه شي رانغاړلی او د ژبې د ویونکو په محاوره او سیمه ییزو کارېدنګ کې داسې کلمې او لغتونه هم شته چې د ثبت او څېړنې اړتیا لري.

له اثر څخه دا هم موندل کېږي چې د ویېپوهنیزې څېړنې لپاره د ویي هویت، معنا، استعمال، تاریخي شالید، سیمه ییز استعمال او لیکدود ټول هغه اړخونه دي چې باید په ګډه وکتل شي. همدارنګه هغه ویېونه چې لیکوال یې په معنا نه پوهېږي، د راتلونکو څېړونکو لپاره ثبت شوي دي. دا کار ښیي چې په ویېپوهنیزو څېړنو کې د نامعلومو موادو ثبتول هم ارزښت لري، ځکه کېدای شي راتلونکي څېړونکي د نورو شواهدو پر بنسټ د هغو معنا او د استعمال څرنګوالی روښانه کړي.

په ټوله کې، «زړه پانګه» د پښتو ویېپوهنې له پلوه د تاریخي او ارخایک ویېونو د ثبت ترڅنګ د متني شواهدو، قاموسي پرتلې، مانیزو توپیرونو، لیکدودي بدلونونو، سیمه ییزو ویېونو او د ویېونو د استعمال

د تثبیت په برخه کې مهم اثر دی. د دې اثر له څېړنې څخه څرګندېږي چې د پښتو لغوي پانګې د بشپړې پېژندنې لپاره یوازې پر موجودو قاموسونو تکیه بسنه نه کوي، بلکې د پخوانیو متونو، سیمه ییزو محاورو او بېلابېلو قاموسي سرچینو ګډه څېړنه اړینه ده.

## ۴. ۲۲ ژبپانګه

«ژبپانګه» د سرمحقق دوست محمد دوست شینواري اثر دی. که څه هم اثر پخوا بشپړ شوی دی، خو د هېواد د هماغه وخت د حالاتو او شرایطو له کبله په ۱۳۷۷ ل کال په پېښور کې د دانش کتابپلورنځي له لوري د (۵۰۰) ټوکو په تېراژ چاپ او خپور شوی دی.

د اثر د لیکوال زوی فضل الله شینواري د کتاب په پیل کې د نوموړي اثر په اړه لیکلي دي:

«دا اثر چې نن ستاسو په لاسونو کې دی او د ژبپانګې په نامه نومول شوی د «زړې پانګې» د کار دوام دی چې زما د پلار د افغانستان د علومو اکاډمي د علمي غړي سرمحقق دوست محمد دوست شینواري د اوږده زیار او زحمت محصول دی. مؤلف د دغه کتاب د تألیف لپاره کلونه ـ کلونه شپه و ورځ پر ځان یوه کړې وه. د ډېرو کتابونو پاڼې یې اړولي، له سره تر پایه لوستي او په هغو کې یې د پښتو ژبې زړې کلمې چاڼ او راټولې کړي. تر هغه ځایه چې محققین او څېړونکي پرې ښه پوهېږي، دا کار دومره ساده او اسان نه دی. د دې کار لپاره یې د ډېرو کتابتونونو دروازې ټکولي او ډېرې ستړې او سرګردانۍ یې پر ځان تېرې کړې دي» (شینواری، ۱۳۷۷، الف مخ).

لکه مخکې چې یادونه وشوه، «ژبپانګه» د «زړې پانګې» په دوام لیکل شوې ده او یا هم ویلای شو چې د هغه پیل کړي کار دویمه برخه او تسلسل دی. اثر په ٦۳۷ مخونو د الفباء په اساس ترتیب شوی دی او د زړو لغتونو د معنا لپاره د شاعرانو له دیوانونو څخه بیتونه را اخیستل شوي او همدارنګه په نورو آثارو کې د یادو لغتونو معناوې پلټل شوې او بیا په «ژبپانګه» کې خوندي او لیکل شوې دي. له دې امله ویلای شو چې «ژبپانګه» د پښتو ویپپوهنې په برخه کې له غنیمت اثارو څخه ګڼل کېږي او د پښتو ژبې د زړو او پخوانیو لغتونو یوه ستره زېرمه ده.

د ویپپوهنې له نظره د «ژبپانګه» مهمه ځانګړنه دا ده چې د زړو او پخوانیو ویینو د راټولولو لپاره پر بېلابېلو مکتوبو سرچینو تکیه شوې ده. د شاعرانو دیوانونه، پخواني آثار او پښتو متون د ویینو د معنا

د موندلو او تثبیت لپاره کارول شوي دي. له دې څخه څرګندېږي چې د پخوانیو ویيونو د معنا او استعمال د څېړنې لپاره یوازې پر اوسنیو قاموسونو تکیه بسنه نه کوي، بلکې پخواني ادبي او تاریخي متون هم د ویيپوهنیزو څېړنو مهمې سرچینې دي.

د دې اثر یوه مهمه موندنه دا ده چې د ویي د معنا د تثبیت لپاره متني شاهد ته اړتیا ده. لیکوال د زړو ویيونو د معنا لپاره د شاعرانو له دیوانونو څخه بیتونه راوړي او په نورو آثارو کې یې هم د همدغو ویيونو معناوې پلټلې دي. دا کړنلاره ښيي چې د یوه زاړه ویي معنا یوازې د اټکل له مخې نه شي ټاکل کېدای، بلکې د هغه د پخواني استعمال متني شاهد د معنا په تثبیت کې مهم رول لري.

بله موندنه دا ده چې د یوه ویي معنا د وخت په تېرېدو سره د متونو په وسیله بېرته موندل او تثبیتېدای شي. هغه ویيونه چې له عام استعمال څخه وتلي وي او په معاصره ژبه کې یې ویونکي له معنا سره بلدتیا ونه لري، کېدای شي په پخوانیو متونو او د شاعرانو په دیوانونو کې یې د استعمال له لارې معنا روښانه شي. له همدې امله پخواني متون د پښتو د زړې لغوي پانګې د ژوندي کولو او علمي ثبت لپاره ځانګړې ارزښت لري.

همدارنګه د «ژبپانګې» د موادو الفبایي ترتیب د دې سبب شوی چې راټول شوي ویيونه په منظم ډول وړاندې شي او د څېړونکو لپاره یې موندل او کارول اسانه شي. د ویيونو د معنا ترڅنګ د متني شاهد راوړل د دې اثر قاموسي او ویيپوهنیز ارزښت لا زیاتوي، ځکه کاروونکی یوازې د ویي له معنا سره نه مخ کېږي، بلکې د هغه د استعمال له واقعي بېلګې سره هم اشنا کېږي.

د «ژبپانګه» او «زړه پانګه» د دواړو اثارو له پرتله کولو څخه هم یوه مهمه موندنه ترلاسه کېږي. «زړه پانګه» د زړو، تاریخي او ارخایک ویيونو ترڅنګ د قاموسونو، متونو، سیمه ییزو محاورو، معنایي توپیرونو او لیکدودي بڼو پرتله او تثبیت ته پاملرنه کوي، په داسې حال کې چې «ژبپانګه» د همدې کار دوام ته په پراخه کچه د پخوانیو ادبي متونو او د شاعرانو د دیوانونو له لارې د زړو ویيونو د معنا موندلو او ثبتولو برخه ورزیاتوي. په دې توګه دواړه آثار د پښتو د زړې لغوي پانګې د راټولولو او خوندي کولو په یوه پراخه هڅه کې له یو بل سره تړاو لري.

له دې اثر څخه بله مهمه موندنه دا ده چې د پښتو ژبې د زړې لغوي پانګې یوه برخه ښایي په معاصره ژبه کې له استعماله لوېدلې وي، خو په پخوانیو متونو کې یې نښې او معناوې لا خوندي پاتې وي.

له همدې امله د پخوانيو وييونو د ځېړنې لپاره د تاريخي متونو مطالعه اړينه ده. دا کار نه يوازې د زړو وييونو د معنا په موندلو کې مرسته کوي، بلکې د پښتو ژبې د تاريخي لغوي زېرمې په پېژندنه او خوندي کولو کې هم مهم رول لري.

په ټوله کې، «ژبپانگه» د پښتو وييپوهنې له پلوه د زړو او پخوانيو وييونو يوه مهمه زېرمه ده. د دې اثر له ځېړنې څخه څرگندېږي چې د پښتو د زړې لغوي پانگې د راټولولو او معنا د تثبيت لپاره د پخوانيو شاعرانو ديوانونه، ادبي آثار او نور پښتو متون ډېر مهم دي. همدارنگه دا اثر ښيي چې د ويي د معنا د علمي تثبيت لپاره يوازې د ويي ثبتول بسنه نه کوي، بلکې د هغه د استعمال متني شاهد هم اړين دی. له همدې امله «ژبپانگه» د پښتو د تاريخي وييونو د ثبت، معنايي تثبيت او د پخوانۍ لغوي پانگې د خوندي کولو له پلوه د وييپوهنې په برخه کې د پام وړ اثر گڼل کېږي.

## ۴. ۲۳ ليکلارښود (يوه پښتو ـ کره پښتو)

«ليکلارښود» د نوې ژبپوهنې په رڼا کې ليکل شوی هغه کتاب دی چې تر ډېره بريده د کره ليکنې په برخه کې د ليکوال په خپله وينا د ځوان او کمپيوټري پښتنې پښت لپاره ليکل شوی دی. دلته ځکه له «ليکلارښود» څخه يادونه کوو چې په دې اثر کې د کره بڼې د ښودلو په موخه ځينې داسې کلمې او لغتونه راوړل شوي چې نوې جوړونې ورته ويلی شو. بل دا چې وييرغونه د کره ليکنې په برخه کې ډېره او مهمه مرسته کوي، نو له کره ليکنې سره اړيکه او تړاو لري او ورسره د وييرغاونې په اړه ځينې لنډ بحثونه هم لري. نوموړی کتاب په ۱۳۸٦ ل کال کې د دانش خپرندويه ټولنې له خوا د زر ټوکو په شمېر کې چاپ شوی دی.

د وييپوهنې له نظره د «ليکلارښود» اهميت په دې کې دی چې د کره ليکنې موضوع يې له وييرغونې سره تړلې ده. د کره ليکنې لپاره کله ناکله داسې مفاهيمو، اصطلاحاتو او بڼو ته اړتيا پيدا کېږي چې د ژبې په موجوده لغوي زېرمه کې ورته مناسبه بڼه نه وي موجوده. په داسې حالت کې وييرغونه د دې اړتيا د پوره کولو لپاره يوه مهمه وسيله ده. له همدې امله په «ليکلارښود» کې راوړل شوې نوې کلمې او لغتونه د وييپوهنيزې ځېړنې له پلوه د پام وړ مواد گڼل کېدای شي.

د دې اثر له څېړنې څخه يوه مهمه موندنه دا ده چې ويېرغونه او کره ليکنه له يو بل سره مستقيم تړاو لري. کله چې د يوې ژبې د ليکنې د کره کولو لپاره د نوو مفاهيمو، اصطلاحاتو او يا د موجودو مفاهيمو د دقيق بيان اړتيا رامنځته کېږي، نو د ويېرغونې له لارې د اړتيا وړ وييونه رامنځته کېدای شي. په دې توګه ويېرغونه يوازې د لغوي زېرمې د زياتولو لپاره نه، بلکې د ژبې د ليکلي بيان د اړتياوو د پوره کولو لپاره هم کارول کېږي.

بله موندنه دا ده چې د نوو وييونو جوړونه بايد د ژبې له واقعي اړتياوو سره تړاو ولري. په «ليکلاربنود» کې د کره بڼې د ښودلو لپاره د ځينو نوو کلمو راوړل دا څرګندوي چې د ژبې د نوي کېدونکو اړتياوو له مخې د نوو وييونو رامنځته کول د ژبې د پرمختګ له بهير سره تړاو لري. په ځانګړې توګه د کمپيوټري او معاصرو اړتياوو په برخه کې د نوو اصطلاحاتو اړتيا د دې سبب کېږي چې ژبه نوې وييزې بڼې رامنځته کړي او يا د موجودو وييونو له ظرفيت څخه استفاده وکړي.

همدارنګه د «ليکلاربنود» له بحثونو څخه دا موندل کېږي چې د يوه نوي ويي جوړېدل او په ژبه کې د هغه منل دوه بېلابېل پړاوونه دي. يو ويی کېدای شي د يوې اړتيا د پوره کولو لپاره جوړ شي، خو په ژبه کې د ځای موندلو لپاره يې د ژبې له جوړښتي اصولو سره سمون، د ويونکو د استعمال امکان او د دودېدو وړتيا مهمه ده. له همدې امله د ويېرغونې د ارزونې پر مهال يوازې د نوي ويي جوړېدل کافي نه دي، بلکې د هغه د کارونې او منل کېدو حالت هم بايد وکتل شي.

په ټوله کې، «ليکلاربنود» د پښتو وييپوهنې له پلوه په ځانګړې توګه د ويېرغونې، نوي وييزي جوړونې او د کره ليکنې تر منځ د اړيکې له امله د پام وړ اثر دی. د دې اثر له څېړنې څخه څرګندېږي چې د ژبې د ليکنې اړتياوو د پوره کولو لپاره ويېرغونه مهمه وسيله ده او د نوو مفاهيمو او اړتياوو په رامنځته کېدو سره د نوو وييونو جوړولو ته اړتيا پيدا کېږي. له همدې امله د «ليکلاربنود» په بېلګو کې راوړل شوې نوې جوړونې د پښتو د معاصرې وييپوهنې د څېړنې لپاره د پام وړ مواد برابروي

## ۴. ۲۴ وييپوهنه او ويېرغاونه

«وييپوهنه او ويېرغاونه» د پوهاند دکتور مجاور احمد زيار هغه اثر دی چې مومند خپرندويې ټولنې په څه کم اته سوه مخونو کې په ۱۳۹۳ ل کال کې چاپ کړی دی. نوموړی اثر د ژبپوهنې د بېلابېلو موضوعاتو او برخو تر څنګ د نويزونو او ويېرغاونې په اړه هم بېلابېل بحثونه لري. د کتاب دربيم

څېړکی نیولوجیزم ته ځانګړی شوی دی او ورپسې څپرکي، لکه اشتقاقونه او ترکیبونه، هم له نیولوجیزم او ویبرغاونې سره مستقیمه اړیکه لري.

د دې اثر له مهمو بحثونو څخه یو د نیولوجیزم اړتیا ده. لیکوال څرګندوي چې که د نوو ویيونو جوړونې ته پاملرنه ونه شي، نو د پردیو ژبو لغتونه او نومونې به په یوه ژبه او لیکدود پښتو ته نه راولېږدېږي، بلکې د بېلابېلو کسانو له خوا به په بېلابېلو بڼو وکارول شي. د دې حالت د روښانولو لپاره لیکوال بېلابېلې بېلګې راوړي، لکه د «علم الجامعه»، «جامعه شناسي»، «سوسیالوجي»، «سوسیولوژي» او «سوسیولوګي» بېلابېلې بڼې، او همدارنګه د «ازادیپال»، «حریت پسند»، «ازادي خوښي» او «ازادي خوښوونکی» په څېر بېلابېلې نومونې یادوي (زیار، ۱۳۹۶، ۸۱ مخ).

د دې بحث له مخې یوه مهمه موندنه دا ده چې د نوو مفاهیمو لپاره د خپلې ژبې د ویيونو جوړونه د پردیو ویيونو د بېلابېلو او ګډوډو بڼو د رامنځته کېدو مخه نیسي. که د یوه مفهوم لپاره په پښتو کې روښانه او علمي نومونه ونه جوړېږي، امکان لري چې پردی ویی په څو بڼو راواخیستل شي او د هغه د لیکلو او ویلو په برخه کې اختلاف رامنځته شي.

د دې اثر بله مهمه موندنه د ویبرغاونې او لیکدود ترمنځ اړیکه ده. د پردیو ویيونو د رااخیستلو پر مهال یوازې د معنا ستونزه نه رامنځته کېږي، بلکې د لیکلو بڼه هم له اختلاف سره مخ کېږي. د «نیولوجیزم» او «نیولوګیزم» بېلګه ښیي چې د یوه پردي علمي اصطلاح د رااخیستلو په صورت کې د هغې د لیکدودي بڼې پر سر هم اختلاف پیدا کېدای شي. دا موضوع په ځانګړې توګه د زده‌کوونکو او د ژبې د زده‌کړې لپاره د ستونزې سبب کېدای شي.

همدارنګه له دې اثر څخه څرګندېږي چې ویبرغاونه باید د اړتیا، ژبنیو اصولو او ټولنیز دود له مخې ترسره شي. د یوه مفهوم لپاره که په خپله ژبه کې مناسبه اصطلاح جوړه شي او په لیکنو او ټولنه کې دود شي، د پردۍ اصطلاح د بېلابېلو بڼو د استعمال اړتیا کمېږي. د «ساپوهنې»، «نفسیات» او «روح پېژندنې» پر ځای د «ارواپوهنې» کارول د همدې موضوع د روښانولو لپاره د یادونې وړ بېلګه ده.

په ټوله کې، «ویيپوهنه او ویبرغاونه» د پښتو ویيپوهنې له پلوه په ځانګړې توګه د نیولوجیزم، ویبرغاونې، اشتقاق او ترکیب د اړیکو له امله مهم اثر دی. د دې اثر له څېړنې څخه څرګندېږي چې

د نوو مفاهيمو لپاره د پښتو علمي وييونو جوړول يوازې د لغوي زېرمې د زياتولو موضوع نه ده، بلکې د پرديو وييونو د بېلابېلو بڼو، ليکدودي اختلافونو او اصطلاحي ګډوډۍ د کمولو له مسئلې سره هم تړاو لري. له همدې امله د نيولوجيزم او وييرغاونې علمي څېړنه د پښتو د معاصرې لغوي زېرمې د منظم پرمختګ لپاره ځانګړې اهميت لري.

## ۲۵.۴ ژبساتنه

«ژبساتنه» د څېړنوال حبيب الله رفيع اثر دی چې په ۱۳۹۴ ل کال کې د مومند خپرندويې ټولنې له لوري په جلال آباد کې چاپ او خپور شوی دی. د دې اثر موضوعات بېلابېل دي، خو دوه بحثونه يې له پښتو وييپوهنې سره مستقيمه اړيکه لري چې لومړی بحث يې «په پښتو کې لغت جوړونه» او دويم بحث يې «په پښتو کې نوې نومونې» دی. په دواړو بحثونو کې د وييرغاونې پر بېلابېلو اړخونو خبرې شوې دي. همدارنګه د اثر دوه نور سرليکونه د قاموس له موضوع سره تړاو لري چې لومړی په «رياض المحبت» او ورپسې په «خيبر قاموس» بحث شوی دی.

د وييپوهنې له نظره د «ژبساتنې» ځانګړې اهميت په دې کې دی چې د پښتو د لغت جوړونې او نوې نومونې موضوع يې په ځانګړې توګه څېړلې ده. د «لغت جوړونې» بحث د دې لپاره مهم دی چې د پښتو د لغوي زېرمې د پراختيا لپاره د نوو وييونو د جوړېدو څرنګوالی روښانه کوي، او د «نوو نومونو» بحث بيا له هغو نويو مفاهيمو او اړتياوو سره تړاو لري چې ژبه ورته د نومونې اړتيا پيدا کوي.

د دې اثر له څېړنې څخه مهمه موندنه دا ده چې لغت جوړونه او نوې نومونه د پښتو د وييزې زېرمې د پراختيا له مهمو لارو څخه دي. کله چې په ټولنه، علم، فرهنګ او نورو برخو کې نوي مفاهيم رامنځته کېږي، ژبه ورته د نومونې اړتيا پيدا کوي. وييرغاونه د همدې اړتيا د پوره کولو لپاره د نوو وييونو او نومونو د جوړولو زمينه برابروي.

بله موندنه دا ده چې د «ژبساتنې» په اثر کې د وييرغاونې موضوع يوازې د يوه بحث په توګه نه، بلکې د لغت جوړونې او نوې نومونې له دواړو اړخونو سره تړلې وړاندې شوې ده. له دې امله د نوي ويي جوړېدل او د نوي مفهوم نومول د يوې ګډې وييپوهنيزې پروسې دوه اړخونه ګڼل کېدای شي.

په دې اثر کې د «رياض المحبت» او «خيبر قاموس» په اړه بحثونه هم د ويپپوهنې له بحثونو سره تړاو لري، ځکه د نوو وييونو او نومونو د جوړولو ترڅنګ د هغو د ثبت، معنا او استعمال موضوع هم د لغوي څېړنې برخه جوړوي. له همدې امله د اثر د ويپپوهنيزو بحثونو ترڅنګ قاموسي بحثونه هم د پښتو د لغوي موادو د راټولولو او ثبت له بهير سره اړيکه لري.

په ټوله کې، «ژبساتنه» د پښتو ويپپوهنې، په ځانګړې توګه د لغت جوړونې، نوې نومونې او ويېرغاونې په برخه کې د پام وړ اثر دی. د دې اثر له څېړنې څخه څرګندېږي چې د پښتو د لغوي زېرمې پراختيا له نوو مفاهيمو او ټولنيزو اړتياوو سره تړلې ده او د دغو اړتياوو د پوره کولو لپاره لغت جوړونه او نوې نومونې مهمې لارې دي. همدارنګه د اثر قاموسي بحثونه د وييزو موادو د ثبت او خوندي کولو له اړخه د دې ويپپوهنيز بحث بشپړونکی اړخ جوړوي.

## ۲۶.۴ ژبه او ټولنه

«ژبه او ټولنه» د څېړنپوه ډاکتر دولت محمد لودين کتاب دی چې د څېړندوی رفيع الله نيازي په اهتمام او له سمونې وروسته په ۱۳۹۵ ل کال کې چاپ او د ختيځ ادبي بهير له لوري خپور شوی دی. په نوموړي اثر کې له خپل وخت سره سم پر بېلابېلو ژبنيو او ټولنيزو موضوعاتو علمي بحثونه شوي دي. که څه هم څېړنپوه لودين د لغت جوړونې په برخه کې بېل او مستقل اثر لري، خو په «ژبه او ټولنه» کې يې هم د لغتونو او نويو جوړونو په اړه خبرې کړې دي.

په دې اثر کې يو له ويپپوهنيزو بحثونو څخه «په ژبه کې د لغاتو نوي کېدل او زړېدل» دی. دا بحث د ژبې د لغوي زېرمې د بدلون له بهير سره اړيکه لري او ښيي چې لغوي زېرمه يو ثابت حالت نه لري، بلکې د وخت له تېرېدو سره ځينې وييونه له استعماله لوېږي او ځينې نوي وييونه د ژبې زېرمې ته داخلېږي. بل مهم بحث يې «ژبې او نننۍ نړۍ» دی چې له نيولوجيزم او د نوو وييونو له اړتيا سره تړاو لري.

د دې اثر له څېړنې څخه مهمه موندنه دا ده چې د ژبې لغوي زېرمه له ټولنيزو او زماني بدلونونو سره يو ځای بدلېږي. د نوو اړتياوو او مفاهيمو له رامنځته کېدو سره نوي وييونه او نومونې منځ ته راځي،

او له بلې خوا ځينې پخواني وييونه د استعمال له ساحې څخه وځي. له همدې امله د وييونو نوي کېدل او زړېدل د ژبې د طبيعي بدلون يوه برخه ده.

بله موندنه دا ده چې نيولوجيزم د معاصرې نړۍ له اړتياوو سره مستقيم تړاو لري. د علم، ټکنالوژۍ او ټولنيز ژوند د بدلونونو له امله ژبه له نويو مفاهيمو سره مخ کېږي او د هغوی د نومولو لپاره نوو وييونو ته اړتيا پيدا کېږي. په دې توګه د «ژبې او ننني نړۍ» بحث د نيولوجيزم اړتيا له معاصر ژوند سره نښلوي.

سره له دې، په دې اثر کې د يادو موضوعاتو په اړه بحثونه د موضوع له اهميت سره په تناسب ډېر تفصيلي نه دي شوي. د «په ژبه کې د لغاتو نوي کېدل او زړېدل» او «ژبې او ننني نړۍ» په څېر سرليکونه د لا پراخو وييپوهنيزو څېړنو وړتيا لري، خو په اثر کې پرې په نسبتاً لنډه توګه خبرې شوې دي. له همدې امله د دې اثر يوه مهمه موندنه دا هم ده چې موضوعات مهم او د څېړنې وړ دي، خو د وييپوهنيزې څېړنې له پلوه يې د لا تفصيلي تشريح اړتيا شته.

په ټوله کې، «ژبه او ټولنه» د خپل وخت له شرايطو سره سم د پښتو وييپوهنې په برخه کې د پام وړ اثر ګڼل کېدای شي. په ځانګړې توګه د وييونو د نوي کېدو او زړېدو او د نيولوجيزم د اړتيا په اړه يې بحثونه د دې څېړنې له موضوع سره اړيکه لري. د اثر له څېړنې څخه څرګندېږي چې د پښتو لغوي زېرمه د زماني، علمي او ټولنيزو بدلونونو تر اغېز لاندې بدلېږي او د نوو اړتياوو له مخې د نوو وييونو جوړولو او دودولو ته اړتيا پيدا کېږي.

## ۴. ۲۷ پښتو ژبه او ژبپوهنه

«پښتو ژبه او ژبپوهنه» هغه ژبپوهنيز اثر دی چې د پښتو ژبې او ژبپوهنې په اړه په کې هر اړخيز بحث شوی دی. په دې اثر کې د پښتو ژبې په اړه د پوهانو له بېلابېلو دريځونو څخه نيولې بيا تر «پښتو ژبه او فونولوژيکي» څېړنو پورې ګڼې موضوعګانې راخيستل شوې دي. د کتاب پنځم څپرکی لغت او د هغه ډولونو ته ځانګړی شوی دی. په دې برخه کې د نويو لغتونو د جوړولو پر اړتيا او د هغوی د منځ ته راتګ پر لاملونو خبرې شوې دي.

د کتاب لیکوال څېړنپوه مولاجان تنیوال دی او اثر د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه لیکل شوی دی. کتاب د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو د ریاست له خوا په ۱۳۹۷ ل کال کې د شمشاد هاشمي مطبعې په وسیله چاپ شوی دی.

د وییپوهنې له نظره د دې اثر مهمه برخه د لغت او د هغه د ډولونو په اړه بحث دی. په ځانګړې توګه د نویو لغتونو د جوړولو اړتیا او د هغوی د منځ ته راتګ لاملونو ته پاملرنه شوې ده. په کتاب کې د نیولوجیزم د پېژندنې او تعریف په اړه هم څه ناڅه بحث شوی دی چې د پښتو د معاصرې لغوي زېرمې د بدلون له موضوع سره اړیکه لري.

د دې اثر له څېړنې څخه مهمه موندنه دا ده چې د نویو لغتونو جوړول د ژبې له نوو اړتیاوو سره تړاو لري. د نویو مفاهیمو او بدلونونو له رامنځته کېدو سره د ژبې موجوده لغوي زېرمه تل د اړتیا وړ نومونې نه شي برابرولای، نو د نوو وییونو جوړولو اړتیا رامنځته کېږي. له همدې امله د نیولوجیزم بحث د معاصرې وییپوهنې له مهمو موضوعاتو څخه دی.

بله موندنه دا ده چې په اثر کې د نیولوجیزم پېژندنه او تعریف مطرح شوی، خو په پښتو ژبه کې د نیولوجیزم او نویو لغتونو د جوړولو اصول او لارې چارې په تفصیل نه دي څېړل شوي. یعنې اثر د موضوع د پېژندنې او اړتیا اړخ ته پاملرنه کړې، خو د عملي وییرغاونې د اصولو، لارو او معیارونو برخه یې نسبتاً محدوده پاتې شوې ده. دا تشه د همدې موضوع د لا نورو څېړنو لپاره د پام وړ ده.

په ټوله کې، «پښتو ژبه او ژبپوهنه» د پښتو وییپوهنې له پلوه د لغت، د هغه د ډولونو، نویو لغتونو او نیولوجیزم په اړه د معلوماتو له امله د پام وړ اثر دی. د دې اثر معلوماتي اړخ پیاوړی دی او د وییپوهنې اړوند پر بېلابېلو موضوعاتو یې تفصیلي او هر اړخیز بحثونه کړي دي؛ خو د نیولوجیزم د عملي وییرغاونې د اصولو او لارو چارو په برخه کې د لا پراخې څېړنې اړتیا پکې څرګندېږي.

## ۴. ۲۸ عمومي ژبپوهنه

«عمومي ژبپوهنه» د پوهنیار محمد عثمان څولیزي اثر دی چې په ۱۳۹۹ ل کال کې د (۱۰۰۰) ټوکو په شمېر چاپ شوی دی. لکه څنګه چې د کتاب له نوم څخه څرګندېږي، په اثر کې د ژبپوهنې عمومي مسایل او بېلابېلې موضوعګانې راغلي دي، لکه: ژبه او ژبپوهنه، غږپوهه او آوازپوهه، ګړپوهنه

(مورفولوژي)، غوبډله‌پوهه او معناپوهه، تاریخي ژبپوهنه، ټولنیزه ژبپوهنه، روانپوهنیزه ژبپوهنه او عصبي ژبپوهنه.

د دې اثر ځانګړنه دا ده چې نهم او وروستی څپرکی یې قاموس‌لیکنې ته ځانګړی شوی دی. په دې څپرکي کې د قاموس‌لیکنې بېلابېلو موضوعاتو ته نغوته شوې او د قاموسونو پر ډولونو هم علمي او تخنیکي بحث شوی دی. له همدې امله دا اثر یوازې د عمومي ژبپوهنې له پلوه نه، بلکې د وییپوهنې او قاموس‌لیکنې د اړیکې له نظره هم د څېړنې لپاره ارزښت لري.

د اثر له څېړنې څخه یوه مهمه موندنه دا ده چې قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې له مهمو عملي برخو سره مستقیمه اړیکه لري. د ژبې د لغوي موادو راټولول، تنظیمول، معنا کول او په قاموس کې یې وړاندې کول د وییپوهنیزو معلوماتو پر بنسټ ترسره کېږي. له همدې امله د وییپوهنې بحثونه د قاموس‌لیکنې لپاره بنسټیز اهمیت لري.

بله موندنه دا ده چې قاموسونه یو ډول نه دي، بلکې د موخې او کارونې له مخې بېلابېل ډولونه لري. په اثر کې د قاموسونو ډولونو ته علمي او تخنیکي پاملرنه شوې ده، چې دا موضوع د قاموس‌لیکنې د علمي بنسټونو په پېژندنه کې مرسته کوي.

په ټوله کې، «عمومي ژبپوهنه» د پښتو ژبې د وییپوهنې او په ځانګړې توګه د قاموس‌لیکنې له نظره د پام وړ اثر دی. د دې اثر ځانګړی ارزښت په دې کې دی چې د عمومي ژبپوهنې د موضوعاتو تر څنګ یې قاموس‌لیکنې ته مستقل څپرکی ورکړی او د قاموسونو د ډولونو او د قاموس‌لیکنې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه یې علمي او تخنیکي بحث کړی دی. دا برخه د څېړنې د دویمې برخې، یعنې د پښتو قاموس‌لیکنې، لپاره هم د بنسټیزو معلوماتو له سرچینو څخه ګڼل کېدای شي.

## ۴. ۲۹ ژبپوهنه

«ژبپوهنه» د آغلې ډاکترې بشرى اکرام اثر دی چې د پېښور پوهنتون پښتو اکېډیمي له خوا په ۲۰۱۸ ز کال کې چاپ او خپور شوی دی. په اثر کې له ژبې څخه نیولې د ژبپوهنې تر پېژندنې، د ژبپوهنې تاریخ، بنسټیزو او بنیادي ډولونو، فونیټکس او فونولوژي، ټولنیزې ژبپوهنې، ارواپوهنیزې

ژبپوهنې او د ژبپوهنې نورو برخو پورې بېلابېل بحثونه شوي دي. د دې ترڅنګ د څېړنې له موضوع سره اړوند د ويي او وييپوهنې پر پېژندنه هم خبرې او شننې لري.

د وييپوهنې له نظره د دې اثر اهميت په دې کې دی چې ويی او وييپوهنه يې د ژبپوهنې د عمومي بحثونو په لړ کې پېژندلي دي. دا بحث د ويی د مفهوم او د وييپوهنې د علم د حدودو په پېژندلو کې د بنسټيزو معلوماتو سرچينه برابروي. په ټوله کې اثر تحقيقاتي او معلوماتي بڼه لري او د ژبپوهنې په اړه عمومي او پراخ معلومات وړاندې کوي.

د دې اثر له څېړنې څخه مهمه موندنه دا ده چې وييپوهنه د ژبپوهنې له بنسټيزو څانګو څخه يوه ده او د ويی، لغوي زېرمې او اړوندو ژبنيو موضوعاتو د څېړنې لپاره ځانګړې علمي چوکاټ لري. د ويي او وييپوهنې پېژندنه په دې برخه کې د نورو تخصصي بحثونو لپاره بنسټ جوړوي.

د دې څېړنې په دوام کې د وييپوهنې له يوې فرعي څانګې، يعنې قاموس‌ليکنې سره هم اړيکه مطرح کېږي. په دې برخه کې د ژبپوهنيزو اثارو له څېړنې څخه څرګندېږي چې قاموس‌ليکنه په ټولو ژبو کې يو ډول علمي موقف نه لري. په ځينو ژبو کې قاموس‌ليکنه د وييپوهنې اړوند څانګه ګڼل کېږي، خو په ځينو نورو ژبو کې بيا د يوې مستقلې څانګې په توګه څېړل کېږي او خپلې بېلې نظريې او علمي اصول لري.

له همدې امله د «ژبپوهنه» اثر د دې څېړنې لپاره يوازې د وييپوهنې د عمومي پېژندنې له پلوه نه، بلکې د وييپوهنې او قاموس‌ليکنې د اړيکې د روښانولو له نظره هم ارزښت لري. په ټوله کې، اثر د ژبپوهنې د بېلابېلو برخو ترڅنګ د ويي او وييپوهنې په اړه بنسټيز او معلوماتي بحثونه وړاندې کوي.

## ۴. ۳۰ نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل

د دې اثر ليکوال پوهاند حبيب الله تږی دی چې لومړی ځل په ۱۳۴۹ ل پښتو ټولنې او دوهم ځل په ۱۳۸۹ ل کال کې د دانش خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په ياد کتاب کې د بېلابېلو موضوعګانو په اړه په زړه پورې بحثونه شوي دي. د کتاب په يولسم څپرکي کې د (د ژبې سوچه کول) تر عنوال لاندې د نويو لغتونو د جوړولو او نيولوجيزم په اړه هم تفصيلي بحث شوی دی چې د روښانه دليلونو په راوړلو سره يې موضوع په ښه توګه سپړلې او توضيح کړې ده.

## ۴. ۳۱ پښتو غړپوهنه او ویيپوهنه

«پښتو غړپوهنه او ویيپوهنه» د محمد صابر خویشکي اثر دی چې په ۱۳۸۹ ل کال کې د صمیم فرهنګي ټولنې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی. که څه هم د اثر په عنوان کې د «ویيپوهنې» اصطلاح کارول شوې، خو د کتاب اصلي بحثونه تر ډېره د مورفولوژۍ (صرف) له مخې د ویيونو پر جوړښت او بدلون راڅرخي. له همدې امله دا اثر د مستقلې ویيپوهنیزې څېړنې پر ځای تر ډېره مورفولوژیک اثر بلل کېدی شي او د پښتو ویيپوهنې له موضوع سره یې اړیکه د ویيونو د جوړښت او صرفي ځانګړنو تر کچې محدوده.

### ۴. ۳۲ پایله

په څلورم څپرکي کې د پښتو ژبې د ویيپوهنې د مهمو اثارو څېړنه او شننه وشوه، ترڅو د پښتو ویيپوهنې د علمي بهیر، مهمو موضوعاتو، د لغوي زېرمې د بدلون او پراختیا، ویيرغونې او نیولوجیزم په اړه د ترسره شویو بحثونو عمومي انځور وړاندې شي. د څېړل شوو اثارو له موندنو څخه جوتېږي چې پښتو ویيپوهنه له عمومي او بنسټیزو بحثونو څخه تر ځانګړو او تخصصي موضوعاتو پورې بېلابېل پړاوونه او بحثونه لري.

د څېړنې له مهمو موندنو څخه دا ده چې د یوې ژبې لغوي زېرمه له ټولنیز، فکري، فرهنګي، علمي او زماني پرمختګ سره مستقیمه اړیکه لري. کله چې په ټولنه کې نوي افکار، مفاهیم، اړتیاوې او وسایل رامنځته کېږي، ژبه هم د هغوی د بیان او نومولو لپاره نوو ویيونو ته اړتیا پیدا کوي. له بلې خوا، ځینې ویيونه د وخت په تېرېدو سره له عام استعمال څخه وځي. له همدې امله لغوي زېرمه یو ثابت او نه بدلېدونکی جوړښت نه دی، بلکې د ټولنې او ژبې له بدلونونو سره یو ځای پراخېږي، بدلېږي، نوې کېږي او زړېږي.

د څېړل شوو اثارو بله موندنه دا ده چې ویيرغونه د پښتو د لغوي زېرمې د پراختیا له اساسي لارو څخه ده. د «لغت پوهنه»، «لیکلاربنود»، «ویيپوهنه او ویيرغاونه»، «ژبساتنه» او «پښتو ژبه او ژبپوهنه» په څېر اثارو کې د نویو ویيونو جوړولو او نوې نومونې اړتیا مطرح شوې ده. له دې بحثونو څخه څرګندېږي چې ویيرغونه یوازې د لغوي موادو د شمېر د زیاتولو لپاره نه ترسره کېږي، بلکې د نویو مفاهیمو، څیزونو او علمي اړتیاوو د نومولو لپاره هم مهمه وسیله ده.

د نويو ويیونو د جوړولو په اړه یوه اساسي موندنه دا ده چې هر نوی جوړ شوی ویی په خپله د ژبې برخه نه ګرځي. د نوي ويي په جوړولو کې د ژبې اړتیا، د نوي مفهوم یا څيز د نومولو اړتیا، د ژبې له جوړښتي او ويیرغاونیزو اصولو سره سمون او د ژبې د ويونکو منل مهم دي. که یو ویی له اړتیا پرته او یوازې د هوس یا ذوق له مخې جوړ شي، یا د ژبې له اصولو سره سمون ونه لري، د ژبې په عمومي استعمال کې د ځای موندلو امکان يې کمېږي. له دې امله د ويیرغونې بهیر باید د جوړونې تر څنګ د ويي د دودېدو او ټولنيز منل کېدو پړاو هم په پام کې ونیسي.

د ځېړنې له موندنو څخه دا هم څرګندېږي چې نیولوجیزم د معاصرې ويیپوهنې له مهمو موضوعاتو څخه دی. د علم، ټکنالوژۍ، ټولنيز ژوند او نورو برخو د پرمختګ له امله په ژبه کې نوي مفاهيم رامنځته کېږي او د هغوی لپاره د نومونو اړتیا پيدا کېږي. په دې برخه کې که د خپلې ژبې د ويیرغونې ظرفيت ونه کارول شي، د پردیو ژبو ويیونه او اصطلاحات د اړتیا د پوره کولو لپاره را داخلېږي. د دې ويیونو د بېلابېلو بڼو رااخیستل بیا د ويیزې ګډوډۍ تر څنګ د لیکدود او املا اختلاف هم رامنځته کولای شي. له همدې امله د نیولوجیزم بحث د لغوي پراختیا ترڅنګ د ژبني نظم له موضوع سره هم اړیکه لري.

بله موندنه دا ده چې په څېړل شوو اثارو کې د نويو ويیونو د جوړېدو بېلابېل اړخونه مطرح شوي او څرګندېږي چې د ژبې موجودې ويیزې او جوړښتي وړتیاوې د نويو ويیونو په جوړولو کې مهم رول لري. له همدې امله د پښتو د نوو ويیونو د څېړنې لپاره یوازې د نويو ويیونو ثبتول بسنه نه کوي، بلکې د جوړېدو څرنګوالی او ويیرغاونيزه لاره يې هم باید وڅېړل شي.

د «ژبپالنه» او نورو اثارو له څېړنې څخه دا هم ترلاسه کېږي چې د ژبې پالنه له ويیپوهنې سره مستقیمه اړیکه لري. د لغوي زېرمې ساتنه یوازې د پخوانيو ويیونو په خوندي کولو پورې محدوده نه ده، بلکې د اړتیا پر مهال د نوو ويیونو جوړول، د خپلې ژبې له شته ويیونو څخه ګټه اخيستل او د مناسبو ويیونو دودول هم د لغوي زېرمې د پالنې برخه ده. په دې توګه د پښتو د لغوي زېرمې پياوړتیا له ساتنې او نوې جوړونې دواړو سره تړاو لري.

د زړو او پخوانيو ويیونو په برخه کې د «زړه پانګه» او «ژبپانګه» آثارو څېړنه څرګندوي چې د پښتو تاريخي لغوي زېرمه پراخه ده او د هغې د پېژندنې لپاره یوازې پر اوسنيو قاموسونو تکیه بسنه نه

کوي. پخواني ادبي او تاريخي متون، د شاعرانو ديوانونه، سيمه‌ييزې محاورې او نورې مکتوبې سرچينې د زړو ويپونو د موندلو او څېړلو مهمې سرچينې دي. په ځانګړې توګه د زاړه ويي د معنا او استعمال د تثبيت لپاره متني شاهد ځانګړی اهميت لري.

همدارنګه د «زړه پانګه» له څېړنې څخه څرګندېږي چې د ويي د پېژندنې لپاره يوازې د هغه ثبت کافي نه دی، بلکې معنا، استعمال، متني شاهد، ليکدودي بڼه، تاريخي شاليد او سيمه‌ييز استعمال يې هم بايد وکتل شي. يو ويی کېدای شي په بېلابېلو قاموسونو کې په بېلابېلو معناوو ثبت شوی وي او يا په متن کې له قاموسي معنا څخه بله او يا زياته معنا ولري. له دې امله متني او قاموسي مواد بايد د ويپپوهنيزې څېړنې په ترڅ کې له يو بل سره پرتله شي.

د څېړنې يوه بله مهمه موندنه د سيمه‌ييزو او ژونديو لغتونو ارزښت دی. هغه ويپونه چې په يوه يا څو سيمو کې په ورځني استعمال کې وي، خو په مشهورو قاموسونو کې نه وي ثبت شوي، د پښتو د لغوي زېرمې يوه برخه جوړوي. دا  څرګندوي چې موجود قاموسونه د ژبې ټول وييز مواد نه شي رانغاړلی او د سيمه‌ييزو محاورو او ژونديو ويپونو راټولول د پښتو ويپپوهنې له مهمو اړتياوو څخه دي.

له بلې خوا، د څېړل شوو اثارو له تحليل څخه دا هم څرګندېږي چې د پښتو ويپپوهنې په ځينو برخو کې د بحثونو تر منځ تکرار شته، خو د موضوعاتو د ژورتيا کچه يو ډول نه ده. ځينو اثارو د ويپپوهنې عمومي او تيوريکي بنسټونه وړاندې کړي، ځينو د ويپرغونې او نيولوجيزم موضوع ته ځانګړی پام کړی او ځينو بيا د زړو، تاريخي او سيمه‌ييزو ويپونو د راټولولو او معنا د تثبيت برخه پياوړې کړې ده. په ځينو اثارو کې د نويو ويپونو د جوړولو اړتيا او پېژندنه ښه روښانه شوې، خو د عملي ويپرغونې د اصولو، معيارونو او لارو چارو په برخه کې لا هم د پراخو څېړنو اړتيا ليدل کېږي.

د څېړل شوو اثارو له مجموعي تحليل څخه دا هم څرګندېږي چې ويپپوهنه او قاموس‌ليکنه له يو بل سره نږدې اړيکه لري، خو د دې څېړنې اصلي تمرکز ويپپوهنه ده. قاموسونه د ويپونو د ثبت، معنا او استعمال مهمې سرچينې دي، خو د ويپپوهنيزې څېړنې لپاره متون، محاورې، تاريخي آثار او نورې ژبنۍ سرچينې هم اړينې دي. له همدې امله د پښتو د لغوي زېرمې د بشپړې پېژندنې لپاره د بېلابېلو سرچينو ګډه استفاده ضروري ده.

په ټوله کې، د څلورم څپرکي له څېړنې څخه څرګندېږي چې د پښتو وييپوهنه د ويي، لغوي زېرمې، وييرغونې، نيولوجيزم، نوې نومونې، د وييونو نوي کېدو او زړېدو، معنايي بدلون، تاريخي او سيمه‌ييزو وييونو په اړه د پام وړ علمي مواد لري. د دې اثارو ګډې موندنې ښيي چې د پښتو لغوي زېرمه له يوې خوا د خپل تاريخي او محاوروي ميراث د ساتنې اړتيا لري او له بلې خوا د معاصرو علمي، ټولنيزو او فرهنګي اړتياوو لپاره د نوو وييونو او نومونو جوړولو ته اړتيا لري. له همدې امله د پښتو د وييپوهنې د لا پرمختګ لپاره د زړو وييونو علمي ثبت، د متني شواهدو راټولول، د سيمه‌ييزو وييونو څېړنه، د نويو وييونو د جوړولو علمي اصولو روښانه کول او د نوو جوړونو د دودېدو او منل کېدو څېړنه مهمې اړتياوې بلل کېدای شي.

# پینځم څپرکی

## مناقشه او پایله اخیستنه

هره څېړنه د یوې اړتیا له مخې ترسره کېږي او د علومو په هره برخه کې چې وي، په کار ده چې څېړنیزه تشه ډکه کړي او په ټولنیزو علومو کې ډېری څېړنې که څه هم د نورو پوهنو په څېر تجربوي پایلې نه وړاندې کوي، خو بیا هم علوم وخت پر وخت د بدلون په حال کې دي. سل کاله وړاندې موږ د علومو ډېرې نوې څانګې نه درلودلې او نن ورځ په سلګونو نوې پوهنیزې څانګې منځ ته راغلې دي او د علومو په ټولو څانګو وخت پر وخت نوي نظریات او تیوری منځ ته راځي.

### پایله

د «**پښتو وېبپوهنې کره‌کتنیز جاج**» تر سرلیک لاندې د دې څېړنې موخه دا وه چې د پښتو وېبپوهنې تاریخي بهیر، مهم علمي آثار، مطرح شوې وېبپوهنیزې موضوعګانې، د ترسره شویو څېړنو علمي لاسته‌راوړنې او محدودیتونه وڅېړل شي او هغه تحقیقي تشې په ګوته شي چې د پښتو وېبپوهنې د لا پراختیا لپاره یې څېړنه اړینه ده. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره د پښتو وېبپوهنې اړوند موجود آثار، علمي مقالې، قاموسونه، فرهنګونه او نورې اړوندې سرچینې راټولې، طبقه‌بندي، تحلیل او د نوې وېبپوهنې د اصولو او نظریاتو په رڼا کې کره‌کتنه وشوه. د څېړنې له عموي تحلیل څخه څرګندېږي چې پښتو وېبپوهنه د پښتو ژبې د علمي څېړنو له هغو برخو څخه ده چې په تېرو لسیزو کې یې د پام وړ وده کړې ده؛ خو دغه وده تر ډېره په بېلابېلو پړاوونو، اثارو او ځانګړو موضوعاتو کې ترسره شوې او لا هم د یوې منظمې، جامعې او تخصصي وېبپوهنې د رامنځته کېدو لپاره د پام وړ علمي کار ته اړتیا شته.

د پښتو وېبپوهنې د تاریخي بهیر له څېړنې څخه څرګندېږي چې د دې برخې لومړني علمي بحثونه تر ډېره د پښتو ګرامرونو، لغوي موادو د راټولولو او قاموس‌لیکنې له لارې راڅرګند شوي دي. په

لومړیو پړاوونو کې د پښتو د لغوي زېرمې ثبت، د ویېونو معناوې او د لغوي موادو راټولول د پام وړ موضوعات وو؛ وروسته د معاصرې ژبپوهنې د نظریاتو له پراختیا سره د ویې د جوړښت، اشتقاق، ترکیب، ویېرغونې، نوماېښودنې، پورویېونو، پخوانیو ویېونو، لهجوي ویېونو او نویو ویېونو په اړه ځانګړي بحثونه مطرح شوي دي. په دې ډول د پښتو ویېپوهنیز بحثونه له عمومي لغوي او قاموسي کارونو څخه ورو ــ ورو د ځانګړو او تخصصي ویېپوهنیزو موضوعاتو پر لور پراخ شوي دي.

د پښتو ویېپوهنې په تاریخي بهیر کې د ختیځپوهانو او وروسته د پښتو ژبې د خپلو پوهانو او څېړونکو علمي هڅې د پام وړ دي. ختیځپوهانو د پښتو د لغوي موادو په راټولولو او ثبتولو کې مهم کارونه ترسره کړي دي او وروسته د پښتو ژبې څېړونکو د نوې ژبپوهنې د نظریاتو او میتودونو په رڼا کې دغه بحثونه نور هم پراخ کړل. له همدې امله د پښتو ویېپوهنې اوسنی وضعیت د یوې اوږدې علمي پروسې پایله ده چې له لغت‌راټولونې او قاموس‌لیکنې څخه تر ځانګړو ویېپوهنیزو څېړنو پورې یې بېلابېل پړاوونه تېر کړي دي.

د څېړل شوو مهمو آثارو له تحلیل څخه څرګندېږي چې په پښتو ویېپوهنه کې د پام وړ علمي کارونه ترسره شوي دي. په دغو آثارو کې د ویې او لغوي زېرمې تر څنګ د ویېرغونې، اشتقاق، ترکیب، نوماېښودنې، نویزونو، پخوانیو ویېونو، مانیز بدلون، پورویېونو، لهجوي ویېونو او قاموس‌لیکنې په اړه بېلابېل بحثونه شوي دي. ځینو آثارو د پښتو د ویېزې زېرمې د عمومي پېژندنې او ویېپوهنې د بنسټیزو مفاهیمو په روښانه کولو کې پوره ونډه اخیستې، ځینو د پښتو د داخلي ویېرغونې امکانات څېړلي او ځینو بیا د تاریخي، پخوانیو او سیمه‌ییزو لغتونو د راټولولو او ثبتولو برخه پیاوړې کړې ده. له دې کبله د پښتو ویېپوهنې موجود آثار د دې علم د پرمختګ لپاره د پام وړ علمي مواد او بنسټونه وړاندې کوي.

سره له دې چې د پخوانیو څېړنو له موضوعي او علمي ارزونې څخه څرګندېږي چې د پښتو ویېپوهنیز کارونه تر ډېره په بېلابېلو اثارو او مقالو کې جلا ـ جلا ترسره شوي دي. د ویېجوړونې، اشتقاق، ترکیب، نوماېښودنې، پورویېونو، مانیز بدلون، پخوانیو، تاریخي او لهجوي ویېونو ترمنځ اړیکې په یوه واحد او منظم ویېپوهنیز چوکاټ کې په کافي اندازه نه دي څېړل شوې. همدارنګه، د پښتو ویېپوهنې د تاریخي پرمختګ پړاوونه، د موضوعاتو د بدلون څرنګوالی او د نظریاتو د تحول بهیر تر اوسه په هغه کچه منظم نه دی تحلیل شوی چې د دې علم د بشپړ علمي تاریخ د ترسیم لپاره اړتیا ورته لیدل کېږي.

د ويي د جوړښت او ترکيب په برخه کې د ترسره شويو څېړنو له تحليل څخه څرګندېږي چې پښتو د خپلو داخلي وييرغاونيزو امکاناتو له مخې د نويو وييونو د جوړولو پراخ ظرفيت لري. اشتقاق او ترکيب د پښتو د لغوي زېرمې د پراختيا له مهمو لارو څخه دي او په پخوانيو او اوسنيو اثارو کې يې بېلابېلې بېلګې وړاندې شوې دي، خو د ويي د جوړښت د برخو، د مورفيمونو د اړيکو، د اشتقاقي او ترکيبي لارو د توپير او ددغو لارو د معياري کېدو په اړه لا هم د ژورو او تخصصي څېړنو اړتيا شته. له همدې امله، د پښتو د وييرغونې د امکاناتو پېژندنه بايد يوازې د بېلګو تر راټولولو محدوده نه وي، بلکې د ويي د جوړېدو ميکانيزمونه او جوړښتي اصول هم بايد په منظم ډول تحليل شي.

د نويو وييونو او نيولوجيزم په برخه کې د څېړنې موندنې څرګندوي چې د ټولنيزو، علمي، تخنيکي او فرهنګي پرمختګونو له امله د پښتو ژبې د لغوي زېرمې د پراختيا اړتيا ورځ تر بلې زياتېږي. د نويو مفاهيمو او څيزونو د نومولو لپاره د ژبې له داخلي امکاناتو څخه استفاده او د مناسبو نويو وييونو جوړول د لغوي زېرمې د پياوړتيا مهمه وسيله ده، خو هر نوی جوړ شوی ویی په خپله د ژبې د وييزې زېرمې برخه نه ګرځي؛ د ژبې اړتيا، د ويي جوړښتي مناسبوالی، د مفهوم د نومولو وړتيا، د ژبې له وييرغاونيزو اصولو سره سمون او د ويونکو له خوا منل او دودېدل د نوې کلمې د برياليي کېدو مهم عوامل دي. له همدې امله، د وييرغونې څېړنه بايد د ويي د جوړونې تر څنګ د هغه د ټولنيز استعمال او دودېدو بهير هم په پام کې ونيسي.

د پخوانيو او لرغونو وييونو د څېړنې له مخې څرګندېږي چې پښتو پراخه تاريخي وييزه زېرمه لري او د هغې د بشپړې پېژندنې لپاره يوازې پر اوسنيو قاموسونو تکيه بسنه نه کوي. پخواني ادبي او تاريخي متون، د شاعرانو ديوانونه، سيمه‌ييزې محاورې او نورې مکتوبې سرچينې د پخوانيو وييونو د موندلو او تثبيت مهمې سرچينې دي. د يوه پخواني لغت د علمي پېژندنې لپاره يوازې د هغه ثبت کافي نه دی، بلکې معنا، استعمال، متني شواهد، ليکدودي بڼه، تاريخي شاليد او سيمه‌ييز استعمال يې هم بايد وڅېړل شي. له همدې امله، د پخوانيو وييونو د متني شواهدو راټولول او د هغو د معنا او استعمال علمي تثبيت د پښتو وييپوهنې له مهمو بحثونو څخه دي.

د لهجوي او سيمه‌ييزو وييونو په برخه کې هم معلومېږي چې د پښتو د وييزې زېرمې يوه مهمه برخه په ژونديو محاورو او سيمه‌ييزو لغوي بڼو کې خوندي ده، خو د موجودو قاموسونو په ګډون په ټولو سرچينو کې په بشپړ ډول نه ده ثبت شوې. له دې امله د پښتو د بېلابېلو لهجو وييزې زېرمې بايد په منظم ډول راټولې، ثبت او د معنا، جوړښت، تاريخي شاليد او سيمه‌ييز استعمال له مخې تحليل

شي. دغه کار نه یوازې د پښتو د وییزې زېرمې په بشپړه پېژندنه کې مرسته کوي، بلکې د ژبې د تاریخي او معاصر تحول د څېړنې لپاره هم مهم بنسټ برابروي.

د مسلکي او علمي لغتونو په برخه کې د پښتو د علمي او تخصصي ژبې د پراختیا له امله د نویو ویبونو او اصطلاحاتو اړتیا زیاته شوې ده. د پوهنو د بېلابېلو څانګو د پراختیا له کبله پښتو د تخصصي مفاهیمو لپاره نویو نومونو ته اړتیا لري. په دې برخه کې د پښتو له داخلي وییرغاونیزو امکاناتو څخه استفاده، د موجودې وییزې زېرمې بیا کارونه او د مناسبو نویو اصطلاحاتو جوړونه مهمه ده، خو د مسلکي وییونو د جوړوونې تر څنګ باید د هغو د علمي مناسب‌والي، کارونې، دودېدو او معیاري کېدو مسئله هم وڅېړل شي.

د پوروییونو او د هغو د پښتو کولو په اړه د ترسره شویو څېړنو له ارزونې څخه څرګندېږي چې پښتو د نورو ژبو له تاریخي، فرهنګي، ټولنیزو او علمي اړیکو څخه اغېزمنه شوې او په بېلابېلو پړاوونو کې یې له نورو ژبو څخه ګڼ لغتونه اخیستي دي. پوروییونه د پښتو د اوسني وییز نظام یوه برخه جوړوي او د هغو څېړنه یوازې د اصلي ژبې د معلومولو په معنا نه ده، بلکې د پوراخیستنې څرنګوالی، په پښتو کې د ویي غږیز او جوړښتي بدلون، د معنا بدلون او د پښتو په وییز نظام کې د هغه د ځای موندنې څرنګوالی هم پکې شامل دي. په دې برخه کې ترسره شوي کارونه مهم دي، خو د پوروییونو د منظمې طبقه‌بندۍ، تاریخي بهیر، تطابق او د پښتو کولو د معیارونو په اړه لا هم د پراخو څېړنو اړتیا لیدل کېږي.

د وییپوهنې او قاموس‌لیکنې د اړیکو له څېړنې څخه معلومېږي چې دواړه برخې له یو بل سره نږدې اړیکې لري، خو د علمي بحث له پلوه جلا موضوعات، موخې او کاري ساحې لري. وییپوهنه د یوې ژبې وییزه زېرمه، د وییونو ډولونه، جوړښت، معنا، اړیکې، بدلون او پراختیا څېړي، په داسې حال کې چې قاموس‌لیکنه د وییونو د راټولولو، ثبت، تنظیم، معنا او قاموسي وړاندې کولو له عملي چارو سره اړیکه لري. قاموسونه د وییپوهنیزو څېړنو لپاره مهمې سرچینې دي، خو د پښتو وییزې زېرمې د بشپړې پېژندنې لپاره متون، محاورې، تاریخي آثار او نورې ژبنۍ سرچینې هم اړینې دي. له همدې کبله د پښتو وییپوهنې او قاموس‌لیکنې ترمنځ د حدودو، اړیکو او توپیرونو روښانه کول د دواړو برخو د لا علمي پرمختګ لپاره ضروري دي.

د ټولو څېړل شوو آثارو او موضوعاتو له ګډ تحلیل څخه څرګندېږي چې د پښتو ویپوهنې یوه مهمه لاسته‌راوړنه دا ده چې د دې علم بېلابېل بنسټیز او تخصصي موضوعات تر یوه حده څېړل شوي او د پښتو د ویيزې زېرمې د پېژندنې لپاره د پام وړ علمي مواد وړاندې کوي. د ویيرغونې، اشتقاق او ترکیب په اړه بحثونو د پښتو د داخلي ویيرغونې امکانات روښانه کړي، د پخوانیو او تاریخي ویيونو څېړنو د پښتو د تاریخي ویيزې پانګې د پېژندنې زمینه برابره کړې، د لهجوي ویيونو څېړنو د ژبې د سیمه‌ییزې ویيزې زېرمې اهمیت څرګند کړی او د نویو ویيونو او اصطلاحاتو په اړه بحثونو د معاصرې پښتو د لغوي پراختیا اړتیاوې روښانه کړې دي.

سره له دې علمي لاسته‌راوړنو، د څېړنې له مجموعي ارزونې څخه څرګندېږي چې د پښتو ویيپوهنې په برخه کې څو مهمې نیمګړتیاوې هم شته. تر ټولو مهمه نیمګړتیا دا ده چې موجودې څېړنې تر ډېره موضوعي او جلا ـ جلا دي او د پښتو ویيپوهنې د ټولو اړخونو لپاره یو جامع او منظم علمي چوکاټ نه وړاندې کوي. همدارنګه، د موجودو آثارو د ګډې او مقایسوي کره‌کتنې، د هغو د نظریاتي بنسټونو د ارزونې، د ویيپوهنیزو نظریاتو د تحول تحلیل او د پخوانیو څېړنو د معاصرې ویيپوهنې له معیارونو سره د مقایسې په برخه کې تشه موجوده ده. د نویو ویيونو د دودېدو او ټولنیز منل کېدو، د لهجوي او تاریخي ویيزې زېرمې د بشپړ ثبت، د مسلکي ویيونو د معیاري کېدو او د پورویيو د تطابق په اړه هم پراخو او تخصصي څېړنو ته اړتیا شته.

په ټوله کې د دې څېړنې له موندنو څخه دا نتیجه لاس ته راځي  چې پښتو ویيپوهنه له علمي پلوه له داسې پړاو څخه تېره شوې چې یوازې د لغوي موادو له راټولولو او قاموس‌لیکنې سره محدوده نه ده پاتې شوې، بلکې اوس د ویي، ویيرغونې، نیولوجیزم، تاریخي او لهجوي ویيونو، پورویيونو، مسلکي ویيونو او نورو تخصصي موضوعاتو د څېړنې پر لوري پراخه شوې ده، خو د دې علم د بشپړې ودې لپاره اړتیا ده چې دغه بېلابېلې څېړنې د یوه منظم ویيپوهنیز چوکاټ په دننه کې سره وتړل شي، موجود علمي میراث په مقایسوي او کره‌کتنیز ډول وارزول شي او د معاصرې ویيپوهنې له نظریو او علمي معیارونو سره یې اړیکه لا روښانه شي.

له همدې امله، د پښتو ویيپوهنې د راتلونکي علمي پرمختګ لپاره د زړو او تاریخي ویيونو د متني شواهدو پر بنسټ راټولول او تثبیت، د پښتو د ټولو لهجو د ویيزې زېرمې منظم ثبت، د نویو او مسلکي ویيونو د جوړونې د اصولو او معیارونو روښانه کول، د نویو جوړو شویو ویيونو د دودېدو او ټولنیز منل

کېدو څېړنه، د پورويیو د تاریخي او جوړښتي تحلیل پراخول، د ویی د جوړښت او ترکیب تخصصي څېړنه او د ویپپوهنې او قاموس‌لیکنې د حدودو او اړیکو لا روښانه کول مهمې څېړنیزې اړتیاوې دي.

په پایله کې ویلی شو چې پښتو ویپپوهنه د پام وړ علمي میراث او د لا پراختیا لپاره پراخ ظرفیت لري. په دې برخه کې ترسره شویو علمي هڅو د پښتو د ویيزې زېرمې د پېژندنې، ساتنې او پراختیا لپاره مهم بنسټونه برابر کړي دي؛ خو د موجودو علمي کارونو د جلا ـ جلا او موضوعي بڼې له امله لا هم اړتیا شته چې د پښتو ویيز نظام په تاریخي، جوړښتي، مانیز، ټولنیز، سیمه‌ییز او معاصر علمي چوکاټ کې په منظم او هراړخیز ډول وڅېړل شي. د دې ډول څېړنو له پراختیا سره به له یوې خوا د پښتو تاریخي او اوسنی ویيز میراث لا ښه وپېژندل شي او له بلې خوا به د معاصرو علمي، تخنیکي، ټولنیزو او فرهنګي اړتیاوو لپاره د پښتو د ویيرغونې او ویيزې پراختیا علمي بنسټونه لا پیاوړي شي.

## مناقشه

د پښتو ويېپوهنې په اړه پخوانيو څېړنو ته له کتنې څخه څرګندېږي چې په دې برخه کې د ويېرغونې او نوم‌اېښودنې، اشتقاق او ترکيب، پخوانيو ويېونو، پورويېو، نويو ويېونو او قاموس‌ليکنې په اړه د پام وړ علمي کارونه شوي دي. دغو څېړنو د پښتو د لغوي زېرمې د جوړښت او پراختيا په اړه مهم معلومات او نظريات وړاندې کړي دي؛ خو دغه کارونه تر ډېره پر ځانګړو موضوعاتو متمرکز او په بېلابېلو اثارو کې په بېله بڼه وړاندې شوي دي.

د اوسنۍ څېړنې موندنې له پخوانيو څېړنو سره په دې برخه کې همغږي لري چې ويېرغونه، اشتقاق او ترکيب د پښتو د لغوي زېرمې د پراختيا مهمې لارې دي، پخواني او لهجوي ويېونه د ژبې د ويېزې پانګې مهمه برخه جوړوي او پورويېونه د ژبنيو اړيکو له امله د پښتو په ويېز نظام کې ځای لري، خو د دې څېړنې موندنې ښيي چې د دغو موضوعاتو ترڅنګ د نويو ويېونو د دودېدو او ټولنيز منل کېدو، د پخوانيو ويېونو د متني تثبيت، د لهجوي ويېزې پانګې د منظم ثبت او د پورويېو د پښتو کولو د معيارونو په اړه لا هم  پراخو څېړنو ته اړتيا شته.

د مخکېنيو تحقيقي کارونو او دې څېړنې ترمنځ اساسي توپير دا دی چې پخوانيو کارونو تر ډېره د پښتو ويېپوهنې ځانګړي اړخونه څېړلي، خو اوسنۍ څېړنه هڅه کوي دغه بېلې ـ بېلې علمي هڅې د يوه واحد ويېپوهنيز چوکاټ له مخې راټولې، طبقه‌بندي، تحليل او کره‌کتنه يې وکړي. په دې بهير کې د پښتو ويېپوهنې تاريخي بهير، مهم آثار، مطرح شوې موضوعګانې، علمي لاسته‌راوړنې، محدوديتونه او پاتې څېړنيزې تشې په ګډه ارزول شوې دي.

له همدې امله د دې څېړنې علمي نوښت او ځانګړې ونډه د نوي موضوع د طرحې په ځای د موجود ويېپوهنيز علمي ميراث په منظم، مقايسوي او کره‌کتنيز تحليل کې ده. څېړنه د پخوانيو کارونو علمي ارزښت په ډاګه کوي، د هغو محدوديتونه او تشې په ګوته کوي او د پښتو ويېپوهنې د راتلونکو څېړنو لپاره هغه برخې روښانه کوي چې لا تخصصي او ژورو څېړنو ته اړتيا لري.

## پای‌پایله

د دې څېړنې له موندنې ښيي چې پښتو وييپوهنه د وييرغونې او نوم‌اېښودنې، اشتقاق او ترکيب، پخوانيو او لهجوي وييونو، نويو وييونو او پوروييونو په برخو کې د پام وړ علمي کارونه لري؛ خو دغه هڅې تر ډېره په جلا بڼه ترسره شوې دی او د پښتو وييپوهنې د تاريخي بهير او بېلابېلو موضوعاتو ګډ او کره‌کتنيز جاج په بشپړه توګه نه وړاندې کوي. همداراز څېړنه ښيي چې د پخوانيو او لهجوي وييونو د منظم ثبت، د نويو وييونو د دودېدو او د پوروييونو د پښتو کولو په برخو کې لا هم څېړنيزې تشې موجودې دي.

د دې څېړنې اصلي علمي ونډه دا ده چې د پښتو وييپوهنې موجود علمي کارونه يې په يوه واحد، تحليلي، مقايسوي او کره‌کتنيز چوکاټ کې راټول او وارزول، د هغوی مهمې لاسته‌راوړنې او محدوديتونه يې روښانه کړل او د راتلونکو څېړنو لپاره يې مهمې علمي اړتياوې او تشې مشخصې کړې.

په ټوله کې دا څېړنه د پښتو وييپوهنې د تېر علمي بهير د پېژندنې تر څنګ د اوسني وضعيت د درک او د راتلونکو وييپوهنيزو څېړنو د علمي مسير د ټاکلو لپاره يو منظم بنسټ وړاندې کوي

## وړاندیزونه

کله چې څېړنه روانه وي، په دې بهیر کې څېړونکي له ځینو موضوعاتو سره مخامخ کېږي چې په کار ده، هغه د وړاندېزونو په برخه کې مطرح شي. زه هم څو مشخص وړاندیزونه لرم چې په لاندې ډول دي:

### الف. علمي

۱. د پښتو ویپوهنې په برخه کې څه ډول چې اړتیا ده، په هغه اندازه څېړنې نه دي شوي او تر اوسه پورې لا ډېر داسې موضوعات شته چې څېړنې او بررسي ته اړتیا لري، د پښتو ویپوهنې په برخه کې علمي کار ته اړتیا لیدل کېږي او څېړونکو ته وړاندیز کېږي چې د ویپوهنې په بېلابېلو موضوعاتو لا ډېرې او نوې څېړنې وکړي.

### ب. عملي

۱. پښتو ژبه ګڼې او بډایه لهجې لري، خو څه ډول چې اړتیا ده، هغسې د پښتو ژبې ګړدودي ویپونه او لغتونه نه دي، راټول شوي، نو دې برخې ته بشپړ پام په کار دي چې د پښتو ژبې لهجوي لغتونه راټول او لهجوي قاموسونه جوړ او چاپ شي.

۲. د پښتو قاموس او سیندونو په برخه له کومې تشې سره چې زه مخامخ شوم، هغه په آنلاین بڼه د قاموسونو کموالی او یا هم په نشت حساب دی، که څه د (قاموسونو. کام) په نوم یوه وېبسایټ شته چې زیات پښتو قاموسونه پر آنلاین بڼه پکې موجود دي، خو دا چاره کافي نه ده، ځکه موږ نویو اپلکیشونو او پروګرامونو ته اړتیا لرو چې له انټرنټ پرته ورته لاسرسی موجود وي.

۳. ویيرغونه چې د ویپوهنې مهمه او غوښنه برخه جوړوي او د یوې ژبې د ورځینو غوښتنو په پوره کولو کې ستره ونډه لري، نو د اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم مقام ته وړاندېز کېږي چې د هیواد په علمي ادارو کې او یا هم په مستقله توګه د نویو لغتونو د جوړولو یوه اداره رامنځ کړي. په دې کار سره وخت پر وخت نوي لغتونه جوړېږي او د پردیو ژبو د لغتونو مخنیوی به هم کېږي.

۳. . د پښتو قاموس لیکنې په برخه کې د یوه جامع قاموس لیکلو اړتیا اوس هم پر خپل ځای ده. د جامع قاموس لیکل په انفرادي توګه ناشونی کار دی، نو د لوړو زده کړو محترم وزارت او د افغانستان

د علومو اکاډمي ته وړاندیز کېږي چې د نورو اړوندو ادارو په ګډو هڅو سره د پښتو ژبې یو جامع قاموس ولیکي.

## د څېړنې محدوده

هره څېړنه او تحقیق ځانګړې ساحه  لري، په پیل کې دا څېړنه د بشري علوم اړونده ده او بیا له ژبې او ادب سره تړاو لري، په ځانګړې توګه دا څېړنه د ژبپوهنې اړونده څېړنه ده چې په ټوله کې د ژبپوهنې پر مهمې څانګې چې ویېپوهنه  ده را څرخي او د پښتو ویېپوهنې کره‌کتنیز جاج اخلي.

## مأخذونه

### الف. پښتو مأخذونه

آریانا دایرة المعارف. (۱۳۸٦). آریانا دایرة المعارف (لومړی ټوک). د افغانستان د علومو اکاډمی، د دایرة المعارف مرکز، نبراسکا مطبعه.

آریانا قاموس (پښتو ـ پښتو). (۱۴۰۲). آریانا قاموس (پښتو ـ پښتو) (لومړی ټوک). د افغانستان د علومو اکاډمی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، بهیر مطبعه.

اڅکزی، محمد ولي. (۲۰۱۹). ژبنیز پوریزم/سوچه والی/پاکوالی څه شی دی؟

اڅکزی، محمد ولي. (۲۰۲۰). په پښتو قاموس لیکنه کې د نوې ټکنالوژۍ استعمال.

احمدزی، محمد آصف. (۱۳۹۴). د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا اداره. د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه.

اکرم، بشیر. (۱۳۹۷). ژبپوهنه. فاسټ ټریک کمیونیکېشن.

الفت، ګل باچا. (۱۳۲۱). لغوي څېړنه. پښتو ټولنه.

بېلابېل لیکوالان. (۱۳۵۸). پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس (لومړی ټوک).

بېلابېل لیکوالان او ادارې. (۱۳۹۸). سل فرهنګي برياوې. د افغانستان د علومو اکاډمی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، څهاردهی مطبعه.

پوپل، ثریا. (۱۳۹۷). د علومو اکاډمی تاریخچه. شمشاد هاشمي مطبعه.

تري، حبیب الله. (۱۳۸۹). نوې ژبپوهنه او ژبني مسائل. دانش خپرندویه ټولنه.

تڼیوال، مولا جان. (۱۳۹۷). پښتو ژبه او ژبپوهنه. د افغانستان د علومو اکاډمی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، شمشاد هاشمي مطبعه.

څیرک، رحیم الله. (بې‌نېټې). پښتو قاموسونه.

څولیزی، محمد عثمان. (۱۳۹۹). عمومي ژبپوهنه. جهان دانش خپرندویه ټولنه.

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۴۵). د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کېږي؟ وږمه، ۱-۲ ګڼه.

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۴٦). پخواني کلمات او نوي مفاهیم. وږمه، د جدي، دلوې او حوت ګڼه.

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۴۸). د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي؟ وږمه، ۴-۵ ګڼه.

خویشکي، محمد صابر. (۱۳۸۹). پښتو غږپوهنه او ویپپوهنه (پنځم چاپ). صمیم فرهنګي ټولنه.

رښتین، صدیق الله. (۱۳۸۹). پښتو ګرامر (ژباړن: سید محی‌الدین هاشمي). اقراء کتابپلورنځی.

رحیمي، فضل الرحمن. (۲۰۰۸). عربي - پښتو قاموس.

رفیع، حبیب الله. (۱۳۷۸). په پښتو کې لغت جوړونه. په د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې کې. د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه.

رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۴). ژبساتنه. مومند خپرندویه ټولنه.

رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۷). ژبپالنه (دویم چاپ). سهر مطبعه.

سیکوف، روسلان. (۱۳۴۵). پښتو مترادف لغتونه. ژباړن: معتمد شینواری، مجله، ۷مه ګڼه.

ساپی، ارباز خان. (۱۴۰۲). د تاریخي پرتلیزې ژبپوهنې تیوري. سمون خپرندویه ټولنه.

شینواری، دوست محمد. (۱۳٦۳). زړه پانګه. د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز.

شینواری، دوست محمد. (۱۳٦٦). د حمید مومند په اشعارو کې نیولوجیزم. د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز، دولتي مطبعه.

شینواری، دوست محمد. (۱۳۷۷). ژبپانګه. دانش خپرندویه ټولنه.

شیرزاد، محمد آقا. (۱۳۹۷). پښتو ګرامر. د ښوونې او روزنې پوهنتون، پښتو څانګه.

ښکلی، اجمل. (۱۴۰۱). ژبپوهنې نظریې. سمون خپرندویه ټولنه.

صوفي، اميرزاده. (۲۰۲۴). زاهد پښتو ـ پښتو سيند ته کتنه.

فرهادي، روان. (۱۳۴۵). د پښتو قاموس ليکنې علمي موضوعات. وږمه، ۴مه گڼه.

فرهادي، روان. (۱۳٦۳). د پښتو قاموس ليکنې عملي موضوعات. د پښتو څېړنو د بين‌المللي مرکز د نړۍوال سيمينار ځانگړې گڼه.

کاکړ، حسن. (۱۳۷۸). په معاصر افغانستان کې پښتو او د هغې په اړه څو خبرې. په د پښتو ژبې د ودې اړتيا او لارې چارې کې. د پښتني فرهنگ د ودې او پراختيا ټولنه.

لودين، دولت محمد. (۱۳۵۵). لغت پوهنه. پښتو ټولنه.

لودين، دولت محمد. (۱۳۹۵). د عمومي ژبپوهنې مسائل. ختيځ ادبي بهير.

لودين، دولت محمد. (۱۳۹۵). ژبه او ټولنه. ختيځ ادبي بهير.

لودين، دولت محمد. (۱۳۹۵). قاموسپوهنه. ختيځ ادبي بهير.

لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹۸). په تذکرة الاولياء کې زاړه لغات او د هغو ځينې قديمي ځانگړنې.

منلی، نجيب، او غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۹). د ادبياتو دنيا.

مومند، عبدالحميد. (۱۳٦۳). د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبياتو مرکز. پښتو ټولنه، گوندي مطبعه.

ناصر، نصرالله. (۱۳۸۹). د افغانستان د علومو اکاډمۍ تاريخچه. عدالت مطبعه.

نافع، محمد مرتضی. (۲۰۲۴). پښتو آريانا دايرة المعارف ته کتنه.

نوزادي، محمد. (۱۳۹۷). کلتور که ښکارهنگ؟

نورزی، عزت الله. (۲۰۲۴). قاموس.

هوتک، محمد معصوم. (۱۳۷۹). پر پښتو کره ليکنه باندې د نيولوجيزم اغېزې.

هوتک، محمد معصوم. (۲۰۰۷). پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه. علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

هوډ، حاجي محمد. (۱۴۰۱). په پښتو ژبه کې د نویو اصطلاحاتو ګټې او زیانونه.

وینفرید، فلیپ لیهمن. (۱۳۹۹). د تاریخي ژبپوهنې مبادي (ژباړن: بایزید اڅک). کائنات څېړنیز مرکز.

وردګ، عبدالعزیز. (۱۳۷۸). د پښتو دودونه په وسله وال پوځ کې. په د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې کې. د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۵۰). د ژبپوهنې نومونې. وږمه، ۵–٦ ګڼه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۵۰). ژبپوهنیزې اصطلاحګانې. وږمه، ۵–٦ ګڼه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳٦٦). د حمید مومند لیکلار. د عبدالحمید مومند یاد سیمینار، د مقالو ټولګه. د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز، دولتي مطبعه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۷۸). پښتو سیندګی «نویزونه». د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۸٦). لیکلارښود. دانش خپرندویه ټولنه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۹٦). پښتو وییپوهنه او وییرغاونه. دانش خپرندویه ټولنه.

**ب. دري/فارسي مأخذونه**

خرمایي، علي رضا. (۱۳۸۷). اصول ساختواژی واژه‌سازی و واژه‌های نوساخته عمومی. د مشهد د ادبیاتو او انساني علومو پوهنځي، علمي ـ څېړنیزه مجله، ۱٦۰ ګڼه.

سادات، سونیا، او بهارلو، هادي. (۱۳۹۸). روش‌های اصطلاح‌سازی زبان فارسی در آینه زبان روسی. جستارهای زبان، علمي ـ څېړنیزه مجله.

مسلمي، نادر. (۱۳۸۸). تکامل واژه‌ها در گذر زمان. رشد آموزش زبان و ادب فارسی، ۹۲مه ګڼه.

مفید، حمیدالله. (۱۳۹۸). نگاهی به واژه‌های هم‌آوا و هم‌صدا و کاربرد آنها در زبان فارسی.

**ج. اُردو ماخذونه**

عابدي، سید محسن علي. (۲۰۱٦). پاکستان میں اردو لغت نویسی: تجزیاتی مطالعہ. علامه اقبال اوپن یونیورسټي.

**د. انټرنېټي مأخذونه**

هوډ، حاجي محمد. (۲۰۲۱، جون ۱۵). په پښتو ژبه کې د نویو اصطلاحاتو ګټې او زیانونه. تاند.

نافع، محمد مرتضی. (۲۰۲۴، جولای ۲). پښتو آریانا دایرة المعارف ته کتنه. تاند.

نوزادي، محمد. (۲۰۱۸، مارچ ۳۱). کلتور که ښکارهنګ؟ دعوت.

نورزی، عزت الله. (۲۰۲۴، اکتوبر ۲۳). قاموس. پوهاوی.